# هلمند

## ( جغرافيه، تاريخ او کلتوري دودونه)

مؤلف: محمد شفيق (زدن)

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دکتاب پېژندنه


| | | |
|---|---|---|
| ❖ | دکتاب نو م | :هلمند (هیتومنت) |
| ❖ | مؤلف | :محمد شفیق ژمن |
| ❖ | تقریظ او کتنه | :کاندید اکاډمېسن سیستانی |
| ❖ | خپرندوی | :نارنج خپرندویه ټولنه- کندهار |
| ❖ | کمپوز | :خپله مؤلف |
| ❖ | ډیزاین | :مولوي عبدالرحیم غیاث |
| ❖ | پُښتۍ طرحه | :خپله مؤلف |
| ❖ | پُښتۍ ډیزاین | :فرهنگ پرینټینګ پریس |
| ❖ | صفحه آرايي | : محمد عمر |
| ❖ | چاپ وار | :لومړی |
| ❖ | چاپ کال | :۱۳۹۳ لمریز |
| ❖ | چاپ شمېر | :۱۰۰۰ ټوکه |



اړیکي

۰۷۰۰۶۶۰۶۰۷

Shafiq.Zhman@gmail.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحیم

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ډالۍ

- د هلمندیانو مور (لو ادې) ته،
- ستر لیکوال کاندید اکاډمېسن محمد اعظم سیستاني ته،
- درانه استادمحمد آصف صمیم ته او ټول افغان ولس ته ډالۍ.

## م - ش - ژمن

(c) ketabton.com: The Digital Library

# پر هلمند اثر؛ خبري...!

[د هر کاڼي په زړه کي لوی تاريخ پروت دی؛ که ولوستل سي]
د جواهرلال نهرو دا خبره مي ډېر وخت ذهن ته راځي. خو خبره د لوستلو ده؛ چي څه ولوستل سي او څنګه ولوستل سي؟ موږ هم د لوستلو لپاره ډېر څه لرو، هم د لوست ډېره اړتيا. خو يوه لويه نيمګړتيا چي ددغو دواړو ترمنځ اړيکي يې کمرنګه کړي دي هغه؛ د پوره علمي څېړنو کمی دی. د نړۍ په ډېرو ژبو کي د څېړنيزو اثارو برخي ډيري بډايي دي او د انسانانو په ژوند کي يې ډېر مثبت رول لوبولی دی خو د پښتو ژبي دغه برخه لکه څومره چي پکار ده تر هغه معيار ډېره خواره ده. موږ ته ډيري پوښتني تر اوسه پوري بې جوابه پاته دي او يا که څېړني سوي دي هم ځيني يې داسي دي چي سړی يې په پوره زړه نه سي يادولای.

په دې توګه؛ د ښاغلي ملګري محمد شفيق ژمن څېړنه چي د هلمند پر جغرافيه، تاريخ او دودونويې کړې ده، زموږ د څېړنيزي برخي لپاره موثره او پرځای هڅه ګڼم.

د تاريخ، جغرافيې او دودونو موضوعات يوله بله اخښلي دي، د مځکي په يوه ځانګړې حصه کي، د ژوند د بهير او انسانانو عنعنات که موږ سره بېل کړو، هر يو يې په يوائي ډول ولولو هم به د دوو نورو اړخونو ځينو برخو ته اشارې پکښې ووينو خو داچي په دغه اثر کي دا درې اړخه يوځای سوي او بيا پر هلمند متمرکز سوي دي نو معلومه

(c) ketabton.com: The Digital Library

خبره ده چي د هیواد د دغي مهمي سیمي، تاریخي مېني او متمدنو وګړو د غني کلتور څېړنه ډېره مهمه مجموعه تشکیلوي.

لرغونپوهان که افغانستان د نړۍ سرخلاصی موزیم بولي نو ددغه سرخلاصي موزیم یوه لویه برخه هلمند تشکیلوي، مورخین که د افغانستان د لرغوني تاریخ څخه لیکل پیلوي نو هلمند یې په لیکنو کي خپل ځای لري او ټولنپوهان که د هیواد پر کلتور او د خلکو پر دودونو لیکل کوي نو د پراخ هلمند د ګڼو وګړو پر ژوند به خاماخا تمرکز کوي خو ددې هرڅه سره سره بیاهم پر هلمند ځانګړي کتابونه لکه څومره چي پکاره ده، نه دي لیکل سوي او دا اثر ( هلمند ) له دې اړخه هم ارزښتمن دی.

پر دغه کتاب مسلکي او مسوولانه کتنه د مورخینو او لیکوالانو حق دی او که د ( خو ) کوم ټکی ولري نو دا د هغو دنده ده چي خپل نظرونه څرګند کړي خو زما په نظر چي یې مثبت اړخونه ډېر راغلل او دا معلومات مي د ځان او نورو لوستونکو لپاره ګټور احساس کړل نو یې مولف ته د لیکلو مبارکي ورکوم، د خپل ځان له لوري ددغه علمي ګام د هرکلي په توګه یې د چاپ او خپرولو په برخه کي لګښتونه پر غاړه اخلم او تاسي دوستان یې لوستلو ته رابولم.

د علمي هڅو د غوړېدو په هیله

سمیع وزیری

۱۸-۱۲-۱۳۹۳

-کابل، افغانستان

(c) ketabton.com: The Digital Library



# لړلیک

**موضوع** **مخ**


۱- سریزه.......................................................الف
۲- تقریظ.......................................................خ
۳- مخیزه.......................................................ش
۴- پوهاند علامه عبدالحی حبیبي په هلمند کي.......................ط


## لومړی برخه ـ جغرافیه

## لومړی څپرکی


۱- د هلمند جغرافیایي موقعیت........................................۱
۲- د هلمند د نوموني (تسمیې) وجه..................................۵
۳- د هلمند آب و هوا.................................................۷
۴- د هلمند د وګړو شمېر (نفوس).....................................۸
۵- د هلمند کرهڼه.....................................................۸
٦- د هلمند (هیرمند) اوبیزه حوزه.....................................١٦
۷- د هلمند (=هیرمند – هیتومنت) سیند...............................۱۷
۸- د هلمند سیند د اوبو مسئله........................................٢٤
۹- د هلمند برېښنایي بندونه..........................................۳۳
۱۰- د هلمند کاني زخایر.............................................۳۷
۱۱- د هلمند د بُست تصدي............................................۳۹
۱۲- د هلمند حجاري او نجاري مختلطه فابریکه.........................٤۰

(c) ketabton.com: The Digital Library




۱۳- د هلمند د چاه انجیر دستگاه....................................٤۳
۱۴- د هلمند د عامه صحت مؤسسه.................................٤٤
۱۵- د هلمند ځنگلونه..................................................٤۵


## دوهم څپرکی


١٦- د هلمند ولايت اداري تشکيلات...............................٤٧
۱۷- د لښکرگاه ښار....................................................٤٧
۱۸- په لښکرگاه ښار پوري اړوندي سيمي.........................٤۹
۱۹- د هلمند ولسوالی..................................................۵۰
۲۰- نهر سراج (گرشک)................................................۵۲
۲۱- نادعلي..............................................................۵۲
۲۳- گرمسیر.............................................................۵٦
۲۴- سنگین (سروان کلا)..............................................۵۸
۲۵- کجکی..............................................................٦۰
۲٦- باغران..............................................................٦۱
۲۷- موسی کلا..........................................................٦۲
۲۸- نوزاد...............................................................٦٤
۲۹- دېشو...............................................................٦۷
۳۰- واشېر..............................................................۷۰
۳۱- خانشین (رېگ)....................................................۷۱
۳۲- مارجه..............................................................۷۳
۳۳- ناومېش............................................................۷٤

(c) ketabton.com: The Digital Library



# درېیم څپرکی

۳۴- د هیتومنت (هلمند) تاریخي آثار او مشهوري سیمي............۷۵
۳۵- بُست........................................................۷۵
۳٦- زمینداور (زینداور)..............................................۸۷
۳۷- زرنج (درنگیانا – زرنجیانا).....................................۹۳
۳۸- خلج..........................................................۱۰۳
۳۹- باغ ارم (باغران – باغرام).......................................۱۰۳
۴۰- سروان (سوروان – زور وان).....................................۱۰٦
۴۱- بغنین (بغنی).....................................................۱۱۰
۴۲- بولان............................................................۱۱۰
۴۳- خلج (خلچ).......................................................۱۱۳
۴۴- دښت لکان (دشت لگان)..........................................۱۱٤
۴۵- تل (داتل – دارتل)...............................................۱۱٦
۴٦- موسی کلا.........................................................۱۱۸
۴۷- رودبار.............................................................۱۱۹
۴۸- خوابین.............................................................۱۲۰
۴۹- سرخ دوز (سُرخدز – سرخ دژ – سره کلا)...........................۱۲۱
۵۰- زراسپ (هزارسپ)..................................................۱۲۱
۵۱- آزولا (ازویلا – وزولا)..............................................۱۲۲
۵۲- قرنین...............................................................۱۲۲
۵۳- طاق.................................................................۱۲۳
۵۴- زالقان...............................................................۱۲۳
۵۵- روزان...............................................................۱۲۳

(c) ketabton.com: The Digital Library



٥٦- خواش......................................................... ۱۲۳
٥٧- ارغاش........................................................ ۱۲٤
٥٨- ارياسپ....................................................... ۱۲٥
٥٩- کُهک.......................................................... ۱۲٦
٦٠- د گرشک پوځي کلا........................................... ۱۲٦
٦١- د گرشک د اده کلا............................................ ۱۲۷
٦٢- د ادې کلا...................................................... ۱۲۷
٦٣- دېشو (ده شيو)............................................... ۱۲۷
٦۴- بشلنګ....................................................... ۱۲۸
٦٥- صفار.......................................................... ۱۲۹
٦٦- مُختر کلا...................................................... ۱۲۹
٦٧- د سلطان کلا................................................... ۱۳۰
٦٨- د لښکرګاه زوړ ښار د غزنويانو په دوره کي..................... ۱۳۰
٦٩- د لښکرګاه زور ښار د غوريانو په دوره کي...................... ۱۳٤
٧٠- د لښکرګاه زوړ ښار د لرغون پېژندني له نظره.................. ۱٤۱

## دوهمه برخه ـ تاريخ

## لومړی څپرکی

۱- هلمند د تاريخ په اوږدو کي...................................... ۱٤٤
۲- هلمند په آريانا کي............................................... ۱٤۷
۳- گرشاسپ بابا او هيتومنت....................................... ۱٤۷
۴- د توږلي ډبري دوره او د هلمند سيمه.......................... ۱٥٦
٥- د پخواني کلتور منځنۍ کړۍ.................................... ۱٦٠

(c) ketabton.com: The Digital Library



٦- د آریائیانو هجرت هلمند او اراکوسیا (اراکوزیا) ته............ ١٦١
٧- اویستایي مدنیت او هلمند(هیتومنت)........................... ١٦٧
٨- سکندر مقدوني (یوناني) په هلمند کې........................... ١٦٨
٩- هلمند په ملک الطوایفي مرحله کې............................ ١٧٠
١٠- هلمند د اسلامي لیکوالانو په آند................................ ١٧١

## دوهم څپرکی

١١- د هلمند (هیتومنت) لرغوني کورنۍ............................ ١٧٣
١٢- کیاني کورنۍ.................................................. ١٧٤
١٣- اسپه کورنۍ.................................................. ١٧٦
١٤- د زال کورنۍ.................................................. ١٧٧
١٥- د امورجېزیان کورنۍ........................................... ١٧٨
١٦- د ساکانو (اسکایانو) کورنۍ..................................... ١٧٨
١٧- د ښنسب بابا کورنۍ........................................... ١٧٩
١٨- صفاري کورنۍ................................................ ١٧٩
١٩- د آل ناصر کورنۍ............................................. ١٨٠
٢٠- د حاجي جمال خان نیکه کورنۍ.................................. ١٨٢

## درېیم څپرکی

٢١- هلمند ته د اسلام راتګ......................................... ١٨٣
٢٢- هلمند په اموي دوره کې......................................... ١٨٩
٢٣- هلمند په عباسي دوره کې....................................... ١٩٢
٢٤- هلمند په صفاري دوره کې....................................... ١٩٥
٢٥- هلمند په غوري او غزنوي دوره کې................................ ٢٠١
٢٦- هلمند په مغولي دوره کې........................................ ٢١٤

(c) ketabton.com: The Digital Library



۲۷- د ملک اودل حکمراني او د هلمند سیمه........................۲۱٦

## څلورم څپرکی

۲۸- د هلمندیانو رول د افغانستان په معاصر تاریخ کي.............۲۱۸
۲۹- حاجي جمال خان نیکه (هلمندی) او دده لویه کورنۍ...........۲۲۲
۳۰- تېمورشاه ته د سردار پائنده محمد خان هلمندي خدمتونه.....۲۲٤
۳۱- زمان شاه ته د سردار پائنده محمد خان هلمندي خدمتونه.....۲۲۹
۳۲- د زمان شاه په حکومت کي د هلمند د لویي ادې سرښندنه...۲۳۵
۳۳- د سردار پائنده محمد خان په وړاندي د زمان شاه بې پروایي..۲۳۷
۳۴- د زمان شاه پر ضد د خانانو او قومي مشرانو یوه پټه توطیه....۲۳۹
۳۵- د غچ اخیستلو مبارزه...........................................۲٤۱
۳٦- د شاه محمود پاچاهي او د وزیر فتح خان هلمندي وزارت.....۲٤٦
۳۷- شاه محمود ته د وزیر فتح خان هلمندي پوځي خدمتونه......۲٤۸
۳۸- د شاه شجاع لومړی ځل پاچاهي................................۲۵۸
۳۹- د وزیر فتح خان هلمندي هلي ځلي.............................۲٦۱
۴۰- د شاه محمود دوهم ځل پاچاهي او.............................۲٦٦
۴۱- د امیر دوست محمد خان لومړی ځل پاچاهي..................۲۸۱
۴۲- افغانستان ته د دوو ښکېلاکي هیوادونو د پلاوو راتلل..........۲۸۸
۴۳- پر افغانستان د انګرېزانو لومړی پوځي یرغل...................۲۹۱
۴۴- د انګرېزانو او شاه شجاع په وړاندي د افغانانو پاڅونونه........۲۹۸
۴۵- د مګناټن وژل (۱۸۴۱ ز) د (دسمبر ۲۳) نېټه.................۳۰۸
۴٦- د انګرېزانو تګ او تباهي.......................................۳۱۸
۴۷- د غچ اخیستلو پوځي یرغل.....................................۳۲۳
۴۸- د امیر دوست محمد خان دوهم ځل پاچاهي...................۳۲۸

(c) ketabton.com: The Digital Library



۴۹- د امیرشېرعلي خان لومړی ځل پاچاهي.......................... ۳۳۹
۵۰- د امیرافضل خان پاچاهي.................................. ۳٤۳
۵۱- د امیراعظم خان پاچاهي.................................. ۳٤۵
۵۲- د امیر شېرعلي خان دوهم ځل پاچاهي....................... ۳٤۷
۵۳- د امیر یعقوب خان لنډه دوره............................... ۳۵۷
۵۴- د امیر عبدالرحمن خان پاچاهي............................. ۳۷٤
۵۵- د امیر حبیب الله خان پاچاهي............................... ۳۹۵
۵٦- د غازي امان الله خان پاچاهي............................... ٤۰۱
۵۷- د عنایت الله خان پاچاهي.................................. ٤۲۹
۵۸- د محمد نادر شاه پاچاهي.................................. ٤۳۲
۵۹- د محمد ظاهر شاه پاچاهي.................................. ٤٤۰
٦۰- د محمد داود خان جمهوریت................................. ٤٤۹

## درېیمه برخه ـ کلتوري دودونه

## لومړی څپرکی

۱- دود (عرف او عادات)........................................ ٤٦٦
۲- د کورنۍ جوړښت............................................ ٤٦۷
۳- د کورنۍ غړي.............................................. ٤٦۸
۴- د هلمندیانو کورونه......................................... ٤٦۸
۵- د هلمندیانو کالي........................................... ٤۷۰
٦- د هلمندیانو خوراک.......................................... ٤۷۱
۷- په هلمندي ولس کي واده...................................... ٤۷۳
۸- جرگه او مرکه.............................................. ٤۸۵

(c) ketabton.com: The Digital Library



۹- مېلمه پالنه............................................................۴۸۶
۱۰- ننواتي.................................................................۴۸۷
۱۱- د مسافرت دودونه.................................................۴۸۷
۱۲- د مړيني دودونه....................................................۴۸۸
۱۳- میراث..................................................................۴۹۰
۱۴- ناجوړي او علاج....................................................۴۹۱
۱۵- د کوچنیانو او ځوانانو لوبي....................................۴۹۴
۱۶- د خلکو احترام او اصلي نومونه...............................۴۹۶
۱۷- د اخترونو دودونه.................................................۴۹۷
۱۸- خامک دوزي..........................................................۵۰۰
۱۹- د وګړو کارونه او ټولنیز پوړونه...............................۵۰۰
۲۰- د ملکیت رواجي مقیاس..........................................۵۰۴
۲۱- هلمند سیند دودیزه مشاعره....................................۵۰۴
۲۲- ملي اتڼ...............................................................۵۰۵
۲۳- د هلمندي کوچیانو ژوند او دودونه...........................۵۰۷

(c) ketabton.com: The Digital Library



# سریزه

إِنَّ ٱللَّهَ وَمَلَٰٓئِكَتَهُۥ يُصَلُّونَ عَلَى ٱلنَّبِيِّ ۚ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ صَلُّوا۟ عَلَيْهِ وَسَلِّمُوا۟ تَسْلِيمًا ﴿٥٦﴾ **(د الاحزاب سورت ۵۶ آیت)**

**اللَّهُمَّ صَلِّ عَلَى مُحَمَّدٍ، وَعَلَى آلِ مُحَمَّدٍ، كَمَا صَلَّيْتَ عَلَى إِبْرَاهِيمَ، وَعَلَى آلِ إِبْرَاهِيمَ، إِنَّكَ حَمِيدٌ مَجِيدٌ.**

اما بعد:

له وړکتوبه مي په زړه کي یو ارمان و چي د افغانستان او بالخصوص د خپل مورني ټاټوبي (هلمند) په هکله څه ناڅه معلومات ولرم، بدبختانه چي هر څه به مي هڅه کول، داسي څه مي په لاس نه راتلی چي زما تنده په ماته سي.

د **۱۳۹۲** لمریز کال په دوبي کي د پوهنتون په درېیم سمسټر کي وم، درانه استاد (عبدالله نړیوال) یوه کورنۍ دنده راکړه، چي موضوع یې د هلمند اړوند د عمومي معلوماتو په هکله وه، د موضوع تر اخیستلو وروسته چي کله کور ته راستون سوم، لستوڼي مي راپورته کړې، د

(c) ketabton.com: The Digital Library



مأخذونو او موادو په ټولولو مي پیل وکړ، د دوو اونیو په جریان کي مي د هلمند په هکله ډېر څه ولوستل او ومي چوڼل، اخیر مي دا مواد د سیمنار په شکل ترتیب کړل، د موضوع تر وړاندي کولو وروسته دومره وستایل سوم، چي له هغه وروسته مي هوډ وکړ، تر څو دا موضوع به نوره هم غزوم او د یوه کتاب په شکل به یې چاپوم، له ډېرو استادانو او ملګرو سره مي مشورې وکړې، هغوي هم ډېر تشویق کړم.

کله چي مي کار پیل کړ، زړه نا زړه وم او موضوع ستونزمنه را ښکارېده، ځکه د هلمند په هکله مي په لاس څه نه درلودل، خو وروسته چي کله په موضوع ورګډ سوم، ورو ورو جالبه او پټ موضوعات راته تر سترګو کېدل او موضوع نوره هم جالبه کېده.

د هلمند په هکله په عربي، انګرېزي او نورو ژبو ډېري څېړني سوي دي، خو متاسفانه او بدبختانه په خوږې پښتو محدودي څېړني سوي دي، چي په لاندي ډول ورڅخه یادونه کولای سو:

.د کاندید اکاډمېسن محمد ابراهیم عطایي اثر (هلمند د کلتور په ساحه کي).

.د کاندید اکاډمېسن محمد اعظم سیستاني اثار، لکه:

۱.سیستان سرزمین حاسه ها و هماسه ها

۲.سرگذشت سیستان و رود هیرمند

۳.جغرافیای تاریخی و اقتصادی ولایت هیلمند

۴.د وزیر فتح خان او د هغه د کورنۍ تاریخي رول په سدوزي دولت کي او نور...

(c) ketabton.com: The Digital Library



.د استاد محمد معصوم هوتک اثار د هلمند په هکله لیکلي دي، لکه (د ناوې دانشور، د کندهار منور، د زنګاوات مخور او نور...).

ـهمدا ډول، شریف الله دوست سرواني ځیني اثار لیکلي، لکه (د هلمند نومیالي او زینداور).

.الحاج محمد اسماعیل شریعتیار د (هلمند پوله په پوله).

.د مقالو ټولګه د (زما هلمند) تر سرلیک لاندي او شاید ډېر نور کتابونه لیکل سوي اوسي، چي زما په لاس نه دي راغلي.

د هلمند (هیتومنت) اثر چي ستاسو درنو لوستونکو په لاس کي دی، په عموم کي پر درو موضوعاتو مي څېړلی دی، لومړۍ برخه د هلمند جغرافیه، دوهمه برخه د هلمند تاریخ او درېیمه برخه د هلمندي دودونو په هکله ده.

د جغرافیې په برخه کي د هلمند جغرافیوي موقعیت، آب و هوا، کرهڼه، هلمند سیندونه، برېښنایي بندونه، کاني زخایر، اداري تشکیلات (مرکز او ولسوالۍ)، تاریخي آثار او مشهوري سیمي او نور څېړل سوي دي.

د تاریخ په برخه کي د هلمند لرغونی تمدن، په هلمند کي د تورلي ډبري (کلکولي تیک) دوره، د آریائیانو مهاجرتونه هلمند ته، له اویستایي او ویدي مدنیتونو سره د هلمند اړیکه، د سکندر مقدوني (یوناني) یرغلونه، د هلمند لرغوني کورنۍ، هلمند په آریانا کي، په هلمند کي د اسلام د مبارک دین خپرتیا، په اموي، عباسي، صفاري، غوري، غزنوي، مغولي دورو کي د هلمند وضع او حالت او همدارنګه د افغانستان په معاصر تاریخ کي د هلمندیانو رول مي سپړلی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د دودونو په برخه کې د هلمندیانو پر رسم، رواج، کلتور، عنعناتو او دودونو، لکه: د هلمندیانو د کورنۍ جوړښت، کالي، خوراک، مرکه، کوزده، واده، جرګه او مرکه، مېلمه پالنه، ننواتې، د مسافرت دودونه، د مړيني دودونه، میراث، ناجوړي او علاج، د کوچنیانو او ځوانانو لوبې، د اخترونو دودونه، هلمند سیند دودیزه مشاعره، ملي اتڼ، د هلمندي کوچیانو دودونه او همدا رنګه پر نورو دودونو مې بحث کړی دی.

هلمند د افغانستان د نورو سیمو په څېر لرغونی تاریخ، ښه ستراتیژیک و سوق الجیشي موقعیت او د افغاني دودونو څخه یوه ډکه سیمه ده، چې له امله یې همېشه د هیواد د زیاتې مهمې سیمې په توګه د هیواد د سیاسي، اقتصادي او اجتماعي برخلیک په ټاکلو کې یې مهم رول لوبولی دی.

هلمند یوه ویاړلې تاریخي او جغرافیایي سیمه ده، چې له مېلاد څخه څو زره کاله پخوانی تاریخ لري، د نړۍ تاریخونو او لرغون پلټونو ثابته کړې ده، چې چېري سیندونه وي، هلته مدنیتونه زېږېدلي، چې هلمند سیند هم د آمو، نیل، دجلې او فرات، ژړ سیند، سندهـ سیند، د هند سمندر او نورو په څېر یو مدنیت زېږنده سیند دی، چې ورسره دا ښېرازه سیمه هم د همدې ډک سیند له امله په همدې نامه نومول سوې ده.

د هلمند ښېرازه سیمه په تاریخونو او جغرافیو کې د دره نیل، مصر ثاني او آسیا د ګدام په نومونو یاده سوې ده او د هلمند سیند د غاړې او سېدونکي توانګر، غښتلي او پهلوانان بلل سوي او دا سیمه د هلمند په اسطوريي (کیسه ییز) او مستند تاریخ کې د غښتلو،

(c) ketabton.com: The Digital Library



پهلوانانو او کرو ړیانو په نامه یاده سوې ده، کله چې موږ وایو چې هلمند د بلخ سره همزولی تاریخي شالید لري، ددې خبري دلیل دا دی چې هلمند سیند هم د آمو د سیند په څېر د هیواد د لویو سیندونو څخه دی او دلته هم له ننه شپېږ زره کاله پخوا هلمندیانو د خپل لاس ننبسي او د لرغوني تمدن بېلګي پرې ایښي دي.

هلمند (=هیتومنت) د اویستا یو ولسمه ټوټه ښکلې او له ویاړه ډکه مځکه ده، چي د هلمند او سیستان له حاصلناکي ناوې څخه عبارت ده، د هیتومنت (هلمند) مست سیند د خپلو مرستیالانو سیندونو سره د زمیادیشت په (۶۷) فقره کي یاد سوی دی او پخپله د هلمند په باب داسي یادونه سوې ده، چي هیتومنت (ای تومنت) د جلال او ویاړ خاوند دی.

هلمند د دوو سترو امپراطوریو (غزنویانو او غوریانو) پلازمېنه (پایتخت) هم پاته سوی دی، د نړۍ د پراختیا غوښتونکو یرغلګرو قومونو په مقابل کي د مقاومت او ازادۍ غوښتونکو یو قوي مرکز هم و، چي د هر تیري کوونکي په مقابل کي یې د نومیالیو غازیانو او شهیدانو د قربانیو، شجاعت او مېړاني، کارنامې او حماسې جوړي کړي دي، د حاجي جمال خان بارکزي، میر افغان علیزي، سردار پائنده محمد خان، اشرف الوزراء وزیر فتح خان، غازي وزیر محمد اکبر خان، غازي سردار محمد ایوب خان، غازي امان الله خان، سردار داود خان او نورو نومیالیو کارونه او شهکارونه یې لا اوس هم زموږ د ویاړلي تاریخ په حافظې کي خوندي دي.

زموږ د ملي فرهنګ په ساتنه کي د هلمند چي زرګونه کاله مخکي په اویستا کي هم څو ځله یادونه سوې، د یادولو او ویاړلو وړ دی، د

(c) ketabton.com: The Digital Library



پېړیو په پوړیو کې د مختلفو علومو ډېر لوی علماء تاریخي، ویاړلي او لرغوني هلمند روزلي دي، حتی په دوهمه لمریزه پېړۍ کې د علم، صنعت، تجارت، هنر، شعر او ادب نړیوال مرکز و، له هغه وخت او له هغه څه وروسته د ډېرو نومیالیو عالمانو علامه ابن حبان بُستي، ابو الفتح بُستي، هاشم سرواني، اکبر زمینداوري او نورو عالمانو او پوهانو نومونه هیڅ کله هېرېدونکي نه دي.

بُست، زینداور (زمینداړو)، باغ ارم، سروان، د بارکزو ناوه (خلج)، موسی کلا، بغنین، نادعلي، بولان، دښت لګان، تل، سرخ دز، هزارسپ، آریاسپ، دېشو، بشلنګ، صفار او لښکرګاه هغه لرغوني، له ویاړه ډک او د لرغونو تاریخي ښېښو سیمي دي، چي تل به د افغان ملي تاریخ او جغرافیه به په رنګین وي.

ددې ناچیزه اثر په څېړلو او سپړلو کې ډېرو استادانو او ملګرو راسره مرسته کړې ده، چي په وار سره لومړی له خپل قدرمن لارښود استاد (کاندید اکاډمېسن محمد اعظم سیستاني صاحب)، خوږ ملګری او ټولګیوال شریف الله دوست سرواني، الحاج شاه محمود حسرت، ولي محمد خادم، انجنیر محمد داود فرهنګ، الحاج محمد اسماعیل شریعتیار، احمد شاه پاڅون، فرید احمد فرهنګ او نورو دوستانو څخه نړۍ مننه چي په نیکو مشورو او مرستو یې زه هر ګام پر ځان ډاډه کړی یم.

کېدای سي، په دې کتاب کي چي زما لومړنی اثر دی، ځیني اشتباهات، تېروتني او نیمګړتیاوي موجودي وي، ځکه هر کار په پیل کي څه ناڅه تشي او نیمګړتیاوي لري، چي د وخت او زمان په تېرېدو او د نوو تجربو په زیاتېدو به دا هم ان شاء الله حل سي، له درنو

(c) ketabton.com: The Digital Library



لوستونکو څخه مې هیله داده، چې که څه تېروتنې او نیمګړتیاوې پدې کتاب کې مو تر سترګو سي، راته په ګوته یې کړئ.

په درنښت
د سرلوړي، باثباته او یوموټي افغانستان په هیله

محمد شفیق ژمن

درویشان واټ - لښکرګاه - هلمند
۱۰/۱۳۹۳/۲۳
شمېره: ۰۷۰۰۶۶۰۶۰۷
برېښنالیک: Shafiq.Zhman@gmail.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د کاندید اکاډمیسن محمد اعظم سیستاني تقریظ:**

د «**هلمند**» پر کتاب

د محمد شفیق ژمن تألیف

هلمند ولایت، بُست پوهنتون د حقوقو او سیاسي علومو د پوهنځي
(د څلورم کال محصل)

د هیواد په جنوب لوېدیځ کې د هلمند ولایت، یو له ښېرازو او کرهنیزو ولایتونو څخه دی، چې د ثور تر کودتا مخکې د غلې د ګدام په نوم مشهور و. د هلمند ولایت، دا چې د هلمند په نوم لوی سیند یې له منځه تېر سوی او دواړو غاړو ته مځکې خړوبوي، ځکه نو په عامه اصطلاح دا سیمه هم د هلمند سیند په نوم نومول سوې.

دې رودخانې اصلي نوم د اویستا په متونو کې د (هیتومنت = Haetumant) په بڼه راغلی، چې معنی یې (سد مند یا هغه رودخانه چې سد و بند لري) ده. دغه کلیمه په فارسي ژبه کې (هیرمند) سوې او اوس یې ځایي خلک هلمند او هیلمند تلفظ کوي.

د هلمند ښېرازه وادي او د هغه پر دواړو غاړو پراته تاریخي ښارونه لکه بُست، لښکرګاه، صفار، بولان، خلج، سروان کلا، موسی کلا،

(c) ketabton.com: The Digital Library



درتل (لوړتل = ګرشک)، نادعلي، سرخدژ، هزار اسپ، هزار جفت (دروېشان)، سُلطان کلا او داسي نوري کلاګاني له کجکي راوروسته په اسلامي دوره کي د هلمند له ودانو ښارونو څخه وه، چي هر یو له دې جملې څخه د علم او پوهي مرکز، د توري او قلم د څښتنانو روزنځای و.

هلمند سیند لکه څنګه چي په تاریخ کي د سیستان د تمدن ځانګو ده، داسي سیند دی چي پخپلو سرکښو څپو کي یې تل د هیواد زړه ور، تورزن او د علم خاوندان روزلي او ټولني ته وړاندي کړي دي، چي د هیواد په معاصر تاریخ کي موږ دد ې زړه ورو مېړنو شاهد یو، چي د همدې رودخانې (هلمند) له څنډو راپورته سوي دي.

هغه زمري مېړونه چي د هلمند پر غاړه را لوی سوي، د هیواد په سیاسي برخلیک ټاکلو کي مهمه ونډه لرلې ده، چي له ځانه یې ویاړلي کارنامې پر ځای پرې ایښي، هغه چي نن زموږ د هیواد او هیلمند د بچیانو لپاره د ویاړ وړ دي.

که د اسلامي پېړیو په لومړیو کي د غښتلو ځوانانو او عیارانو له ذکر څخه راتېر سو، د افغانستان په معاصره دوره (۱۸ - ۱۹) مېلادي پېړیو کي له لسګونو تاریخي، سیاسي او ټولنیزو شخصیتونو نومونه واخلو، چي د دوي له جملې څخه یو هم حاجي جمال خان بارکزی د بارکزو د قوم مشر، هلمند کي مېشت او د احمدشاه بابا څخه یې د

(c) ketabton.com: The Digital Library



افغانستان د پاچا په توګه خپل لومړنی ملاتړ اعلان کړ او د عمر تر پایه پوري د هغه له ملاتړ څخه تر شا نه سو، احمدشاه بابا هم تر وروستي پوري د نوموړي عزت او درناوی وکړ او دده له مشورو څخه به يې د هیواد د سیاسي ټینګښت لپاره ګټه اخیسته.

پدې کورنۍ کي دوهم سیاسي او نظامي شخصیت د سردار فتح خان پلار سردار پاینده خان و، چي د تېمورشاه دراني د دولت د ټینګښت لپاره يې توره پورته کړه، دښمنان يې له پښو وغورځول او یا يې هم د نوموړي تابع کړل او همدا ډول د زمانشاه سلطنت ته په رسېدو کي يې هم مهم نقش ولوباوه، ددې لويې کورنۍ درېیم سیاسي او نظامي شخصیت وزیر فتح خان (۱۷۸۱ - ۱۸۱۸ م) دی، نوموړی د سردار پاینده خان هلمندي زوی دی، چي د خپل پلار په څېر په ۱۹ کلنۍ کي په سیاسي مسائیلو ورګډ او د خپل لیاقت، ځیرکۍ، زړه ورتیا، ملي او افغاني ارزښتونو ته په کتو سره يې په ۲۱ کلنۍ کي شهزاده محمود دراني پر تخت کښېناوه او خپله په سلطنتي دستګاه کي د اشرف الوزراء مقام ته (۱۸۰۱ - ۱۸۰۳، ۱۸۰۹ - ۱۸۱۸ م) ورسېد، تردې اندازې ځواکمن او د لوی شخصیت لرونکی و، چي د شاه محمود په وسیله د نوموړي له وژل کېدلو سره، د سدوزیو څخه د سلطنت واګي له لاسه ووتلې او د هیواد سیاسي تګ لوری ورسره تغیر وکړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



وزیر فتح خان د خپل هیواد پر پاک حریم د پردیو د لاس لنډېدو او مداخلو، د خپل هیواد مځکنۍ بشپړتیا د ساتلو لپاره له نوي ځوانۍ څخه یعنې له ۲۰ کلنۍ مخکي، څه د پلار تر سیوري لاندي او څه هم د پلار تر وژل کېدو وروسته هر وخت چي د هیواد د دفاع مسئله او همدا ډول د خپلو خلکو د عزت او شرف ساتلو لپاره مطرح و، د وطن دښمنان او له مرکزي ځواک څخه سرکښان یې په مېړانه له پښو وغورځول، له کشمیر څخه تر سند پوري، همداسي تر بلوچستان او له هغه ځایه د هرات تر ښځو یې په خپلو مبارزو او سرښندونو باندي د افغانستان له مځکنۍ بشپړتیا او ملي واکمنۍ څخه ساتنه کړې ده.

دا پداسي حال کي ده، چي د انګرېز د تیري د لومړۍ، دوهمي او درېیمي جګړې، درې سره قهرمانان چي په ۱۹ او ۲۰ پېړیو کي رامنځته سوې، د همدې پیاوړي کورنۍ غړي وه، چي د هیواد په معاصر تاریخ کي د وزیر اکبر خان، سردار ایوب خان او غازي امان الله خان په نومونو مشهور دي.

د اشرف الوزراء وزیر فتح خان وروڼو د کندهاري سردارانو یا بارکزیو وروڼو په نوم ۳۳ کاله له (۱۸۱۸ م) څخه تر (۱۸۵۵ م) پوري په کندهار او شاوخوا سیمو کي واکمنۍ وکړې.

همدا ډول د وزیر فتح خان لس وروڼه او ورېرونه له امیر دوست محمد خان څخه پیل تر غازي امان الله خان، نادرشاه، ظاهرشاه او د

(c) ketabton.com: The Digital Library



افغانستان لومړني ولسمشر (سردار داود خان) پوري ټول د هلمند میشتي سردار پاینده خان اولاده ده، چې له (۱۸۱۸ - ۱۹۷۸ م) پوري یې ۱۶۰ کاله د هیواد سیاسي برخلیک په لاس کې و.

پورتني ټول سیاسي او تاریخي شخصیتونه د پلار او مور لخوا هیرمند (هلمند) ته منسوب او د دغه هلمند بچیان دي، ځکه د دې سترو شخصیتونو پلرونه او نیکونه یعنې حاجي جمال خان او زوی یې سردار پاینده خان، وزیر فتح خان او موریې لویه ادې او د نورو بارکزیو سردارانو پالنه او روزنه د هلمند په غېږه کې سوې ده او په ځوانۍ کې د هیرمند له غاړو پر خپلو آسونو سپاره تر سند او کشمیر، اټک او بلوچستان پوري یې سیمه د خپل توري تر سیوري لاندي کړه او پدې پراخه سیمه کې یې سرکښان او سرغړونکي مرکزي حکومت ته د توري په ځواک تابع کړه.

د هلمندي پیاوړو سیاسي او فرهنګي شخصیتونو د پېژندني لپاره او همدا ډول ددې سیمې له لرغونو ښارونو، دودونو، رسوم او ادابو، د خلکو د ژوند ډول په غم او ښادیو کې د ګډون سره اشنایي کولای سو د ځوان، هڅاند او با استعداده هلمندي ځوان ښاغلی محمد شفیق ژمن د (هلمند) په نوم کتاب کې مطالعه کړو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



یاد کتاب پر درېیو برخو (جغرافیه، تاریخ او کلتوري دودونو) په ۵۰۰ مخونو کي څېړل سوی او په روانه ادبي پښتو لیکل سوی دی، چي پخپل وار که بې بېلګي نه وي، کم بېلګه بلل کېږي.

مؤلف له دې سره چي د حقوقو او سیاسي علومو د وروستي کال محصل دی، د تاریخي، جغرافیایي او فرهنګي څېړنو په ډګر کي تازه کاره دی، له ځانه لویه وړتیا ښوولې ده، ویلای سم چي د نوموړي کار ډېر لوړ او د څېړني له اصولو سره برابر دی، تر دې چي د افغانستان د علومو اکاډمۍ د مرستیال څېړونکي تر بریده دی، کله چي زه د افغانستان په علومو اکاډمۍ کي د یو شمېر سرڅېړونکو مرستیالۍ ته د نوماندانو لارښود وم، کولای سم وو وایم چي د ښاغلي محمد شفیق ژمن کار د سرڅېړونکي د مرستیالۍ نوماندۍ ته وړ دی.

په وروستیو کي په خپل وار یاد کار د یوه مونوګراف (د لیسانس علمي پایلیک) تر کچي لوړ ارزوم، هیله لرم چي یوه ورځ همدا اثر د پوهنیارۍ علمي ترفیع لپاره کاندید کړي.

ددې ځوان او هڅاند څېړونکي د لا بریالیتوبونو او موفقیتونو په هیله.

سیستانی، سویډن د ګوتنبرګ ښار

۱۰/۲/۲۰۱۵

(c) ketabton.com: The Digital Library



# مخيزه

د آريانا تاريخي پېر له ويدي سرودونو سره پيل کيږي، چې له همدې سرودونو سره د آرين وګړو ادب، تاريخ، سياست، اقتصاد، د ټولنيز ژوند ډول، اندونه او ګروهـ ور څخه په ښه ډول څرګنديږي.

هلمند هم چې د آريانا له مهمو او مشهورو مدنيتونو څخه دی او لا له دې آريايي پېر وړاندې يې د سوځلي ښار بېلګې په لاس کې لرو، د ويدي مدنيت لغوي بېلګې د شاعرانو په شعرونو، پښتو او درې ژبو کې راپاتـه دي، چې يـو هـم د ښـکارندوی پـه قصيده کې د چندي او اشکلونو ويدي او سنسکريټ کلمات دي.

ويلای سو لکه څنګه چې آريايي عصر کې ويدي مدنيت ټولـه آريانا ويجه تر پوښښ لاندې نيولې وه، همداسي يې د هلمند متمدنه حوزه هم د سند او آمو مدنيتونو په څېر تر خپل پوښښ لاندې راوستل.

هلمند په لرغوني تاريخ کې د تمدونونو څلورلاری و، چې د مصر، بين النهرين، پارس، آمو، موهنجودارو، منډيګک او چين تمدونونه يې سره پيوندول.

(c) ketabton.com: The Digital Library



له دې سره او یستایي مدنیت د زرتښت له زیږېدني سره را منځته کیږي او د لومړي ځل لپاره د زرتښت او ګشتاسب پهلوان په مټ په هیتومنت (=هلمند) کي خپور سو، پدې مانا چي د زرتښت د تبلیغ لومړنی ځای د هلمند غاړې دي.

ددې سیمي (هلمند) تاریخي او قبل التاریخي ارزښت ته په کتو سره دا ښېرازه سیمه ډېرو لرغون پېژندونکو څېړنو ته اړتیا لري، چي دا دی پدې برخه کي زموږ یو هڅاند ځوان ښاغلی محمد شفیق ژمن هم قلم پورته کړ او د هلمند د جغرافیې، تاریخ او کلتور په برخه کي یې له توان سره سم ستاسو په لاسونو کي ارزښتناک اثر ولیکه، چي په خپل وار یوه ارزښتناکه لاسته راوړنه بلل کیږي.

هلمند د مستند تاریخ تر څنګ افسانوي تاریخ هم لري، چي په کیسو کي یې د فتح خان بړیڅي او رابیا، موسی جان او ګلمکۍ حماسې د یادولو وړ دي، همداسي په افسانوي تاریخ کي د غرغښتې (ګرشاسپ)، زال، رستم او سهراب نومیالیو نومونه د یادولو وړ دي، همدا ډول د امیر کروړ جهان پهلوان، ابو هاشم سرواني، شېخ اسعد، ښکارندوی، تایمني، اکبر زمینداوري او زرغون خان نورزي ادبي څېرې د ستایلو او یادولو وړ دي.

د هیواد په معاصر سیاسي تاریخ کي برخلیک ټاکونکي څېرې، حاجي جمال خان بابا، نور محمد خان (میرافغان) علیزی، سردار

(c) ketabton.com: The Digital Library



پاینده خان بارکزی، وزیر فتح خان، وزیر اکبر خان، امیر دوست محمد خان او غازي امان الله خان باید هېر نه سي.

همدا ډول هلمند اوس د یوه لوی ادبي بهیر، پنځو پوهنتونونو، څلور انستیتیوتونو او سلګونو ښوونځیو په لرلو سره د ویاړ وړ دی، د هلمند سیند له برکته یې کرهنیز اقتصاد د پام وړ دی، خلک یې د نوي او عصري ټکنالوژۍ په رارسېدلو سره متمدن سوي او د ژوند سطحه یې لوړه سوې ده.

په پای کي ویلای سو چي د هلمند ښېرازه ولایت د هر اړخیز ارزښت له مخي په سیمه کي د پام وړ دی، پر دولت ږغ کوو چي د دې سیمه کي د تاریخي ارزښتونو ساتلو ته توجه وکړي، اقتصادي پروژې پلي کړي او د تعلیم و تربیې په برخه کي نوي نسلونه وروزي تر څو د هیواد په پرمختګ کي په کار وګمارل سي.

زه په خپل وار زما د ګران ټولګیوال او خواږه ملګري ښاغلي محمد شفیق ژمن د (هلمند) په نوم اثر په لوړو ټکو ستایم او د لا بریا لپاره یې دعا کوم.

په درناوي

شریف الله دوست سرواني، هلمند، بُست مېنه

۲/۱۲/۱۳۹۳

(c) ketabton.com: The Digital Library



## پوهاند عبدالحی حبیبي په هلمند کي:

عبدالحی حبیبي صاحب د هلمند په ستاینه کي وایي:

اې هلمنده!
تل بهېږې نه وچېږې!
اې ژوندی بهانده روده!
غاړي غاړي ځمک په خوله کي
ژوند دي تهول تک وپوده
تل ښوريږې حرکت کړې
ته ډېر بد ورې له رکوده
راسه ستا سره خواله کړم
د غمجن زړه تشېده کړم
دلته ستا پر دواړو غاړو
څه ښارونه چي ودان وه
لمر سپوږمۍ په زرو کاله
دلته بريښنده تابان وه
ستا زامن وه نوموړي
را د مردان پهلوانا وه
يو وارو ګوره چي څه سوه
په تورتم په ورکېده سوه

(c) ketabton.com: The Digital Library



داور ولاړی ټوله وران سو
بُست دي هم خاورې ايرې سو
د زرنج کنډوالې وينم
د لوړتيا مزې يې پرې سو
سروان هم سو لوټې لوټې
څه ماتم دلې هورې سو
البُستي په وير ککړ دی
زرنجي په خاورو خړ دی
راسه اې بهانده روده!
درته لولم افسانه ستا
ستا اوبه آب حيات وې
ټول زامن وه مردانه ستا
چې د مرګ طوفان پرې راغی
کنډواله سوه کرانه ستا
نه څراغ د تهذيب بل سته
نه رڼا سته نه مشعل سته
د زرنج مدارس وران سول
علما يې ټول خاموش دي
نه د بُست دا نشکده سته
طلبه يې سيه پوش دي
مدني ښارونه وران سول

(c) ketabton.com: The Digital Library



لـــــه عـــــدم هـــــم آغـــــوش دي
یـــــو وار وګـــــوره هلمنـــــده!
ځنګـــــه تشـــــه ســـــتا لمـــــن ده
یـــــو وار بیـــــا حرکـــــت وکـــــړه
شـــا وخـــوا دي ژونـــد ځپـــه کـــړه
بیـــا ودان کـــړه لـــوی ښـــارونه
پـــرې ایلـــه د ژونـــد چینـــه کـــړه
تـــش ډګـــر دي زرغـــون بـــاغ کـــړه
بُســـت دي بیـــا دا نشـــکده کـــړه
خپـــل زامـــن پـــه ژونـــد خبـــر کـــړه
زرغـــون داکنـــډو کپـــر کـــړه
ولـــي هســـي ســـوې بـــې فیضـــه
اې هلمنـــده! ځانـــه تـــه ګـــوره
د ژونـــدون اوبـــه خپـــرې کـــړه
غـــور ځـــه پـــر ځـــه خانـــده ښـــوره
زرغونـــه کـــړه دا دښـــتونه
پرېـــږده مـــه دا مځکـــه تـــوره
تـــه د ژونـــد مســـته چینـــه وې
ولـــي نـــه ګـــورې چـــي ځـــه وې

لوی استاد علامه عبدالحی حبیبي صاحب په (۱۳۱۲ لمریز) کال د حمل په (۳۰) نېټه هلمند لیدلی و.

(c) ketabton.com: The Digital Library





# د هلمند نقشه

(c) ketabton.com: The Digital Library


# هلمند (هیتومنت)

## لومړۍ برخه

## جغرافیه

(c) ketabton.com: The Digital Library


# لومړی څپرکی

## د هلمند جغرافيايي موقعيت

هلمند د افغانستان تر ټولو لوی ولايت دی چي په جنوب لوېديځ کي موقعيت لري او د هيواد لسمه برخه جوړوي، دا سيمه د عرض البلد (۲۹ – ۳۰) او طول البلد په (۶۱ – ۶۹) درجو کي واقع ده.

هلمند (٦١٨٢٩)[1] کيلو متره مربع مساحت لري، ختيځ ته يې کندهار، شمال ته يې اروزګان، دايکنډي او غور، لوېديځ ته يې فراه او نيمروز ولايتونه دي او جنوب ته يې د (١٦٢) کيلو متره مربع په سرحد لرلو سره د ډيورنډ کرښه پرته ده.[2]

هلمند د افغانستان لومړی درجه ولايت دی، چي وګړي يې په سلو کي (۹۲٪) په پښتو او پاته (۸٪) په پارسي او بلوڅي خبري کوي، مرکز يې لښکرګاه ده.[3]

هلمند زموږ د هيواد يوه ډېره تاريخي سيمه ده، چي تاريخي قدامت يې زرګونو کلونو ته رسيږي، ددې سيمي اوسنی حال او مهال چي

---

۱.په اطلس قريه های افغانستان، درېيم ټوک، ۱۲۲۹ مخ کي د هلمند ټولټال مساحت (۶۲۳۳۷) کيلو متر مربع ښوولی، د هلمند د احصايې امريت له قوله د هلمند ولايت څخه تقريباً (۵۰۸) کيلو متر مربع مځکه د کندهار پوري تړل سوې ده.

۲.http://www.elections.pajhwok.com

۳. http://fa.wikipedia.org

(c) ketabton.com: The Digital Library



تاسي يې وينی دا سيمه د خپل پراخ جغرافيايي موقعيت له مخي ډېره بډايه وه.

د هلمند تاريخي جغرافيه د نن په پرتله ډېره پراخه وه، چي اوسنی سيستان، نيمروز، فراه، اروزګان او حتی د غور ځيني برخي يې هم نيولي وې.

ټوله يوه واحده جغرافيايي سيمه وه، چي په اوسني حدودو کي نه راټولېدله او کومي سيمي چي د هلمند سيند په اوبو اوبېدلې هغه د هلمند په نامه يادېدې.(۱)

د جنوبي افغانستان په نقشه کي د هلمند سيمه يعنې هغه منطقه چي د هلمند په سيند اوبيږي، د هلمند حوزه نوميږي، د جغرافيايي موقعيت له مخي د ډېرو ښو شرايطو په غيږ کي واقع سوې ده، د ښو مځکو، ډېرو اوبو او مساعدي هوا په لحاظ نه يوائې نن دلته د زيات کرهنيز اقتصاد د پراختيا امکانات برابر دي، بلکې د ډېر پخوا څخه دلته آباتي وه او د خورا ډېرو خلکو ژوند په هوسا و، په دې ځای کي د تاريخي پاته شونو (بقاياوو) په ليدنه سړی حکم کولای سي، چي د هلمند سيند غاړي په يوه زمانه کي د منځني ختيځ ډېر بډای مرکزونه وه او همدغه وجه ده، چي دغه سيمه همېشه د لويو حوادثو او پېښو سره مخامخ سوې ده.(۲)

۱.http://afghanistantoday.org

۲.کانديد اکاډمېسن محمد ابراهيم عطايي، هلمند د کلتور په ساحه کي، ۱۸ مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



هلمند (=هیتومنت) د اویستا (=آوِستا – Avesta) یوولسمه ټوټه ښکلې او له ویاړه ډکه مځکه ده، چې د هلمند او سیستان له حاصلناکي ناوې څخه عبارت ده، اهریمن په دغه ځای کي جادو او جادوګري رواج او خپره کړه.

د هیرمند مست سیند د خپلو مرستیالانو سیندونو سره د زمیادیشت په (۶۷) فقره کي یاد سوی دی او پخپله د هلمند په باب کي داسي تصریح سوې ده، چې هیتومنت (ای تومنت=هلمند) د جلال او ویاړ د خاوند په صفت یاد سوی او ویل کیږي، چې ددغه سیند ځګ ناکو څپو (موج های کف آلود) ټول مصیبتونه له ځان سره وړل.[1]

د هلمند سیند د خپلو دوامدارو او زیاتو اوبو په برکت دلته له هغه وخت څخه د زراعت او کرهڼي امکانات برابر کړي، چې ښایي د ابتدایي انسانانو مخه زراعت ته ګرځېدلې ده.

د سکندر مقدوني (یوناني) تر راتګ مخکي ددې سیمي کرهڼه ډېره مترقي وه او بیا دغه ځای دښتونه د هغه معروفو تاریخي ویالو (زرکن او زورکن) په اوبو دلته ډېره آباتي وه او څنګه چې پخوانۍ عمومي لار د هلمند پر غاړه تېرېدله، نو یو لوی پل د بُست سره پر سیند تړل سوی و او په دغه ځای کي د ختیځ او لوېدیځ مالونه ادلون بدلون کېدل، چې د (اباسیند یا سندھ) او (دجلې و فرات) د حوزو تر منځ لوی سوپر مارکېټ و.

۱.احمد علي کهزاد، د افغانستان پخواني تاریخ، لومړی ټوک، ۳۳۴ او ۳۴۷ مخونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



د تاریخي مدنیتونو پلټونکي په ګډه او په بشپړ ډاډ د تاریخي مدنیتونو زیات او چتوالی هلته مني، چې لوی سیندونه یې پر سیمو ورخپاره وي او په دې برخه کې نیل، دجله، فرات، ګنګا، ژړ سیند او بالاخره، اباسیند، امو او هلمند (=هیرمند) هم پخپل وار هغه سیندونه دي، چې لومړنیو خلکو د سترو مدنیتونو خښتي پکښې ایښي دي.

د هلمند سیمي منځنۍ او جنوبي سیمه په دوو لویو بېدیاوو راتړوله سوې ده، چې دا هره یوه یې نه یوائې د هلمند سیمي لویه بېدیا ده، بلکې د افغانستان له لویو بېدیاوو څخه شمېرل کیږي، دا بېدیاوي یوه د (مرګو = مارجه = مارګو) په نامه یادیږي، چې د هلمند د سیند لوېدیځه او شمالي برخه احتوا کوي، د مارګو (=مرګو) دښت له چخانسور څخه نیولې بیا د بکوا تر دښته او تر ننني مارجې پوري پراخ دی، دوهم ډاګ هغه تاریخي د لکان دښت (= دښت لګان) دی، چې لښکرګاه پکښې آباته وه او په پخوانیو دورو کي آبات ښارونه پر جوړ وه، دا دښت د هلمند په منځني برخه کي د سیند له جنوبي سواحلو څخه د رېګو تر بېدیا پوري د ګرمسېر شګلن دښت هم لوی ډاګ دی، نور نو د ګرشک شمال او د سروان کلا ختیځ ته هم ځیني لوی او کوچني شګلن دښتونه او ډاګونه واقع دي.[1]

۱.کاندید اکاډمېسن محمد ابراهیم عطایي، هلمند د کلتور په ساحه کي، ۱۸ مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library


## د هلمند د نوموني (تسمیې) وجه:

هلمند یا هیرمند چي د عربي ژبي پخواني جغرافیه لیکونکي لکه یعقوبي، ابن فقیه، یاقوت حموي او ابو الفدا د هزار بازو د رودخانې په نامه نومولی دی، د پهلوي (بندهش) او زردښتي (اوستا) په مذهبي کتابونو کي دا رودخانه مقدسه او سپېڅلې یاده سوې ده.

ډېر پخوانی ذکر چي ددې رودخانې سوی دی، هغه د اوستا په مذهبي او ادبي کتاب کی راغلی، چي په هغه ځای کي نوم یې (هیتومنت – Heatumant) ضبط سوی او لغوي معنی یې (پرتمین، برم او پرتم لرونکی) دی، پدې ترتیب چي لومړی جز یې (هیتو) د پل او سد په معنی دی او دا کلمه په (فرګرد ۱۹ او وندیداد ۱۳۰ فقره) کي په دغه معنی کارول سوې ده او د هغې دوهم جز (منت = مند) دی، چي د ترکیب په صورت کي (هیتومنت) د بند او سد لرونکي رودخانې معنی ورکوي.

مګر مرحوم بهار کوم ځای چي د (هیربد) پهلوي کلمه توضیح کوي، د مسعودي له قوله اصل او ریښه ددې کلمې یې (ایربد) ضبط کړی، چي د (ایر) جز یې د خیر او برکت په معنی، معنی کړی دی.

ددې پر بنا کولای سو، چي د (هیرمند) مقایسه او مقارنه د (هیربد) او (ایربد) سره وجه تر لاسه کړو، چي (هیر+مند) یعنې د خیر او برکت لرونکې رودخانه ده، ځکه چي یوائنۍ د خیر او برکت منبع د سیستان د خلکو لپاره دغه هیرمند ګڼل کیږي او اوسني عالمانو هلمند د (پرتمین) په ډول معنی کړی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



تر اسلام مخکي او تر اسلام وروسته دورو په مربوطه متونو کي، دغه رودخانه په مختلف ډولونه او مختلفو املاو ليکل سوې او ليدل کيږي، ددغو له جملې څخه (ديودورس) په خپله تاريخي جغرافيه کي ددې رودخانې نوم (اتيمندر)، پوليبيوس هغه (ايري مانتوس) او ايريان هم (اتيمند روس) ضبط کړی، بلاذري، ياقوت، ابن خرداد او يعقوبي د هندمند په نامه ياده کړې ده.

په حدود العالم کي د (هيذمند) په شکل راغلی، چي دغه املا د ياقوت، بلاذري، ابن خرداد او يعقوبي د املا سره نږدې يوشانتوالی لري.

ابن فقيه د البلدان په کتاب کي د (هيدميذ) په شکل، په عجايب المخلوقات کي د (هندبند) په ډول، په نزهت القلوب کي د (هيرميد) په څېر او په احسن التقاسيم کي مقدسي هغه يې د نزهت القلوب د املا په څېر يعنې (هيرميد) او په حاشيه کي د (هرميد – Hermid) په شکل کښلی.

په ظفرنامه کي د (هيرمن) په صورت قيد سوی او په تاريخ سيستان، تاريخ بيهقي، د جهاننامه په عکسي نسخه او گرشاسپنامه کي د (هيرمند) په شکل راغلی.

په يوې بلي نسخې کي دا نوم د کابل د پوهنتون استاد (پوهاند ميرحسين شاه) له خوا چي گمان کوي، ددې نوم آخريني املا به وي، د (هيرمند) په شکل ليدل سوی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ددې ټولو څرګندونو څخه دې نتیجې ته رسیږو، چي ددې نوم آخرنی املایي شکل په نږدې ګمان یقین سره دغه (هیرمند) دی، چي تر اوسه معمول دی او ددې کلمې د (ر) توری په (ل) بدل سوی دی او د (هیملند) کلمه له هغه څخه زیږېدلې ده او وروسته (ي) ورڅخه لوېدلې او د عوامو په ژبه (هلمند) سوی دی.[1]

## د هلمند آب و هوا:

د هلمند سیمه چي د هلمند په مجرا کي شمالاً او جنوباً پرته ده او په جنوبي برخو کي شمال ختیځ او جنوب لوېدیځ خوا ته میلان پیدا کوي، په شمال کي یو شمېر پر له پسې غرونه او په جنوب کي شګلني او رېګي صحراوي لري.

په شمالي برخه کي چي غرونه د طبیعي عوارضو په اثر د لویو غرونو له سلسلې څخه رامات سوي ورو ـ ورو په شګلنو دښتو اوړي او وروسته رېګي بېدیاوي په وجود راولي، نو ځکه هوا یې هم توپیر لري، په عمومي ډول د هلمند د سیمي لویه برخه دښتي هوا لري، یعنې ژمی یې سوړ او دوبی یې تود وي او باران لږ پکښې اوري.

هغه یو ډول باد چي د هرات په سیمو کي په دوبي را الوزي د هلمند سیمه هم متأثره کوي او ددغه باد په شاني په ژمي هم یو سوړ باد پکښې الوزي، چي په (سیاباد) یادیږي او هر کله چي اتفاقي یا غیر مترقبه توپانونه له نظره ایسته سي، نو په موسمي لحاظ د پسرلي له

---

۱.کاندید اکاډمېسن محمد اعظم سیستانی، جغرافیای تاریخی و اقتصادی ولایت هیلمند، ۱۷۴مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



لومړيو ورځو څخه بيا د دوبي تر نيمايي پوري يو شمېر بادونه دلته را الوزي، چي دوړي او خاوري پورته کوي، ددې سيمي د تودوخي کښته درجه (۱۲) فارنهايټه او لوړه درجه يې تر (۱۲۱) فارنهايټه پوري رسيږي.[۱]

## د هلمند د وګړو شمېر (نفوس):

که څه هم د هلمند ولايت د احصايې ځانګړه ټاکلې شمېره په لاس کي نه لري وايي دا مهال د سر شمېرني امکانات نسته، خو بيا هم د هلمند د احصايي امريت د هلمند ټول نفوس په کال (۱۳۹۲) لمريز کي (۸۹۴۲۰۰) تنه ثبت کړی دی.[۲]

پر پورتنۍ سر شمېرني ځيني اشخاص او افراد نيوکه کوي او وايي، چي د هلمند ټولټال نفوس له (۱.۵) څخه تر (۲) ميليونو تنو پوري دی.

په ويکيپيډيا کي د هلمند ټول نفوس (۱۴۴۱۷۶۹) تنه ثبت سوی دی.[۳]

## د هلمند کرهڼه:

هلمند يو کرهڼيز ولايت دی، ډېر وګړي يې په کرکيله او مالدارۍ لګيا دي دا ولايت ډېري اوبه، وړ هوا او پراخه مځکه لري، په کال

۱.کانديد اکاډمېسن محمد ابراهيم عطايي، هلمند د کلتور په ساحه کي، ۲۱ مخ
۲.د هلمند ولايت د ۱۳۹۲ لمريز کال د احصايوي کالني له کتاب څخه
۳.http://fa.wikipedia.org/wiki/

(c) ketabton.com: The Digital Library



(۱۹۶۶ ز) کې (۱۷۲۴۸۴) کیلو متره مربع مځکه د اوبو لاندې یعنې د خړوب وړ سوه، په مجموع کې دا ولایت ښه پنبه، انځر، انار، انګور، لوبیا، ختکې، هندوانې، د افتاب پرست ګل لرې، غنم او جوارې ډېر پکښې کرل کیږې، چې سربېره پر هلمند نور ولایتونه هم ګټه ترې اخلې، هلمند کې (۸۱۴۰۰۰) اکړه د خړوب وړ او (۱۰۰۰) اکړه للمي مځکه موجوده ده.[1]

هر کله چې سړی په هلمند کې د کرهڼې لرغونې پراختیا مطالعه کوې، نو دا حقیقت له ورایه ورته څرګندیږې، چې د سیستان لرغونی مدنیت په همدغه جنوبې هلمند کې د زراعت د ښو امکاناتو څخه په وجود راغلی و.

د (زرکن) او (زورکن) دوې معروفې ویالې په دغه برخه کې له هلمند څخه جلا سوې وې، هغه لوی او وچ دښتونه چې نن د وحشې حیواناتو د استوګنې مرکزونه دې، هغه وخت زرغونه او د ژوندانه مرکزونه وه، خو په خواشینۍ سره د هلمند آباده سیمه د لویو جهانګیرانو تر چپاول لاندې ورانه سوه، زرغونې سیمې یې د تورو شګو په دښتو بدلې سوې او آباد ښارونه یې زړې کنډوالې وګرځېدې، نو تقریباً اته پېړۍ په یوه نامه خاموشې کې لاهو وه، څو ددې پېړۍ په اوایلو کې ددې تاریخې سیمې د بیا آبادېدو مفکوره پیدا سوه.[2]

۱.اورنګزېب ارشاد، افغانستان پېژندنه، ۴۳۷ مخ
۲.کاندید اکاډمېسن محمد ابراهیم عطایي، هلمند د کلتور په ساحه کې، ۶۳ مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



د امیر حبیب الله خان د سلطنت په دوران کې د هیواد د ځینو برخو آبادۍ ته پاملرنه وسوه، چې د هغې له ډلې څخه یو هم وادي هیرمند (اوسنی هلمند) و، کوم وخت چې حبیب الله خان کندهار ته سفر وکړ، نو د کندهار نائب الحکومه (سردار محمد عثمان) ته یې هدایت ورکړ، چې د هیرمند علیا ختیځو سواحلو ته یو نهر وکیندي، ددې لارښوونې په اثر د نوموړي نهر کیندل، چې وروسته په نهر سراج ونومول سو، د سنګین له ولسوالۍ څخه پیل سو، خو متاسفانه د لومړي نړیوالې جګړې تأثیرات تردې سیمې خپاره سول او د یو څه مودې لپاره د نهر د کیندلو کار د ماشینونو او نورو ضروریه وسایلو د نه رارسېدو له امله وځنډېدل.

بالاخره په (۱۳۱۱) لمریز کال کې د ګرشک خلکو د کندهار رئیس تنظیمه ته عریضې وړاندې کړې او له حکومت څخه یې غوښتنه وکړه، چې د نهر په کښلو او کیندلو کې دې له دوې سره مرسته وکړي،[۱] نو هغه و، چې په (۱۳۱۳) لمریز کال کې د محمد ظاهر شاه د واکمنۍ پر مهال د نهر سراج د آبادېدلو کار له سره پیل سو، د نوموړي ویالې د کیندلو کار د هغه کال د قوس په آخره کې د یو الماني متخصص (مستر سیمه) تر لارښوونې لاندې د افغاني کارګرو په وسیله پیل سو، دا کار تقریباً په شپږو میاشتو کې پای ته ورسېد او

۱.کاندید اکاډمېسن محمد اعظم سیستانی، سیستان سرزمین ماسه ها و حماسه ها، دوهم ټوک، ۴۲۶ مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



ویاله د (۱۳۱۴) لمریز کال د جوزا پر (۲۶) نېټه په رسمي ډول افتتاح سوه.

له هغه وروسته په کال (۱۳۱۶) لمریز کي د فواید عامې وزارت د افغاني کارګرو او خلکو په وسیله، د بغرا د کیندلو کار په یوم او کلنګ پیل سو، پدې وخت کي د دوهمي نړیوالي جګړې ورځي وې او د نړۍ د عمومي بحران په لړ کي د افغانستان اقتصادي پیکر هم بې ژوبلېدو پاته نه سو، خو سره له دې هم کار دوام درلود، مګر څنګه چي په لاس ددې لویې پروژې سر ته رسول یو مشکل کار و، نو دولت دا لازمه وبلله، چي دا کار د تخنیک په ذریعه پای ته ورسوي او دا و، چي د (موریسن نودسن) د کمپنۍ سره یې د لومړي قرارداد په ترڅ کي د هغې د کیندلو کار بهرني او کورني متخصصینو ته وسپاره، نوموړې بغرا په کال (۱۳۲۹) لمریز کي بشپړه سوه، همدارنګه د بغرا پر جړوبې د برېښنا فابریکه او د بغرا عمومي پُل هم جوړ سول.

د بغرا دا کانال د ګرشک د ښار په (۸) کیلو مترۍ کي د هلمند له سیند څخه جلا کیږي او (۷۵) کیلو متره مخ پر جنوب را اوږد سوی دی، د بغرا د کانال په اوبو د نادعلی، مارجې او شمالانو د کرهڼې لویې پروژې اوبه کیږي، د ویالې په اوږدوالي کي د اوبو د کنترول او وېش لپاره ځایونه جوړ سوي دي او کوم ځای چي ویاله د شېلو تر سېلاب لاندي راځي، هلته سیفونونه تیار سوي دي، د ویالې اضافه اوبه د پرچاو په وسیله سیند ته ګډیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


د بغرا ویاله چي له سربند څخه د چاانجیر حدودو ته رارسیږي، نو په دغه برخه کي د شملان ویاله ورڅخه جلا کیږي او د (۶۶) کیلو مترو په فاصله مخ په وړاندي د یو مستقل کانال په ډول بهیږي، د شملان په ویاله، د شملان لویه د کرهڼي پروژه آباده ده، د بغرا او شملان د ویالو په کښلو سره د (مالګیر، عینک، خلج او هزار اسپ) د ویالو اوبه هم پخې سوي دي.

بل چي د یادولو وړ ده، هغه د درویشان ویاله ده، دا ویاله د ګرمسېر (ګرمسېل) مځکي اوبوي، د درویشان د ویالې بند په (۱۳۳۶) لمریز کال کي جوړ سو او اوبه په ویاله کي وبهېدې، د بند اوږدوالی (۱۷۰۰) مترو ته رسیږي او اوبه له سیند څخه د اوسپني په دروازو کي ویالې ته راځي، د نوموړي ویالې په ایستلو اوس د ګرمسېر (۱۲۰۰۰۰) جریبه مځکه د کرهڼي قابل ګرځېدلې ده، د درویشان له ویالې څخه د هزار جفت زړې ویالې هم اوبه پیدا کړي او د درویشان ویالې ته د بند څخه د اوسپني او کانکرېټ آبګیرۍ جوړي سوي دي.

د بغرا کانال چي د (۴۰) کیلو مترو په فاصله جنوب خوا ته ورسیږي، نو اوبه یې پر یو پراخ دښت ور سپریږي، چي هغه ځای ته نادعلی وایي، نوموړې سیمه یوه پراخه زراعتي ساحه ده، چي تقریباً (۴۰۰۰۰) جریبه مځکه تر زراعت لاندي سوېده او په عمومي ډول (۲۱۱۰۰) ایکړه مځکه د کرهڼي قابلیت لري.

د بغرا د ویالې آخر پاین آب د مارجې پر دښتو لګیږي، مارجه د نادعلی په جنوب لوېدیځه برخه کي واقع ده او مځکي یې د کرهڼي په

(c) ketabton.com: The Digital Library



لحاظ تر دروښشان را لاندي په ټولو زراعتي ساحو کي حاصلخیزه او آبادي دي، د مارجې په ساحه کي تقریباً (۶۰۰۰) جریبه مځکه تر کرهڼې لاندي راغلې ده.

بل چي د یادولو وړ ده، هغه د سراج سیمه ده، چي د نهر سراج څخه اوبیږي او د هلمند په سیمي کي یوه پخوانۍ پروژه ده، کومه نوې سروې چي هلته د خاوري په باره کي سوې او د کانال انکشاف مطالعه سوی دی، د (۱۲۰۰۰۰) جریبه مځکي انکشاف یې ښوولی دی.[1]

د هلمند ولایت شمالي ولسوالۍ لکه باغران، موسی کلا، کجکی، سنګین، نوزاد، واشېر او ځیني نوري سیمي بیا د خړوبوني د داسي سیستم څخه برخمني نه دي، بلکې په داسي سیمو له دوه ډوله سیستمونو څخه ګټه کیږي، لومړی د هلمند سیند او ځینو نورو کوچنیو سیندونو څخه په محلي یا کلیوالي بڼه په یوه ویاله کي اوبه جلا کیږي او وروسته د مځکو د خړوبوني لپاره ګټه ورڅخه کیږي او دوهم د کارېزونو سیستم دی، چي د لس متره په شاوخوا کي نغم په مځکه کي جوړیږي او کومي اوبه چي د همدې نغم څخه راوزي د مځکو د خړوبوني لپاره کار ورڅخه اخیستل کیږي.

په هلمند کي د اوبو ډېروالی او د پراخو کرهڼیزو مځکو شتون د هلمند په کرهڼه کي د هلمندي ولس د بوختیا سبب ګرځېدلی، چي اوس مهال د هلمند (۷۹۹۰۰۰) تنه په کرهڼې بوخت دي.

---

۱.کاندید اکاډمېسن محمد ابراهیم عطایي، هلمند د کلتور په ساحه کي، ۶۳ مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library


که څه هم په هلمند کي د کرهڼي په اړه ډېر پرمختګونه سوي دي ولي بیا هم که چیري په دې سیمه کي نوره پانګه اچونه وسي، دا به نور هم کرهڼي ته پراختیا ورکړي.[1]

علمي څېړنو دا معلومه کړې او تصدیق کوی یې، چي د لومړي ځل لپاره کرهڼه په بین النهرین، د نیل دره، د منځني ختیځ (آسیا میانه) جنوبي سیمه، د سیند حوزه، د هلمند او ارغنداب همواري مځکي او د آمو سیند څنډي کي پیل سوې ده.[2]

په هلمند کې تر ټولو لویه ستونزه اوس دا ده، چې ډیر زیات کوکنار کرل کیږي او بزګران هیڅ بل بدیل نه لري چې دومره ګټه ترې واخلي.

دولت هر کال د کوکنارو د کرهڼې په موسم کي د کوکنار کروندې اړوي او نه یې پریږدي چې څوک یې وکري، خو ددې سره – سره بیا هم په هغو سیمو کي چي د دولت د وسلوالو مخالفینو تر ولکې لاندي دي کوکنار زیات کرل کیږي او د دولت له لوري یې مخنیوی تر ډیره ځایه ناشونی دی.

۱.د ویس احمد هلمندي مقاله، زما هلمند، د مقالو ټولګه، ۴۱۵ مخ
۲.کاندید اکاډمېسن محمد اعظم سیستانی، سیستان سرزمین ماسه ها و حماسه ها

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د هلمند د کرهڼي او مځکو چارټ، ارقام په جریب

| واحدونه | شخصي | دولتي | | دښتي | څر | فارمي |
|---|---|---|---|---|---|---|
| | | زراعتي | غیرزراعتي | | | |
| لښکرگاه | ۷۰۴۹ | ۱۱۴۵۷ | ۲۵۶۹۶ | ۱۹۴۴۴ | ۴۸۱ | ۶۱۷ |
| نهرسراج | ۱۶۴۴۸ ۵ | ۱۲۴۹۱ | ۳۰۱۲۲ | ۲۱۹۰۸ | ۱۹۶۶ | ۳۰ |
| نادعلي | ۱۱۸۹۴۲ | ۳۹۰۳۱ | ۱۴۶۱۳ | ۸۱۵۷ | ۱۳۱ | ۷۳۹ |
| د بارکزو ناوه | ۷۵۰۲۰ | ۱۷۸۷۲ | ۷۹۷۴۶ | ۳۲۶۳۷ | ۸۹۰ | ۶۳۶ |
| گرمسېر | ۸۲۹۲۱ | ۳۳۰۲ | ۵۹۳۹۷ | ۴۶۹۹۲ | ۱۴۳۵ | ۱۷۳۱ |
| سنگین | ۲۶۵۵۷ | ۲۱۳۵ | ۱۱۹۷۲ | ۶۱۲۱ | ۱۲۷۵ | ؟ |
| کجکی | ۳۶۸۴۱ | ۲۴۹۹ | ۱۱۹۷۲ | ۹۵۴۶ | ۶۹۹ | ۱۸۱ |
| باغران | ۳۲۲۱۶ | ؟ | ؟ | ؟ | ؟ | ؟ |
| موسی کلا | ۵۲۹۰۰ | ۳۰۰۴ | ۱۵۵۳۱ | ۱۲۶۹۹ | ۱۳۹ | ؟ |
| نوزاد | ۱۰۱۸۸۲ | ۲۳۶۶۶ | ۷۴۳۴۵ | ۶۹۵۵۷ | ۲۲۷۴ | ؟ |
| دېشو | ۵۰۶۰۴ | ۳۱۴۱ | ۱۵۵۲ | ۱۰۸۶۶ | ؟ | ۵۳۷۴ ۵ |
| واشېر | ؟ | ؟ | ؟ | ؟ | ؟ | ؟ |
| خانشین (ریگ) | ۱۰۵۵۷۶ | ۴۹۳۶ | ۲۴۷۳۲ | ۳۴۵۸۶ | ۳۶۲ | ؟ |
| مارجه | ؟ | ؟ | ؟ | ؟ | ۵۰۰ | ۳۳۳۶ ۶ |

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د هلمند (هیرمند) اوبیزه حوزه:

د هلمند حوزه د افغانستان په جنوب لوېدیځ کې یوه پراخه ساحه نیولې ده، چې د اوبو لویه حوزه جوړوي، په نوموړې حوزه کې لاندني سیندونه راځي:

۱. د هلمند سیند چې د اوبو لګولو سیمه یې (۱۵۴۳۰۰km) کیلو متره مربع ده، د ټول هیواد د اوبو لګولو د حوزې په سلو کې (۲۳.۶) برخه یې نیولې ده.

۲. فراه رود چې د اوبو لګولو ساحه یې (۳۳۰۰۰ km) کیلو متره مربع ده او د ټول هیواد د اوبو لګولو د حوزې په سلو کې (۴.۴) برخه یې نېولې ده.

۳. ادرسکن سیند چې د اوبو لګولو ساحه یې (۲۲۰۰۰ km) کیلو متره مربع ده او د اوبو لګولو د ټولي حوزې په سلو کې (۳.۵) برخه یې نیولې ده.

۴. یو شمېر نور کوچني سیندونه، ولاړې اوبه او ډندونه چې د اوبو لګولو ساحه یې (۱۱۷۳۲۰ km) کیلو متره مربع ده، د ټول افغانستان د اوبو په سلو کې (۱۷.۸) برخه یې نیولې ده.

هغه سیندونه چې د هلمند او سیستان د اوبو لګولو په ټولي حوزې پوري اړه لري، د اوبو لګولو ساحه یې (۳۴۰۰۰۰) کیلو متره مربع پراخوالی لري، چې د ټول افغانستان نیمایي مساحت یعنې په سلو

(c) ketabton.com: The Digital Library


کي (۵۱.۸) برخه يې نیولې ده، دغه حوزه د هیواد تر ټولو نورو حوزو پراخه ده او ډېرې اوبه لري.[۱]

له پورتنيو توضیعاتو څخه مو مطلب دا و، چې د هلمند حوزې او هلمند سیند تر منځ توپیر وکولای سو، لکه څنګه چې د هلمند حوزې مربوط سیندونه مو بیان کړل، خو په (د افغانستان عمومي جغرافیه) کې يې د هلمند سیند، ارغنداب سیند، ترنک سیند، ادرسکن سیند، خاشرود، فراه رود او د غزني سیند يې د هلمند د اوبیزې حوزې مربوط کڼلي.[۲]

اوس به راسو خپل اصلي سکالو ته چې د هلمند سیند دی.

## د هیرمند (= هیتومنت - هلمند) سیند:

هلمند (هیرمند) د افغانستان دوهم لوی سیند دی، ددغه سیند سرچینه له کابل څخه (۶۰) کیلو متره لوېدیځې خواته د بابا په غره کې ده،[۳] دا سیند نه یوائې د افغانستان یو لوی سیند دی، بلکې د ختیځو له سترو سیندونو څخه شمېرل کیږي.[۴]

د هلمند سیند له بابا غره څخه سرچینه اخلي او بیا له هغه ځایه د جنوب پر لور خپل تګ ته داوم ورکوي، د ملا یعقوب د غاښي په لمن کې د میدان په لوېدیځه برخه کې تېریږي، د بامیانو د ولایت جنوبي

۱.د لسم ټولګي جغرافیه، ۹۷مخ
۲.الحاج پوهاند محمد ظریف تڼیوال، د افغانستان عمومي جغرافیه، ۷۰ مخ
۳.علامه اکاډمېسن پوهاند عبدالشکور رشاد، د کندهار یادابښتونه، دوهم ټوک، ۱۸۹ مخ
۴.کاندید اکاډمېسن محمد ابراهیم عطایي، هلمند د کلتور په ساحه کې، ۲۰ مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library


برخو ته ننوزي، وروسته له دې چې د هزاره جاتو درې او رغونه خړوبه کړي، د ارزګان ولایت ته داخلیږي او د ترین کوټ په نږدې کې ځینې لوی واړه خوړونه او سیندونه ورسره یو ځای کیږي، د دهروات په لوري حرکت کوي او د زمینداور (لرغوني زون + داور) په منطقه کې هوارو مځکو ته راپورته کیږي، پدې هوارو مځکو کې د سیند د اوبو سرعت کمیږي، پلنوالی او عظمت یې زیاتیږي، د کجکي بند په برخه کې یې دره پلنیږي او د بریښنا د تولید په منظور د اوبو ستره ذخیره جوړوي، د هغه وروسته د موسی کلا رود اوبستګي خوړ د سنګین (لرغونی سروان) په برخه کې ورسره یو ځای کیږي او د جنوب په لوري بهیږي.

د سنګین څخه ګرشک او بیا په لښکرګاه ښار ننوځي، دننه په ښار کې د مختار د سیمي څخه تیریږي او بیا د بُست له زړې کلا سره د ارغنداب سیند ورسره یو ځای کیږي، ددغه واټن په اوږدو کې د سیند په دواړو خواوو کې پراخه او شاړې دښتي پرتې دي، چې په شمال کې د مارګو دښته او د هغه په جنوب کې د زری دښته او د ګود زری دښته موقعیت لري، د نوموړي سیند د اوږدوالي په کښتني برخه کې کرهڼه د سیند په دواړو خواوو کې محدوده ده.

وروسته د هلمند سیند د درویشان او چاربرجک په حصو کې د کمال خان د بند لوري ته یو پراخه نیمه دایره جوړوي چې په پای کې د نیمروز ولایت د کمال خان بند په برخه شمال خوا ته ګرځي او کابو اتیا کیلو متره نور هم د شمال لوري ته د پولي تر کربښي پوري دوام لري، د

(c) ketabton.com: The Digital Library



خوابګاه او کنګ په حصه کي د هلمند سیند په دوو برخو وېشل کیږي، چي یوه څانګه یې د شمال خواته او دوهمه څانګه یې د شمال لوېدیځ لوري ته بهیږي، شمالي څانګه چي (افغانان هغه هلمند او پارسیان (ایرانیان) هغه د پریان سیند او کله یې ګدپریان هم بولي)، د هغې یوه برخه د دوارو هیوادونو تر منځ پوله تشکیلوي، د چرخ د شېلې له مجرا تر توئېدو وروسته او د چخانسور او هامون د ساحي خړوبولو څخه وروسته په اشکین او هامون کي توئیږي، دوهمه څانګه د سیستان سیند دی، چي د پارس (ایران) په خاوره کي د ننه د شمال لوېدیځ لوري ته جریان پیدا کوي.

د هلمند سیند ټول اوږدوالی د اصل منبع څخه بیا تر انجام پوري (۱۴۰۰km) کیلو متره دی، د نوموړي سیند موقعیت تر ډېره ځایه د هلمند په ولایت پوري اړه لري.[۱]

د هلمند مصب هامون پنځه لکه کیلومتره مربع ساحه لري، ددغه سیند نوم په ویدنو او اویستا کي (هیتومند Haetumant) راغلی دی او د آریانا وېجه یوولسمه سیمه یې بللې ده، د پاڼي نیي په ابنت ادهیای کي ددغه سیند سنسکریتي نوم (سیتومنت Situmant) کښلی دی، یونانیانو دغه سیند (ایتمانتوس Etymantus) بللی دی، ددغه سیند نوم د جوزجاني په حدود العالم کي (هندمند) لیکلی

۱.الحاج پوهاند محمد ظریف تنیوال، د افغانستان عمومي جغرافیه، ۷۰ مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



دی، خو میرزایانو هیرمند لیکه، ثعالبي هم په لطایف المعارف (۲۱۱ مخ) کي هندمند راوړی دی.[۱]

د هلمند سیند تر ټولو لوی مرستیال د ارغنداب سیند دی، چي د لښکرګاه په حدودو کي ورسره ګډیږي، په غیر مستقیم ډول د ارغنداب د سیند مرستیالان لکه (ارغسان، ترنک، او ډوری) هم د هلمند مرستیالان بللای سو، همدغه رنګه په شمالي برخه کي د موسی کلا او نوزاد سیندونه هم د هلمند سیند مرستیالان دي او سربېره پردې یو شمیر لویي او کوچنۍ شېلې چي د بارانو په وخت کي د دښتو اوبه راټولوي په هلمند ګډیږي، چي د پسرلي په موسم کي د هلمند د اوبو سطح اوچتوي.[۲]

د منځنۍ پېړیو لرغونپوهانو (عربانو، هندیانو، ایرانیانو او یونانیانو) په مختلفو نومونو یاد کړی دی یونانیانو د هلمند سیند د اتیماندروس (Etymaandros) په نوم نومولی دی او دا یې هم ویلي دی چي د پغمان د غرونو له لوېدیځ اړخ څخه سرچینه اخلي.[۳]

په ځینو تاریخو او جغرافیو کي دغه نوم هیرمند، هلمند، هندمند، هیل مندو، هیلمند، هېلمند، هیرمن، ایلمند، ایل بند، سیتومنت، تومان، هلبند، سندمند، هیرمید،هیتومنته، ای تومنه، ایتامندرو، ای منتوس، ایتامندروس، هیتومنت راوړل سوی دی، دغه نوم په اویستا کي څو واره هیتومنت (Haetumunt) راغلی دی، که دا نوم

۱.علامه اکاډمېسن پوهاند عبدالشکور رشاد، د کندهار یادابښتونه، دوهم ټوک، ۱۸۹ مخ
۲.کاندید اکاډمېسن محمد ابراهیم عطایي، هلمند د کلتور په ساحه کي، ۲۱ مخ
۳.شهسوار سنګروال، د افغانستان د تاریخي جغرافیې څرنګوالی، ۲۳۰ مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library


زړه پهلوي او پارسي وبلل سي، نو (هیتو) د اوبو د ډند یا بند په معنی دی او (منت=مند) د خاوند او درلودونکي په معنی دی.

پښتانه دغه نوم (هیلمن) تلفظ کوي، په فرګرد (څپرکي) وندیداد (۳،۱۹) سیپاره معادل یې په سانسکریت کي (ستونیز) د پل، بند او ډنډ په معنی راغلی دی.

په زړه پاړسو کي دغه مځکه چي سیند په هغه کي جوړ سوی دی، زرنګه (Zaranka) بلل کیږي او څو واره د داریوش په کتیبو کي په دغه نامه یاده سوې ده، د سکستان (سیستان) نوم کله چي د (سکا . ساک) ټبر دا مځکه ونیوله پر کنبښوول سو (د میلاد دمخه د دوهمي پیړۍ په پای کي).

پخوانیو یونانیانو او رومي مؤرخینو د هلمند سیند د اتیمندروس (Etymandros) یا اریمنتوس (Erymanthus) په نامه بللی دی.[۱]

تاریخ لیکوونکي د هېرمند سیند یادوي او وایي، چي د هېرمند (هلمند) سیند د زردښتیانو لپاره یو مقدس سیند و او هغوي خپل عبادت ځایونه ددغه سیند پر غاړو ودان کړي وه.

ګرشاسپه خپله قرباني لومړی وار د (فرازداناوا) د سیند پر غاړه وکړه، محققین دا سیند د سیستان هامون بولي، پهلوي شهنامه د دارمستتر د یادوني له مخي نقل کوي، چي نوموړي پاچا دا قرباني په

۱.محمد ولي ځلمی، کندهار، دوهم ټوک، ۴۴۹ مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



بُست واري یعنې په هغه ځای کي، چي زوی یې پر هغه ځای باندي د بُست ښار ودان کړ.

د دوشاترویي په (۳۶) فقره کي لیکل سوي دي، چي بُست وار د زریر زوی د بُست ښار ودان کړی دی، دا هغه وخت و، چي ویشتاسبه پاچا په فرازدان کي د مذهب تقدس کاوه، بعضي وایي، چي د هېرمند د کښتي خوا و رودخانې ته (فرازداناوا) ویل کېږي او همدغه سیند دی، چي د بُست د ښار له څنګه بهیږي، د هېرمند او اراکوزیا ټولي آتش کدې او عمارتونه بیا د کاوه، ویشتاسپه د ورور (زریر) یادګارونه دي، مؤرخین دا هم وایي، چي ویشتاسپه د بُست په ښار کي متعدد دي قربانۍ کړي دي.[1]

د هلمند سیمه د واکمنۍ له مخي کله ډېره پراخه او غزیدلې او کله هم یوازي او یا په سیستان پوري تړلې پاته سوې ده، د دې سیمی سلطنتي کورنۍ د افغانستان په معاصر تاریخ کي د (کیاني) په نوم یاده سوې او د احمد شاه بابا تر وخته په سیمیزه کچه واکمنه وه.

که چیري د هیرمند سیند چي اوس یې هلمند بولو، تاریخي بڼې ته یوه لنډه کتنه وکړو، نو وبه وینو چي نوموړی سیند له پخوا څخه د افغانستان په اقتصاد کي ستره ونډه درلوده، بغدادي ابن حوقل د مسیورس صورت الارض په کتاب کي چي د هجري قمري په څلورمه پېړۍ کي تألیف سوی دی لیکي:. (د سیستان تر ټولو لوی سیند هیل مند دی، چي د اوبو جریان یې د غور له څټ څخه وتلی او د رخج او

---

۱.عبدالقدوس نجیب، اراکوزیا (کندهار)، ۸۰ مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



بلدي داور او بُست څخه تېرېږي تر سیستان پوري رسیږي او د زره په جهیل کې توئیږي).

په یو وخت کې د هیرمند (هلمند سیند) څخه یې زیات شمېر کانالونه ایستلي وه، چې د هغو په واسطه یې د سیستان حاصل خېزه مځکه خړوبوله، په (۱۰۴ هـ ق) کال د طعام کانال د هیرمند د سیند څخه د یزید ابن عبدالمالک د خلافت په وخت کې وایستل سو، چې د هغې د فرعي کانالونو پواسطه زرنج او د هغه شاوخوا سیمې یې اوبولې.

اصطخري د هجري په څلورمه پېړۍ کې د باسرود کانال او سنارود کانال چې د سیستان په یوه برخه کې یې د هیرمند د سیند څخه تړلي وه، د اوبو د زیاتوالي په وخت کې به یې بېړۍ پکښې چلولې، د کانالونو سربېره د اوبو ستر – ستر بندونه هم د هیرمند سیند په اوږدو کې جوړ سوي وه، چې د سیستان په کرهڼه او سرسبزۍ کې یې ستره ونډه درلوده، د دغو بندونو له جملې څخه یو چې د ګزک په برخه کې موقعیت درلود، د زره جهیل ته به یې اوبه نه پرېښولې، ځکه په همدې بند کې به اوبه توئیدې او ذخیره کېدلې.

د هغه وخت له مشهورو بندونو څخه یو هم د رستم بند و، چې د زرنج په ښار کې واقع و او له اوبو څخه به یې په کرهڼه او سرسبزۍ کې زیاته ګټه اخیستل کېده، د هلمند سیند د بېړۍ چلولو او اوبیز ترانسپورت له مخې هم زیات اهمیت درلود، په زیات احتمال سره

(c) ketabton.com: The Digital Library



بېړیو تجارتي مالونه د بُست له ښار څخه د سیند د بهېدو څخه په ګټه اخیستلو سره د زرنج ښار ته استول.[1]

په آریانا دایرة المعارف کي وایي، چي د زرنج او بُست تر منځ د (سنارود) په نامه یو کانال ایستل سوی و، چي د هغه په منځ کي به د حمل او نقل لپاره لویي بېړۍ چلېدلې، د زرنج د جنوب په (۳۰) میلې فاصله کي د هلمند په دریاب باندي څو بندونه تړل سوي وه، چي د هغو په واسطه پنځه نهره اوبه د زرنج خوا ته بهېدلې، چي تر ټولو لوی نهر یې (سنارود) نومېده.[2]

## د هلمند سیند د اوبو مسئله:

یوه خبره چي د یادولو وړ ده، هغه د هیرمند (هلمند سیند) د اوبو مسئله ده، چي تر دا اوسه ناحله پاته ده.

پدې ټوله نړۍ پوهیږي، چي افغان ولس او دولت د خپل ګاونډي ایران سره تل په ښه نیت پاته سوی او دا نیت یې په رښتیني ډول دوی ته ورښوولی، چي یو له هغو څخه بېله بدیله د هلمند سیند د اوبو ورکړه ده.

لیري نه ځو، له هلمند سیند څخه ایران ته د اوبو ورکولو د تړون پوره (۴۲) دوه څلوېښت کاله وسوه، چي د افغانستان او ایران تر منځ په کال (۱۳۵۱ لمریز) د حوت په میاشت کي د دواړو غاړو د نمایندګانو په استازیتوب نوموړی تړون لاسلیک سو، پدې تړون کي د افغان

[1].الحاج پوهاند محمد ظریف تڼیوال، د افغانستان عمومي جغرافیه، ۷۰ مخ
[2].آریانا دایرة المعارف، اووم ټوک، ۱۱۳۳مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library


لوري پلاوی(موسی شفیق) او د هغه ایرانی سیال (امیرعباس هویدا) و.

هغه پیمانه اوبه چي د هلمند سیند څخه د افغانستان د وخت د واکمني اداري له خوا د ایران د دولت سره ژمنه سوي دي په یوه ثانیه کي د (۲۲) متره مکعبه څخه عبارت دي.

دا پریکړه په (۱۹۵۰ز) کال کي د بې پري کمېسیون له لوري سوې وه، پردې پیمانه سربېره د هغه وخت د پاچا محمد ظاهر شاه په غوښتنه او د ښه نیت په پار په ثانیه کي نوري (۴) متره مکعبه اوبه هم پر ور زیاتي سوې، چي ټول ټال په یو ثانیه کي (۲٦) شپږ ویشت متره مکعبه اوبه باید ایران ته ورکړل سي.

د سرسري شمېر له مخي کېدای سي معلومه کړو، چي افغانستان په کال کي (۱۲٦۱۴۴۰۰۰) متره مکعبه اوبه د ګاونډیتوب د ښه نیت په پار ایران ته ورکوي، که دا شمېره په څلوېښتو کلونو کي ضرب کړو شمېر به یې ملیارډونو متره مکعبه اوبو ته ورسیږي، چي افغانستان یې وړیا ایران ته ورکوي.

یادي سوي اوبه اضافه پر هغو اوبو دي، چي د ایران له خوا د (۴۰) اینچو په اندازه پیپ د (۲۵۰) کیلو متره په فاصله د هلمند سیند څخه د بلوچستان ترمرکز (زاهدان) پوري په کال کي څلوېښت میلیونه متره مکعبه اوبه د زاهدان شاوخوا یو میلیون وګړي په حرام ډول څښي، دا په داسي حال کي ده، چي ددې اندازې اوبو سره افغانستان هیڅ ډول

(c) ketabton.com: The Digital Library



لیکلی او یانا لیکلی سند نه لري او د افغانستان بېله اجازې یې ایران کاروي.

دیادولو وړ ده، چي د زاهدان وګړو ته د هلمند سیند څخه اوبه ورکول او د هلمند سیند له اوبو څخه ذخیرې نیول د هغه تړون خلاف دی، چي په (۱۳۵۱) لمریز کال کي د افغانستان او ایران ترمنځ لاسلیک سوی دی، ځکه د هغه تړون په هیڅ یو ماده کي نه دي راغلي چي پر اساس دي یې د اړتیا وړ اوبه د سیستان مرکز او بلوچستان په ځانګړې توګه د زاهدان ښاریان دي له هلمنده اوبه وښېي.

اوس چي ایران دا ګام د افغانستان د دولت بېله اجازې اخیستی دی د افغانستان دولت بشپړ حق لري، چي د ایران څخه (۳۷) میلیونه متره مکعبه اوبه چي د زاهدان ښار لپاره ایرانیانو ځانګړي کړي دي، د ایراني برخي له سیستان څخه راوګرځوي او یا یې په پوره بیه ورباندي وپلوري.

په داسي حال کي چي د ایران د سیستان د برخي د شاوخوا یو میلیون وګړو ژوند، مځکي، او باغونه د هلمند سیند له اوبو سره تړلي دي، علاوه پردې د ایران دولت د وچکالۍ څخه د ژغورلو په بهانه او منظور څلور مصنوعي ډنډونه د (چاه نیمه های زابل) په نامه، چي ژور والی یې د څلورو مترو په اندازه او پراخوالی یې لس کیلو متره (لس زره په لس زره متره) کي په پراخوالي سره توانېدلي، چي سلګونه میلیونه متره مکعبه د هلمند سیند اوبه په دې ځاګانو کي ذخیره کړي، تر څو د اوبو د کمبود په وخت کي ور څخه ګټه واخلي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په کال (۱۳۸۳) لمریز کي د ایران دولت بل پنځم ځاه هم د مخکنیو ځاګانو په څنګ کي د اتیا میلیونو ډالرو په لګښت وکیښې او جوړ کړ، چي د اوبو د ځایولو وړتیا يې (اته سوه میلیونه متره مکعبه) ته رسیږي.

وحید مژده چي کله د طالبانو د رژیم په وخت کي د ایران سره د سیاسي اړیکو مسئول و، ځیني مطالب د هلمند سیند په اړه راغونډ کړي دي او وایي:. (د هلمند د اوبو تر ټرون وروسته اړینه وه، چي د افغانستان د نیمروز د (بند کمال خان) په جوړېدو سره د ځینو تأسیساتو په جوړولو لاس پوري سوی وای او هغه اندازه اوبه چي د ایران سره په ټرون کي یادي سوي وې په همغه ټاکلې اندازه هغه هیواد ته ورکړل سوي وای او پاته اضافه يې راګرځېدلي وای، خو په افغانستان کي ګډوډیو او تاوتریخوالو دې کار ته لاره هواره نه کړه، تر څو ددې تشي څخه په ګټه اخیستني سره ایران چي زړه يې غوښته هغومره يې په خلاص مټ د هلمند له اوبو څخه ګټه پورته کړه لکه څنګه چي يې تر ټرون مخکي يې بې حسابه د هلمند سیند اوبه کارولې).

په دې هکله ځیني شکایتونه تر ټرون مخکي هم د زرنج (نیمروز) خلکو مرکزي دولت (کابل) ته د ایران له خوا د هلمند سیند د اوبو د بې انصافه لګولو په موخه کړي وه او کوم پلاوی چي د افغانستان د دولت لخوا ګمارل سوی و، چي د سیمي څخه لیدنه وکړي، هم دې ته ورته شکایتونه او ګزارشونه اړوندو مسئولینو ته وړاندي کړي دي، د

(c) ketabton.com: The Digital Library


بېلګي په توګه په کال (۱۳۴۷) لمريز دکتور محمد طيب بقايي چي د خپل وخت د کرهڼي د وزارت د اوبو رسوني او انجينرۍ رئيس و، يو راپور په دې توګه چمتو کړی و:. ((کله چي مي په خپله د جروکي د اوبو له بند څخه د کار د ليدو په موخه هغه چي زرنج او د هغه شاوخوا ته يې اوبه ورکولې ليدنه کول، د ګلمير په نوم د سربند نهر مي پام د ځان په لور واړاوه هغه چي د ايران په خواکي شتون لري، په دې توګه چي ايرانيانو د نهر خوله (۵۰۰) متره د شمال په لور ګرځولې وه، د بند خوله چي مخکي پنځه متره وه او اوس له (۱۰.۱۵) مترو پوري پراخه او ژوره کړې ده، د ځينو راپورونو له مخي کېدای سي ياد بند په پاخه ډول ورغوي چي د ايران په دې کار سره، په پايله کي د زرنج ښار د اوبو له کمبود سره مخ سي...

ددې راپورونو له مجموعه چي په کال (۱۳٦۳) لمريز کي چمتو سوې وه، ښيي چي د هلمند د اوبو له تړون څخه د ايران په سرغړوني سره افغان ولس ډېر زيانونه ليدلي، په ياد راپور کي راغلي دي، چي:. د هلمند او نيمروز ولايتونو د (هايدرولوژيکي) څېړنو پر بنسټ د هلمند د اوبو د بهېدو اندازه د تېرو اووه ويشت کالو په اوږدو کي د کجکي بند له ذخيرې څخه چي پر هلمند سيند جوړ سوی دی، د دهراوت د اوبو د کچي د معلومولو په دستګاه کي په منځنۍ کچه د اوبو اندازه په يوه ثانيه کي (۱۷٦۰) متره مکعبه لوړه او د ارغنداب د بند له ذخيرې څخه (۴۱٦) متره مکعبه په يوه ثانيه کي وه، چي په دې موده کي د اوبو د بهېدني کچه د افغانستان او ايران پر پوله په

(c) ketabton.com: The Digital Library



(خوابګاه) سیمه کي (۱۴۰۰) متره مکعبه په یوه ثانیه کي او همدا ډول د (چرخ په شېله) کي (۷۶۲) متره مکعبه په یو ثانیه کي وه.

ددې دوو ستېشنونو توپیر (۷۶۲- ۱۴۰۶۳) متره مکعبه په یوه ثانیه کي دی، چي په روښانه توګه د هلمند له اوبو څخه د ایران له خوا د لګول سوو اوبو لګښت راښیي.

دا شمېره ایران ته د ورکړل سوو اوبو درې برابره ده او ایران په تېرو (۲۷) اووه ویشت کالو کي تر خپل وعده سوو اوبو درې برابره ډېري اوبه په (حرام) ډول څښلي دي.

نور راپورونه هم سته چي پکښې د ایران ستري سرغړوني د هلمند په اوبو کي څرګندیږي، د بېلګي په توګه:

۱.د ګلمیر په نوم د نوي نهر کښل، د ګلمیر په جنوب او د نادعلي (د نیمروز نادعلي) په لوېدیځه څنډه د منشي تهاڼې مخامخ.

۲.د کهک بند ته نږدې د یوه بل نوي نهر کښل او د سیستان په نوم سیند، چي له هلمند سیند څخه سرچینه اخلي د هغه مخه د نیمه ځاګانو په لور ګرځول.

۳.د پریانو په نوم د شمالي ریګو په څنډه کي د بل نوي نهر کښل.

۴. د کمال خان او لخشک بند منځ ته څېرمه د نورو څلورو ګونو ځاګانو کښل.

۵.د ګلمیر د نهر د خولې پراخول او د هغه ګرځول او نښلول له هلمند سیند سره.

(c) ketabton.com: The Digital Library



٦. د پریانو د ویجاړ بند ځخه ګټه اخیستل، چې لسګونه کاله تړلی او له ګټې اخیستنې ځخه لوېدلی او بیا د هغه مخه راګرځول او د مشترک له رود سره نښلول.

د افغانستان د خاوري یو شمېر برخي لاندي کول، لکه دلکه د سیخسر د پخواني نهر سیمه، د لخشک سیمه، د پریانو رېګ او یو شمېر نوري سیمي د هلمند سیند په کیڼ اړخ کي.

د یادوني وړده، چي نوموړي سیمي د هلمند سیند د ښوئېدو او ډېرېدو په نتیجه کي د سیند په راسته اړخ کي یعني د ایران په خوا کي پاته سوي، چي په نتیجه کي یې افغاني مځکوالو ته د خپلو مځکو د کرلو او خړوبولو اجازه د ایران له خوا نه ورکول کیږي او ایران په ډېري سپین سترګۍ سره زموږ د هیواد دا برخي د خپل لور سره تړلي دي.

د فزیکي او نورو طبیعي شرایطو له مخي او د هلمند سیند د بستر د تغیر او بدلون، چي د افغانستان لور ته متوجه دی، ښایي نوري مځکي هم د ایران په خوا کي پاته سي او ایران یې په خپل خوا ګډې کړي.

٧. د ایران په لور د اوبو ډېره بهېدنه د (نیمه ځاګانو) له لاري ددې باعث ګرځېدلی، چي د کهک بند (د سیستان په رود کي شتون لري) د یاد سوي نهر د اوبو ګرځولو او بند په ډول پاته سي، چي په همدې ترتیب د سیلابونو او خوړ اوبه د مشترک رود په لور وبهیږي، چي د نادعلي د کوچني رود بستر د یوه لوی سیند د بستر په بڼه اوښتی او د

(c) ketabton.com: The Digital Library


چخانسور په سلګونو هکتاره کرهنیزي مځکي يې د سيلابونو د ګوابښ سره مخ کړي دي.

پورتنيو کړنو ته په کتو سره چي د ايران له خوا ترسره سوي دي، د سيلابي اوبو سطحه د (کنګ) په سيمه کي پورته سوې او نوموړې ښار ټول تر اوبو لاندي سوی دی، چي دې ګوابښ د ولسوالۍ نوري برخي هم د ګوابښ سره مخ کړي دي.

۸. د نيمه څاګانو په لوی نهر کي د اوبو ډېرښت د سيستان رود او (کهک بند) کي رېګ او شګي راډيروي، چي په نتيجه کي د مشترک رود نس له رېګو او شيګو څخه ډکيږي، دا کار ددې سبب کيږي، چي په نوموړي رود کي د اوبو د تېرېدو د ډېروالي مخه ونيسي چي ددې کار مفهوم د زرنج ښار ته د اوبو (نه) رسېدل دي.

۹. علاوه پردې ايران د (شېردل) کلي ته نږدې د کانال څخه ګټه اخيستنه د ذهک کانال، د ګلميرکانال (د منشي تهاڼې شمال ته څېرمه)، د نوي ګلمير کانال او کهک بند څخه د ايران خواکي تر لسو کانالونو پوري، چي په دې ورستيو کي ايستل سوي دي، ګټه اخيستنه.

لکه په پورتنيو کرښو کي چي يې يادونه وسوه، ايرانيانو په دې ورستيو کي د هلمند سيند د اوبو لپاره په خپله خواکي (۱۲) عدده (۱۶) اينچه واټرپمپونه، (۲) عدده (۱۳) اينچه واټرپمپونه او (۳٦) عدده (۸) اته اينچه واټرپمپونه ايښي دي، چي له دې لاري هم د هلمند سيند له اوبو څخه بې انصافه ګټه پورته کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



افغان لوري په بېلابېلو وختونو کې له ایراني غاړې سره خبرې کړې دي، خپلې ستونزې او خواشینۍ یې ور وړاندې کړې دي، خو ایرانیانو د وخت ځخه په ګټه اخیستنې، کله چې پر افغانستان د روسانو یرغل، د ثور کودتا، کورنۍ جګړې او په افغانستان کې د یوې غښتلې او برلاسې ادارې نه شتون د افغان لوري خبرو ته هیڅ ارزښت نه دی ورکړی.

افغان کارپوهانو څو – څو ځلې افغان دولت د یادې ستونزې حلولو ته هڅولی، چې نور تم نه سي او په ټینګه د ایران د سرغړونو مخه ونیسي او پرې نږدې چې ایران په داسې اړو شرایطو کې د سوې معاهدې خلاف کړنې تر سره کړې.

د افغانستان دولت دې ویښ او پاڅې او پر ځای دې یې په دې سیمه کې د تأسیساتو او بندونو په جوړولو لاس پورې کړي، تر څو د ایران د خپل سریو مخه ونیول سي.

په اوسنیو شرایطو کې هلمندیان او نیمروزیان د پرسخت اوبو ته اړ دي، خو پر ځای یې، د هلمند سیند ځخه ګټه ایران پورته کوي.

افغان بزګرو ته دومره اوبه نه پاته کیږي، چې بسنه یې وکړي، د سیند د اوبو پر ځای بزګرانو له کجکې ځخه تر نیمروز پورې په زرهاوو باوړۍ او برمې کښلې دي.

د افغانستان په خوا کې د اوبو د پرښت یوازې په پسرلي کې وي، چې هغه وخت یې تر ګټې تاوان د پر وي، یوه بله ستونزه د ایران سره په دې سیمه کې د پولې ده، لکه ځنګه چې مخکې ورته ایشاره وسوه د

(c) ketabton.com: The Digital Library



هلمند سیند تغیر د افغانستان په لور د کال په پسرلي کي هغه مځکي چي د ایران په خوا کي پاته سوي دي سمدستي یې خېټه پر اچولې ده.

د مځکو څښتنان کلونه کلونه کیږي، چي د خپلي مځکي قبالې له ځان سره ګرځوي او د افغان دولت څخه غواړي، چي مځکي یې د ایران مځک خورو څخه را وګرځوي، چي په دې ترڅ کي څو – څو ځله د افغاني مځکوالو او ایران پوله ساتونکو ترمنځ نښتي هم سوي دي، خو په افغانستان کي د درپیو لسیزو جګړو او خپل سریو زموږ د حقوقو ددې ناورین د حل مخه ډب کړې ده.

همدا اوس د افغانستان او ایران اره (اصلي) کرښه د سرحدي نښو د خرابېدو په سبب ناڅرګنده پاته ده، که د دواړو غاړو ترمنځ یو ځل بیا هغه زړه کرښه تازه او ورغول سي، معلومه به سي، چي ایران زموږ پر مځکو څومره تېري کړی دی.

دا چي اوس هلمند سیند په ځینو برخو کي زموږ او د دوی تر منځ پوله جوړه کړې دا به د دواړو هیوادونو ګډه پوله ونه ګرځي، بلکې ډېر به ها غاړي ته زموږ د حقه مځکي څرګندونه وکړي.[1]

## د هلمند برېښنایي بندونه:

### ۱- د کجکي بند:

په (۱۹۴۶ ز) کال په دوبي کي د (موریسن) کمپنۍ انجنیرانو او متخصصانو ته دنده ورکړل سوه، چي د هلمند پر سیند د برېښنا بند د

۱.د زمریالي سیستاني مقاله، زما هلمند، د مقالو ټولګه، ۴۲۴ مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library


جوړولو لپاره سیمه سروې کړي او د افغانستان حکومت ته یې راپور وړاندي کړي.

د یادي کمپنۍ انجنیرانو او متخصصانو د هلمند د رودخانې دقیق جریان سروې کړ او بالاخره د کجکي د کلي په نږدو کي یوه طبیعي سیمه د کجکي د بند د اعمار لپاره کشف کړه او حکومت ته یې خبر ورکړ او وروسته د بند د ساختمان کار پیل سو.

د کجکي د برېښنا بند په (۱۹۵۰ ز) کال د می په میاشت کي پیل او د (۱۹۵۲ ز) کال په نوامبر کي بشپړ سو، چي د بند خصوصیات په لاندي ډول دي:

۱.د بند ارتفاع (۱۰۰) متره

۲.د بند طول (۲۷۵) متره

۳.د قاعدې په برخه کي عرض (۴۲۰) متره

۴.د ډبرو، رېګ او خاورو د پرکارۍ حجم درې میلیونه دوه سوه پنځه ویشت زره متره مکعب

۵.د قوې د تولید امکانات (۱۲۰۰۰۰) کیلو واټه

۶.د جهیل طول (د بند کاسه) (۸۵) کیلو متره او عرض یې (۲) کیلو متره

همدارنګه د آبیارۍ تونل (۷۱۷) متر طول او (۱۰/۶۰) مترو ارتفاع او عرض یې (۳/۱۰) متره دی، چي دواړو تونلونو کي (۱۲۰۰) متره مکعب کانکرېټ په مصرف رسېدلی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د کجکي بند (۱۵۰۰۰۰۰) ایکرفټ اوبو د ذخیرې توان (ظرفیت) لري او د پرچاوې د دروازو په نصب سره د اوبو د ذخیرې ظرفیت (توان) (۲۳۰۰۰۰۰) ایکرفټ ته لوړېدلای سي.

د کجکي بند د برېښنا تولید چي د توربین جنرېټورونه ور وتړل سي، (۱۲۰۰۰۰) کیلو واټه برېښنا په لاس راتلای سي، ددې بند په عمار سره د آبیارۍ امکانات تر (۷۰۰۰۰۰) ایکړ مځکي میسر سوي، د نوموړي لوی بند د جوړولو ټول لګښت (۱۲۵۴۳۸۸۹) ډالر سوی دی.[1]

ددې نوي حکومت په تشکیل سره امریکا د (۲۰۰۴ ز) کال راهسي تر اوسه (۷۵) میلیونه ډالره په یاد بند لګولي دي، افغان دولت غواړي چي د نورو (۷۵) میلیونه ډالرو په لګښت پروژه پخپله ورغوي، دا مهال (USAID) تصمیم لري چي دا پروژه یو افغاني شرکت (DABS) ته ورکړي.

په (۱۳۸۷) لمریز کال کي یو بل نوی توربین په څلورو ټوټو کجکي ته د ډیرو ملکي او نظامي تلفاتو په درلودلو سره یوړل سو او تر دا مهاله یې لا کار د نامعلوم برخلیک سره مخ دی.

د افغانستان د پروژو مسئول امریکایي سوپکو (امیرکن کوار ترلي) په خپله یوه لیکنه کي نیوکه کوي او وایي:.(ددې پروژې کار د څو ترونو، د سلګونو ډالرو په لګښت او د لسګونو امریکایې سر تیرو

---

۱.کاندید اکاډمېسن محمد اعظم سیستانی، سیستان سرزمین ماسه ها و حماسه ها، دوهم ټوک، ۵۳۳ مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



سره – سره بیا هم د دې پروژې کار ناتمامه پاته دی، (سوپکو) د پیغور په ډول زیاتوي: لرغونو مصریانو د مصر لوی هرم په (۲۰ – ۲۵) کلونو کې جوړ کړ، خو موږ په (۶۰) کلونو بیا هم په دې ونه توانېدو چې د کجکي بند پروژه بشپړه کړو.[۱]

## ۲- د ګرشک بند:

د ګرشک د برېښنا بند د امریکا لخوا په کال (۱۳۴۰) لمریز کې جوړ سو، نوموړې دستګاه په (۱۹۹۸ ز) کال کې په یوه ساعت کې د (۲۸۰۰) کیلو واټه په ظرفیت په فعالیت پیل وکړ، په پلان کې و، چې د کجکي بند چې د هلمند پر سیند جوړ سوی دی، د برېښنا د تولید فابریکه فعاله کړي، چې ټوله وړتیا به یې (۱۲۰۰۰۰) کیلو واټو ته ورسیږي.

اوسنۍ فابریکه یې (۳۳۰۰۰) کیلو واټه ظرفیت لري، چې د ګرشک، لښکرګاه او کندهار ښارونه په روښانه او نورو صنعتي مرکزونو کې ورڅخه ګټه واخیستل سي.[۲]

د برېښنا په برخه کې د هلمند سیمه ډېره غني ده او که وسایل موجود وي او د برېښنا د مصرف لپاره لویې دستګاوي او فابریکې په کار واچول سي، نو د بغرا، شملان، نهرسراج او د درویشان ویالې په هر

۱.زمریالی سیستانی، زما هلمند، د مقالو ټولګه، ۴۲۴ مخ
۲.پوهاند سید نورالله ځل، د افغانستان پېژندني لنډه لار، ۴۳ مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځای کي جړوبي لري، چي په زرهاوو زرو کیلو واټو برېښنا ورڅخه ایستل کېدای سي.[1]

## د هلمند کاني زخایر:

هلمند ولایت د کاني زخایرو څخه یو غني ولایت دی، چي د اټکل له مخي په دې سیمه کي (۱۶) ډوله د مختلفو ډبرو کانونه وجود لري.

له دې جملې څخه د هلمند په سرحدي ولسوالۍ (خانشین) کي د کانونو څلور ډوله ډبرې شتون لري، چي عبارت دي له (یورانیومو، مقناطیسو، ایپاټیټو او کاربونیټو) څخه چي په یادي سیمي کي ثابت سوي دي.

د هغو جیولوجیکي څېړنو په پایله کي، چي په (۱۳۵۰) لمریز کال د فرانسې له خوا په هلمند کي ترسره سوي، د یورانیمو زېرمي د هلمند ولایت په خانشین ولسوالۍ کي ښکاره سوي دي، چي په عین حال کي ددې تر څنګ د (بیرایټ، فلورایټ، نفلین، نیوبیم او تانتالیم) مواد هم موجود دي.

له بل پلوه د امریکا د ناسا ادارې د سروې له مخې، د هلمند ولایت په خانشین ولسوالۍ کي تقریبا (۱.۴) میلیونه متریک ټنه نیوبیم او فسفر او د (۳.۵) متریک ټنو په اندازه یورانیم او توریم اټکل سوي دي.

۱.کاندید اکاډمېسن محمد ابراهیم عطایي، هلمند د کلتور په ساحه کي، ۷۶ مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



د هلمند په پېژندل سوي نیوبیم هر ټن ډبره کي (۱.۴) کیلو ګرامه خالص یورانیم موجود دي او په خپله د نیوبیم په هر ټن ډبره کي (۳.۵) کیلو ګرامه نیوبیم خالص مواد سته دي.

همدارنګه په دېشو ولسوالۍ کي قلعي، سرب، جست او روخام ډبرو زېرمي موجودي دي، چي د روخام ډبرو کانونه په دېشو او خانشین ولسوالیو کي (۴۵) ځایه تثبیت سوي دي او له پنځو شرکتونو سره یې قرارداد سوی دی، خو خپلسري کیندني پکښې لا هم رواني دي.

په (موسی کلا، سنګین، کجکي، نوزاد او واشیر) کي ګچ، سرب، سیماب، جست، ولفرام، ولفرام طلا، مسکویټ، مولبدین، ایپدوټ، طلا او مس موجود دي، چي د استخراج او پروسس لپاره ځانګړي وسائلو او موادو ته اړتیا سته، خو متاسفانه چي د کانونو او پټرولیم وزارت او شرکتونه یې نه لري.

د هلمند په مختلفو سیمو کي څېړنې رواني دي او ددې امکان سته، چي نور مختلف کانونه په دې ولایت کي کشف او وپېژندل سي، خو اوس د ځینو ستونزو له امله مربوطه ارګانونه په دې کار نه دي بریالي سوي.[1]

۱.د عصمت الله نصرت مقاله، زما هلمند، د مقالو ټولګه، ۳۱۰ مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library


## د هلمند د بُست تصدي:

د بُست تصدۍ فابریکه په کال (۱۳۴۲) لمریز د برتانیا دولت په مرسته جوړه سوه، چي تردې مهاله فعالیت کوي.

دا فابریکه دوې برخې لري، چي یوه یې تخنیکي او بله یې تولیدي برخه ده.

۱.تخنیکي برخه: تخنیکي برخه یې پر درېیو برخو وېشل سوې ده:

الف: ورکشاپ: د بُست تصدي یو ورکشاپ لري، چي خاص ساختماني او ترمیمي کار کوي، کله چي په فابریکه کي کومه تخنیکي ستونزه پیدا سي، نو د ورکشاپ پرسونل یې ستونزه ور حلوي.

ب: ډېزل او جنراتور دستګاه: پدې برخه کي یوه د بخار د تولید دستګاه ده.

ج: د برق څانګه: دا برخه د فابریکې د موتورانو ویرینګ او د برق د تخنیکي ستونزو د حلولو لپاره کار کوي.

۲. تولیدي برخه: تولیدي برخه یې هم په خپل وار پر درېیو برخو وېشل سوې ده:

الف: د حلاجۍ دستګاه: د حلاجۍ دستګاه دانه داره پخته په مالوچ بدلوي او مالوچ بیا په دستګاه کي ګاټ بندي کیږي، ددې دستګاه په (۲۴) ساعتونو فعالیت کي (۱۲۰) ټنه دانه داره پخته په مالوچ بدلیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ب: د تېل کښنې دستګاه: د تېل کښنې دستګاه د لينتر پخته، پوستک، تېل خام او کنجاره توليدوي، ددې دستګاه توليد په (۲۴) ساعتونو کې (۷۰) ټنه پمبه دانه ده، چې ددې پمبه دانې څخه لس ټنه تېل خام په لاس راځي او متباقي يې کنجاره او پوستک دي.

ج: د غوړو د تصفيې دستګاه: کله چې د تېل کښنې له دستګاه څخه تېل خام راووځي، نو دې دستګاه ته راځي، دلته خام تېل په خالصو غوړو تبديلېږي او له پاته شونو موادو څخه د جامو پرېولو صابون جوړېږي، دا دستګاه په (۲۴) ساعتونو کې لس ټنه ثابت (خالص) غوړي توليدوي.[۱]

د بُست تصدۍ غوړي به تر ډېره په هيواد کې د ملي اردو نظامي ارګانونو ته ورکول کېدل، هغه وخت په دې فابريکه کې تر (۱۵) سوه تنو پورې وګړو کار کاوه، خو متاسفانه اوس يې کارونه او توليد ډېر پيکه سوی دی.

## د هلمند د حجارۍ او نجارۍ مختلطه فابريکه:

د حجارۍ او نجارۍ مختلطه فابريکه په کال (۱۳۴۱) لمريز د امريکا متحده ايالاتو په مرسته جوړه او ګټې اخيستنې ته وسپارل سوه، په لومړي ځل د چاه انجير دستګاه يو کار کوونکی چې

۱.د بُست تصدۍ تخنيکي مدير (حاجي غلام علي) څخه معلومات اخيستل سوي دي

(c) ketabton.com: The Digital Library


(نصرتي) نومېده، ددې فابریکې د رئیس په توګه په کار وګمارل سو.[1]

د حجارۍ او نجارۍ فابریکه، چې اوس مهال یوه مختلطه فابریکه ده، په کال (۱۳۸۶) لمریز کي ددې فابریکې (۵۱) سلنه خصوصي سکتور ته واوښتله او پاته (۴۹) سلنه یې په دولت پوري تړلې پاته سوه.

د حجارۍ او نجارۍ فابریکه دوې څانګي لري، چې یوه یې حجاري او بله یې نجاري ده، موږ هم لومړی پر حجارۍ او وروسته پر نجارۍ باندي بحث کوو.

۱. حجاري: د حجارۍ څانګه دوې برخي لري، چې په لاندي ډول دي:

الف: لوی ګانسه یا (ګانسه کلان): دا هغه لوی ماشین دی، چې لوی ډبري ماتوي او پر کوچنیو ټوټو یې وېشي.

ب: عمومي شاپ: عمومي شاپ یو لوی ورکشاپ دی، چې پدې کي بېلابېل ماشینرۍ پرتې دي، په یاد شاپ کي کارګران ډول- ډول توکي جوړوي او پدې څانګه کي پنځه ډوله ماشینونه پراته دي، لکه د کټر ماشین، د خرادۍ ماشین، د ګلنډر ماشین، د برمه کارۍ ماشین او د پالیش ماشین.

---

۱.د حجارۍ او نجارۍ له پخواني کارکوونکي (سخي داد) څخه معلومات اخیستل سوي دي، په هغه وخت کي نوموړی دلته دنده درلوده.

(c) ketabton.com: The Digital Library


په عمومي ورکشاپ کي د پورته یادو سوو ماشینو په ذریعه کارګران ډول ـ ډول اسباب جوړوي، لکه د فرش د بنائست لپاره بېلابېلي ډبري، ډبرین مېزونه، مختلفي لوښي لکه، (غوري، کاسې، قندانۍ، چاینکي، د اوبو ډول ـ ډول ګیلاسونه، مېوه دانۍ، ماست خورۍ، شیریني دانۍ، دارو، مالګه او بوره دانۍ)، مختلف النوعه مرغان، قلمندانۍ، سګرېټ دانۍ، ګلدانۍ، چلم، د بُست د کلا طاق، هګۍ، مېزونه، کپونه او هر ډول نور وسائل جوړیږي او تولیدیږي، چي د افغانستان په هر ولایت کي ښه تود بازار لري.

**۲.نجاري**: نجاري برخه دوې برخي لري، چي په لاندي ډول دي:

الف: په دې برخه کي یواځي پر هغو توکو کار کیږي، چي له لرګیو جوړیږي، لکه مېزونه (البته مختلف مېزونه، لکه د ریاست مېز، د مدیریت مېز، د ماموریت مېز او د کمپیوټر مېز)، الماري، کلکینان، کوچونه، دروازې او نور...

ب: په دې برخه کي پر هغو توکو کار کیږي، چي فلزي او چوبي وي، لکه د مکاتیبو مېزونه او څوکۍ، چي چوکاټ یې فلیزي او تخت یې چوبي دی.

نوټ: د حجارۍ او نجارۍ په فابریکه کي یوه مغازه ده، چي ددې فابریکې تولیدي اسباب خرڅوي، ددې توکو د قیمت ګزارۍ لپاره د ریاست له خوا یو هیئت ټاکل کیږي او بیا وروسته له قیمت ګزارۍ څخه رسماً مغازې ته سپارل کیږي.[۱]

۱.د حجارۍ او نجارۍ له رئیس (حاجي محمد لعل کارګر) څخه معلومات اخیستل سوي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د هلمند د چاه انجیر دستګاه:

له هغه وخته، چي د هلمند د وادي د انکشاف کار پیل سو او ددې انکشاف لویه برخه د بهرني متخصصینو لاربنوونې ته وسپارل سوه، نو دا مفکوره موجوده وه، چي د هغو بهرنیانو سره فني پرسونل وروزل سي او پخپله د افغاني متخصصینو په ذریعه د هلمند سیمي د انکشاف کار روان سي.

د نوموړي مؤسسې لپاره یوه برخه افغاني کارګران په بهر کي وروزل سول او یوه برخه هغه چي د بهرني متخصصینو تر لاس لاندي یې کار زده کړی و، د نوموړي مؤسسې د فني پرسونل په حیث پر کار وګمارل سول.

د افغاني دستګاه مرکز په چاه انجیر کي دی، هلته د لویو او ثقیلو وسایلو د ترمیم او تعمیر یو لوی ورکشاپ سته، چي یو زیات شمېر کارګران پکښې کار کوي، دا دستګاه سربېره پر دې چي د هلمند د سیمي د انکشاف لپاره کار کوي، له هلمند څخه دباندي یې هم د هیواد د سړکانو او پلونو د جوړولو لویي پروژې په سر رسولي دي، مثلاً د (۱۳۳۸) لمریز کال راپدې خوا د دلارام، فراه، جیجي، شین ډنډ او د هرات هاشمي پلونه جوړ کړي او همدا ډول په کندهار او کابل کي یې تعمیراتي (مهندسي) کارونه سرته رسولي دي.[1]

۱.کاندید اکاډمېسن محمد ابراهیم عطایي، هلمند د کلتور په ساحه کي، ۷۶ مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library


## د هلمند د عامه صحت مؤسسه:

هغه وخت چي د هلمند د بیا ودانېدلو او انکشاف لویي پروژې د عمل په صحنه کي تر تطبیق لاندي نیول کېدي، نو دا خبره هم ډېره مهمه تلقي سوه، چي داسي یوه مؤسسه باید تأسیس سي، چي ددې ځای د خلکو جسمي او معنوي ودي ته انکشاف ورکړي، دا مؤسسه د عامه صحت هغه مؤسسه ده، چي د هلمند د سیمي انکشاف په لوی ریاست کي تشکیل سوې او د څو را وروسته کلونو په دوران کي یې ډېره پراختیا پیدا کړه.

نوموړې مؤسسه دوې برخي ده، یوه برخه چي په عامه صحت اړه لري، هغه روغتونونه، درملتونونه او د طب په برخه کي د خلکو صحت ته د امراضو او ناجوړیو څخه نجات ورکوي او دوهمه برخه یې ددې ځای د خلکو معنوي روزنه ده، چي په ښوونځیو او د تعلیم و تربیې په وسیله نوی نسل روزي، چي د یادي مؤسسې له خوا د لښکرګاه لېسه او د انجونو ښوونځی ددې مؤسسې پر لاس مترقي سوي.

په نوموړې مؤسسه کي کورنیو او بهرنیو متخصصینو د ښووني او روزني دنده اجراء کوله، چي اکثرو استادانو یې په بهرنیو هیوادو کي تعلیم کړی و او هم د انکشاف د لوی ریاست آمرین چي د هیواد په معارف کي یې سابقه درلوده، هم د استادانو په حیث په یادو ښوونځیو کي تدریس ورکاوه.[۱]

---

۱.همدا اثر، ۷۷ مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library


## د هلمند ځنګلونه:

د هلمند ولایت په مقدار د (۹۴۵۰۷) جریبه طبعي او (۲۴۷۰۸) جریبه مصنوعي ځنګلونه لري، چي په لاندي ډول دي:

۱.لښکرګاه. ۳۵۵۳ جریبه طبیعي او ۱۲۰۴ جریبه مصنوعي
۲.نهر سراج: ۲۷۰۹ جریبه طبیعي او ۲۰ جریبه مصنوعي
۳.نادعلي: ۳۹۸۰ جریبه طبیعي او ۳۲۷۴ جریبه مصنوعي
۴.د بارکزو ناوه: ۲۹۵۰ جریبه طبیعي او ۶۸۷ جریبه مصنوعي
۵.ګرمسېر: ۲۸۴۳۴ جریبه طبیعي او ۱۰ جریبه مصنوعي
۶.سنګین: ۵۶۶ جریبه طبیعي او ۰ مصنوعي
۷.کجکی: ۳۴ جریبه طبیعي او ۰ مصنوعي
۸.باغران: ؟ جریبه طبیعي ؟ مصنوعي
۹.موسی کلا: ۷۰۸ جریبه طبیعي او ۰ مصنوعي
۱۰.نوزاد: ۲۲۷۴ جریبه طبیعي او ۰ مصنوعي
۱۱.دېشو: ۱۳۱۲۵ جریبه طبیعي او ۰ مصنوعي
۱۲.واشېر: ؟ جریبه طبیعي او ؟ جریبه مصنوعي
۱۳.خانشین: ۲۳۸۳۰ جریبه طبیعي او ۰ مصنوعي
۱۴.مارجه: ۱۲۳۳۴ جریبه طبیعي او ۱۹۵۱۳ جریبه مصنوعي[۱]

په لوړ لیسټ کي داسي ولسوالۍ هم سته چي تر اوسه یې د ځنګلونو په هکله معلومات نه لرو، نو ځکه د هري ولسوالۍ د نامه مخته مي د سوالیې علامه ایښې ده.

۱.د ریاست عمومي څخه معلومات...

(c) ketabton.com: The Digital Library



د هلمند ولایت په پخوانیو وختونو کې ډېر ځنګلونه درلودل، چې د وخت په تېرېدو سره وچې، وکښل سوې او یا هم د جګړو له امله له منځه ولاړې، په نوموړو ځنګلونو کې ډول - ډول حیوانات لکه زمریان، پړانګان، هوسۍ، ځنګلي پسونه، بازان او نورو حیواناتو ژوند کاوه، خو بدبختانه اوسمهال یوازې سرکوزي، لیوان او چغالان موندل کیږي او نور ډېر هغه قیمتي او ارزښتناکه حیوانات یا یې نسل ورک سوی دی او یا هم له دې ځایه نورو سیمو ته تللي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دوهم ځپرکی

## د هلمند ولایت اداري جوړښتونه (تشکیلات)

د هلمند ولایت د (۱۵) اداري واحدونو لرونکی دی، چې یوه یې د لښکرګاه ښار او (۱۴) نور یې ولسوالۍ دي، موږ هم لومړی د لښکرګاه ښار او بیا ولسوالۍ چې پر درېیو درجو وېشل سوي دي، تر بحث لاندې یې نیسو.

### د لښکرګاه ښار:

نوې لښکرګاه د زړې لښکرګاه د کنډوالو شمال ته پر یوه پراخ دښت جوړه سوې، د ښار لوېدیځې برخې ته په ښار پوري نښتی د هلمند سیند بهیږي، د لښکرګاه نوی ښار د هلمند سیمي تقریباً په مرکزي برخه کې دی، نوموړی ښار د ګرشک او کندهار پر یوه زاویه واقع دی.

په (۱۳۳۱) لمریز کال کې چې د هلمند سیمې د بیارغوني کارونه روان وه، نو دا خیال سم ورسره ساتل کیده، چې ددې سیمي لپاره یو مرکز وټاکل سي او دا مرکز باید په ټولو وسایلو سمبال وي، چې ټولو سیمو ته رسیدګي وکولای سي، نو دا و، چې دغه کال د هلمند د سیمي د انکشاف لوی رئیس ښاغلی (عبدالله ملکیار) د هغه ریاست د

(c) ketabton.com: The Digital Library



متخصصینو او یو بهرنی ښار جوړونکی (پیترسن) په مشوره په ګرشک، نادعلی او نهر سراج کي سروې وکړه او بالاخره یې په اتفاق دا ځای غوره کړ، کوم چي نن لوی ښار پر جوړ سوی دی، ددې وروسته تردې د ښار عمومي پلان جوړ سو او د هغه د تطبیق لپاره د تعمیراتو ځانګه تأسیس سوه، چي د تیرو نهو کلونو په دوران کي یې داسي یو ښار جوړ کړ، چي حکومتي دوایرو د یو شمېر صحي، عرفاني او تخنیکي مؤسساتو لپاره هم ځایونه پکښې جوړ سوي او د خلکو کورونه یې په نوي عصري ډول تعمیر سوي دي.[1]

لښکرګاه د هلمند ولایت مرکز دی، د وګړو شمېر یې (۱۰۲۰۰۰) تنو ته رسیږي، مساحت یې (۲۰۲۲km²) کیلو متر مربع دی، (۱۰۲) کلي لري او د بحر له سطحي څخه (۷۸۰m) لوړوالی لري.[2]

د لښکرګاه نوی ښار د مهندسۍ پر اصولو برابر جوړ سوی او تعمیرات یې ټول پاخه دي، د لښکرګاه په نوي ښار کي لاندي ودانۍ جوړي سوې:

۱.د کلوب ودانۍ: اوږدوالی (۶۵) متره، سور (۲۰) متره، لوړوالی (۸) متره، د کوټو شمېر (۲۶).

۲– د بانک درې منزله ماڼۍ: اوږدوالی (۴۵) متره، سور (–۱۷ ۲۵) متره، لوړوالی (۲۵–۱۲) متره، د کوټو شمېر (۴۹).

---

۱.کاندید اکاډمیسن محمد ابراهیم عطایی، هلمند د کلتور په ساحه کي، ۶۰او ۷۳ مخونه

۲.د هلمند د احصایې امریت

(c) ketabton.com: The Digital Library



۳. د انکشاف ریاست ماڼۍ: اوږدوالی (۱۰۰) متره، سور (۴۰) متره، لوړوالی (۱۱) متره، د کوټو شمېر (۱۲۲).
۴. د لښکرگاه لیسه: اوږدوالی (۱۵۲) متره، سور (۸۸) متره، لوړوالی (۱۰) متره.
۵. د جامع مسجد ودانۍ: اوږدوالی (۵ - ۲۵) متره، سور (۱۰ - ۱۹) متره، لوړوالی (۵ - ۳۵) متره، د کوټو شمېر (۱۵).
۶. د لښیاتو ماڼۍ: اوږدوالی (۲۸ - ۳۱) متره، سور (۱۰ - ۱۹) متره، لوړوالی (۵ - ۳۵) متره، د کوټو شمېر (۱۵).
۷. د رخام فابریکه.

سربېره پر پورتنیو ودانیو ددې ښار په شمالي برخه کي یو شمېر کورونه جوړ سوي، چي ټول د عصري وسایلو په لحاظ مجهز دي او په هغو کي د هلمند د سیمي د انکشاف د لوی ریاست مامورین او بهرني متخصصین اوسېدل، د گرشک (هلمند) اعلی حکومت مامورینو به پکښې هستوگنه کول، هغه لوی واټ چي (بُست) نومېږي او د لښکرگاه په ښار کي د شمالي څخه جنوب ته اوږد سوی په وروستنۍ برخه کي یې اته داسي ودانۍ جوړي سوي، چي د لرغوني لښکرگاه اسلامي سبک معماري څرگندوي.[1]

## په لښکرگاه ښار پوري اړوندي سیمي:

۱- خشک آبه (خشکاوه)

---

۱. کاندید اکاډمېسن محمد ابراهیم عطایي، هلمند د کلتور په ساحه کي، ۶۰ او ۷۳ مخونه

(c) ketabton.com: The Digital Library


۲- د محمدزو سرکار
۳- لښکري بازار (ختیځ العسکر)
۴- باباجی (باباحاجي)
۵- چاه انجیر
۶- بشران
۷- بولان
۸- بُست (کلا بُست - قلعه بُست)
۹- کاریز
۱۰- مُختار[۱]

# د هلمند ولسوالۍ

## لومړۍ درجه ولسوالۍ:

### ۱. نهر سراج. Nahr_e_Saraj (گرشک - Greshk):

نهرسراج د هلمند ولایت د با نفوذه ولسوالیو څخه ده، سوداګریز او سیمه ایز موقعیت یې ډېر ارزښت لري، د نفوذ او ګڼه ګوڼي یو لامل یې دا دی، چې د افغانستان حلقوي عمومي سړک ورڅخه تېر سوی دی.

شمال ته یې د موسی کلا، نوزاد او سنګین ولسوالۍ، جنوب ته یې د لښکرګاه پوري تړلې سیمه (باباجي)، ختیځ ته یې د کندهار ولایت

۱. الحاج محمد اسماعیل شریعتیار، هلمند پوله په پوله، ۱۷مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



میوند ولسوالي او لوېدیځ ته یې د نادعلي او واشېر ولسوالۍ پرتې دي.[۱]

ګرشک د هلمند لومړۍ درجه ولسوالۍ ده، چي له لښکرګاه څخه په (۴۸ km) کیلو مترو فاصله کي پرته ده، د وګړو شمېر یې (۱۱۶۱۰۰) تنو ته رسیږي، مساحت یې ($۱۶۶۳ km^۲$) کیلو متره مربع دی، (۲۰۷) کلي لري او د بحر له سطحي څخه (۱۶۶۳ m) متره لوړوالی لري.[۲]

څه موده مخکي چي نوې لښکرګاه نه وه، جوړه سوې نو حکومت په بُست کي و، د نادر افشار پوځونو چي بُست سقوط کړ، حکومت د ګرشک سیمي ته نقل سو او د اعلی حکومت بڼه یې درلوده او د کندهار په زون پوري یې اړه درلوده، هغه مهال په کندهار کي د حکومت بڼه د نائب الحکومت په ډول وه.

په (۱۳۴۳) لمریز کال کي د دښت لګان پر بیابان چي نوې لښکرګاه جوړېدله، د یوه ماسټر پلان له مخي پیل سوه، چي حکومتي بڼه هم بدله سوه، د کندهار ولایت د جنوب لوېدیځي حوزې زون وبلل سو او ګرشک ولسوالي چي پخوا د حکومت اعلی بڼه درلوده اوس په یوه ولسوالۍ واوښته، حکومت اعلی په ولایت بدل سو، د ولایت مقررات او حکومتي واحدونه په لښکرګاه کي جوړ سول.[۳]

---

۱. همدا اثر، ۴۰ مخ

۲.د هلمند د احصایې امریت

۳. الحاج محمد اسماعیل شریعتیار، هلمند پوله په پوله، ۴۰ مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library


کله چي د ګرشک څخه د لوی حکومت او ولایت مرکز نه و، انتقال سوی د کندهار او هرات په منځ کي یې د یو ښکلي مواصلاتي او تجارتي ښار حیثیت درلود او ډېر جم و جوش پکښې و، د مشهورو کلي نومونه یې (سیدان، نهر سردار، قریه تاجکان، ده مزنګ، آب بازان او نورزو) په نامه یادېږي، بله سیمه یې د ښورکي د شمال او قلعه ګز څخه تر باباجي رسیږي او ډېر کلي لري.[۱]

## ۲. نادعلي. Nad Ali:

نادعلي د هلمند د کرهڼي د پروژې په تأسیس سره د یوې ولسوالۍ په حیثیت جوړه سوه، د مخه تر دې یو سوزنده دښت و، چي یوه زړه کلا د نادعلي په ډېر مخروب او ویران حالت پکښې موجوده وه، څنګه چي د کرهڼي پروژه دغي مخروبي ته نږدې شروع سوې ده، نو ځکه دغه سیمه د نادعلي په نامه یاده سوې ده.

نادعلي د ختیځ لوري څخه د هلمند د سیند د غاړي څخه شروع او جنوب لوېدیځ ته اوږده سوې ده، هغه سیمي یې چي تر اوسه دښتونه او وچ دي، څوک نه پر اوسیږي، د نادعلي شمال ختیځ ته ګرشک، شمال ته یې د واشېر، ختیځ ته یې لښکرګاه، لوېدیځ ته د فراه ولایت او جنوب ته یې ګرمسېر او خانشین پراته دي.[۲]

نادعلي د هلمند ولایت لومړۍ درجه ولسوالي ده، چي له لښکرګاه څخه په (۱۷ km) کیلو متره واټن کي پرته ده، د وګړو شمېر یې

---

۱.محمد ولي ځلمی، کندهار، دوهم ټوک، ۴۷۹ مخ
۲. همدا اثر، ۴۷۱ مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library


(۹۰۱۰۰) تنو ته رسیږي، د سیمي مساحت یې ($۴۶۹۷ km^2$) کیلو متره مربع دی، (۱۶۴) کلي او د بحر له سطحي څخه (۸۰۰m) متره لوړوالی لري.[۱]

د نادعلي آب و هوا توده ده، د دوبي په موسم کي یې د تودوخي درجه له (۴۰ – ۴۵) سانتي ګراډو پوري رسیږي، په ژمي کي یې د تودوخي کښته درجه د منفي درو څخه تر څلورو رسیږي او باران ډېر لږ پکښې اوري.

د آب و هوا له کبله ټول هغه نباتات او وني چي په ګرمو سیمو کي وده کوي، په نادعلي کي شنې کیږي، په نادعلي کي اوس ډېر د کرهنې فارمونه او د کرهنې پروژې سته، چي په عصري او تخنیکي ډول کار او کرهڼه پکښې کیږي، ددغه ولسوالۍ مځکي په نهر بغرا سره اوبیږي.[۲]

نادعلي ولسوالي یوه شنه، پر یوه خاصه پرمختللې عصري نقشه جوړه او هواره سیمه ده، مځکي یې د ویالو او زابرونو تر منځ محدودي دي، پر هرو سلو جریبو (صدي) باندي یوه څلور لارې او د عمومي سړکونو یوه برخه سته، زیات شمېر اوسیدونکي یې د زیاتو پښتون مېشته سیمو څخه د اعلحضرت محمد ظاهرشاه د حکومت په وخت کي د ناقلینو په نوم راوستل سوي دي، اولادونه یې په هلمند کي زېږېدلي او زلمیان سوي، چي اوس هلمندیان بلل کیږي.[۳]

۱. د هلمند د احصایې له امریت
۲. محمد ولي ځلمی، کندهار، دوهم ټوک، ۴۷۱ مخ
۳. الحاج محمد اسماعیل شریعتیار، هلمند پوله په پوله، ۴۵ مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۳.د بارکزو ناوه – (= ناوه بارکزائي.Nawa_e_Barakzayi):**

د ناوې ولسوالي ځکه په دې نامه یادیږي، چي د مېزابې یا ناوې په شکل اوږده پرته سیمه ده، د کجکي له بند څخه بیا تر شملان پوري دغه ټوله سیمه په خپله خوا کي د هلمند سیند اوږده رودخانه لري، د اوبو مسیر د روخانی بڼه لري او ناوه بلل کیږي، خو اوس مهال دا ټوله سیمه د ناوې په نامه نه یادیږي، د سیمو تغیر د حالت او وضعیت په تغیر پوري تړلی دی، د ناوې جغرافیایي بڼي هم د وخت په تېرېدو سره تغیر منلی او موندلی دی.

یو وخت دا ټوله سیمه د بارکزو د ناوې په نامه یادېدله، ځکه چي بارکزی قوم پکښې اکثریت و، هغه وخت چي کندهار ته (رخج) ویل کېده، د ناوې سیمه د (خلج) په نامه یادېده، چي اوس هم د نوموړي ولسوالۍ مرکز دی.

کوم وخت چي نوې لښکرګاه جوړه سوه، نو (چاه انجیر، باباجي او بولان) له ناوې څخه بیلي او په مرکز لښکرګاه پوري وتړل سوې، د هزارجفت د ویالې په جوړولو سره د شملان سیمه هم د ناوې څخه بېله او په ګرمسېر ولسوالۍ پوري وتړل سوه.[1]

تر احمدشاهي عصر پخوا د بارکزو ټول مشهور او نومیالي مشران په ناوه کي اوسېدل، د حاجي جمال خان بارکزي د د استوګني ځای او کلا د ګرشک په نادعلي کي بلل سوې ده، د نادعلي کلی د بارکزو د ناوې په سر کي واقع دی، د هلمند په ناوه کي د (لو ادې کلا) د خپل

۱.همدا اثر، ۵۱ مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



وخت د سرنوشت سازو سياسي پريکړو مرکز و او د هيواد مقدرات په همدغه کلا کي ټاکل کېدل.[1]

د بارکزو ناوه د هلمند لومړی درجه ولسوالي ده، چي د لښکرگاه ښار جنوب ته په (۲۴ km) کيلو متری فاصله کي پرته ده، د وګړو شمېر يې (۹۱۹۰۰) تنو ته رسيږي، مساحت (۶۵۷ $km^2$) کيلو متره مربع دی، (۱۲۹) کلي لري او د بحر له سطحي څخه (۷۴۰ m) متره لوړوالی لري.[2]

لومړی برخه يې له بولان څخه شروع او وروستنی برخه يې د سرخ دوز تر کلي او تر درو پشانو پوري رسيږي، شمال ته يې نادعلی، جنوب ته يې ګرمسېر، ختيځ ته يې د هلمند سيند د لښکرګاه او ګرمسېر ريګونه او لوېديځ ته يې دښت دی، چي دغه دښت له نادعلي او خانشين سره نښلي.

د بارکزو ناوه له پنځو وطنونو څخه تشکيله ده، چي عبارت دي: عينک، ګوهرګين، خسروآباد، هزاراسپ او سرخ دوز څخه، بيا په ياد وطنونو کي په سلهاوو کلي سته، چي مشهور يې: نګاری، باغ رباط، لوی کلی، خرابه، د اڅکزو ښاخ، لنډی ښاخ، منګل زي، باسولان او شورشورک دي.

د ناوې مځکي آبادي، مسطح او د کرهڼي له پلوه لومړی درجه کي راځي، دغه مځکي د هلمند د سيند څخه اوبيږي، د مځکو اندازه يې

---

۱. محمد معصوم، هوتک، د ناوې دانشور، د کندهار منور، د زنګاوت مخور، علامه رشاد خپرندويه ټولنه، ۱۳۹۱ لمريز، ۱۰ مخ

۲. د هلمند د احصايې امريت

(c) ketabton.com: The Digital Library


یو لکو پنځوس زرو جریبو ته رسیږي، د هلمند زراعتي پروژې ناوې ته یوه سمه ویاله بېولې ده، چې مځکې یې په ډېره عصري توګه اوبیږي، دغه واله د بغرا څخه بېله سوې ده او د شملان واله نومیږي.

په ناوه کې غنم، ماش، اوربشي او جواري ډېر کیږي، مېوه لرونکې ونې او سر درختي لږ لري، آب و هوا یې په دوبي کې ګرمه او په ژمي کې معتدله وي، د تودوخې درجه یې د (۴۰ – ۴۵) سانتي ګراډو پورې رسیږي، کښته درجه یې تر منفي دوو او تر څلورو پورې رسیږي.[۱]

## دوهمه درجه ولسوالی:

## ۴. ګرمسېر یا جروم - Garmsir:

د هلمند یوه لویه ولسوالي ده،[۲] شمال ته یې د بارکزو ناوه او مارجې ولسوالی، جنوب ته یې د خانشین ولسوالي، ختیځ ته یې رېګستان، لوېدیځ ته یې د مارګو دښت پروت دی.[۳]

ګرمسېر د هلمند دوهمه درجه ولسوالي ده، چې له لښکرګاه ښار څخه په (۶۴ – ۷۶) کیلو متری فاصله کې پرته ده، د وګړو شمېر (۸۶۹۰۰) تنو ته رسیږي، مساحت یې ($km^2$ ۲۰۲۵۷) کیلو متره مربع

۱. محمد ولي ځلمی، کندهار، دوهم ټوک، ۴۷۲ مخ
۲. همدا اثر، ۴۶۹ مخ
۳. الحاج محمد اسماعیل شریعتیار، هلمند پوله په پوله، ۷۹ مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library


دی، (۱۵۰) کلي لري او د بحر له سطحي څخه (۷۱۰m) متره لوړوالی لري.[۱]

د دغي سيمي آب و هوا څنګه چي دښتونه او ريګونه دي، نو باران لږ پکښې اوري ډېره توده ده، چي په دوبي کي يې د تودوخي درجه (۴۷) سانتي ګراډو او په ژمي کي منفي (۱) سانتي ګرادو ته رسيږي، په ټوله کال کي تر دوه درې ځله باران نه اوري، د باران اندازه يې تر (۱۵mm) ميلي متره نه زياتيږي.[۲]

په ريګي دښتو کي د پسرلي په موسم کي څه بوټي شنه کيږي، چي د حيواناتو او څارويو لپاره په کاريږي، په غير دښتي سيمو کي چي د دروېشانو واله تېره سوې ده، ځمکي د کښت او کرهڼي لپاره مساعدي دي او حبوبات ډېر پکښې کيږي، بيا يې هم ځمکي په ځينو برخو کي ښوره او مالګه لري.

د ګرمسېر ډېر وګړي په مالدارۍ او کښت بوخت دي، د هلمند د کرهڼي پروژې د انکشاف له کبله څه د کرهڼي ځمکي دولت ته پاته سوې او دولت يې په کښتګرۍ خلکو ته ورکوي او د دا نورو څخه ماليه اخلي، چي پر يو جريب اعلی ځمکه باندي (۹) نهه افغانۍ ماليه ايښوول سوې ده.

د ګرمسېر ځمکي پر دوو برخو وېشلای سو، يوه د ګرمسېر ناوه ده، چي د هلمند سيند په هغه کي غځېدلی دی، غاړي يې د کرهڼي او

۱.د احصايې امريت
۲.محمد ولي ځلمی، کندهار، دوهم ټوک، ۴۶۹ مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library


زراعت لپاره وړ دي، بله برخه يې ريګونه، دښتونه او بيابانونه دي، چې وچ او سوزنده هوا لري، د ګرمسير پښتانه په پښتو او بلوڅان يې په بلوڅي او بروهي خبري کوي.(۱)

د ګرمسير مځکي عموماً د سيند پر غاړو پرتې دي، ځکه نو د لای او تورو ختو څخه چې ريګ ورسره ګډ دی جوړي دي او له دې امله يې نو خاوري د هر ډول کرهڼي لپاره په تېره بيا پنبې، ګنيو او ځېرې لپاره ډېره استعداد لري.

په ګرمسير کي هر راز د کرهڼي او ونو محصولات سته او هم اهلي څاروي لکه غوايي، پسونه، اوښان، بزې او نور روزل کيږي، چې د هغو له پوټکو، وړيو او شيدو څخه ډېره ګټه کيږي.(۲)

## ۵. سنګين - Sangin (سروان کلا - Sarwan Qala):

سنګين د هلمند سيند سره په اوږدو يوه غزېدلې ولسوالي ده، چې د موقعيت له مخي هلمند ته د ډېر ښکلا بخښونکې ده او نږدې د هلمند ولايت په منځني برخه کي پرته ده، د سنګين د ولسوالۍ په لويه هديره کي يو زيارت سته، چې ددې سيمي خلک ورته په درنه سترګه ګوري، د سپين ږيرو په وينا دا ددې ځای د پخوانيو زيارتونو څخه دی، ددې زيارت نوم د پخوانيو خلکو په وينا (خواجه نګين) و، چې د وخت په تېرېدو سره دا نوم (خواجه سنګين) سو، اوس خواجه له خولې لوېدلی، يوائې سنګين ويل کيږي.

---

۱.همدا اثر، ۴۷۰مخ

۲.آريانا دايرة المعارف، اوومټوک، ۸۸۸مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



د سنگين ولسوالۍ شمال ته کجکی او موسی کلا ولسوالۍ، جنوب ته گرشک او د کندهار ولايت د ميوند ولسوالۍ، ختيځ ته د کندهار ولايت د غورک ولسوالي او لوېديځ ته يې د نهرسراج ولسوالي پرته ده.[1]

سنگين د هلمند ولايت دوهمه درجه ولسوالي ده، چي له لښکرگاه څخه په (۹۰ km) کيلو مترو فاصله کي پرته ده، د وگړو شمېر يې (۵۹۱۰۰) تنو ته رسيږي، مساحت يې ($۲۹۱\ km^۲$) کيلو متره مربع دی، (۵۶) کلي لري او د بحر له سطحي څخه (۹۰۰ m) متره لوړوالی لري.[2]

د سنگين ولسوالۍ خلک زياتره د کرهڼي او مالدارۍ په چارو بوخت دي، کرهڼيز پيداوار يې غنم، اوربشي، جواري، رشقه، مېۍ، سابه، خټکي، هندواني، زردآلو، مڼې، انگور، انار او نور دي.

اهلي حيوانات يې غويي، اوښان، پسونه، وزې، خره، آسان، کچرې او کورني چرگان دي او وحشي حيوانات يې لېوه، سوی، گيدړ، شکوڼ، سورلنډی او نور دي.

د سنگين ولسوالۍ مشهوري کلي يې اغلغ، بوستان زي، توغی، جوی شالي، چاه بابر، چکه کتوزي، سنگين، ښوراب، مالمند، مياد دودي، نسوزي، قريه غاوگی سنگين، محمد اشرف، گارد کی، ميرغورخان، حاجي ناظم، ماغز، چوغک او نور.[3]

---

۱.الحاج محمد اسماعيل شريعتيار، هلمند پوله‌په‌پوله، ۴۸ مخ
۲.د هلمند احصايې امريت
۳.آريانا دايرة المعارف، څلورم ټوک، ۵۲۴ مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library


### ٦. کجکی - Kajaki:

د کجکي ولسوالي د هلمند ولايت يوه د هغو ولسواليو څخه ده، چي موقعيت يې د ښکلا، پيداوار، ورتيا، تاريخ او لرغونتوب له پوله په پوله نړۍ کي شهرت لري، دا سيمه د پاچاهيو، جګړو، قومونو، برېښنا فابريکې، د هلمند سيند بند، کارېزونو، رنګارنګ مېوو او صنعتونو وطن دی.

د کجکي ولسوالي د يوې پراخي سيمي لرونکې ده، چي د کجکي په نامه د ګڼ ميشتي او رودباره سيمي سربېره د زميندا ور (زينداور) لرغوني لويه او پراخه سيمه هم د جغرافيايي وېش له مخي له ځانه سره لري.

د کجکي ولسوالۍ شمال ته د باغران ولسوالي د بغني سيمه، جنوب ته د سنګين ولسوالي د سروان کلا سيمه، ختيځ ته د کندهار ولايت د خاکرېز ولسوالي د غورک علاقداري او لوېديځ ته يې د موسی کلا سيمه پرته ده.[١]

کجکی د هلمند ولايت دوهمه درجه ولسوالي ده، چي له لښکرګاه ښار څخه په (١٣٣ km) کيلو مترۍ فاصله کي پرته ده، د وګړو شمېر يې (٧٠٥٠٠) تنو ته رسيږي، مساحت يې ($١٩٣٩\ km^2$) کيلو متره مربع دی، (١٧٠) کلي لري او د بحر له سطحي څخه (١٠٠٠) متره لوړوالی لري.[٢]

---

١.الحاج محمد اسماعيل شريعتيار، هلمند پوله په پوله، ٥۶ مخ
٢.د هلمند ولايت د احصايې امريت

(c) ketabton.com: The Digital Library



د کجکي ولسوالي د هلمند یوه مهمه سیمه ده او په هیواد کي یې اقتصادي اهمیت هغه وخت زیات سو، چي دلته د امریکایانو له خوا د برېښنا یوه لویه فابریکه او د اوبو یو لوی بند جوړ سو.[۱]

## ۷. باغران – Baghran:

د باغران ولسوالي یوه د غرنیو ولسوالیو څخه ده، چي د مېړنیو ډېري تاریخي کیسې او پیښې یې د تاریخ پر پاڼو لیکلي دي، د باغ ارم او پشلنګ سیمې یو مهال د سیستان مشهور ښارونه وه، خو اوس د حکومتي جغرافیایي وېش له مخي د باغران ولسوالۍ پوري تړلي سیمي دي.

د باغران شمال ته د اروزګان او دایکندي ولایتونه، جنوب ته یې د کجکي او موسی کلا ولسوالۍ، ختیځ ته یې د اروزګان ولایت او لوېدیځ ته یې د نوزاد ولسوالي او د غور ولایت واقع دي.[۲]

باغران د هلمند ولایت دوهمه درجه ولسوالي ده، چي له لښکرګاه ښار څخه په (۲۱۰ km) کیلو متره فاصله کي پرته ده، د وګړو شمېر یې (۸۰۶۰۰) تنو ته رسیږي، مساحت یې ($۳۵۸۷\ km^۲$) کیلو متره مربع دی، (۲۹۵) کلي لري او د بحر له سطحي څخه (۱۵۵۰ m) متره لوړوالی لري.[۳]

۱.پوهاند رازقي نړیوال، د هیواد لرغوني ښارونه او د تاریخ پاڼي، دوهم ټوک ۱۷۹ مخ
۲.الحاج محمد اسماعیل شریعتیار، هلمند پوله په پوله، ۷۰ مخ
۳.د هلمند ولایت د احصایې امریت

(c) ketabton.com: The Digital Library



د باغران آب و هوا يو د بله ډېر توپير لري، شمالي سيمي يې يخي او جنوبي سيمي يې لږ څه تودې دي، معتدل او خوشگواره ځايونه هم لري.

د باغران منطقه زياتره وچه او څه کارېزونه هم لري، مشهور رود يې ورخان نوميږي، چي د دايکندي او پسابند څخه شروع کيږي او د باغران په آخرنۍ برخه کي د ورخان کلي ته داخليږي، بيا د کجران او دهراود خوا ته ځي، نور رودونه يې د مرکز درې، تاچوی او سربغني دي، دغه سيندونه چي کال آباد وي بهيږي که نه نو وچ وي، د باغران مځکي حبوبات ښه کوي او څه انگوري او سر درختي باغونه هم لري.[1]

## ۸ موسی کلا – Musa Qala:

شمال ته يې د باغران ولسوالي، جنوب ته يې د گرشک او سنگين ولسوالۍ، ختيځ ته يې د کجکي ولسوالي، لوېديځ ته يې د نوزاد ولسوالي واقع دي.[2]

موسی کلا د هلمند ولايت دوهمه درجه وسوالي ده، چي له لښکرگاه څخه په (۱۱۰ km) کيلو متره فاصله کي پرته ده، د وگړو شمېر يې (۵۸۴۰۰) تنو ته رسيږي، مساحت يې (۱۳۶۲ $km^2$) کيلو متره مربع

۱. محمد ولي ځلمی، کندهار، دوهم ټوک، ۴۷۵ مخ

۲. الحاج محمد اسماعيل شريعتيار، هلمند پوله په پوله، ۶۳ مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



دی، (۱۰۷) کلي لري او د بحر له سطحي څخه (۱۰۱۵ m) متره لوړوالی لري.[۱]

آب و هوا يې ځکه معتدله او خوشگواره ده، چې د موسی کلا رود له شمال څخه جنوب ته د موسی کلا د زياتو کليو په منځ او څنډو کي تېرېږي او هم ډېر کارېزونه لري.

د موسی کلا ځمکي په رود او کارېزو اوبیږي او ډېري حاصل خيزي دي، هغه کلي چي د رود څخه اوبیږي: يک لنگ، چارسای، کڅ محمد امين، کڅ اشرف، کڅ غلام رسول، کڅ عثمان، سرييشه، توغی، سنگير، تخته پل، کنجاک د ولسوالي مرکز خواجه لعل بابا، وسک، غره تاله، غونډی، چينه، ده مستان، داراخېل ډاگان، موسی زي، نيم چي، چارده، احمد خوازي، کرغک، پايگاه، ده غوچک، ظلم آباد، شهرک، درختي، صندله، خواجه داد، مسلماني کوه بره، لوړ رېگی، کښته رېگی، منظور آباد، درآباد، دوآب او نور... او هغه کلي چي په کارېز اوبیږي: لوړ او کښته ده زور، لنډی ناوه، د بهادر کارېز، د عبدالرحمن کارېز، عليا او سفلي جلجي کارېز، نوی کارېز، د نسر کارېز، سياه جاو، سرهند، موسی زي، درختي، د قرآن کارېز، کارېزده، د هزار مشي کارېز، د ندامی کارېز، د پير کارېز او داسي نور.

د موسی کلا ځمکي هواري او په ځينو برخو کي يې د رېگو او ډبرو غونډی ليدل کيږي، د موسی کلا د مرکز شمال ته په (۵) کيلو متري فاصله کي يو لوی غر دی، چي د موسی کلا د غره په نامه ياديږي، په

۱.د هلمند ولايت د احصايې امريت

(c) ketabton.com: The Digital Library



دغه غره کي ببل ډولونه وني او حیوانات سته، د موسی کلا غر د هندوکش د سلسلې څخه دی.

په موسی کلا کي د کمبلو، سترنجيو او جاروګانو جوړول په ډېر ابتدائي شکل سته، د موسی کلا خلک بزګر دي او دوي د خانانو او ملکانو مځکي کري او قوت لايموت برابروي، مهم پيداوار يې: غلې، انګور، انځر، انار، بادام، ناک، مڼه، شفتالو، شليل او نور دي، کاغذي بادام او انګور يې ډېر شهرت لري.[1]

موسی کلا د يوې زړې تاريخي کلا نوم دی، چي اوس دغه نوم سيمي ور څخه خپل کړی دی، د موسی جان او ولي جان نقل په ګړنيزو يا شفاهي ادبياتو کي پوره ځای او شهرت لري او دا نوم د هغه مشهوري کيسې څخه نوموړي سيمي خپل کړی دی، ځکه هغه کلا چي د موسی په نامه يادېده، په دغه سيمه کي ده، د ويار ځای دی، چي زموږ شفاهي پښتواني ادب تر اوسه زموږ په جغرافيه او تاريخي فنونو کي خپل اثر لاهم جوت ساتلی دی.[2]

### ۹. نوزاد - Nawzad:

د نوزاد ولسوالي د هلمند په شمالي سيمه کي پرته ده، چي شمال ته يې د غور ولايت، جنوب ته يې د ګرشک ولسوالي، ختيځ ته يې

۱. محمد ولي ځلمی، کندهار، دوهم ټوک، ۴۶۷ مخ
۲. الحاج محمد اسماعيل شريعتيار، هلمند پوله په پوله، ۶۳ مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



موسی کلا او باغران ولسوالۍ او لوېدیځ ته یې د واشېر ولسوالي پرته ده.[۱]

نوزاد د هلمند ولایت دوهمه درجه ولسوالي ده، چې له لښکرګاه څخه په (۱۲۸ km) کیلو متره فاصله کې پرته ده، د وګړو شمېر یې (۵۰۳۰۰) تنو ته رسیږي، مساحت یې ($۴۵۶۰ km^۲$) کیلو متره مربع دی، (۱۷۳) کلي لري او د بحر له سطحې څخه (۱۱۸۰ m) متره لوړوالی لري.[۲]

د نوزاد آب و هوا په عمومي توګه وچه او معتدله ده او هغه سیمې چې یې په شمالي برخه کې د بابا غره ته نږدې واقع دي، واوره نیسي، جنوبي برخه یې چې شېلې او دښتونه دي، لږ باران پکښې اوري، خلک یې د اوبو د لږوالي او کارېزونو د وچتیا څخه زیاتره وختونه شکایت کوي.

د نوزاد غرونه د افغانستان د لویو غرونو څخه منشعب سوي دي، شمال ته یې د سیاه کوه او کوه بابا درې او شېلې دي، خو د نوزاد پر غرونو کوچیانو داسې نومونه ایښي دي:

د غرو مشان غر، چې د نوزاد شمال ختیځ ته واقع دی، د موسی کلا او نوزاد په منځ کې دی.

د خوارو زار، چهل دختران او کافر کوه غرونه د نوزاد ختیځ ته واقع دي، چې لمنې یې وني لري.

---

۱.همدا اثر، ۷۵ مخ

۲.د هلمند د احصایې امریت

(c) ketabton.com: The Digital Library



سیاه کوه چې سیاه بند یې جوړ کړی دی، د نوزاد شمال ته واقع دی او مالداران دغي سیمي ته خیژي.

مزه کوه او کوه فرهاد د نوزاد د ولسوالۍ ختیځ طرف ته د موسی کلا په سیمه کي واقع دي.

د اولارې غر هم د بابا غره له سلسلې څخه دی او د نوزاد په شمال کي واقع دی.

په نوزاد کي یو وچ رود سته، چي د نوزاد رود یې بولي، د بارانو او سېلو د اوبو پرته نوري اوبه نه لري، دغه رود د کوه بابا څخه جنوبي خوا ته اوږد سوی دی، د نوزاد د مرکز د ختیځ څخه تیرېږي، د ګرشک تر سیاه منار پوري رسیږي او د هلمند سیند ته توئیږي.

دغه رود دی، چي یو ښاخ یې د سیاه بند د شمال ختیځ څخه جنوبي لوري ته او بل ښاخ یې د لوېدیځ څخه جنوبي لوري ته اوږد سوی دی، دغه رود د دواړو خواو ته د نوزاد کارېزونه دي، که په دغه رود کي اوبه راغلې د نوزاد کارېزونه اوبه لري او که نه وي، د اوبو په نېستي اخته وي.

د نوزاد ولسوالي ښې مځکي لري، خو کافي اوبه نلري، پیداوار یې هر ډول حبوبات او مېوې دي، چي له مېوو څخه یې انار او ناک ډېر مشهوره دي، په نوزاد کي د پسونو، وړیو او غنمو معاملې ډېري کیږي، د کندهار سوداګر زیاتره د نوزاد مالداران استثماروي.[1]

۱.محمد ولي ځلمی، کندهار، دوهم ټوک، ۴۷۴ مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



### ۱۰. دېشو - Dishu:

دغه هواره او په ځینو برخو کي رېګي مځکه ده، چي لوړي او ژوري لږ لري،[۱] شمال ته یې د خانشین ولسوالي رېګستان، جنوب ته یې د بلوچستان رېګستان، ختیځ ته یې خانشین رېګستان او لوېدیځ ته یې د خانشین سیمه او د نیمروز چهار برجک ولسوالي پرته ده.[۲]

دېشو د هلمند ولایت دوهمه درجه ولسوالي ده، چي له لښکرګاه څخه په (۲۱۵ km) کیلو متره فاصله کي پرته ده، د وګړو شمېر یې (۲۰۲۰۰) تنو ته رسیږي، مساحت یې (۹۷۸۲ $km^2$) کیلو متره مربع دی، (۷۵) کلي لري او د بحر له سطحي څخه (۵۹۰ m) متره لوړوالی لري.[۳]

هوا یې په دوبي کي ډېره توده ده، چي له (۴۰ – ۴۸) سانتي ګراډو پوري رسیږي، په دغه سیمه کي د جوزا له (۱۵) څخه بیا د اسد تر (۱۵) پوري ډېر تود باد را الوزي، چي حتی کله خاوري او رېګونه د یوه ځای څخه بل ځای ته وړي، په پسرلي او مني کي یې هوا لږ معتدله وي، په ژمي کي په هغو ورځو کي چي باد چلیږي، نو هوا یې سړېږي.

په دېشو کي د هلمند سیند له ختیځ څخه لوېدیځ لوري ته روان دی، د دیوالک په کلي ورننوزي او رېګستان کي د لندي کلي څخه تېریږي، بیا د چخانسور سیمي ته ځي، هلمند سیند د دېشو کلي

---

۱.همدا اثر، دوهم ټوک، ۴۷۷ مخ
۲.الحاج محمد اسماعیل شریعتیار، هلمند پوله په پوله، ۶۸ مخ
۳.د هلمند د احصایې امریت

(c) ketabton.com: The Digital Library


شمالاً او جنوباً پر دوو برخو وېشلي دي او کله چي يې اوبه ډېري وي، د سيمي اوسېدونکي د کښتيو په واسطه يوې او بلي غاړي ته پوري وزي.

د دېشو اوسېدونکي له هلمند سيند څخه د چينلو او کرهڼي اوبه اخلي، د هلمند سيند پر دواړو غاړو يو ډول ځنګلي وني شنې دي، چي کز ورته وايي، دغه لرګي د سونګ او تعمير لپاره زيات په کارېږي او ځيني حيوانات لکه خوګ، لېوه، چغال او ګيدړي هم لري.

د دېشو د کرهڼي مځکي دوه فصله دي، غنم، ماش، ځيره، کنجدي، جواري ډېر پکښې کيږي، ددغه ځای زيات غنم کندهار ته صادرېږي، دښتونه يې د ښکار لپاره ډېر شهرت لري او په ژمي کي د افغانستان سرمايه داران او ښکاريان د هوسيو د ښکار لپاره ورځي، د هوسيو ښکار په موټرانو او تازيانو کيږي، په دې سيمه کي زړې کلاوي د سردار مدد خان، قلعه نو، قلعه سبز، قلعه کالو، قلعه شوره، قلعه غلامان په نامه مشهور دي، د ديشو د رخام ډېره زياته مشهوره ده او د لښکرګاه د حجاري په فابرکه کي کار ورڅخه اخيستل کيږي.[1]

د دېشو مشهور کلي عبارت دي له، دېشو کلی (چي د ولسوالۍ مرکز دی)، خواجه علي عليا، خواجه علي سفلی، لندی سايک، ليچ ولندی او داسي نور.

په دېشو ولسوالۍ کي عام المنفعه ټولنيز خدمات او اساتياوي ډېري محدودي دي، کرهڼيز پيداوار يې غنم، اوربشي، سپينه ځيره،

۱.محمد ولي ځلمی، کندهار، دوهم ټوک، ۴۷۷

(c) ketabton.com: The Digital Library



جواري، کوکنار، پنبه، میی، مشنګ، نسک، لوبیا، شوتله، رشقه، تنباکو، لمرګلي، ارهنډه، غوښت، ګازري، ټیپر، کډو او بانجان دي.

مېوې یې انګور، انار، مڼې، انځر، زرد آلو، آلوچه، توت، هندوانې او خټکي دي، همدارنګه ځیني نور خودرویه بوټي، چي په بېلابېلو واردو کي ورڅخه ګټه اخیستل کیږي، په دې ولسوالۍ کي پیدا کیږي.

صنعتي پیداوار یې، تغرونه، غالۍ او یو ډول ګلاباتون ګنډل او د ورېښمو صنعت او عرقچین جوړول دي، څنګه چي د ځایي خلکو د اړتیاوو له پوره کولو څخه زیاتوالی کوي، نو په سوداګرۍ کي ورڅخه کار اخیستل کیږي.

کورني حیوانات یې غوایي، پسونه، وزې او خره دي، پخوا په دې ولسوالۍ کی هوسۍ او سوی لېدل کېدل، خو اوس نسته، همدارنګه ځیرونکي ځناور لکه لېوه، کوړ، ګیدړه، یږ، سورلنډی او د اوبو سپی په دې ولسوالۍ کي هم پخوا و، مرغان یې لکه هیلۍ، زرکي، تنزري، سیسۍ، قاز، کوټنه، جل او مرزان دي.

د دېښو اوسېدوني په عمومي توګه کروندګر او مالدار دي، له هغه سره سوداګریز فعالیتونه هم کوي، ښځینه طبقه یې د وړۍ ورېښلو، تغر او غالۍ اوبدلو او د ګلاباتون او ورېښمو په ګنډلو بوختي وي.[1]

---

۱.آریانا دایرة المعارف، دریم ټوک، ۷۷۳ مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



## درېيمه درجه ولسوالۍ:

### ۱۱. واشېر - Washir:

د واشېر سيمه د نوزاد علاقه داري وه او ټوله اړتياوي چي د حکومت سره پيښېدلې هغه به يې د نوزاد له ولسوالۍ څخه چي د واشېر مرکز و، پوره کولې، د ډاکټر نجيب الله د حکومت په وخت کي واشېر په رسمي ډول د ولسوالي په توګه وپېژندل سو، د واشېر نوم د کوشانيانو او ساسانيانو د وخت څخه په واشېر او يا واسېر ياديږي.

د واشېر شمال ته د فراه ولايت د ګلستان ولسوالي او د هلمند د نوزاد ولسوالي، جنوب ته يې د نادعلي ولسوالي، ختيځ ته يې د نوزاد ولسوالي او لوېديځ ته يې د نادعلي ولسوالي قرار لري.[۱]

واشېر د هلمند ولايت درېمه درجه ولسوالي ده، چي له لښکرګاه څخه په (۱۴۳ km) کيلو متره فاصله کي پرته ده، د وګړو شمېر يې (۱۵۴۰۰) تنو ته رسيږي، مساحت يې (۴۱۰۵ $km^۲$) کيلو متره مربع دی، (۶۴) کلي لري او د بحر له سطحي څخه (۱۱۵۰ m) متره لوړوالی لري.[۲]

۱.الحاج محمد اسماعيل شريعتيار، هلمند پوله په پوله، ۸۷ مخ

۲.د هلمند ولايت د احصايې امريت

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۱۲. خانشین - Khanashin (رېگ - Reg):

لکه څنګه چې له نامه څخه یې ښکاري، دغه سیمه ټوله رېګو نیولې ده، شمال ته یې د هلمند سیند او د هغه تر شا د مارګو دښت، جنوب ته یې پښتونستان، ختیځ ته یې د خانشین غر او د هلمند څنډې، لوېدیځ ته یې د لنډي کلي او په ها خوا یې د چهاربرجک ولسوالي ده.[۱]

خانشین د هلمند ولایت درېیمه درجه ولسوالي ده، چې له لښکرګاه څخه په (۱۶۰ km) کیلو متره فاصله کې پرته ده، د وګړو شمېر یې (۲۶۱۰۰) تنو ته رسیږي، مساحت یې (۷۴۱۴ km²) کیلو متر مربع دی، (۹۶) کلي لري او د بحر له سطحې څخه (۶۵۰m) متره لوړوالی لري.[۲]

ددغې ولسوالۍ آب و هوا ډېره توده او باران لږ پکښې اوري، په دوبي کې یې د تودوخې درجه (۴۸) سانتي ګراډو ته رسیږي، مشهور غرونه یې کوه سفید، ملک کوه، سنګ رخام، کوه رباط، کوه ترشاب، کوه ګلچه او داسي نور.

په دغه سیمه کی دوه لوی دښتونه د رېګستان او مارګو په نامه مشهور دي، په دښو خواجه علي او لنډي پلالک کي یې د کرهڼې ځمکي دي، چې غنم په کرل کیږي.[۳]

۱.محمد ولي ځلمی، کندهار، دوهم ټوک، ۴۷۸ مخ
۲.د هلمند د احصایې امریت
۳.محمد ولي ځلمی، کندهار، دوهم ټوک، ۴۷۸ مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



په خانشین (ریګستان) کي کرهڼیز پیدا وار ډېر لږ دي، ددې سیمي ورشوګاني د باران د اوربښت په ډېربښت او قدرت او په تېره بیا د ژمي او پسرلي په بارانونو پوري مربوط دي، که چیري د مني او ژمي د آخرو ورځو بارانونه په خپل وخت او کافي اندازه واوریږي، نو ښې ګټوري ورشوګاني تشکیلیږي، څنګه چي ددې منطقې هوا په ژمي کي هم ګرمه ده، نو د حیواناتو او څارویو د استفادې وړ اکثره نباتات او ګیاګاني په ژمي کي هم وده کوي او د ستاینې وړ ورشوګاني جوړوي او څنګه چي د سکسول وني ددې شګو په ټولو برخو کي دېربښت لري، نو په تېره بیا پاڼي او څانګي یې د اوښانو د خوراکې لپاره ګټور او د استفادې وړ دي او په دغو واښو د وزو او پسونو هم بسیا کیږي.

د خانشین ډېر خلک په مالدارۍ او د څارویو په روزنه بوخت دي، ددې علاقې اهلي څاروي اوښان، وزې، پسونه او خره دي، غویان او آسونه پکښې نسي روزل کېدلای او وحشي ځناور یې لکه هوسۍ او سویه په شګو کي او په غرونو کي یې غوڅه او پړانګ او په نورو هوارو ځکو کي یې لېوه، ګیدړه او سورلنډۍ پیدا کیږي.

ددې سیمي ښځي یې د څارویو د وړیو او ویښتیانو په وریشلو او تاوولو بوختي دي، د تغر، غالۍ او شړۍ او بدنه هم پکښې مروجه ده، ددې ځای وګړي خپلي پڼې هم د غر څه له پوستکي څخه پخپله

(c) ketabton.com: The Digital Library



جوړوي، په ژمي کې یې هوا سړه ده او د (حاران) په نوم یو سخت باد پکښې لګیږي.[1]

## ۱۳. مارجه - Marjah:

د مارجې ولسوالي د طالبانو تر واکمنۍ وړاندې د نادعلي د ولسوالۍ برخه وه، کله چې طالبان واک ته ورسېدل، نوموړې سیمه د ولسوالۍ په نامه یاده سوه، کله چې د طالبانو تحریک سقوط وکړ او د حامد کرزي تر ریاست لاندې حکومت تشکیل سو، لا هم د مارجې برخلیک سم نه و معلوم.

په (۱۳۸۹) لمریز کال د نوي اداري لخوا حاجي عبدالظاهر اریان د مارجې ولسوال په توګه په لومړي ځل رسمي وپېژندل سو، نو دا سیمه رسمي او د ولسوالۍ بڼه یې خپله کړه،[2] مګر مؤقت شکل لري.

په مارجه کې (۶۰) شپېته زره جریبه مځکه تر پروژې لاندې راغلې او د کرهڼې قابلیت لري،[3] له لښکرګاه څخه په (۲۷.۸ km) کیلو متره فاصله کې پرته ده.[4]

شمال ته یې د نادعلي ولسوالي، جنوب ته یې د ګرمسېر ولسوالي، ختیځ ته یې د باکزو د ناوې ولسوالي او لوېدیځ ته یې د مارګو پراخه دښته پرته ده.[1]

---

۱.آریانا دایرة المعارف، شپږم ټوک، ۱۷۰ مخ
۲.الحاج محمد اسماعیل شریعتیار، هلمند پوله په پوله
۳.محمد ولي ځلمی، کندهار، دوهم ټوک، ۴۷۱ مخ
۴.https://www.google.com/maps/dir/Lashkar+Gah/Marjeh,+Afghanistan

(c) ketabton.com: The Digital Library



### ۱۴. ناومېش - Nawmish:

ناومېش د هلمند ولایت څوارلسمه، یوه نوې او مؤقته ولسوالي ده، چې په (۱۳۹۲) لمریز کال د جدي په ۲۶ نېټه د باغران له ولسوالۍ څخه بېل او د یوې خپلواکې ولسوالۍ په څېر رامنځته سوه.

۱.الحاج محمد اسماعیل شریعتیار، هلمند پوله په پوله، ۶۱ مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د رېيم څپرکی

## د هیتومنت (هلمند) تاریخي آثار او مشهوري سیمي

### بست (د بُست کلا):

بُست زموږ د لرغوني هیواد یو تاریخي، تجارتي، مذهبي، پوځي، مدني او فرهنګي مهم ښار دی، چي د هلمند (هیرمند) د کیڼي غاړي، د ارغنداب او هلمند د سیندونو د یو ځای کېدو له ځای څخه یو څه کښته پروت دی، په تاریخي سندونو کي بُست د بیوت (Biut) یا بیجس (Bigis) په شکلونو هم ضبط دی.

د بُست د تاریخي کلا بنسټ ایښوونکی (بسته داري) د (زایر) زوی او د (ویشته سپه) وراره دی، چي ښایي له خپلي خوا یې د سیستان حکمران ټاکلی و.[1]

پورتنی روایت له آریانا دائره المعارف څخه را نقل سوی دی، خو علامه رشاد بابا په خپل اثر (د کندهار یادابښتونه) کي داسي لیکي:. (د بُست په هکله د اویستا په هغه نسخه کي چي په سمرقند کي پیدا سوې او په (۸۰۰ ز) کي لیکل سوې ده، لیکلي دي:. بستوار

۱.آریانا دائرة المعارف، دوهم ټوک، ۱۳۹ مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



(Bastvar) د زرير زوی د بُست ښار ودان کړ، دغه وخت ويشتاسپ د زرير ورور په فرزدان کي و او په عبادت بوخت و، فرزدان د ويشتاسپ د کورنۍ ټاټوبی و).

د بُست په خلکو کي مشهوره ده، چي د بُست کلا د نوشېروان عادل ساساني (۵۳۱ - ۵۷۸ ز) وزير بختک د نوشېروان په حکم جوړه کړېده، وايي نوشېروان د خورا ټينګي کلا په جوړولو وګماره، ده د هلمند او ارغنداب د سيندونو په ګډونځي، چي دغه کلا ودانه کړله، پاچا ته ياغي سو، نوشېروان پسې راغی لښکرو يې ښار کلابند کړ، يو کال تېر سو د کلا د نيولو اميد ورځ په ورځ ضعيفه کېده، لښکرو ته يې د کوچ امر ورکړ، خو بختک ته يې پيغام ور ولېږه چي: (ته ډېر ناځوانه سړی يې، ما ته دومره ټيټ سوی نه بللې، د نمک حق دي هېر کړ؟).

ددې پيغام په ور رسېدلو بختک راووت، توره يې د پاچا په مخ کي کښېښووله او ورته يې وويل چي:.(ما غوښته دا درته ثابته کړم، چي دا کلا د نيولو نه ده، که نه ستا هغه نوکر يم، چي وم).[1]

زموږ د هيواد د ډېرو لرغونو او مشهورو کلاګانو څخه چي په روايتونو، تاريخي اسنادو او افسانو کي ترې ډېره يادونه سوې، يوه هم د بُست کلا (قلعه بُست)، د هغې بالاحصار، لښکري بازار او راوقونه (طاقونه) دي.

۱.علامه اکاډمېسن پوهاند عبدالشکور رشاد، د کندهار يادابښتونه، لومړی ټوک، ۱۹۱ مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



بُست د خپلي کلا د پراخي سيمي سره د هيرمند او ارغنداب د سيندونو د مخامخ کيدو د پاسه په يوه فرسخي (غونډۍ) کي موقعيت لري.(۱)

دا کلا د ختيځ او لوېديځ په احاطه کي دوې دراوزې لري، چي آثار يې تر اوسه پوري باقي پاته دي، جنوب لوېديځې خوا ته يې پر يوې غونډۍ باندي بله کلا وجود لري، چي د دېوالو اکثرو برخو يې د وخت له تېرېدو سره مقاومت کړی او پر خپلو ځايو باندي سم دم ولاړ دي، د بُست په مينځ کي يو ژور ثاه دی، چي ژوروالی يې د هلمند او ارغنداب د حوزې له سطحي سره تخمين کېدای سي، په آخرينه سطحه کي پر ځو برخو وېشل سوی دی، چي هلته د آجرو پخې ودانۍ ښکارېږي، د تعمير مواد يې رېګ، اهاک او لږ څه ايرې دي، چي د لرغوني معماري فن د قابليت په اثر سره يې داسي جوش خوړلی چي ته به وايي د ماربل تيږه ده.

تر لسو کيلو مترو پوري د مخروبه عمراناتو اثرونه ليدل کيږي، په يقين سره ويل کېدای سي، چي د دغو عمارتو له مجموعې څخه به د بُست ښار تشکيل سوی و، د بُست کلا د طاق کمان چي په دې ځای کي زموږ د بحث موضوع ده، د نيم دايريي بيضوي په شکل سره ولاړ دی، چي وتر يې شپاړس نيم متره، جګوالی يې د زاويې له مرکز څخه بيا تر سر پوري بېله ضخامته څخه د کمان ديارلس سانتۍ، پنډوالی

۱.د افغانستان استحکامي کلاوی، حصارونه او بالاحصارونه، ۱۰۰ مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library


يې يو مترو اويا سانتي ته رسيږي، پر پايو باندي يې کوفي[1] خط ليکل سوی دی، چي لوستل کېدای نسي.[2]

د هغي ثرګندوني له مخي، چي العتبي ورکړې، (بای توز) په کال (۳۶۰ هـ ش) شاوخوا کي د بُست حکمران و، چي سبتګين ترې ونيو، ابوالفتح بن محمد بستي کاتب تجنيس صاحب او د عربي ژبي شاعر، چي د بای توز منشي و، د سبتګين له دربار سره يو ځای سو او تر دې وروسته د بُست حکمراني طغيان ته وسپارل سوه، نوموړي د باج او خراج ثخه سرغړاوه او د سبتګين لاس په توره زخمي کړ، خو طغيان ماته وخوړه او د سبتګين لاس ته ورغی.

ابو منصور سيستاني عالم ويلي((په نړۍ کي د دومري وړوکوالي سره د ميوو او نعمتونو ډک ښار مي نه دی ليدلی)).

ابراهيم محمد اصطخري په مسالک الممالک (تأليف ۳۴۰ هـ ق) کي ليکي:. د سيستان په سيمه کي تر زرنج وروسته لوی ښار بُست دی، د خلکو کالي يې د عراق د خلکو غوندي دي، خلک يې بامروته دي، په دغه ښار کي د هند و سند هـ تجارت خانې دي، د انګورو او خرما وني لري، ډېر سمسور دی.

احمد بن ابو يعقوب بن واضع معروف په اليعقوبي په البلدان کي ليکي:. بُست د سجستان له لويو ښارونو ثخه دی او د ابو جعفر

---

۱.کوفيه يا کوفي خط د اسلامي خطونو له جملې ثخه يو ډول خط دی، چي د کوفې ښار ته منسوبيږي او ويل کيږي چي په هغه ځای کي يې شکل اخيستی او پراختيا يې موندلې ده.
۲.د افغانستان استحکامي کلاوي، حصارونه او بالاحصارونه، ۱۰۷مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



منصور العباسي په خلافت کي معن بن زائده شيباني ونيو، خلک يې عجميان دي او ددې سيمي اطراف په سندهـو هند پوري نښلي.[۱]

د البشاري په خپله وينا چي زياتره اسلامي هيوادونه يې ليدلي او د سوداګر په صفت په زياترو ښارونو د سوداګرانو، پوهانو، پارسيانو، صوفيانو، کيسه ويونکو، ذکر کوونکو او ليکوالانو هر خبره يې په حافظه کي ساتلې وه، د خپل سياحت په ترڅ کي تر سندهـ تللی دی د خپل کتاب په يوه برخه کي د بُست په هکله داسي ليکي:. يو لوی کلی دی او وګړي يې د دين، ميړاني او نعمت اهل دي، چي د خپل در ايت او نرم خوی په ايين مشهور دي، دا پاکيزه او سمسور کلی د دوو رودونو په منځ کي پروت دی، د سرد سيمو او ګرم سيمو دواړو سيمو ميوې او آب و هوا لري، ښارونه يې ډېر ښکلي او کلي يې زيات دي، ښه خرما او پريمانه انګور لري او د ريحان ګلان لري.[۲]

جوزجاني په حدودالعالم (۱۸۷ مخ) کي ليکي:. له بُسته تر ساروان پوري د فيروزقند پر لار دوه مزله دی، تر دوه مزله وروسته له ساروان کلا څخه چي تر هلمند سيند اوړي، نو لوېديځي غاړي ته تل واقع دی، له تله تر درغشه يو مزل او تر باغنين پوري د يوې ورځي لار ده، اصطخري له بُسته د داور خوا ته لومړی مزل فيروزقند بولي.

اصطخري د المسالک والممالک په (۱۹۲ مخ) کي ليکلي دي چي:. زرنج، خواش، بُست، روزان، سروان، صالقان، بغنين، درغش،

۱.علامه اکاډمېسن پوهاند عبدالشکور رشاد، د کندهار يادابنتونه، لومړی ټوک، ۱۹۳ مخ
۲.پوهاند رازقي نړيوال، د هيواد لرغوني ښارونه او د تاريخ پاڼي، دوهم ټوک، ۱۴۲ مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



تل، بشلنګ، پنجوای، کوهک، غزنه، قصیر سیوی، اسفنجای او حابای د سیستان له ښارونو څخه دي او تر زرنج لوی ښار نسته.

د ګبرانو په بندهشت کي کښلي دي:.

په هلمند کي د بُست پر برابري یوه چینه وه، چي له اوبو سره به رېګ او د سرو زرو ټوټې ور څخه راوتلې، لږ تر لږه به له ورځي زر دیناره طلا ورڅخه حاصلېدله، افراسیاب چي د سیستان دی، دغه چینه یې په جادو (کوډو) وتړله، ویل کیږي چي پسله درېیو زرو کالو به بېرته خلاصه سي.

د نزهه القلوب په (۱۷۴ مخ) کي لیکلي:. بُست په درېیم اقلیم کي واقع دی، طول البلد یې د خالوات له جزیرو څخه (قب = ۱۰۲) او عرض البلد یې د استوا له کرښي څخه (لج = ۳۳) دی، میانه ښار دی، هوا یې معتدله ده، اوبه یې له سینده دي، خرما، غله او مېوه یې حاصلات دي.[1]

د بُست په هکله یو ماخذ سته، چي که هغه صحت ولري، نو تقریباً (۳۵۰۰) کاله دمخه د بُست ذکر پکښې سوی دی، دا کتاب (بګت پران) نومیږي، بګت پران د هندوستان د آریایي هندوانو یو کتاب دی، چي دوي وایي مؤلف یې (مهادیو) دی او مهادیو په (۱۴۰۹ق م) کي مړ دی.

---

۱.علامه اکاډمېسن پوهاند عبدالشکور رشاد ، د کندهار یادابښتونه، لومړی ټوک، ۱۹۰، ۱۹۳، ۱۹۸ مخونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



په دغه کتاب کي د يوه ځای نوم (بست من) راغلی دی، د هندوئیزم علما او ځيني ختيځ پوهان له بست من څخه د بست معنی اخلي او وايي، چي مطلب ورڅخه بُست دی او همدا شان د رشاد بابا په نظر بست من کي د (من) کلمه د مېني معنی لري، چي په پښتنو کي د وطن او ملک په معنی ده، په پارسي کي د هغه بديل (ميهن) دی، چي هلته هم دغه کلمه موجوده ده، که د دغه کتاب خبره سړی ومني، نو تقريباً درې نيم زره کاله پخوا د بُست ذکر په کتابونو کي موجود دی.

که څه هم (تلسي داس) په لسم قبل الميلاد پېړۍ کي بګتپران ترتيب آو په سانسکريټ يې اړولی و، که له هغه څخه هم دا زمانه حساب سي، نو درې زره کاله د بُست له ذکره کيږي.[1]

د بُست له لرغونو آثارو څخه يو هم د بُست بالاحصار دی، چي له بُست، لښکرګاه او رواق سره يې يو ځای نوم اخيستل کيږي او اوس يې د کنډوالو پاتي شوني (بقاياوي) ليدل کيږي، په دې کنډوالو کي يو شمېر قبرونه هم سته، اوس چي د بُست بالاحصار راغورزېدلی، پراخ استحکامات يې په زړه پوري او له برمه ډک طاق يې ددې ښکارندوی دی، چي دلته يو وخت د تمدن ډېر غوره مرکزونه موجود وه.[2]

د بُست پر شاوخوا چي بل د يادولو شی دی، هغه د بُست د کلا ځاه دی، چي دا يو ساده ځاه نه دی، بلکې په خپل زمانه کي يو شهکار بلل

١.علامه اکاډمېسن پوهاند عبدالشکور رشاد، جغرافيايي يادابنتونه، ٧٨٠ مخ
٢.پوهاند رازقي نرېوال، د هيواد لرغوني ښارونه او د تاريخ پاڼي، دوهم ټوک، ١۴٧ مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



کېده او له بلې خوا څخه د بُست د کلا د اوبو په تأمینولو کې يې ټاکونکی رول درلود، ددې ښار موقعیت د بُست د بالاحصار د غونډۍ په مینځ کې په دایروي شکل لیدل کیږي، چې د هغه ځای د اوسېدونکو له خولې د وخت د پاچهانو زندان هم و.

تر اووه پوړو (طبقو) پورې په ښار کې دننه اطاقونه دي، چې د خښتو رنګ يې سوی او لوګن دی، چې د پخواني زمانې له اورلګېدو څخه څرګندونه کوي، ویل کیږي، چې تر ښار لاندې طبقې د وخت په تېرېدلو سره له خاورو دوړو څخه ډکې سوې او ممکن د دقیقو کیندنو په پایله کې د هغه اصلي جوړښت او چاپېریال روښانه سي.

د بالاحصار د ځمکې زمینۍ ودانیو ته د ورننوتلو لار له نریو او تورتمو دهلیزونو څخه د ښار له مرکز څخه لیرې پرته ده، هر څوک نسي کولای، چې ورننوزي دا ځکه چې ښېرته وتل ترې ډېر زیات سخت دی.[1]

همدا شان د بُست د ښار، بالاحصار او لښکرګاه د پراخو کنډوالو تر څنګ اوس یو رواق هم پاته دی، چې د لرغوني زمانې د معمارۍ او لوړ هنري سبک له ډېرو زیاتو نفیسو نمونو څخه شمېرل کیږي، ددې رواق د بنا او نېټې په باب موثق معلومات په واک کې نسته، خو بلاذري وايي: .عبدالمالک بن مروان اموي خلیفه چې امیه بن عبدالله يې د خراسان والي وټاکه او ده هم خپل زوی عبدالله سجستان ته واستاوه، نو کله چې هلته ورغی، ددې ځای له رتبیل (یا زُنبیل) شاه سره يې جګړه وکړه، مګر رتبیل شاه چې له مسلمانانو ډارېده، له

---

۱.کاندید اکاډمېسن محمد اعظم سیستانی، بیست مقاله تاریخي - تحقیقی، ۳۶۵ مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



عبدالله څخه یې د سولې غوښتنه وکړه او په بدل کې یې عبدالله ته یو میلیون درهمه وړاندیز وکړ، سوغاتونه او مرجان یې ورواستول، خو عبدالله د هغو له منلو انکار وکړ او وې ویل:.تر هغه وخته چې دا رواق د سرو زرو راته ډک نه کړې، د رتبیل سره به سوله ونه سي.

له پورتني روایت څخه ثرګندیږي، چې د بُست رواق د اسلامي دورې له عمراني بقایاوو څخه دی، مګر دا خبره جوته نه ده، چې دا رواق په کوم مطلب بنا سوی دی، آیا دا اوسنۍ پاته سوې بنا هماغه پخوانۍ بنا ده او یا دا چې وروسته نوې سوې ده، څنګه چې رالوېدو ته رانږدې سوی و، نو ترمیم کاري پکښې وسوه او اصلي بنا یې ولوېده او د ترمیم په جریان کې یې پخواني ترئینات د ډیکورېشن دقیق ممیزات، ښکلي نقشونه او د کوفي لیکنو بقایاوې له منځه ولاړې.

همدا ډول د بُست دروازې هم د یادولو وړ دي، نوموړې کلا دوې دروازې درلودې، چې د پتې (فتح) خان برېښې په کیسه کې یې یادونه سوې ده، هغه دا ډول چې فتح خان له شپېتو نورو ځوانانو سره د هند د فتحي لپاره روان سو، نوموړی د کلا له یوې دروازې ووت، نو موریې پرې دا ناره وکړه:.

(c) ketabton.com: The Digital Library



کـــــــــــــه دوې دي دوې دي
د کـــــلا بســـــت دروازې دوې دي
پــــر يــــوه مــــي پـــتې (فـــتح)وځـــي
پــر دا بـــله يې د مـــور سوي نارې دي

له پورتني فولکوريکي کيسې څخه ښکاريږي، چې بُست دوې دروازې درلودې.[1]

ابو اسحاق ابراهيم اصطخري د هجري څلورمي پيړۍ په لومړي نيمايي کي په خپل کتاب (المسالک والممالک) کي ليکي:.د بُست دروازې ته مخي ته پر سيند باندي څنګه چي په عراق کي معمول دی، پل موجود دی، چي نوي او کوچنۍ کښتياني لري، هغه لويه لار چي د زرنج څخه بُست ته راځي، د دغه پله څخه تيريږي، خلک يې د عراق په شان کالي اغوندي او ډېري يې د هندوستان سره معامله لري، د دغه ښار مځکي آباتي او شنې دي، خرما او انګور ډېر پکښې سته.

د بُست نوم دوه زره کاله دمخه ايزيد ور د هلمند په شاوخوا کي اخلي، لسترنج يې هم په دغه ځای کي بولي، اليعقوبي په کتاب البلدان کي بُست د سجستان د لويو ښارونو څخه بولي، په اعلان النفيسه کي (۳۹۰ هـ) د بُست نوم په کور سيستان و زرنج، بُست، الرخه يادوي.[2]

۱.پوهاند رازقي نړيوال، د هيواد لرغوني ښارونه او د تاريخ پاني، دوهم ټوک، ۱۴۷، ۱۴۸، ۱۵۲ او ۱۵۴ مخونه
۲.محمد ولي ځلمی، کندهار، دوهم ټوک، ۴۶۲ او ۴۶۳ مخونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



بُست د شپږمي زېږدیز پېړۍ په لومړیو کي د یفتلي لاس ته ورغی، بیا وروسته د عربانو د لښکر کښیو په ترڅ کي د عبدالرحمن بن سمره له خوا هغه ښار ونیول سو او د هغه د مهم سوق الجیشي موقعیت له کبله د عربو مسلمانانو له خوا د عسکري ځواکونو مرکز وګرځېد او د کابل شاهانو په خلاف ور څخه کار واخیستل سو، د مسلمانانو د تصرف له وخته د غزنوي پاچهانو تر دورې پوري بُست خپل پخوانی شهرت له لاسه ورکړی و، په (۳۶۶ لمریز - ۹۷۶ ز) د بُست د بیا ودانۍ، ترقۍ او رونق دوره وه.(۱)

بُست په اوومه میلادي پېړۍ کي یو مشهور او مستحکم ښار و، چي تر سیستان پوري د عربي قوتونو په مقابل کي د زابل او رخذ (رخچ- اوسنی کندهار) د حکمران (رتبیل شاه) د مدافعو پوځونو قرارګاه وه، چي د هلمند سیند او د هغه د مرستیالانو پر غاړو د ګزیو په پولو کي تر اوسه پوري ددې تاریخي ښار بقایاوي سته او په یو مهال کي د غوري پاچاهانو مقر او د منهاج سراج استوګنځی و، چي تر سیستان پوري د پخوانیو ډېرو ښارونو پاته شوني (بقایاوي) تر اوسه پوري موجودي دي، چي له دې جملې څخه داور، بغنی، سروان، نوزاد، تیری او نور تر اوسه موجود دي.(۲)

کوم وخت چي د اسلام سپېڅلی دین د سیستان له لاري د ارغنداب، غزني او کابل سیمو ته خپرېده، بُست د خپل موقعیت له امله زموږ د

۱.علامه اکاډمېسن پوهاند عبدالشکور رشاد، د کندهار یادابنتونه، ۱۹۷ مخ
۲.پوهاند رازقي نړیوال، د هیواد لرغوني ښارونه او د تاریخ پاڼي، دوهم ټوک، ۱۴۰ مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library


یو شمېر نورو ښارونو په څېر، چې د هیواد په لوېدیځو څنډو کې پراته وه، ډېر ژر له عربي پوځونو سره مخامخ سو.

په دې وخت کې (بُست) د کابلي (رتبیلانو) د پاچهۍ اړونده خاوره وه، چې له هامون څخه تر سنده پوري یې واکمني درلوده.

بُست د کندهار، زرنج او هرات په منځ کې ډېر ښه موقعیت درلود، چې لویې کنډوالې یې د لوی پرتم ښکارندویې کوي، وروسته له دې چې عبدالرحمن بن سمره هغه ونیو، د ښار له ښه موقعیت څخه یې ګټه واخیسته او هغه یې د کابلي رتبیلانو د کورنۍ او د خراسان د نورو ملي رئیسانو پر ضد خپل عسکري پنډغالی وټاکه.[۱]

د بُست په یوه برخه کې عام خلک اوسېدل، تجارتي مرکز، کاروانسرایونه وه او بله برخه یې سپاهیان، پوځیان، صاحب منصبان او کله ـ کله به غزنوي پاچاهان لکه (محمود او مسعود) پکښې اوسېدل او بُست د غزنوي پاچاهانو ژمنی یا دوهم پلازمېنه وه.[۲]

زموږ د ګران هیواد تاریخي ودانۍ د نورو تاریخي ودانیو په شان د یرغلګرو له خوا سوزول سوي او یا ویجاړي سوي دي، چې ددې غوندي زیات مدني او هنري آثار یې له خاورو سره خاوري سوي دي.

په (۵۴۵ هـ) د علاوالدین جهانسوز د قهر، غضب او غچ اخیستني په لمبو کې بُست او لښکرګاه لکه غزنی، د څو اونیو په فاصله کې سره وسوزېدل، وروسته بیا مرمت کاري (ترمیم) سول، خو بیا وسول، تر

۱.آریانا، ۱۰۳مخ
۲.همدا اثر، ۱۴۱مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



څو چې ګوډ تېمور د اتمې هجري پېړۍ په دوهمه نیمايي کې نه یوازې د سیستان بندونه تخریب کړل، بلکې د بُست ژوند ته یې هم خاتمه ورکړه.

د هغه څخه وروسته، که څه هم ددې تاریخي کلا څخه د عسکرو د چونۍ په ډول کار اخیستل کېده، خو چنګېزیانو دا ښکلې ښار او کلا له خاورو سره خاورې کړه.

د افغانستان کالني په حواله په (۱۹۲۳ ز) د موسیو فوشه د پلاوي له خوا د اتلسو میاشتو په اوږدو کې د بُست د بالاحصار په خرابو کې څېړني تر سره سوې او بیا پنځه ویشت کاله وروسته پنځه کرته سر ته ورسېدلې، په ټولو کیندنو کې چې په شمال، جنوب او مرکز کې وسوې، لویه ماڼۍ (کوشک کبیر)، حرمسرای، نظامي مقر، تالار د غزنوي پاچهانو دربار او کوچنۍ جومات شامل و، همدا شان هلته یو جامع جومات هم کشف سو.(۱)

## زمینداور (زینداور. زون + داور):

د سیمې خلک دا ځای زینداور (Zin Dawar) بولي او ددغه ځای اوسېدونکي زینداوري بولي، (زین ـ Zin) د (زون ـ Zon) ممال شکل دی.

رشاد بابا داسې لیکي: عربو چې د کندهار پاچاهان رتبیل بللي دي، زه (رشاد) ګمان کوم (رتبیل ـ Ratbil) د زن پال محرف او مصحف

۱.د افغانستان استحکامي کلاوي، حصارونه او بالاحصارونه، ۱۰۸مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



شکل دی، دا تصحیف د عربو له مؤرخینو څخه پیښ بولم، ددغي کلمي لومړی برخه (Zan) یا (Zon) یا (Zin) ده، چي د لمر معنی لري او (Bil) د (Pil>Pal) مبدل شکل دی.

(Pat>Pad>pal) یوه لرغوني آریایي کلمه ده، چي د پالونکي او پرستش کوونکي معنی یې درلوده. آزرپات د (اور د ساتونکي) په معنی اویستایي کلمه ده، په (موبد) کي هم دغه ریښه سته، ګرشک ته نږدې (زنبولی Zanbulay) ددغي نظریې ملاتړ کوي او دغه ځای تر اوسه د (زنبولي) په نامه یادیږي.

د فرهنګ توضیعي لغات مغلق په (۲/۱۴۸) مخ کي لیکلي دي: زمینداور د غور د پاچاهانو د ژمي پلازمېنه وه، دا ځای یو دیني معبد و، دلته پخوا د لمر د عبادت یو لوی معبد و، په زمینداور کي د لمر یو طلایي (سرو زرو) بت پیدا سو، چي خلافت دربار ته واستول سو.

دا نوم له دوو برخو څخه جوړ دی، (son>Zon<Zamin)، زون (سون) اوس هم په انګرېزي ژبه (Sun) لمر بولي، (داور) جز یې د ځای معنی لري.

### په مختصر البلدان (۲۲ مخ) کي لیکلي دي:

رخج او زمینداور د سیستان ښارونه دي، دا هیواد د رستم پهلوان دی، چي کیکاوس د دغي سیمي پاچاهي ورکړې وه، قرنین چي د هلمند په ناوه کي واقع دی، په دغه ښار کي د رستم د آس اخور سته.[1]

---

۱.علامه اکاډمېسن پوهاند عبدالشکور رشاد، د کندهار یادابښتونه، ۴۳ مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



په لرغونو تاریخي اثارو کي زینداور د مستحکمو ښارونو او پخو کلاګانو درلودونکی یاد سوی دی، چي دا دی په دې حواله د زینداور په اړه یو څه تشریحي معلومات وړاندي کیږي:

زینداور د غور د غرنیو سیمو جنوب خوا ته د هلمند ولایت په شمالي سیمه کي پروت دی، چي د غوري واکمنانو د ژمنۍ پلازمېني په تېره بیا د غور د ستر سلطان (غیاث الدین) (۵۵۸ - ۵۹۹) هجري د سلطنت پلاز و، که څه هم له دې ځای څخه له پخوا د غور واکمنانو استفاده کوله، خو د پټې خزانې په حواله د سوري امیر پولاد زوی، امیر کروړ (۱۳۹ هجري) په دې مورد کي لیکي، چي امیر کروړ په دوبي کي زینداور کي و او هلته یې ماڼۍ درلودله، چي کټ مټ د مندیش[1] په څېر وه.

د غوریانو ددې ژمني پلاز سیاسي اهمیت د سلطان غیاث الدین د سلطنت پر مهال ښه پېژندلای سو، چي له دې ځای څخه یې په ټول افغانستان، هندوستان او د ایران پر یوه برخه حکمراني کوله.[2]

حافظ ابرو لیکي:- (جبل الزور (جبل الزون) بین غور و اسفزار واقع است، و قبر سلطان ابراهیم قتال در آنجاست).

د (پژوهشي در تاریخ هزاره) په (۲۷ مخ) کي لیکلي دي:- په (۳۱ هـ ق) زینداور عربو ونیوه، له دواړو خواوو ډېر خلک مړه سول، یوائي د عربو د لښکر مړي څلورو زرو تنو ته رسېدل، د اسلام د

۱.مندیش د غوري واکمنانو پلاز و، چي په اوسني غور کي موقعیت لري

۲.پوهاند رازقي نړیوال، د هیواد لرغوني ښارونه او د تاریخ پاڼي، دوهم ټوک، ۱۷۰ مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library


لښکر مشر عبدالرحمن بن سمره و، چې تر ربیع بن زیاد حارثي وروسته د سیستان والي و، غازیانو ته ډېر اولجې په لاس ورغلې، په اولجو کې د زور له معبده څخه د سرو زرو بت هم په لاس ورغی، چې د یاقوتو سترګې یې وې، پدغه وختو کې د زینداور خلکو د لمر پالنه (پرستش) کاوه.

په زمینداور کې د غوریانو د حملو د مخنیوي لپاره څه استحکامات او پوځونه اچول سوي وه، سلطان محمود غزنوي له دغه ځایه له غوریانو سره جګړې کولې.

په حدودوالعالم کې لیکلي دي:. زمینداور آباده سیمه ده، د غور او بُست پر پوله دوه ښارونه لري.

تل (د لومړي په کسره) او درغش، په درغش کې زعفران کیږي، د درغش سیمه د بُست په درمشان پوري نښتې ده.

ابو زید بلخي زمینداور د سیستان له مربوطاتو بولي (المقدسي).

اصطخري زمینداور د غور پوله ګڼي او المقدسي زمینداور په بُست پوري ګڼي.

حموي وایي:. د سیمي خلک یې زمینداور بولي چې د (ارض داور) معنی لري، پراخ ملک دی، ښارونه لري.

په صوره الارض کې ابن حوقل لیکلي دي:. په داور کې پیداوار ډېر دي، د غور سرحد دی، بغنین، خلج او بشلنګ د داور هغه سیمي دي، چې هره سیمه حاکم لري، مهم ښارونه یې (درتل) او (درغش) دي، چې د هلمند پر غاړه ودان دي، په بغنین، خلج، کابل او غور کې څه

(c) ketabton.com: The Digital Library



مسلمانان سته، دا سیمي سرد سېري دي، له بُست څخه تر سروان پوري د داور پر لار دوه مزله[1] دي، له سراون څخه چي یو مزل تېر سي، باید له هلمند څخه پوري وزي، بیا نو درتل ته ځي، له درتل څخه تر درغش پوري تر یوه مزله زیات دی، دواړه پر یوه غاړه (ښی غاړه) ودان دي، له درتل څخه تر بغنین پوري د یوې ورځي لار ده، د بغنین په جنوب کي بشلنګ قبیلې اوسي.[2]

پژواک په خپل اثر (غوریان) کي لیکي:.د داور ښار چي وروسته په زمینداور مشهور سو، د غوري پاچاهانو پر مهال د غور په اړوندو سیمو کي شمېرل کېده او په ترتیب سره د بلاذري، مسعودي، اصطخري، بیهقي او منهاج السراج ټولو په آثارو کي یې یادونه سوې ده، لنډه دا چي د غوریانو او غزنویانو پر مهال سوق الجیشي سیمه وه او ډېر ارزښت یې درلود، نو ځکه غزنویان دې سیمي ته په ډېر ارزښت قایل وه، اسلامي پوځ هم له همدې ځایه په غوریانو بریدونه پیل کړل، سبکتګین او د هغه زوی سلطان محمود غزنوي هم غوښتل، چي له همدې ځایه پر غور برید وکړي، په داور کي د سلطان غیاث الدین باغ ارم هم په تاریخ کي ډېر شهرت لري، دغه سیمه تر سلطان محمود وروسته د هغه د اولادې او غوري امیرانو تر منځ یو لانجمنه سیمه وه، چي تل به یې د خپلولو لپاره جنګ جګړې تر سره کېدې.

۱.پخواني وګړو به د یوې ورځي سفر ته مزل وایه
۲.علامه اکاډمېسن پوهاند عبدالشکور رشاد، د کندهار یادابښتونه، لومړی ټوک، ۴۳ مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



علامه رشاد بابا له زینداور څخه د غور لار موږ ته داسي رانبيي:.
(له موسی کلا څخه د تخته پل د ختیځ خوا ته یا د موسی کلا د سیند د لویدیځ خوا.

د رود ختیځه خوا تر تخته پل وروسته پروالاخور، تر هغه وروسته باشلنګ، بیا سور کوتل، چپ لاس اخلي، پر بختک ورځي، بختک د نوزاد مربوطه علاقه ده، پر امام رباط ورځي تر هغه وروسته پر چرمستان پرګز (Gurz) له ګرز څخه د مرغاوی کوتل چي واوړي، د غور علاقه ده، پږ دره د باغران په ولسوالی پوري اړه لري.

دا بله لار پر تیزني (Tiznay) ورځي، د تیزني لار پر بختک باندي ورځي).[1]

زمینداور یعنې (د پاچا مځکه) د یو پراخ ولایت نوم دی، چي د غور او رخچ ولایتونو اړخ ته یې کلي او ښارونه واقع دي، ځلمي زمینداور یي د غور، فراه او بُست تر منځ ښوولی،[2] مارکوارت زمینداور یې د عادل شخص مځکه یعنې زون یاد کړی،[3] اصطخري ویلي دي، چي داور د یو زرغون اقلیم نوم دی، د غور له ځغره څخه بیا د سجستان (=سیستان، ساکستان) تر ناحیې پوري اوږدوالی لري.

صدقي لیکي:.(د زمینداور ښار یعنې زون، د هندي سپېڅلي الهي معبد و، چي د هغه په ویاړ د کابل پاچا ځان یې زابل یا زنبیل

---

۱.همدا اثر،۴۷مخ
۲.محمد ولي ځلمی، کندهار، دوهم ټوک، ۴۵۳ مخ
۳.پوهاند رازقي نړیوال، د هیواد لرغوني ښارونه او د تاریخ پاڼي، دوهم ټوک، ۱۶۹ مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



یاداوه).[۱] ابن خرداد لیکي:. (په زمینداور کي داورشاهانو او په روزګان کي هفتالیانو(=یفتالیان-هیتالیان) حکومت کاوه).(استاد قدرت الله حداد فرهاد یفتالیان ابدالیان بللي، چي د آریائیانو یو څانګه یا ټولګۍ وه، چي په (۴۲۵ ز) کال شاوخوا کي د تخارستان پاچاهي یې په لاس کي وه.)(او پوهاند حبیبي صاحب هم یفتل-هبتل -ابدال بولي، چي وروسته د ابدالیانو په نوم ونومول سول).[۲]

د زینداور (=زمینداور) نوم په زړو تاریخي او جغرافیایي کتابو کي په سم او ناسم ډول په دې بڼه او نومونو راغلی دی:. (داور، زمینداور، زینداور، زنینداور، ارض داور، رنداور، الزور، الرود، سوناګیراو..)[۳]

## زرنج (درنګیانا ـ زرنجیانا):

د هلمند سیمي تر ټولو پخوانی مرکز د زرنج ښار و، چي خرابه یې تر اوسه په چخانسور کي د هلمند د سیند پر غاړه ولاړه ده، لرغون پېژندونکي وایي، چي د کلاوو جوړښت یې عیناً د زاړه (بابل) ښار ته ورته و.[۴]

زرنج هغه زرخېزه، حاصلخېزه او مردخېزه سیمه ده، چیري چي رېګونه پښې کوي په لاره درومي، چیري چي پراخو او اوږدو دښتونو

---

۱.شهر های آریانا، ۶۱ مخ
۲.قدرت الله حداد فرهاد، د افغان ملي تاریخ، لومړی ټوک، ۶۴۶ مخ
۳.شریف الله دوست سرواني، زینداور، ۲۸ مخ
۴.کاندید اکاډمېسن محمد ابراهیم عطایي، هلمند د کلتور په ساحه کي، ۴۵ مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library


لمني غوړولي دي، چيري چي د غونډيو او پشتيو څخه پرته هيڅ غر نه ښکاري، چيري چي بادونه توپان کوي او په ډېر شدت سره بې وزرو الوزي، چيري چي مځکه خپله مځکه په نس ورننباسي، چيري چي سر و کال يوائحي دوه موسمه وي، چيري چي ځپانده سيندونه بهيږي او چيري چي ددغسي عجايبو او غرايبو څخه د ډکي سيمي مرکز، کوم چي د هري ډبري لاندي يې زښته زياتي تاريخي، مجلل او له دبدبې ډک قصرونه او ښکلي ودانۍ ړنګي بنګي پرتې دي، هلته چي هر ماسه او شګه حماسه زېږونکي کاين بلل سوي دي، نو ددغسي بډاى او په خزانو معموري خاوري يو ښار زرنج دی، هغه زرنج چي په ډېره خواري سره د پردي لاس ته ورتله او ددې ګردو صفتونو او ځانګړنو له امله ورته په مجموع کي د پېغلي ښار يا (مدينه العذر) لقب ورکړل سوی و.

مخکي تر دې چي د زرنج د ښار د موقعيت په تثبيتولو خبري وسي، په مقدماتي ډول ضروري ده، چي د (رام شارستان) په هلکه معلومات ولرو، رام شارستان هغه محل دی، چي د زرنج ښار څخه دمخه د هيرمند او سيستان مرکز و او ددې ښار د منځه تللو په پايله کي ترې د هغه اوسېدونکي يوې او بلي سيمي ته وکوچېدل او هلته يې د زرنج د ښار بنسټ کښېښود او د زرنج ښار يې جوړ کړ.

رام شارستان د عربو د پخوانيو جغرافيه ليکونکو له قوله ننی زرنج د زرنجيان (درنګيانا) د ولايت پلازمېنه وه او د هغه د بنا کېدو دمخه په لرغونو زمانو کي ددې ولايت مرکز رام شارستان و، چي د ابره

(c) ketabton.com: The Digital Library


شهريار په نوم هم يادېده، بالاخره دا لرغونی ښار په څلورمه هجري پېړۍ (لسمه زېږدیز پېړۍ) کې د طبيعي آفاتو يعنې د رېګونو د کوچونو له کبله د خاورو لاندي او په کنډوالو بدل سو.

په يوه بل روايت ددې لرغوني پلازمېني موقعيت په ناڅرګند او مبهم ډول د زرنج د ښار په درې منزلي کې ښوول سوی دی، چې په پخوانيو زمانو کې هغه يو لوی سيند چې د هيرمند له سيند څخه رابېل سوی، اوبه يې دلته راتللې او بيا يې د خپل چاپېريال مځکې خړوبولې، تر څو چې ددې سيند د تړلو په واسطه اوبه پورته ولاړې او يو لوی بند جوړ سو او ناڅاپه دا ښار بې اوبو سو، مځکې يې لا مزروع او اوسېدونکي ترې په يو واري وکوچېدل او وسني زرنج يې جوړ کړ.

اصطخري د سيستان په بحث کې وايي، چې د کرمان او سيستان تر منځ لويي بناګاني دي، پخوا دلته يو ښار و، چې هغه ته يې رام شارستان وايه او وايي، چې د سيستان (يعنې د هلمند اوبه) په دې شارستان کې تېرېدلې د رام شارستان خلک راپورته سول او هلته يې د زرنج ښار بنا کړ.

که د تاريخي واقعيتونو په رڼا کې وويل سي، د زرنج ښار د موقعيت تثبيتول او ټاکل ډېر ګران دی، چې په يوه وخت کې د (آسيا د غلې انبار) او د (خراسان بصر) يادېدله او اوس هغه نوم بيخي د فراموشۍ کندي ته لوېدلی دی.

مګر بيا هم د زرنج د ښار د موقعيت په ټاکلو کې د پخوانيو مؤرخانو آثار بشپړه مرسته کوي، لکه چې د عربو د جغرافيه ليکونکو په قول دا

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښار د هلمند د رودخانې ښې (راسته) خوا ته موقعیت درلود، یعنې د زرنج د جنوب په یوه منزلۍ کې پر هلمند سیند یو بند جوړ سوی و، چې لوی او کوچني نهرونه لکه، سنا رود، باش رود، نهر میله، نهر شعبه، نهر طعام[1] او نور نهرونه دې ښار ته تلل.

په همدې ډول په شمال کې یې یو بل سیند چې د نیشک (اوسنی خاشرود) په نامه یادیږي تېرېده او په دې ترتیب زرنج ددې دوو سیندونو په منځ کې پروت و، یعنې د هلمند سیند یې په جنوب کې او خاشرود یې په شمال کې بهېده، ددې دواړو رودخانو په منځ کې هغه ځای چې (نادعلي) ورته وایي، یو لوی تلې دي، چې په اطراف کې یې زیاتي خرابې لیدل کیږي او سړی د پخوانیو لویو برجونو په کتلو د ډېر لیري تېر مهال د شان او شوکت په یاد کې اچوي.

که چیري دا کنډوالې د یوه ښار بقایاوي وي او د منځنیو پېړیو ښار او د زرنج اصلي مرکز او یا پخوانی زرنګ (=یا زرنګا) یې وبولو نو په یقین سره ویل کېدای سي، چې په دې ځای کې د زرنج ښار پروت و او تاریخي متون هم په دې خبره شهادت ورکوي.

یوه بله پته چې په یوه تاریخي روایت کې د زرنج د ښار د موقعیت په باب ورکړل سوې ده، هغه تر اسلام را وروسته د ربیع بن زیاد د سیستان فتح کولو واقعه ده، وایي چې د هجرت په دېرشمه ربیع بن زیاد د سیستان د نیولو په نیت د یو لوی لښکر سره د کرمان له مرکز (سبیرجان) څخه راوخوځېد، د پهره ښارونه (اوسني ایرانشهر) او

---

۱.د زرنج د ښار د طعام دروازې ته منسوب دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



جالق چي د لاري پر سر یې پراته وه، فتح کړل، ربیع بن زیاد په جالق کې د هغه ځای له مهتر څخه پوښتنه وکړه، چي د سیستان لار ور وښیي، هغه ورته وویل: کله چي د هیرمند له سینده پوري وځئ، نو مخ ته به مو ریګ او شګې راسي او چي له ریګ څخه تېر سئ، سنګرېزه به وګورئ او هلته به یوه کلا او کلی ښکاره سي.

پورتنۍ پته په څرګنده توګه ښیي، چي زرنج د هلمند د سیند ښې خوا ته پروت دی او هغه ریګونه او سنګرېزې، چي تر اوسه پوري د هلمند سیند خوا ته له چاربرجک څخه تر نادعلي پوري تر سترګو کیږي، د زرنج د ښار یو بل دلیل دی.

نوموړی زرنج د نیمروز او نادعلي په محل کې پروت دی او دا به محضې اشتباه وي که چیري د سیستان دد ې تاریخي او با عظمته ښار موقعیت د (مستېر تیت) د قول په پیروۍ په زاهدان کې وګڼل سی.

لسترنج هم د نقشې له مخي دد ې ښار موقعیت د نادعلي په همد ې محل کې تثبیت کړی او ټاکلی یې دی، چي د لاش او جوین څخه د نادعلي په شمال کې دی او د فتح کلا یې په جنوب کې پرته ده او له هغه ځای تر حصار طاق (اوسنی سارتار) یو لړ خرابې سره نښتې پرتې دي، چي د هغوی یوه برخه او حتی ټولي خرابې همدا د زرنج ښار دی.

هنري ماکماهون چي په (۱۹۰۳ - ۱۹۰۵ ز) کلونو کې یې په سیستان کې پلټنې تر سره کړې، نو یې په خپل ډېر علمي او کټور ریپوټ کې چي د سیستان په باب یې لیکلی دی داسي وایي:.په هیڅ یوه مملکت کې داسي خرابې او کنډوالې نه د ې لیدل سوي، تر کومه ځایه چي د سرې

(c) ketabton.com: The Digital Library



د سترګو دید لګیږي دا خرابې تر نظره کیږي او دا ټولي خرابې د زرنج ښار دی.

هنري ساوچ لندر چي په (۱۹۰۱ ز) کال کي یې سیستان په ټوله معنی لیدلی دی او دده نظر د لرغون پېژندني په برخه کي زیات اعتبار لري، عقیده لري، چي دا خرابې د یوه ښار خرابې دي او هغه هم د زرنګ مهم ښار دی.

نوموړی ددې خرابو اوږدوالی له (۸۰ – ۹۰) میلو حساب کړی، چي په لومړي سر کي له مبالغې ډک انکار منونکی دی، مګر نوموړی تېروتلی نه دی او دا ځکه چي د فتح کلا څخه تر جوینه او له نیشک څخه تر پخواني زاهدان او تراکو پوري یوه آباده سیمه او یو زیات شمېر ښارګوټي سته، چي په زرنج پوري دي، نو ویل کېدای سي، چي زرنج د فتح د کلا څخه تر جوینه او له نیشک څه تر پخواني زاهدان او تراکو تر منځه سیمه کي پروت دی.[۱]

حمدالله مستوفي د زرنج په اړه کښلي دي: دا ښار ګرشاسپ جوړ کړ، چي د زرنګ په نامه یې ونوماوه، جورج پیتریت وایي، چي د سیستان ډېر پخوانی او لرغونی نوم (زره ـ zara) دی، چي یونانیانو او لاتین تاریخ پوهانو د درنګیانا په نوم یاد کړی او د داریوش په ډبرلیک کي (زرنکا ـ Zaranka) کښل سوی، چي په را وروسته زمانه کي (نیمروز) بلل سوی دی، چي د جنوب په معنی دی.[۲]

۱.پوهاند رازقي نړیوال، د هیواد لرغوني ښارونه او د تاریخ پاڼي، لومړی ټوک، ۹۴ مخ
۲.شهسوار سنګروال، د افغانستان د تاریخي جغرافیې څرنګوالی، ۳۱ مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځيني محققان نيمروز د (ناف زمين) په معنى ضبط کړی او وايي کله چې لمر نيمروز ته را ورسيږي، نو د مځکي ټوله نيمه کره روښانه کيږي، نو ځکه نيمروز د پراخه او ځلېدونکي افق په خاطر د مځکي (نصف النهار) د نقطې په حيث په هغه زمانه کي چې بطليموس د خالدات ټاپو د مځکي نصف النهار پېشنهاد کړی نه و د اويستا د عصر د ارياناو له خوا ومنل سو.

په اويستا کي معمولاً د آريانا مشهوري او مهمي سيمي د سندونو او رودخانو په نومونو چې ددې له منځه تېرېدلې نومول سوي دي، لکه هيتومنت (هلمند)، فرا داتا (فراه – فراه رود)، هراوتي (ارغنداب)، الرخد، کندهار او نور.[1]

ابن حوقل د سيستان په مشهورو او مهمو ښارونو کي د زرنج ښار په ګوته کړی او همدارنګه د نورو ښارونو لکه بُست، بالش، رخج، بلدي داور (زميداور)، بغنين، خلج، بشلنګ، خاش، قرنين، طاق فره، سروان (سراوان) او زالقان يادونه يې کړې ده.[2]

د زرنج د کلمې زوړ او پخوانی نوم (درنګيانا) ده، له درنګيانا څخه (يانا) لوېدلې ده او (درنګ) يې په (زرنج) اوښتی دی، (يانا) مکاني سوفکس دی، چې هغه د (ستان) يعنې د ځای په معنی ده، لکه په باميان او قباديان کي.

١.پوهاند رازقي نېروال، د هيواد لرغوني ښارونه او د تاريخ پاڼي، لومړی ټوک، ٩٩ مخ
٢.شهسوار سنګروال، د افغانستان د تاريخي جغرافيې څرنګوالی، ٣١ مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



د یونانیانو په آثارو کي زرنج د (درنګیانې) او (درنګیان) په شکل ضبط دی، کله چي له منځني آسیا څخه ساکان دې سیمي ته راغلي دي، هغه وخت ددې سیمي نوم (ساکستان) سوی دی، یعنې د ساکانو د اوسېدلو ځای یا مېنه، وروسته. وروسته ساکستان په تلفظ کي (سکستان یا سګستان) ویل کېده او عربانو هغه سجستان باله، ځکه هغوي په خپلي الفبا کي د (ګ) توری نه درلود، عربانو په جغرافیایي نومونو کي راغلي د (ګ) توري ټول په (ج) باندي اړولي دي، لکه ګورګان یې جورجان کړی، ګوزګان یې جوزجان کړی او بالاخره په همدې بنیاد دوي له سګستان څخه سجستان جوړ کړی، چي وروسته - وروسته بیا (ج) په (ی) باندي اوښتی او په دې توګه له سجستان څخه سیستان جوړ سوی دی، چي اوس هم دغه نوم موجود دی او دا سیمه په همدې نامه یادېږي.

ددغه سیمي ختیځي خوا ته د کندهار (اوسني هلمند) د بُست علاقه وه، لوېدیځي خوا ته کرمان او جنوب ته یې د بلوچستان هغه برخه ده، چي اوس په ایران کي واقع ده.[۱]

د زرنج ښار تقریباً د هلمند پر وروستۍ برخه جوړ سوی و، هر کله چي عربي سلطه خپره سوه، نو هغه ښار کرار - کرار ترک سو او د ثقافتي مرکز په حیث د بُست ښار راپورته سو او نائب هم ځانته د کښېنستلو ځای په بُست کي جوړ کړ.[۲]

---

۱.علامه اکاډمېسن پوهاند عبدالشکور رشاد، جغرافیایي یادښتونه، ۸۲۷ مخ
۲.کاندید اکاډمېسن محمد ابراهیم عطایي، هلمند د کلتور په ساحه کي، ۴۵ مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



د اسلام د مبارک دین تر راتګ وروسته د صفاریانو کورنۍ د سیستان (هیرمند) د لویو او غښتلو پاچهیو څخه شمېرل کېږي، صفار د یعقوب لیث لقب او دا د دغي سلسلې تر ټولو غښتلی پاچا و.

د صفار او لکي په نامه اوس هم د هلمند په (ګرمسېر) کي دوه کلي سته، د رشاد بابا په ګومان چي د صفاریانو کورنۍ دغه صفار ته منسوب دي، که څه هم ځیني کسان ور څخه د مسګر معنی اخلي، خو د رشاد بابا په اند دغه توجیه سمه نه ایسي.[1]

زرنج د ستر شهنشاه یعقوب لیث صفاري هلمندي او د هغه د ورور عمرو لیث صفاري هلمندي ماڼۍ وه، عمرو لیث په درون (شارستان) کي د خپلي خزانې لپاره یو تعمیر جوړ کړی و، چي هغه ته یې ارګ وایه، د زرنج بازارونو، عمارتونو او ښار بشپړ شهرت درلود، هغه ودانۍ چي دې دواړو افغاني پاچاهانو جوړي کړي وې، جغرافیه لیکونکي د هغه زیاته ستاینه کوي.

یعقوبي د سیستان د بارو په مبحث کي لیکلي دي، چي د سیستان له ناحیو څخه د بُست ناحیه، د جوین ناحیه، د خشک ناحیه، د خواش ناحیه او د زرنج لویه ناحیه ده، چي د رتبیل پاچا پایتخت دی او څلور فرسخه مساحت لري، ګرد چاپېر ترې یو خندق دی او پنځه دروازي لري، رودخانه لري چي د ښار له منځه تېرېږي او هندمند (= هیرمند) ورته وایي.

1. علامه اکاډمېسن پوهاند عبدالشکور رشاد، جغرافیایي یادښتونه، ۸۲۹ مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



خو د زرنج لرغونی ښار په (۶۱۹) هجري کال د مغولو د فتنو او قساوتونو او د چنګېزي لښکرو له خوا د زیانونو سره مخامخ سو او بیا څه چي ترې سالم پاته وه، په (۷۶۴) هجري کي د ګوډ تېمور له خوا د هغه د پښې د ماتېدلو د کسات اخیستلو په قهر او غضب سره د آسیا د غلې انبار، د هغه آبادی او حاصلخیزي مځکي او بندونه له یو سره د خاورو په کنډوالو بدل کړل.

تر ګوډ تېمور وروسته د نوموړي زوی (شاهرخ) د پلار غوندي د سیستان لا محوه کولو ته بډي ووهلې او د سیستان شاهرګ (د رستم بند) یې وران کړ.

هو کې! زرنج هماعه ښار چي یو وخت د سیستان د پاچاهانو پلازمېنه او د حکمرانانو څوکی وه، هغه زرنج چي یوه ورځ د خلافت د مقر د بغداد سره یې سیالي کوله او په ختیځ کي د آسیا د ډېرو ګڼ نفوسو ښارونو څخه و او د البشاري په قول د (عجایب البلاد عجم) څخه شمېرل کېده، د دوو تنو آسیایي خونخوارو فاتحانو (چنګېز او تېمور) او د روانو رېګونو د هجوم له کبله چي د رستم د بند د ورانولو په پایله کي یوه هسي منظره ځانته نیولې وه، چي د هغو په لیدلو ورته د انسان زړا راتله.

ګوډ تېمور او دده ځایناستی (شاهرخ) د هیرمند د بندونو په ورانولو سره د سیستان شریانونه پرې کړل او زرنج یې د خپلي مور (هیرمند) په سپینو وینو کي ډوب کړ او ویې واژه.[1]

۱.پوهاند رازقي نړیوال، د هیواد لرغوني ښارونه او د تاریخ پاڼې، لومړی ټوک، ۱۰۵ مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



## خلج:

د اوسنۍ ناوې (د بارکزو ناوه-ناوه بارکزائي) مرکز دی، د جمعې د ورځې مېلې (ګنج) یې دومره شهرت لري، چې نه یوائې له ټول هلمند څخه خلک ورته راځي، بلکې د کندهار او نورو سیمو وګړي هم په نوموړې مېله کې برخه اخلي.

ابو الفضل بیهقي پخپل تاریخ (بیهقي) کې د خلج نوم داسې ذکر کوي:. (روز پنجشنبه نوزدهم محروم بوعلی کوتوال از غزنی با لشکری برفت بر جانب خلج).

هغه وخت چې کوټوال د خلج د فتحې څخه پایتخت (غزني) ته راګرځېدلی د باچا حضور ته دده د ورتګ په وخت کې بیهقي داسې لیکي:. (و بوعلی کوتوال از خلج باز آمد و آن کار راست کرده روز دوشنبه غره ماه ربیع الاول پیش امر آمد و نواخت یافت و باز ګشت). [۱]

## باغ ارم (باغران. باغرام):

تر هر څه د مخکې د (باغ ارم) نوم د پښتو ادب په زړو اثارو کې څرک تر سترګو کیږي، د لرغوني پښتانه لیکوال د تاریخ سوري په حواله او محمد هوتک بن داود د لرغوني پښتانه په حواله لیکي:- (امیر کروړ د امیر پولاد سوري زوی و، چې په (۱۳۹ هجري) کې د غور په مندیش کې امیر سو، امیر کروړ به په دوبې کې په (زمین

۱.کاندید اکاډمېسن محمد ابراهیم عطایي، هلمند د کلتور په ساحه کې، ۵۸ مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



داور) کي و او هلته یې ماڼۍ درلوده، چي کټ مټ د مندیش په شان وه).

له دې څخه سړی دا جاج اخیستلای سي، چي همدې (باغ ارم) ته اشاره ده، د پښتو ادب په تاریخ کي بل ځای هم (باغ ارم) د نامه څرک وینو لکه د تایمني د چاربیتي په دې لومړي نیم بیتي کي:

ما د (داور) په مځکه ولید (ارم)
دا د جنت په څېر و بڼ ښه څرم
د فېروز کوه په دود ودان دی نا
ښکلی هر ګل څه ښه خندان دی نا

ګردیزي په (زرین الخبار) کي د مندیش کلا په هغو کلاګانو کي شمېري چي هلته به د پاچاهانو خزانې ساتل کېدې، نو دلته چي د تاریخ سوري لیکوال چي پخپله هلمندی او بُستي دی (محمد بن علی البُستي) د زمین داور د باغ تشبیه د داسي کلا سره کړې، چي هغه د مندیش ده، یعنې د پاچاهانو جواهرات او زر به پکښې ساتل کېدل، نو ځکه دېر مهم بلل کیږي، دلته د زمینداور همدې باغ د سیمو په کچه نوم درلود.

باغ ارم په خپل وخت کي یوه تاریخي او ادبي سیمه وه، چي په ځانګړې توګه د غوري او بُستي شاهانو ژمنۍ پلازمېنه وه او دلته به

(c) ketabton.com: The Digital Library



یې د ښکار، شعر او مشاعرو څخه خوند اخیست او د ژوند خوږې شپې به یې پکښې تېرولې.[1]

د باوري د وینا له مخې، چې سلطان غیاث الدین په ځوانۍ کې ښه مجلسي، ملګری او د ښکار ډېر شوقي و، ده له فېروز کوه څخه چې دده پلازمېنه وه، د زمینداور تر ښار پورې، چې هغه هم د ژمي پلازمېنه وه، هیچا ته د ښکار اجازه نه ورکوله، ددې دوو ښارونو تر منځ څلوېښت فرسنګه[2] لار وه او په هر فرسنګ کې یې یو تم ځای آباد و، په زمینداور کې یې د ارم په نامه یو پاک او زړه راښکونکی باغ، چې دوه میدان واره اوږدو جوړ کړی و، چې په نړۍ کې یې ساری نه و، نوموړی باغ ډېرې چینې، د صنوبر ونې او ډول ـ ډول ګلان درلودل، د سلطان په امر د باغ تر څنګ د باغ په اندازه یو ستر میدان هم جوړ سوی و، چې په کال کې یو ځل به یو شمېر ښکاریانو له (۵۰ ـ ۶۰) فرسنګه لیرې واټن څخه له دوو خواو هر ډول وحشي ځناور او مرغان همدې لوی میدان ته رابرابرول، د دواړو خواو ښکاریان به پوره یوه میاشت وروسته همدې میدان ته رارسېدل.

وروسته به سلطان له یو شمېر کسانو او د کورنۍ له غړو سره له ماښۍ څخه د ډېرې خوشحالۍ په فضا کې ووت، په آسانو سپاره به د ښکار ډګر ته ورغلل او ښکار به یې پیل کړ.

---

۱.شریف الله دوست سرواني، زینداور، ۶۵ مخ

۲.یو فرسنګ درې میله او یو میل ۱.۶ کیلو متره کیږي

(c) ketabton.com: The Digital Library



خو په اوسني داور کي په دې نامه باغ نسته او نه هم د صنوبر ونې، خو لږ څه ليري د غور پولي ته څېرمه د باغران په نامه يوه غرنۍ زړه راښکونکې او له ډول ډول ونو ډکه سيمه سته، چي هر ناو او هره دره يې د باغ ارم په څېر ده، دغه ځای طبيعي ځړوبي لري، ډول ډول غرني ګلان لري، چي د لويو غرونو لمني يې ټولي ښکلي کړي دي، د ازادو مرغانو زړه راښکونکو ږغونو د هغه ځای په ازاده فضا کي انګازې خپرې کړي او ډېر ښه ښکار هم لري، کېدای سي، چي په همدغه ځای کي يو باغ د (ارم) په نامه نومول سوی وي او بيا ورو ـ ورو د شاهي باغ د ارزښت له مخي د ټولي سيمي نوم (باغ ارم) او د وخت په تېرېدو ورڅخه اوسنی باغران جوړ سوی وي.[1]

باغران اوس د هلمند ولايت يوه ولسوالي ده، چي ټوله ډبرينه او غرنۍ سيمه ده، د مختلفو زاويو او شکلو په ډول پرته ده، شمال ته يې د ډايکنډي غرونه او سياه بند، جنوب ته يې زميندا ور او موسی کلا، ختيځ ته يې دهراوت او کجران، لوېديځ ته يې لوی غر او سياه بند پراته دي.

## سروان (=سور وان – زور وان):

سروان (سروان کلا) د هلمند په تاريخي سيمه کي په ځينو تاريخي او جغرافيايي اثارو کي د زيندا ور له توابعو څخه ګڼل سوی دی.

ابن حوقل په خپل اثر (صورت الارض) کي ددې سيمي د ښو او پراخو مېوو يادونه کړې ده، چي خرما او انګور يې زيات درلوده او

۱.عتيق الله پژواک، غوريان، ۹۸مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



همدا ډول یې ویلي دي، چې دا ښارګوټی یا سیمه د قرنین په اندازه ده.

په اشکال العالم کي راغلي دي، چې زوروان (سروان) تر قرنین کوچنی دی او فیروزقند ته نږدې دی، چې د عماراتو، زراعاتو او زیاتو اوبو درلودونکی دی.

جوزجاني د حدود العالم من المشرک الی المغرب شاوخوا یو زرو شپېته کاله دمخه په (۳۸۹ مخ) کي د خراسان په ښارونو کي پنځوسم ښار (ساروان) بللی دی، ددې سیمي خلک یې شوخ، جنګي او د غوسې خاوندان بللي، ابو هاشم سرواني چي یو مشهور عالم و، په دغه سیمه کي پیدا سوی دی.(۱)

سروان (سروان کلا) د هیتومنت (هلمند) په لرغوني حوزه کي د ځانګړي ارزښت لرونکې سیمه وه، د شاوخوا (۱۳۰۰) دیارلس سوه کاله لیکلي اسنادو په تائید چي سروان (سور+وان) د لویو عالمانو، پوهانو، شاعرانو او ادیبانو ځای و او ددې سره په څنګ نن ته په کتو ددې شنې او زرغونې ناوې، میوو او غلو دانو ستاینه په تاریخي اثارو کي هم سوې، چي خپله د سروان سره په څنګ کي شاوخوا نوري سیمي هم آباتي او وګړي یې په نس ماړه وه.

په قانون مسعودي کي دا ښار په غلطه سره (زروان) لیکل سوی دی او البیروني هم (زروان) دبُست له توابعو څخه بولي.

---

۱.شریف الله دوست سرواني، زینداور، ۶۸ مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



په المهاجو کي ليکي:. (زابلستان ته نژدې د طلا معادن په ډبرو او ځاګانو کی موجود دي، چی دا سیمه زروان(اوسنی سروان کلا) نومیږی، چی د (خشباجی؟) د کلي یا سیمي په څنګ کي په هغو غرو کي د زرو، سیم، روی، اوسپنه، سرپ، مقناطیس او نور معادنونه سته).

د اوسني اټکل له مخي ښايي ياد سوي معدنونه د (ګرم آب) د غرو لړی بیا تر سپېرکي غره پوري شاوخوا کي شتون ولري خو سپړنو او پلټنو ته اړتیا لري.

بل دا چي سروان کلا او زينداور (زون) په يو جغرافيايي سيمه کي دي، چي د خلکو ترمنځ يې يو ډول دود او مذهبي اړيکو شتون درلود، کله چي له اسلام مخکي په داور کي د لمر لمانځنه کېدل، په دې کي شک نه پيدا کيږي چي د سروان اوسېدونکي هم لمر پالوونکي وه او په زينداور کي د (زور يا زوري) د لمر پالني الهه وه، په قوي احتمال ويلای سو، چي ننني سروان له آره (زور– سور+وان = سور وان) و، ( زور = سور – يا سوريا ) يې د لمر الهه او (وان) يې د پالونکي معنی ښندي، چي په ورستيو کي ټوله سيمه په همدې نامه ياده سوه، تردې چي په نامه کي يې د وخت په تېرېدو بېلابېل اوښتونونه رامنځته سوي دي، دا چي د هغه وخت لمر پالني يوه لويه بشري حوزه په بر کي نيولې وه، ځکه نو ددې نامه څرک د منځني ختيځ په ننني (سوريه) هيواد کي هم سته هغه چي دا مهال د وينو ولې پکښي بهيږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ګرديزي په زين الاخبار (۲۵۰ مخ) کي د (سروان) کلمه راوړې ده، په لمن ليک کي يې علامه حبيبي زياته کړې، چي (په سنسکريټ يې ساروان بولی او د البيرونی په کتاب الهند کی (شرابن) ليکلی دی). سرابن او ساروان اوس (ساون) بولي، چي د هندوانو د کال څلورمه مياشت ده او د زين الخبار په (۲۵۱ مخ) کي (بت ساون) هم راغلی دی.

د علامه رشاد بابا په وينا د سروان کلمه غالباً د (زور+سور+وان) له کلمې سره چي د (لمررب النوع) وه اړيکه لري، ددې کلمې ذکر د مقدسي په (احسن التقاسيم في معرفت الاقليم) کي راغلی دی، خو د هغه په چاپ کي يو څه تيروتنه پېښه ده، هلته يې د (سروان) پر ځای (سروسان) ليکلی دی او په بل چاپ کي يې(سروستان) ليکلی دی، اما ددې صحيح بڼه په (صورت الاقليم) کي (ابن حوقل) ضبط کړې ده او هلته د سروان په بڼه دی، په څرګند ډول د (سوريا ) د نامه څرک په سوريانو (چي له همدې سيمي راپورته سوي)، سوريه ، سوروان = سروان ( = سروان کلا) او داسي نوري بېلګي چي په هند، اريانا، منځني ختيځ او نورو شاوخوا سيمو پوري يې پالونکي او لمانځونکي درلوده.

د پښتو ادب په لرغونې دوره کي د دې سيمي لوی عالم، شاعر او اديب (ابومحمد هاشم سرواني) هم دهمدې سيمي و، چي د پښتو ادب په تاريخ کي د ژباړي بنسټ له ده څخه راپيلېږي، ددې سيمي څخه بل نوميالی (خواجه تګين = خواجه سنګين بابا) دی، چي د

(c) ketabton.com: The Digital Library


سنګین په هدیره کې ښخ دی د او سني سنګین بازار او سنګین هدیره هم د همده په نوم یادیږي، همدا سي شیخ عباس سرواني او داسي نور ددې تاریخي سیمي له نومیالیو شخصیتونو څخه دي.[۱]

## بغنین (بغنی):

بغنین د زمینداور یو ښار و، چې د دارتل لوېدیځ ته یو مزل لیري پروت دی، نوموړی ښار د خلجیانو او بسلانګ (بشلنګ) د قبیلې مرکز و، اوس دې ځای ته بغنی ویل کیږي، چې د زمینداور او تاریخي باغران (باغ ارم) تر منځ پروت دی.

د حدود العالم له قوله ((بغنین شهریست به نزدیک غور و اندرو مسلمانند)).[۲]

بغنی نه یوائې د اسلامي دورو ښار دی، بلکې د هغه ځای زړې کنډوالې چې اوس د خاورو د غونډیو په شان کرځېدلې، ښایي چې د (منډیګک) له وروستیو دورو سره به اړیکه لري.

## بولان:

د لښکرګاه پوري یو ښنتی کلی دی، چې د هلمند سیند پر شمال لوېدیځه غاړه اوږد پروت دی،[۳] دغه سیمه د بُست او لښکرګاه دمخه ځلاند تاریخ او نومیالي مړونه لري، چې د دغه ځای عیاران د (عثمان

---

۱.http://www.tolafghan.com. د شریف الله دوست (سرواني) مقاله له
۲.همدا اثر، ۱۷۳ مخ
۳.کاندید اکاډمېسن محمد ابراهیم عطایي، هلمند د کلتور په ساحه کي، ۵۸ او ۵۹ مخونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



بن نضره) او ورور یې (صالح بن نضره) زیات مشهور دي، دوي د عربو ظالم او خود سر عمال له خپل وطنه وایستل.

ابو الفضل بیهقي په خپلو یادابښتونو کې د بولان نوم د کیسې په ترڅ کې داسې یادوي:.لوی پاچا مسعود چې کله د مېلې په ورځ په هلمند کې ډوب (غرق) سو او بیا اوبازانو راوایست، نو څو ورځې ناروغ په کور کې پروت و، هغه وخت چې له بستر څخه راپورته سو، نو یې خیرات وکړ، په خیرات کې یې د بُست د قاضي (ابو الحسن بولاني) لپاره پخپل لاس پیسې جلا کړې او ماته یې وویل: که پدر ما رضی الله عنه از غزو هندوستان آورده است..."

بونصر څو واره د تېولواک له قوله ورته وویل چې دا د هندوستان د غزاوو څخه راوړل سوي، خو قاضي (ابو الحسن بولاني) په ځواب کې داسې وویل: زندگانی خداوند دراز باد حال خلیفه دگر است و من نبوده ام و بر من پوشده است که آن غزوه ها بر طریق سنت مصطفی علیه سلام هست یا نه."

نو موړي قاضي پیسې قبولې نه کړې، بونصر بیرته راغی او پاچا ته یې کیسه وکړه، پاچا تعجب وکړ او د هغه پر تقوا یې آفرین وو ایه، بیا چې پاچا هر ځای یو سولېدلی صوفي ولید، چې پیسو ته به یې تلکه ایښوولې، نو په خندا به یې بونصر ته داسې وویل: "چشم بد دور از بولانیان". [1]

---

۱.محمد ولي ځلمی، کندهار، ۴۶۵مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوس مهال ددې تاريخي سيمي څخه د لښکرګاه لمر لوېديځي ته په دوه کيلو متری کي د هغي لاري په سر کي چي د چاه انجير خوا ته ګرځېدلې، د يوې مخروبي کلا خرابې په سترګو کيږي، خو څوک نه پوهيږي، چي ددې سيمي څخه ثومره د علم، پوهي، فضل او د همته ډک اشخاص راپورته سوي او اوسېدلي، چي تاريخ د هغو په نامه وياړي.[1]

په تاريخونو او جغرافيو کي د بُست، خواش (=خاشرود)، خشک (=کشکنخود) او رخج سره چي د يوې سيمي نوم ياد سوی دی، هغه قوزان دی، چي تر اوسه يې په بشپړه توګه تر موږ معلومات نه دي رارسېدلي، چي دا سيمه په کوم ځای کي موقعيت لري.

د سيستاني صاحب په نظر (قوزان) چي بلاذري يې يادونه کړې، دغه (بولان) و، چي د بُست په شمال کي يو نږې کلی دی، که د (بولان) کلمې ته وکتل سي، نو د حروفو د تعداد په لحاظ په عربي او پارسي کي د (قوزان) سره يو شانتوالی او برابري لري، يعنې کېدای سي، چي (قوزان) دغه نني (بولان) وي.

په منځينو پېړيو کي هغه لار چي زرنج يې له بُست سره نښلاوه، د خاش له ولايت څخه تېرېده، وروسته د خاشرود د پل څخه تر تېرېدلو او د (مارګو) د دښتي په قطع کېدو سره بُست ته رسېده، مګر بُست ته تر رسېدلو دمخه بايد د بولان کلي چي د هيرمند سيند په ښی اړخ کي

۱.کانديد اکاډمېسن محمد اعظم سيستاني، جغرافيای تاريخی و اقتصادی ولايت هيلمند، ۴۲ مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library


پروت دی، تر شا پرېښوولی وای، یعنې باید د بولان په سیمې کې تېر سوی وای.[۱]

## خلج (خلچ):

د خلج ښار د هلمند د مهمو ښارونو څخه و، چې ابو اسحق اصطخري یې په (۳۲۲ هـ) شاوخوا کې یوولس سوه کاله پخوا د زینداور له توابعو څخه بولي، دا نوم چې تاریخپوهانو په خپلو اثارو کې ثبت کړی تر اوسه په هغه زاړه نامه مشهور دی او د غور د لمر لوېده خواته یوه آباده سیمه او یو غردپیر خلج په نامه مشهور دی.[۲]

خلج د افغانستان هغه برخه ده، چې تر ابده به یې نوم د تاریخ له پاڼو ورک نه سي، ځکه چې په هند کې مشهور افغان خلجیان د همدغې سیمې د زړورو او باشهامته خلکو اولاده ده.

ښاغلی کهزاد پخپله مقاله کې د خلج په اړه لیکي:. په هند کې یوه بله افغانه کورنۍ له مودو وروسته واک ته ورسېده، له (۶۸۷ هـ) څخه تر (۷۲۱ هـ) پوري یې پنځه تنه د ډهلي پر تخت کښېناستل، چې دوي د خلجیانو به کورنۍ شهرت لري، او بنسټګر یې خلجی ملک جلال الدین فیروزشاه دی.

۱.همدا اثر، ۲۴ مخ
۲.شریف الله دوست سرواني، زینداور، ۷۲ مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library


اصطخري چي د داور په اړه ږغيږي، د غور، بغنين، خلج او پشلنګ د نومونو يادونه کوي، نو ويلای سو، چي خلج د آبادان له ښارونو څخه دی.[۱]

## دښت لکان (دشت لگان):

بُست او لښکرګاه دواړه د دښت لګان په لمن کي، چي د هلمند سيند پر څنډه واقع دی، لوېدلي، ددې دښت نوم په ادبي او تاريخي متونو کي په مختلفو نومونو راغلی، فرخي سيستاني او ملک الشعرا عنصری هر يوه په خپلو اشعارو کي د (دشت لکان) په نامه ياد کړی دی، چي له هغه مهاله تر اوسه په دغه نامه د وګړو پر ژبو پاته دی.

په (۲۵۱) لمريز کال کي د يعقوب ليث او زنبيل نښته په رُخد (کندهار) کي نه ده سوې، بلکې د نني لښکرګاه تر څنګ په دښت لکان (=دشت لگان) کي سوې، ددې نظر د اثبات لپاره سيستانی صاحب د محمد بن وصيف سکزي شعر د سيستان له تاريخ څخه رانقل کړی، چي په هغه مهال د يعقوب ليث هلمندي په ستاينه کي ويل سوی دی، ددې شعر څخه له ورايه څرګنديږي، چي د يعقوب ليث او زنبيل د ملاقات ځای دښت لکان و، لکه چي ابن وصيف وايي:

بلـــکان آمـــد زنبيـــل ولتـــی خـــورد بلنـــگ
لتـــره شـــد لشـــکر زنبيـــل و هبـــا گشـــت کنـــام

۱.عتيق الله پژواک، غوريان، ۴۹ مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



بیهقي په خپل تاریخ کي هغه پېښه چي سلطان مسعود د هلمند په سیند کي ډوب سوی و، د دښت لکان څخه یادونه کړې او فرخي سیستاني د خپل یون (سفر) چي له سیستان څخه یې بُست ته کړی، په قصیده کي داسي یادونه کوي:

چـون بسـیج راه کـردم سـوی بسـت از سیسـتان
شـب همـی تـــحویل کـرد از بـاختر بـر اسـمان

د دښت لکان په هلکه چي سلطنتي ماڼۍ پکښې واقع وه، داسي وايي:

انــدرین اندیشــه بــودم کزکنــار شــهر بســت
بـــانگ آب هـــیرمند آمــد بگوشــم ناگهــان
منظـــر عـــــالی شـــه بنمـــود از بـــالای دژ
کــاخ ســلطانی پدیــدار آمــد از دشــت لکــان

او ملک الشعرا عنصري بلخي په هغه قصیده کي چي د لښکرګاه د سلطنتي ماڼۍ څخه توصیف کوي، هم ددې دښت څخه په دغه نامه یادونه کوي او وايي:

بفرقصــرتوتو شــد خــوب همچــو عقــد ربــدر
هـــوای بســـت و لـــب هیرمنــد و دشـــت لکـــان
زمحکمـــي پـــی بنـــیاد او بـــه بـــیخ زمیـــن
زبرتـــری خـــم ایـــوان آن خـــم کیـــوان

(c) ketabton.com: The Digital Library



ددې څرګندونو څخه ویلای سو، چې د یعقوب لیث هلمندي نښته له زنبیل (یا رتیبل) او همدارنګه له صالح بُستي سره په دغه دښت لکان کي چي د سیستان او بیهقي په تاریخونو کي یو معروف او پېژندل سوی نوم دی، سوې او ابن وصیف چي د یعقوب لیث هلمندي همهاله (معاصر) و، په اګاهۍ سره د یعقوب لیث لښکر کښۍ له زنبیل سره یادونه کړې.[1]

اوس مهال هم د لښکرګاه په شمالي برخه کي د دښت لکان په نامه سیمه سته، چي تر دا څو کلونو مخکي لا وچ دښت و، چي په دې نږدو کلنو کي خلکو ودانۍ پکښې وکړې او اوس مهال ډېره آباتي پکښې سوې، په هلمند کي ټول خلک دې سیمي ته (دښت لګان) وايي، که څه هم اصلي نوم یې (دښت لکان) دی، خو د وخت په تېرېدو سره د (لکان) د کلمې د (ک) توری په (ګ) اوښتی او ددې سیمي وګړي یې (دښت لګان) بولي.

## تل (داتل یا دارتل):

د زمینداور په سیمه کي د (داتل – ورتل) ناحیه او د اصطخراري په قول (تل) موجوده ده، د مقدسي په قول دا ځای یو لوی ښار دی، دا کلا په څلورمه هجري پیړۍ کي د سرحدي استحکاماتو له جملې څخه وه، چي د غور غرونه د هیرمند د سیند په غاړه د بُست له پاسه درې پوړه لیري پرته وه.

1. کاندید اکاډمیسن محمد اعظم سیستانی، جغرافیای تاریخی و اقتصادی ولایت هیلمند، ۳۷ مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



ابو اسحق ابراهیم بن محمد اصطخري په مسالک الممالک کي د تل په هکله داسي لیکي:. (د تل یا د ارتل ښار د زمینداور له مهمو ښارونو څخه بولي، وايي، دې ښار یو ټینګ او مستحکم ارګ درلود، چي د سپرو او ساتونکو له خوا یې ساتنه کېده، په څلورمه هجري پېړۍ کي دا ځای د یوې سرحدي پوستې په حیث و، دا هغه لار او سرحد و، چي له دې ځایه به د غور په لوري لار تللې وه، دا ښار د هلمند د سیند په غاړه کي و او له بُست څخه یې د درو ورځو فاصله وه.

په حدودو العالم کي هم جوزجاني د (تل) یادونه کړې او هغه یې د غور پر سرحد او پوله بللی دی.[1]

اصطخري وايي:.داور یوه شنه سیمه ده، د غور پوله ده، د سیستان لخوا د داور ښارونه (تل ، درغور) دي، دواړه د هندمند رود پر غاړه واقع دي.

د (تل) په هکله محمد ابراهیم عطايي د (پښتانه کوچیان) په کتاب (۱۷۷- ۱۷۶ مخونو) کي لیکلي دي:.د بغني درې د پای په برخه کي بغنی کلی پروت دی، د نوموړي کلي جنوب لوېدیځي خوا ته د غرونو په کمرونو کي د تل او ګونجین کلي پراته دي.

اصطخري د تل او درغش ترمنځ یو مزل لار بولي.[2]

۱.شریف الله دوست سرواني، زینداور، ۵۹ مخ
۲.علامه اکاډمېسن پوهاند عبدالشکور رشاد، د کندهار یادابښتونه، لومړی ټوک، ۴۵ مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library


## موسی کلا:

موسی کلا اوس د هلمند دوهمه درجه ولسوالي ده، ددغي ولسوالۍ مرکز د ګرشک د ښار شمال پلو ته په (۶۹) کيلو مترۍ کي د ختيځ طول البلد په ۶۴ درجو، ۴۶ دقيقو او ۱۸ ثانيو او شمالي عرض البلد په ۳۲ درجو، ۲۱ دقيقو او ۱۵ ثانيو کي موقعيت لري.

د موسی کلا نوم تر زينداور، سروان، بغنين، بشلنګ، درتل او نورو ډېرو را وروسته په تاريخ او جغرافيو کي تر سترګو کيږي، پخوا زميندا ور د موسی کلا د محلي حکومت مربوط يوه منطقه وه.

د موسی کلا د نامه وجه په دې سيمه کي د يوه مشهور شفاهي داستانه (موسی جان او ولي جان) څخه سرۍ اټکل کولای سي، دا نکل د پښتانه شعرا په لومړي ټوک (۱۴۰ مخ) کي راغلی، چي دوي د پښين او کاکړستان په شاوخوا کي اوسېدل، خو کانديد اکاډمېسن محمد ابراهيم عطايي په خپل يو کتاب (هلمند د کلتور په ساحه کي) ليکلي: ځايي خلک وايي، چي موسی جان او ولي جان د موسی کل وه او د موسی کلا هم د موسی کلا د سيمي په منځ کي اوس يوه ستره کلا ده، چي شاوخوا يې شنه پټۍ پر راګرځېدلي دي او د هغه ځای خلک يې د موسی جان او ولي جان کلا بولي.

په نوموړې کيسه کي د ځای یادونه نه ده سوې، نو که د خلکو روايت معتبر ونيسو، دا کيسه په هلمند پوري اړه لري او د موسی کلا د نامه وجه هم دا کېدای سي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د موسی کلا نوم د ملک شاه حسین بن ملک غیاث الدین بن شاه محمود سیستاني په (احیاء الملوک) کي چي شاو خوا څلور سوه کاله دمخه لیکل سوی ذکر راغلی دی، چي هلته لیکوال په خپل یو سفر کي کاږي:. (رایات جاه و جلال به حوالی قلعه موسی که موضعی است درهای زمین داور رسید)، په دې پارسي متن کي چي د احیاء الملوک له کتاب څخه رانقل سو، هم موسی کلا د زمینداور له مځکي او سیمي څخه بولي.

په بل ځای کي کاږي: (چون بنده به شرف سجده اشرف معزز گردید به زبان مبارک آوردند که چون شما از (موسی قلعه) به فراه مرخص شدید).

په لوړ متن کي لومړی (قلعه موسی) او دوهم ځای (موسی قلعه) ذکر سوی دی، که د موسی کلا د نامه وجه د موسی جان او ولي جان د کیسې سره تړلې وبولو، نو ددې داستان اټکل په اغلب گمان سړی د (فتح خان بړېڅي او رابیا) د میني له داستان سره هم عصره بللای سي، چي په نهمه او لسمه هجري پېړۍ کي یې اتفاق موندلی دی.[1]

## رودبار:

گی لسترنج د (جغرافیای تاریخي سرزمینهای خلافت شرقي) په (۳۶۸) مخ کي لیکلي دي:

۱.شریف الله دوست سرواني، زینداور، ۷۰ مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



د هلمند سیند د بُست او زرنج تر منځ یوه خمیدګي لري، چي نیم دایره غوندي ده، د جنوب خوا ته ددغي خمیدګۍ په نیمایي کي رودبار واقع دی، دغه ځای د بلاذري په تاریخ کي ذکر سوی دی او په هغو واقعاتو کي یې راوړی دی، چي د مسلمانانو په لومړیو بریدونو پوري اړه لري، دی وایي:. رودبار سیستان له زرنج څخه، چي کندهار ته لار تللې ده، په هغه لار کي واقع و او دغه ځای ته نږدې کش یا کس پروت و.

دا کش به هغه ځای وي، چي اوس یې کاخ یا کهیج بولي (کڅ خو به نه وي؟).

اصطخري وایي:. رودبار د فېروزکند په توابعو کي بُست ته نږدې واقع دی، په دغه رودبار کي مالګه پیدا کیږي، غله او رواني اوبه لري، دلته بل ځای د زالقان (یا مالقان یا جالقان) په نامه سته.

ابن حوقل وایي:. دغه ځای له بُست څخه یو مزل لیري دی، مګر سمت یې نه دی ښوولی.[1]

## خوابین:

د خوابین ښار د زمینداور (لرغوني زون) په شمال ي واقع دی، چي په (۴۰۵) هجري د سلطان محمود غزنوي لخوا ونیول سو، په دې وخت کي دا ځای په ابو الحسن خلف پوري تعلق درلود، ددې ښار یادونه تاریخ بیهقي د پنځمي هجري پیړۍ په لومړي نیمایي، لومړي

۱.ګی لسترنج، جغرافیای تاریخی سرزمینهای خلافت شرقی، ۳۶۸ مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



لسیزه کي کړې ده، په خوایین کي ډېري ټینګي کلاوي وې او خوایین د ولایت په نوم هم په تاریخي دورو کي یاد سوی دی.[۱]

## سرخ دوز (سُرخدُز. سرخ دژ = سره کلا):

د بارکزو د ناوې د دروېشان په سیمه کي د هزار جفت په نامه یوه سیمه ده، دلته د (سرخ دوز) په نامه خرابې واقع دي، چي په تېرو زمانو کي له شک څخه پرته یو مهم ځای و.

سُرخدُز په اصل کي سرخ دژ (یعنې سره کلا) ده، چي د عوامو په ژبه سرخ دوز تلفظ سوی او کیږي، لکه څنګه چي کندوز په اصل کي (کُهن دُژ) و او عوام یې د کندوز په ډول تلفظ کوي، نو په بشپړ باور دا ځای (سرخ دوز) نه بلکې (سُرخ دژ) یعنې (سره کلا) چي په پاړسو کي سُرخ د (سره) په معنی او او دژ د (کلا) په معنی ورته کارول سوې ده.[۲]

## زراسپ (یا هزارسپ):

د بُست ښار جنوب لوېدیځ پلو ته د بارکزو په ناوه کي د اتلسو کیلو مترو فاصله سره د زراسپ یا (هزارسپ) زوړ ښار واقع دی، چي زاړه او تاریخي اثار یې تر اوسه باقي او د هغه ځای بومي توکمونه یې هزارس بولي.[۳] صدقی لیکي:( زراسپ یو ښار و، په دغه محل کي

۱.شریف الله دوست سرواني، زینداور، ۶۴ مخ
۲.کاندید اکاډمېسن محمد اعظم سیستانی، جغرافیای تاریخی و اقتصادی ولایت هیلمند، ۶۱ مخ
۳.عبدالقدوس نجیب، اراکوزیا (کندهار)، ۳۶ مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



چي اوس مهال په هزار آس شهرت لري او د لرغوني بُست په جنوب لوېديځه خوا کي په اتلسو کیلو میترۍ کي واقع دی).

له دې څرګندونو څخه معلومېږي، چي زراسپ، هزارسپ یا هزار آس دغه هزارسپ یا زارس دی، چي اوس د بارکزو د ناوې په ولسوالۍ کي واقع دی، د هغه ځای خلک یې زارس بولي.

## آزولا (ازویلا یا وزولا):

آزولا د اراکوزیه د معروفو ښارونو د جملې څخه و، کننګهم د نوموړي ښار موقعیت د ګذر یا ګذرستان سره چي په هلمند کي واقع دی، ښوولی.[1] عبدالقدوس نجیب دا ښار د لوړ هلمند له مشهورو ښارونو څخه ګڼلی او بطلیموس یوناني لیکوال دا ښار پخپله د اراکوزي یعنې د کندهار ولایت مرکز بللی دی.[2]

## قرنین:

د سیستان (زرنج ښار) څخه د یوې ورځي مزل یا واټن باندي پروت ښار دی، ډېر کلي او کرهنیزي مځکي او باغونه لري، د شروزن څخه (۶) میله لیري دی، له همدې سیمي څخه ال صفار راووتل او پر پارس او خراسان، کرمان، سیستان، خورستان او عراق واکمن سول.

۱.جغرافیای تاریخی شهر های آریانا، ۲۴ مخ
۲.عبدالقدوس نجیب، اراکوزیا (کندهار)، ۳۱ مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



## طاق:

د زرنج ښخه د یوې مرحلې (یوه ورځ او شپې مزل) په واټن پروت دی، د طاق ښار د سیستان ښخه خراسان ته د تلونکي لارې تر شا واقع دی.

## زالقان:

د بُست ښخه د یوې مرحلې (یوه ورځ او شپه مزل) واټن لري، نوموړی ښار ډېر باغونه، کښتونه او مېوې لري، او سېدونکي یې جنګیالي دي، رواني اوبه لري او کورونه یې د ختمو ښخه جوړ کړي دي، د زالقان ښار هم د قرنین د ښار په اندازه دی.

## روزان:

د روزان ښار تر قرنین کوچنی دی او فېروزقند ته نږدې پروت دی، چې رخج (کندهار) ته د تلونکي لارپر راسته لاس موقعیت لري، تر ډېره یې خلک د مالګې په جوړولو مشغول دي، همدارنګه باغونه هم لري.[1]

## خواش:

د هلمند د سیند پر غاړه په زمینداور کې د یو ښار نوم و، اصطخري ورته بې دېواله ښار ویلی، خو موقعیت یې نه دی ټاکلی.[2]

---

۱.د مولوي عبدالحمید هلمندي مقاله، زما هلمند، د مقالو ټولګه، ۴۳ مخ
۲.جغرافیایي مختصر تاریخي شهرهای آریانا، ۶۰ مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



جیهاني د خواش د انګورو او د اوبو د کارېزونو ستاینه کړې ده او له حدود العالم څخه روایت دی، چې خاش یو آباد او له نعمتونو څخه ډک ښار دی، د روانو اوبو او کارېزونو لرونکی دی.

کله چې یاقوت حموي د معجم البلدان د کتاب په لیکلو بوخت و، دا ښار لکه نن یې د خاش په صورت تلفظ کېږي، او وه پېړۍ دمخه د خاش د پېښو په اړه یې داسې لیکلي دي:-د خواش ښار چې په خاش هم یادېږي، د دې ولایت له ډېرو لویو ښارونو څخه دی او زیات نخاستانونه لري.

ښاغلی سیستاني د خواش په هکله داسې څرګندونه کړې:. خواش په سیستان کې یو ښار دی او د هغه اوسېدونکي ورته خاش وایي، دا ښار د هغې لار ښې لاس ته پروت دی، چې له زرنج څخه بُست ته غزېدلې ده، د دې ښار یوه ډېره مستحکمه کلا درلوده، په (۵۸۵ هـ) کې د خاش کلا له اسمان سره سیالي کوله او د یوې مودې لپاره یې وکړای سول، چې د کیاني ملک نجم الدین محمود د سپاهیانو په مقابل کې مقاومت وکړي، بالاخره خاش ونیول سو او د خاش د مشر مومن په عوض د میر حسین ځوزاد چې له یفتلیانو څخ و، د هغه پر ځای واکمن مقرر سو. [۱]

## ارغاش:

د هلمند په زمینداور کې موقعیت درلود، چې تر تل (دارتل یا درتل) یو منزل لوړ د هلمند سیند پر غاړه واقع و. اوس مهال په دې

---

۱.پوهاند رازقي نړیوال، د هیواد لرغوني ښارونه او د تاریخ پاڼې، دوهم ټوک، ۱۷۵ مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



سیمه کي ځیني خرابې سته، چي د (درغني) په نامه سره یادیږي او رشاد بابا په وینا درغش ښایي (لرغني) وي او د یوه کوتل نوم وي.

ابو القاسم بن محمد ابن حوقل په (۳۶۶ هـ) په خپل اثر (صورت الارض) کي لیکي، چي په داور کي پیدا او ارذېږ دي مهم ښارونه یې (درغش) او (درتل) دي.[۱]

## اریاسپ:

د اراکوزیا مشهوره ښار و، چي اسان به ذېږ پکښې روزل کېدل،[۲] د رشاد بابا په جغرافیایي یاداښتونو کي داسي یادونه یې سوې ده:ـ اریاسپ (Aryaspe) د سیستان ښار د (آرین په قول د هلمند غاړه)، او د اریا ریښه په دغه نوم کي سته.[۳]

کهزاد صاحب په (د افغانستان پخواني تاریخ) کي داسي وایي:.(آریاسپ Ariasp: په انجیان[۴] کي یو مهم ښار و او د آرین د نظریې له مخي د هیرمند د سیند پر غاړه پروت و، ددغه ځای خلک (آریاسپه) یعنې (سوار کار آریائیان) بلل کېدل، دلته آریا کلمه د ښار او د هغه د اوسېدونکو په نوم کي ښېله جزیي تغیر او تحریف ثخه لیدل کیږي).[۵]

۱.شریف الله دوست سرواني، زینداور، ۶۲ مخ
۲.عبدالقدوس نجیب، اراکوزیا (کندهار)، ۳۴ مخ
۳.علامه اکاډمېسن پوهاند عبدالشکور رشاد، جغرافیایي یاداښتونه، ۶ مخ
۴.انجیان یا (زرنج-زرنجیانا-درانجیانا-درنگیانا-زرنجیانا)
۵.احمد علي کهزاد، د افغانستان پخواني تاریخ، لومړی ټوک، ۵۲ مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library


صدیقي په (جغرافیایی مختصر تاریخی شهر های آریانا) کي لیکي:ــ(آریاسپ (Aryasp) شهر بزرگ مردمان آریاسپی (Aryaspae) یا آری اسوا (Aryaswa) یعنی سواران اسپ های اعلی که سرزمین شان جزو ولایت درانجیانا به شمار می رفت، یونیان آنرا یورگیتای (Euergetae) خوانده اند و یورگیتای در کنار رود اتیمندر یا هلمند واقع بود، این شهر به گدروسیه (Gadrosia) نزدیک بوده، اسکندر که از پایتخت زرنج به طرف شرق پیش رفت به این شهر رسید).[1]

## کُهک:

د اراکوزیا د یو ښار نوم دی، چي بُست ته یې نږدې موقعیت درلود، ددې ښار په هکله د معجم البلدان مؤلف یاقوت حموي بن عبدالله داسي لیکي:.(بئر کهم من اعمال الرخ قرب بُست).[2]

په جغرافیای مختصر تاریخی شهر های آریانا کي ددې ښار داسي یادونه سوې:.فېروزقند ته نږدې د هغي لاري خوا ته چي و رخج ته تلله واقع و او صنعتي پیداوار یې مالګه وه.[3]

## د ګرشک پوځي کلا:

د ګرشک کلا د هلمند یوه مستحکمه کلا ده، چي په تاریخي پیښو کي یې یادونه سوې ده، افشاري نادر چي په کال (۱۷۳۷ز) کي د یوه

۱.جغرافیایی مختصر تاریخی شهر های آریانا، ۲۳ مخ
۲.عبدالقدوس نجیب، اراکوزیا (کندهار)، ۳۶ مخ
۳.جغرافیایي مختصر تاریخی شهر های آریانا، ۹۹ مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځواکمن پوځ سره زموږ د هیواد د لویدیځو او جنوب لویدیځو سیمو د نیولو لپاره په لښکر کښیو پیل وکړ، نو د ګرشک پوځي کلا یې د توپونو په واسطه ړنګه کړه او وې نیوله.

## د ګرشک د اده کلا:

د هلمند ولایت د ګرشک جنوب لوېدیځ ته د نهرسراج په سیمه کي یوه پخوانۍ کلا وه، چي د اده کلا په نامه مشهوره وه. (۱)

## د ادې کلا:

د ادې کلا په نوم یوه پخوانۍ کلا په نادعلی کي شتون درلوده، چي اوس هم د همدې په نامه مشهوره ده او نوموړې کلا د تاریخ لیکوونکو له نظره د اشرف الوزراء وزیر فتح خان (هلمندي) د مور (لویه ادې) په نامه ده.

## دېشو (ده شیو):

دېشو چي په (ده شو) هم یادیږي، د هلمند یوه سیمه ده، چي د ګرمسېر په لمر لوېدیځ کي موقعیت لري، دېشو د خواجه علي، کښته خواجه علي د پلالک او لندي په نوم مشهور کلي او د مخان په کلي کي د شهیدانو یوه هدیره لري، ویل کیږي، چي دا د چنګېزیانو د عامي وژني یوه هدیره ده.

د دېشو د تاغز په کلي کي د غره پر سر د یوې کلا کنډوالې سته، ویل کیږي، چي د سیستان د (نه حوض) د دورې د ودانیو له بقایاوو

---

۱.د افغانستان استحکامي کلاوي، حصارونه او بالاحصارونه، ۱۳۸ مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



څخه دي، دا کلا خپلي شاوخوا ته نوري ودانۍ هم لري، چي تر اوسه پوري پکښې کیندني نه دي سوي.

## بشلنګ:

چي په تاریخي مدارکو کي د پشلنګ او فشلنګ په شکلونو ضبط دی، یو ښار او یوه مستحکمه کلا ده، بشلنګ چي په پخوانیو زمانو کي د غور له مستحکمو کلاګانو څخه او په پرېکوني دلیل د پشلنګ کلمه د (ب) په پېښن او د (لام) په زور یوې هغسي کلمي ته وایي، چي د غره له پاسه جوړ سوی وي، خو اصطخري یې (پ) په (ب) او د پېښن په عوض یې زور ورکړی دی.

بشلنګ له هغو جنګي کلاګانو څخه ده، چي د زمینداور د شمالي غرونو په برخه کي د غور د جنوبي او جنوب ختیځي ناوه کي موقعیت لري، همدارنګه د عمید د فرهنګ له مخي د پشلنګ د کلیمي اصل د هغي کلا په معنی دی، چي د غره له پاسه جوړه سوې وي او دا معنی د پورتني روایت سره چي پشلنګ پکښې تعبیر سوی و پوره سمون لري.

ابن حوقل لیکي:. بشلنګ، خلج او بغنین د حاکمانو د ناستي ځای دی، چي هره سیمه حاکم لري. [1]

د اطلس قریه های افغانستان د هلمند په څېرکي او د کجکي په ولسوالي کي ثبت سوی او هلته یې د (باشلنګ) په نامه لیکلی

۱.پوهاند رازقي نړیوال، د هیواد لرغوني ښارونه او د تاریخ پاڼي، دوهم ټوک، ۱۷۶، ۱۷۸ مخونه
۲.شریف الله دوست سرواني، زینداور، ۶۲ مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library


## صفار:

په ګرمسیر کې یو ځای صفار نومیږي او د هغه ځای خلک ځانونه سپاریان بولي، په خټه نورزي پښتانه دي، د سپار مشران، حاجي محمد اکبر خان او دوست محمد خان دوه ورونه دي، دوي د خپلي کورنۍ نوم صفاري یادوي او ځانونه د یعقوب لیث صفاري له اولادې څخه بولي او وایي، چې زموږ نیکه ګان په کلای سلطان کې اوسېدل، چې د ګرمسیر په دُرزي نومي ځای کې واقع ده، دُرزی د صفار او بنادر وېش دی، پخپله صفار له هزار جفت څخه (۲۵) کیلو متره لیري، جنوب خواته واقع دی او هزار جفت له لښکرګاه څخه تقریباً (۳۰) کیلو متره جنوب لوېدیځ ته واقع دی، صفار او هزار جفت د هلمند رود کیڼې خوا ته پراته دي.[1]

## مُخَتر کلا:

دغه کلا د مختار کلا په نامه د افغانستان په جغرافیایي قاموس (۳/۴۹۰) مخ کې راغلې ده، هلته ورته کښلي دي:.د لښکرګاه ختیځ ته (۱۱) کیلو متره لیري یوه متروکه کلا ده، (۶۴) درجي، (۲۸) دقیقې، (۱۵) یې طول البلد شرقي، (۳۱) درجې، (۳۷) دقیقې، (۵۰)ثانیې یې عرض البلد شمالي دی.

۱.علامه اکاډمیسن پوهاند عبدالشکور رشاد، جغرافیایي یادابښتونه، ۳۳۳ مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library


عبدالستار خان ضابط وايي:. "د مختار کلا او لښکرګاه په منځ کي سرکار واقع دی، د سرکار فاصله له لښکرګاه څخه (۶) کیلو متره ده".

## د سلطان کلا:

د بنادر او صفار تر منځ د هلمند رود پر کیڼه غاړه واقع ده، د نوموړي کلا دوې درېیمي برخي هلمند (هیرمند سیند) وړې ده، اوس یې پاته برخه تقیریباً (۵) جریبه ده، د سلطان کلا او رېګ تر منځ تقریباً (۱۵) کیلو متره فاصله ده.[1]

## د لښکرګاه زوړ ښار د غزنویانو په دوره کي:

زړه لښکرګاه یو لړ کنډوالې دي، چي د بُست څخه د شمال خوا ته په شپږ کیلو متری کي د هلمند پر لمر ختیځه خوا پرتې دي، یادي کنډوالې هغه وخت ښې معلومېږي، چي د نوي لښکرګاه د کومي ماڼۍ له کړکۍ څخه د جنوب پر لور ورته وکتل سي.

د لښکرګاه کنډوالې هغه وخت ودانې وې چي د غزنوي کورنۍ د عظمت دوره وه، دا خرابې ټوله عسکري چوڼۍ وې، چي پخپله د پاچا محل د هغو په منځ کي د هلمند سیند پر څنډه جوړ سوی و، د کال په دوران کي به څو واره پاچا دلته راتلی او لښکرګاه به د امپراطورۍ د زړه په حیث اهمیت پیدا کاوه، د پاچا د اوسېدو ماڼۍ د (قصر

۱.علامه اکاډمېسن پوهاند عبدالشکور رشاد، د کندهار یادا ښتونه، ۲۰۱ مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



سلطاني) په نامه يادېده، چي د هندي او عراقي معمارانو د نقشي پر اساس ودانه سوې وه.[۱]

آريانا دايرة المعارف د لښکرګاه د نامه په باره کي وايي، چي د غزنويانو حکومت خپل نفوذ پراختيا ورکوله او د سامانيانو سلسله ورځ په ورځ کمزورې کېدله، د سيستان په سيمه کي د خپلواکۍ غوښتلو نهضت پيل سو، ولي الدوله ابو احمد خلف په سيستان کي د خپلواک حکومت اعلان وکړ، خو د محمود غزنوي له خوا مات کړای سو.

د سيستان د سيمي سمسورتيا له يوې خوا او په سوق الجيشي لحاظ د هغې ارزښت له بلي خوا ددې سبب سو، چي سلطان محمود د بُست تر څنګ د يو ستر لښکري مرکز د جوړولو فرمان صادر کړ، دغه مرکز د سلطان مسعود په وخت کي زيات رونق وموند او د لښکرګاه په نوم د پاچا د ښکار او تفريح ځای هم سو، په دې سيمه کي د هلمند درياب اوبو ډېره پراخه ساحه نيولې وه، په دغو اوبو کي هم ښکار کېده او هم د خپل ژوروالي له امله د بېړيو د چلېدلو لپاره مساعدي وې، د شاوخوا سيمي د کانالونو د ايستلو په واسطه تکي شنې او په سمسورو بڼونو پټې وې.[۲]

لښکرګاه چي لشکري بازار او په معرب شکل ورته العسکر ويل سوی دی، له بُست سره تړلی نسبت لري او د هغه يوه مهمه برخه او د

۱.کانديد اکاډمېسن محمد ابراهيم عطايي، هلمند د کلتور په ساحه کي، ۴۹ مخ
۲.پښتو آريانا دايرة المعارف، اووم ټوک، ۱۱۳۲ مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



هیواد له تاریخي ودانیو او عسکري تأسیساتو څخه شمېرل کیږي، په تاریخي آثارو کي (لښکرګاه، العسکر، معسکر، لښکري بازار، اردو بازار) او داسي نور نومونو باندي یاد سوی دی، همداشان د بُست تر څنګ همېشه لښکرګاه ترکتني او ځېړني لاندي نیول سوې ده.[1]

د غزنوي دربار هنرمند شاعر (عنصري) ددې ځای د ماڼیو او په هغو کي د غزنوي پاچا د اوسېدونکي په باره کي داسي اشعار ویلي دي:

بفر قصر تو شد خوب همچو عقد بدر
هوای بست و لب هلمند و دشت لکان
ببویش اندر عطار هندوان عاجز
برنگش اندر نقاش چینیان حیران
یکی نگاشته رنگی که بی تکلف رنگ
شود زدیدن او دیده ها نگارستان
فروغ او بشب تیره نور روز سفید
هوای او بزمستان برنگ تابستان
زمحکمی پی بنیاد او به بیخ زمین
زبرتری خم ایوان او خم کیوان
ور از رواق گشادش نظر کنی سوی آب
همه قوای جسد بینی و غذای روان
بلور حل شده بینی به پیش باد صبا

۱.د افغانستان تاریخي او فرهنګي ویاړونه، ۱۳۷ مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



شکن گرفته چو زلف بتان ترکستان
زعکس آب هوا سبز گشته چون شیب
سپهر سبز و چنان سبز گشته چون بستان
گر از بلند رواقش نظر کنی سوی شیب
ستاره بینی روی زمین کران بکران

دا قصیده ډېره اوږده ده، موږ یې لنډه نیسو په پای کې داسې وايي:

شده است بسته زبانم زوصف کرن او
بوصف هر چه بخواهی منم کشاده زبان
بدین لطیفی جایی بدین نهاد سرای
نکرد جز تو کس ای شهریار در کیهان

د لښکرګاه هغه ماڼۍ چې پخپله پاچا پکښې اوسېده، د هغه وخت د معمارۍ په پوره مهارت جوړه سوې ده، دا ځای (قصر سلطاني) د معمارۍ د سبک په لحاظ د هند او عراق سبک یو ګډ محصول و، هغه معماران چې په هند او عراق کې نامتو وه، د هغو د نقشې پر اساس دا ماڼۍ ودانه سوه، د ماڼۍ دننه دېوالونه ټوله نقاشي سوي وه، ددې ماڼۍ لوی والی سره له دې چې تقریباً نهه پېړۍ پر تیري سوي او د لویو جهانګیرانو چپاوونه یې لیدلي بیا هم ښکاره ده، د ماڼۍ په منځ کې د اوبو ډنډونه، د ګلخانې په منځ کې ویالې، سارو کړي حمامونه یې تر اوسه معلومیږي، د ماڼۍ څخه دباندې د لویو او

(c) ketabton.com: The Digital Library



کوچنیو ماښیو مخې ته لوی – لوی باغونه او د ښکار ځایونه جوړ سوي وه او د هغو د مخ اورشوګاني ټوله زرغونه او حاصلخېزه ګڼېتونه وه.[1]

له تاریخي مطالعاتو څرګندیږي، چي د پنځمي هجري قمري پېړۍ په منځ کي د لښکرګاه ځیني ودانۍ، چي د سلطان محمود او سلطان مسعود لخوا جوړي سوي وې، آبادي وې تر هغې چي د معین الدوله بهرام شاه د واکمنۍ وخت ورسېد، لکه څنګه چي په دې پوهیږو، چي د فیروز په غره (فیروز کوه) کي د خپل منځۍ نا مشروع رقابتونو او بیا د غزنوي واکمنو او غوري سلاطینو تر منځ د شخصي شخړو په پایله کي سلطان علاوالدین بن حسین بن سام غوري، چي دوه ځله د غزني پوځونو په شا وتمبول، په درېیم ځل بهرام شاه ته غوڅه ماته ورکړه، غزنی یې تر لاسه کړ، او بیا یې په ډېر قهر د اووه شپو او ورځو اور لګولو سره غزنی یې له خاورو سره خاوري کړ.

## د لښکرګاه زوړ ښار د غوریانو په دوره کي:

۵۴۵ هـ چي د (۱۱۵۰ز) کال سره سمون خوري، هغه کال دی، چي غزنی او لښکرګاه د یوې میاشتي په اوږدو کي د سلطان علاوالدین حسین غوري له خوا د اور لمبه سو.

که چیري د لښکرګاه د لومړي ځل د جوړېدو نېټه (۳۹۵–۳۹۰هـ) وګڼو، نو پر (۱۵۵–۱۵۰هـ) کال لښکرګاه او د سلطان د دښتي ودانیو

---

۱. کاندید اکاډمېسن محمد ابراهیم عطایي، هلمند د کلتور په ساحه کي، ۵۰ مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



د غزنويانو د دورې د اوج دوره ليدلې وه، چې بالاخره له غزني سره يو ځای او په يو وخت کې د اور لمبه سوي دي.

د لرغون پېژندونکو د څېړنو له مخې د لښکرګاه د ماڼۍ له دېوالونو او لاندې مځکې څخه د اور سوځېدني نښې ښکاري، خو دا نه يوائې يو ځل، بلکې د دوو ځله سوځېدلو نښې نښانې له ورايه څرګندېږي، خو يو يې خامخا هماغه لومړی ځل سوځېدل دي، چې پر (۵۴۵هـ) کال د علاوالدين پر مهال او د هغه په امر تر سره سوی و.

په دغه لومړي ځل سوځېدني کې د غزني او لښکرګاه تر منځ دومره توپير دی، چې غزنی وسوځېد او د ډېرو سوځېدلو له لامله رنګ سو، خو لښکرګاه چې اور واخيست، د ډېرو لمبو له لامله يې چتونه او ګنبدې را ونړېدې، خو د ماڼۍ ديوالونو، دهليزونو، خونو او د ماڼۍ نورو جوړو سويو ترتيباتو ته ډېر زيان ونه رسېد او ټول له منځه نه ولاړل.

لکه څنګه چې لښکرګاه د لګان د دښتي په دامان کې د بُست له ښار څخه هم يو فرسخ لرې، هيرمند (هلمند سيند) ته څېرمه پروت و، نو ځکه له لاسي ورانکاريو (د خښتو، خاورو) له وړلو څخه خوندي پاته سو.

لکه چې د علاوالدين لخوا تر سوځېدو وروسته او بيا تر هغې وروسته د سوځېدو او ورانيو څخه يې د بيا رغوني له مخې خپله اصلي بڼه خپله کړه، چې تر اوسه پوري يې د يوې ځانګړې کلا

(c) ketabton.com: The Digital Library



ديوالونه څو متره لوړ ولاړ دي او ددې دېوالونو سيوري د هيرمند پر اوبو لويږي.

لښکرګاه ډېره موده شړه پاته نسوه، ځکه چي د علاوالدين حسين غوري ځای ناستو له دغو نيم ړنګو ودانيو څخه، چي چتونو او ګنبدو ته يې ډېر زيان ور اوښتی و، بيا جوړي او د ځان په ګټه يې ترې کار واخيست، چي د لرغون پېژندونکيو کتنه دغه نظريه تائيدوي.

(موسيو شلوم برژه) په يوه مقاله کي، چي د لښکرګاه د جامع جومات په اړه يې ليکلې او د (۱۹۵۲ز) کال (مجله افغانستان) په لومړۍ ګڼه کي خپره سوې، ليکي(د علاوالدين يو ځای ناستي او يا هم دده تر لاس لاندي کسانو څخه يو کس د لښکرګاه په بيارغونه لاس پوري کړ).

د يو لړ معلوماتو له مخي سلطان علاوالدين حسين د غزني او لښکرګاه تر سوځېدو وروسته، چي په (۵۴۵هـ ق) کي تر سره سوی و، په (۵۴۹ هـ ق) کال مړ سو او تر ده وروسته د يوې لنډې مودې لپاره ناصرالدين حسين مادينې واک ته ورسېد، چي ځيني ليکوالانو يې لا د يادوني اړتيا هم نه ده ليدلې، تر هغه وروسته د واک وار ملک سيف الدين محمد بن علاوالدين ته ورسېد او بيا له ده وروسته سلطان غياث الدين غوری واک ته ورسېد.

په لښکرګاه کي لرغون پېژندونکو د خپلو لاسته راوړنو له مخي په تاريخي لحاظ يوه ستره دنده يې تر سره کړې او هغه لاسته راوړني په عربي ژبه يوه کتيبه ده، چي د قصر په يو دېوال کي موندل سوې ده،

(c) ketabton.com: The Digital Library



چي د هغې له مخي د غزنويانو د عسکري ځای لومړی بيارغونه او وړوکې سلطنتي ماڼۍ د (۵۵۰هـ) او (۵۵۹هـ) کلونو تر منځ تر سره سوې ده او موسيو شلوم برژه د خپلو څرګندونو په پايله کي څرګندوي، چي نه يوائي سلطنتي ماڼۍ، بلکې د لښکرګاه جامع جومات هم په همدې نېټه رغول سوی دی.

د (۵۵۹–۵۵۰هـ ق) کلونه مو ددې لپاره وښوول، چي په ياده سوې کتيبه کي له بده مرغه ماتي رامنځته سوي دي، نو ځکه په دقيقه توګه د کال ټاکل يوه ستونزه ده.

همدارنګه دا کتيبه د علاوالدين غوري تر سوولو وروسته د لښکرګاه د بيارغوني د نېټې له نظره ډېر ارزښت لري، منل سوې خبره ده او د ترديد وړ نه ده.

لکه څنګه چي لښکرګاه په (۵۴۵ هـ ق) کال سوځول سوې ده، لومړی ځل رغونه يې له پينځو تر څوارلسو کلو له پورته ياد سوې نېټې څخه وروسته تر سره سوې ده، اوس د ليکوالانو دنده ده، چي وګوري د لښکرګاه لومړی ځل رغونه د کوم واکمن د واکمنۍ پر وخت تر سره سوې ده، لکه چي پورته يې يادونه وسوه، له جهانسوز څخه وروسته چي په (۵۴۹ هـ ق) کال مړ سوی دی، لومړی ناصرالدين حسين مادينی بيا ملک سيف الدين محمد بن علاوالدين او تر هغه وروسته ستر سلطان غياث الدين غوري راميدان ته سوی دی.

دلته ناصرالدين حسين مادينی له دې لامله نه شمېرو، چي د واک ساحه يې محدوده وه او د واک وخت يې يوائي يو کال و، پاته سول

(c) ketabton.com: The Digital Library



ملک سیف الدین محمد بن علاوالدین او سلطان غیاث الدین، کېدای سي، چي د لښکرګاه د ماڼۍ بیارغونه د ملک سیف الدین پر مهال سوې وي، که چیري ددغي کتیبې درې واړه شمېرې په سهي ډول لوستل کېدای سوای، نو دغه مسئله په غوڅه توګه حل کېدله، خو لکه څنګه چي مو ولیدل، له (۵۵۰ هـ ق) څخه تر (۵۵۸ هـ ق) پوري د هیرمند په کښتنیو برخو او په ځانګړې توګه د بُست او لښکرګاه په سیمو کي خپل نفوذ ته پراخوالی ورکړای سو.

په دې کي شک نسته، چي پخپله علاوالدین وروسته له هغې، چي د سلطان سنجر له خوا ورته بخښنه وسوه، او آزاد کړای سو او بیا غور ته ستون سو، نو د جرم، ګرم سیر، ښار، داور (زمینداور) او بُست یې بیا تر لاسه کړل، نو ځکه ددې اټکل سته، چي ملک سیف الدین پخپلي اووه کلنۍ واکمنۍ کي په دغو یادو سوو سیمو کي بشپړ نفوذ درلود او د لښکرګاه بیارغونه یې پخپله دوره کي تر سره کړې وي، ددې اټکل تر څنګ ددې احتمال هم سته، چي د لښکرګاه د ماڼۍ بیارغونه د سلطان غیاث الدین غوري د واکمنۍ په دوو لومړیو کلونو کی تر سره سوې وي.

قاضي منهاج السراج جوزجاني د (طبقات ناصري) په اوومه برخه کي لیکي، چي په (۵۷۲ هـ ق) کال د نیمروز او سجستان واکمنو سلطان غیاث الدین ته لیک واستاوه او د هغه حکم منلو ته یې غاړه کښېښوده، همدارنګه پخپله د غیاث الدین سجستان ته د تلو په اړه او

(c) ketabton.com: The Digital Library



بیا سلطان معزالدین ته د جروم (=ګرمسېر) او تکین آباد د ښارونو د وربخښلو په اړه څرګندوني کوي.

په داسي حال کي، چي نوموړی سلطان له (۵۷۱ هـ ق) کال څخه مخکي په نیمروز او سجستان کي نفوذ نه درلود، نو ځکه د لښکرګاه او بُست بیارغوني چاري د هغه له خوا ناشونی ښکاري او ددغو ودانیو د بیارغوني چاري د ملک سیف الدین لخوا ښکاري.

په دې کي شک نسته، چي پر (۵۴۵ هـ ق) کال لښکرګاه د علاوالدین تر سوځولو وروسته د یوې لنډې مودي لپاره شړه سوه، خو د بُست ښار له سوځولو او د خلکو له وژلو سره – سره شړ نه سو، ځکه چي د بُست په ښار کي عام خلک اوسېدل، کله چي یې ښار ړنګ سو، هر چا د خپل توان سره سم د بیارغوني چاري پیل کړې، خو لښکرګاه چي یو نظامي ځای او د پاچا د اوسېدو سیمه وه، د یوې مودې لپاره هماغسي ړنګه پاته سوه او بیا کله چي یې اړتیا لیدل سوې ده، د بیا رغوني چاري یې تر سره سوي دي او د رغوني نښې یې لکه چي مو ولیدل، د ودانۍ پر یو دېوال څرګند سوی دی، چي د (۵۵۰هـ ق) او (۵۵۹هـ ق) کلونو تر منځ د سلطان سیف الدین او یا هم د سلطان غیاث الدین لخوا یې لومړی بیارغونه ترسره سوې ده.

د پورته یادو سوو کتیبو د شهادت له مخي په پورتنیو نېټو د بُست په ښار کي ژوند ادامه درلوده، خو په مینځ کي یوه بله خبره هم د کتو وړ ده، هغه دا چي ددې دوو کتیبو لیکلي نېټې د سلطان غیاث الدین غوري او د علاوالدین د زوی (اتسز) د مړینو له نېټو سره سمون

(c) ketabton.com: The Digital Library



خوري، يعنې پر (۵۵۹هـ ق) سلطان غياث الدين او پر (۶۱۱هـ ق) د علاوالدين زوی (اتسز) وفات سوی دی.

نو په همدې ترتیب ګورو، چې د سلطان غياث الدين غوري د واکمنۍ په دوره کې، چې د آبادۍ په برخه کې يې يو ځانګړی شوق درلود او تر هغه وروسته د سلطان شهاب الدين د زوی (اتسز) د واکمنۍ (۵۹۸ - ۶۰۲هـ ق) په دوره کې او د علاوالدين د زوی (اتسز) د واکمنۍ او ژوند تر پايه (۶۰۷ - ۶۱۱هـ ق) په لښکرګاه او بُست کې ژوند په عادي توګه ادامه درلوده او مشهور مشران لکه محمد بن ابوالمعاني او جلال الدين بن محمد اسماعيل د سلطان غياث الدين معاصر او شهاب الدين او اتسز ټولو د بُست په ښار کې ژوندي وه او دوي ټول له غياث الدين او شهاب الدين سره په يو وخت کې له دې نړۍ سترګې پټې کړې دي.[1]

له غوريانو او غزنويانو وروسته د هلمند سيمې د چنګېزيانو په لاس ورغلي، د چنګېز او تېمور په چپاوونو يو درونډ سکوت پرې خپور سو، نو په دې منځ کې د لښکرګاه نوم بالکل له ياده ووت، کوم تاريخونه مخصوصاً بيهقي او نور د غزنوي کورنۍ د شاعرانو په نامه آثار چې پاته دي، په هغو کې د لښکرګاه نوم قيد و، خو هيڅوک نه پوهېدل چې لښکرګاه چيري ده؟

۱.عتيق الله پژواک، غوريان، ۲۳۳مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د لښکرګاه زوړ ښار د لرغون پېژندني له نظره:

د (۱۳۲۸) لمريز کال په حمل کي چي د لرغون پېژندونکو يو هيئت بُست ته رهي و، له هغه سره ښاغلی کهزاد د افغانستان د تاريخ ليکونکی او ښاغلی خليلي د سلطنت غزنويان ليکونکی هم ورسره وه، کله چي د بُست په شاوخوا کي ګرځېدل، نو د لښکري بازار نوم يې تر غوږ سو او بيا يې د لښکرګاه کنډوالې وکتلې، دوي د دې ځای خرابې، د لښکري بازار نوم او د هغو تاريخونو ليکنو ته چي دوي د لښکرګاه نوم پکښې مطالعه کړی و، سر سره ورکړ او بالاخره د دې زمينه برابره سوه چي کيندني وکړي.

لومړی او دوهمه مرحله حفريات (کيندني) د (۱۳۲۸) لمريز کال په پسرلي او مني کي وسول او درېيمه مرحله د (۱۳۲۹ لمريز) کال په مني کي، په دې پسې څلورمه او پنځمه مرحله حفريات (کيندني) د (۱۳۳۰ لمريز) کال په پسرلي کي وسول، د دې حفرياتو (کيندنو) په نتيجه کي زړه لښکرګاه مخصوصاً د هغې مرکز (سلطاني قصر) کشف سو، د سلطاني قصر او نورو ماڼيو د جوړښت طرز او معماري او د نومړو کنډوالو څخه راوتلو آثارو په هنري لحاظ د دې ځای رابطه د هند او عراق معماري سبک سره تثبيته کړه.

هغه پنځه مرحلې حفريات (کيندني) چي په لښکرګاه کي د فرانسوي لرغون پېژندونکو له خوا وسول، د هغو مشر (شلوم برژه) نومېده او د هيئت د مهندسۍ وظيفه د (لوبر) پر غاړه وه، فرانسوي لرغون پېژندونکو په سلطاني قصر کي، چي کوم حفريات وکړل، په

(c) ketabton.com: The Digital Library



لومړۍ مرحله کي يې د ماڼۍ د يو سالون پر دېوال يوه نقاشي تابلو وليده، چي د يو زلمي هلک صورت پر نقش سوی و، دلته د غزنوي شاعر (فرخي) د هغه بيت څخه ددې قصر ښکلا د حفرياتو سره سر وخوړ، چي دېوالونه يې داسي نقاشي وه، چي: "به يک جای در رزم در دست ژوبين بيک جای در بزم و در دست ساغر".

د دېوال پر مخ د زلمي هلک تصوير د هغه وخت د پاچاهي حرم غلام بچه ښيي او ښايي چي د نوموړي ماڼۍ يا د محمودي ماڼيو دېوالونه به ټول د پاچا او دده د کور او دباندي ژوند د تصويرونو نقاشي وي، د حفرياتو هيئت د سلطاني قصر له اړخ سره يو مسجد هم کشف کړ، چي محراب يې ډېر ښکلی جوړ سوی و.[1]

۱.کانديد اکاډميسن محمد ابراهيم عطايي، هلمند د کلتور په ساحه کي، ۶۰ مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library


# هلمند (هیتومنت)

# دوهمه برخه

# تاریخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



# لومړی څپرکی

## هلمند د تاریخ په اوږدو کي

د نړۍ تاریخونو او لرغون پلټنو ثابته کړېده چي چیري سیندونه وي، هلته مدنیتونه زېږېدلي، چي هلمند سیند هم د سیحون (آمو)، نیل، دجلې او فرات، ژړ سیند (چین)، سندهـ سیند، د هند سمندر او نور په څېر یو مدنیت زېږنده سیند دی، چي ورسره دا ښېرازه سیمه هم د همدې ډک سیند له امله په همدې نامه نومول سوې ده.

د هلمند ښېرازه سیمه په تاریخونو کي د دره نیل، مصر ثاني او اسیا د ګدام په نومونو یاده سوې ده او د هلمند سیند د غاړې اوسیدونکي توانګر او غښتلي بلل سوي او دا سیمه د هلمند په اسطوریي (کیسیز) او مستند تاریخ کي د غښتلو، پهلوانانو او کروریانو په نامه یاده سوې ده، کله چي موږ وایو چي د هیتومنت (هیرمند، هلمند) د بخدي (باختر، بلخ) سره همزولی تاریخي شالید لري د دې خبري دلیل دا دی، چي هلمند سیند هم د آمو د سیند په څېر د هیوا د د لویو سیندونو څخه دی او دلته هم له ننه شپږزره کاله پخوا هلمندیانو د خپل لاس نښي او د لرغوني تمدن بیلګي پري ایښي دي، د تاریخي روایتونو له مخي چي هلمند سیند یو وخت د ګرشک او د کشک نخود (کشک الرخج) په منځ کي د منډیګک په څنګ کي بهېدی، چې (۱۵۰۰) یا (۲۰۰۰) کاله تر میلاد مخکي بیا د هلمند سیند مخه د

(c) ketabton.com: The Digital Library



ګرشک خواته اړولې او د منډيګک د اوسېدونکو ژوند هلته سخت سوی او نورو ځايو ته کوچېدلي دي.

د سوځلي ښار (شهر سوخته) او هلمند سيند پر غاړه چي کومي کيندني سوي دي او ورسره شېږ زره کاله پخوا کوم زاړه لوښي او اوسپنيز توکي په لاس راغلي دي، ټول ددې څرګندونه کوي چي د هلمند پخواني اوسېدونکي د ډبري او مفرغ (اوسپني) له عصره څخه چي د (۴۰۰۰ قبل الميلاد شاوخوا) مځکي يې وخت اټکل کيږي مځکي تر آريائيانو هم، په بزګرۍ او مالدارۍ بوخت وه.

سيستان چي د هلمند يوه ښکلې سيمه ده، په تاريخونو کي د هلمند زېږنده بلل سوی دی، لکه څنګه چي يې مصر د نيل د سيند څخه زېږنده بللی دی او ويل سوي چي نيل سيند چي د (ايتوپيا) له غرونو سرچينه اخلي، هلمند سيند هم په خپل وار د بابا د غره له برکته بهيږي، د مصر د ښيرازۍ او ابادۍ مايه نيل دی، همدا ډول هلمند سيند هم سيستان ته د ژوند او حيات ورکولو مايه بلل کيږي، يعني که هلمند سيند نه وای سيستان به وجود نه درلودای، ځکه يي نو سيستان دهلمند مولود (زېږنده) بللی دی.

هلمند سيند د ختيځو سيندونو له ډلي څخه په آسيا کې يو له برکته ډک خوږ سيند دی، چي په کال کي مليارډونه مکعب متره اوبه پکښي رواني وي، اوږدوالی يي (۱۴۰۰) دی او د فرات او سيند په منځ کي له ډيرو اوږدو سيندونو څخه شمېرل کيږي.[1]

---

۱. http://www.benawa.net/:

(c) ketabton.com: The Digital Library



په افغانستان کي له (۳۰) حتی له (۵۰) زرو کلو دمخه د هندوکش په زړه کي د غار او سېدونکي ښکاریانو د ژوند اثار موندل سوي او له هغه وخته چي د غار د اوسېدونکي ښکاریان له غرونو او کمرونو ښخه کښته راغلي دي او د لویو رودخانو پر غاړو لکه، هیرمند، اکسوس (آمو)، اندوس (سندهـ)، هري رود، مرغاب، ارغنداب او کابل سیند مېشت سوي، نو د مالدارۍ او کرهڼي دورې یې تیري کړي دي.[1]

لوی استاد قدرت الله فرهاد حداد په افغانستان کي له درېیو سیندونو او درېیو مدنیتونو داسي یادونه کړې:-په افغانستان کي درې سیندونه (سندهـ، هیرمند او آمو) درې مدنیته روزلي، چي د سور، ساک او پاکت مدنیتونه ترې وتلي او درې واړه پښتانه نومونه دي، یعني سوریان، ساکان او پاکتیان دي.[2]

په بل ځای کي لیکي: هر چیري چي سیندونه وي، هلته مدنیتونه جوړ سوي، په افغانستان درې بهیږي او درې مدنیتونه ترې موندل سوي.

۱.سندهـ - اباسن - اندوس مدنیت= د سیند مدنیت سور.سوریا
۲.هېرمند.هلمند.ایلبند مدنیت= ساک.ساکستان
۳.آمو - جیحون.اکسوس مدینت= باکتري، باکتر، پاکتي[3]

۱.احمد علي کهزاد، افغانستان در پرتو تاریخ، مقاله سی و هشتم، ۱۵۶ مخ
۲.قدرت الله حداد فرهاد، د افغان ملي تاریخ، دوهم ټوک، ۹۲ مخ
۳.همدا اثر، ۱۵۹ مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



## هلمند په آریانا کي

اویستا د آریایانو پخوانی کتاب هلمند د (تومان) په نامه یادوي، چي معنی یې د بندونو ډک سیند ده، دلته موږ دا اټکل کولای سو، چي هغه وخت ددې سیند له اوبو څخه څومره ګټه اخیستل کېده، په دې کي هیڅ شک نه پاتیږي چي پخوانیو خلکو ددې سیند له اوبو څخه د کرهڼي لپاره انتهایي کار اخیست.

د اویستا په درییم ګات کي د ویندیداد تر عنوان لاندي (تومانت، هیتومنت) یوولسمه آریایي سیمه یاده سوې چي خلک یې خورا آبات دي.

د اویستا مذهب ددې ځای د خلکو یوازینی مذهب و، چي د عربو تر راتګ پوري یې د هغه پیروي کوله، د سیستان د تاریخ لیکوال لیکي:. د زرنج د ښار د (کرکویي) دروازې په یوه اور عبادت ځای (آتشکده) کي تر هغه مهاله رڼا وه، چي کله عربو اسلام راوړ او بیا ددې ځای خلکو جزیه ومنله، نو عربو هم تر یو وخته پوري د دوي په آئین کار ونه درلود.[1]

## گرشاسب بابا او هیتومنت (هلمند)

ګرشاسب بابا په هر حال په لرغوني تاریخ کي نه ماتېدونکی پهلوان دی، یو مشر دی، یو پوهاند دی، دی د خپلي پوهي له امله تل ژوندی دی او پوهه یې میراث دی هر څوک چي ځان پښتون بولي د ګرشاسب بابا پوهه به ورسره وي.

۱.کاندید اکاډمیسن محمد ابراهیم عطایي، هلمند د کلتور په ساحه کي، ۳۷ مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



د سیستان تاریخ کې چې لیکوال یې څرګند نه دی، (ملک الشعر ابهار) د هغه سمون او شرح یې کړې ده، د ګرشاسب بابا یادونه ډېره سوې ده، ګرشاسبنامه چې (حکیم اسدي توسي) لیکلې ده، دا سې وایي، خپله د اسدي توسي په لیکاڼې لیکل سوی خط دی، دا یو معتبر سند دی، چې د پښتنو د پلرو بابا دی.

ګرشاسب په مزوج الذب د مسعودي په کتاب کې (۳۳۲ هجري): ګرشاسب په جګړه کې د افراسیاب ساری و. له دې مطلب دا دی، چې دواړو ماته نه ده خوړلې.

مسعودي د خپل کتاب په (۲۷۷) مخ کې له کیومرث تر ګرشاسب پورې لومړی طبقه بولي، چې تر ساسانیانو پورې څلورمه کیږي، په دې توګه د ګرشاسب مهال ډېر وړاندې درومي، ځکه کیومرث هم د آدم (ع) نوم بولي.

د ګردیزي تاریخ هم د ګرشاسب خبره لري، چې بېلو تاریخو کې دده ذکر کوي، ګرشاسب د آریانا پهلوان و او دغه ګرشاسب د سام نیکه و.

د غور سلطانانو تر دوولسمې میلادي پېړۍ پورې د سام نوم له خپل نامه سره لیکه، لکه (سلطان شهاب الدین سام سوري او سلطان علاوالدین سام سوري).

استاد احمد علي کهزاد د اویستا له مخې ګرشاسب بابا معرفي کړی دی، چې دا یو لوی احسان دی د پښتنو لپاره په دې معرفي کې دوې خبرې نغښتې دي: لومړۍ دا چې ګرشاسب بابا هماغه غرغښت د پښتنو بابا دی او دوهم دا چې د پښتنو د نیکه ګانو تاریخ تر هغه یو نیم یا دوه زره کاله دمخه دی، چې ویل کیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



لوی استاد قدرت الله حداد فرهاد داسي ليکي:.د سيستان د تاريخ له مخي ګرشاسب بابا مشران او کشران په زرنج کي راټول کړل او وې ويل چي ضحاک نړۍ ونړوله، ظالم دی، زه غوارم داسي تومن جوړ کړم، چي د خلکو لپاره اسامه (د پناه ځای) وي.

ګرشاسب بابا وويل: دغه ښار به څلور زره کاله پاته وي، له هغه وروسته محمد (ص) پيغمبر څرګندېږي، موږ به د هغه په دين او سېږو.

درنو لوستونکو دا لوړ متن ټول له (د افغان ملي - دوهم ټوک) چي قدرت الله حداد فرهاد صاحب ليکلی راخيستل سوی، نوموړي په خپل اثر کي ډېر ځايونه د ګرشاسب بابا، ګرشاسپه او يا غرغښت څخه يادونه کړې، چي دا ټول نومونه د يوه سړي دي، چي د پښتنو لوی بابا ګرشاسب بابا دی، ښاغلی استاد (فرهاد صاحب) په ياد اثر کي، په (۹۳، ۱۲۳، ۱۲۷، ۱۳۰، ۱۳۱، ۱۳۵، ۱۶۶، ۱۶۷، ۱۶۸، ۱۷۰، ۱۷۱، ۱۷۷، ۱۸۲، ۲۰۷، ۳۵۶) او نورو ډېرو مخونو کي يې يادونه کړې، چي موږ هم د هر مخ څخه يوه - يوه ګوله وکړه، په ياد کتاب کي ګرشاسب بابا ځيني وخت د غرغښت په نامه هم ياد سوی دی او وايي چي ګرشاسب بابا هماغه غرغښت د پښتنو بابا دی، په هر حال استاد د کتاب په (۱۶۷) مخ کي ليکلي، چي ګرشاسب بابا د کابلستان، زابلستان، سيستان نامتو پهلوان، پوهاند او سياست پوه پادشاه دی، په (۱۶۸) مخ کي داسي يادونه کوي، چي ګرشاسب بابا مشران او کشران په زرنج کي راټول کړل او وې ويل چي ضحاک نړۍ ونړوله، ظالم دی، زه غوارم چي داسي تومن جوړ کړم، چي د خلکو اسامه وي، (يعنې د پناه ځای وي) او بيا يې وويل، چي دغه ښار به څلور زره کاله

(c) ketabton.com: The Digital Library



پاته وي، له هغه وروسته محمد (ص) پیغمبر څرګند یږي، مونږ به د هغه په دین او سیږو.

په (۱۶۹) مخ کي کښلي، د ګرشاسب دعا د څښتن تعالی په دربار کي قبلېد له، هلته چي ګرشاسب دعا کوله خلکو یو معبد جوړ کړ، زردښتینانو ویل چي دلته د ګرشاسب رڼا لیدل کیږي.

په (۱۷۱) مخ کي لیکي، چي د سیستان تاریخ د کرکویه معبد یادوي چیري چي ګرشاسب هلته دېره و، هلته د مقدس اور بلېدل پیل سول، دوي عقیده کوله، چي ګرشاسب بابا عقل دلته پرېښی دی، هلته تل روښانه وي او دغه شعر ویل سوی، چي د هغه پارسي نقل داسي دی:

فرخت بادارش حنیده گرشاسب هوش

ښه سوي دي، چي ګرشاسب هوښیاري پرېښې ده، کله چي اسلام سیستان ته راورسېد، تر دېره پوري دغه اور بل و مسلمانانو هغه منع نه کړ.

په (۱۷۲) مخ کي لیکي، د ګرشاسب بابا له معبد سره هلته مطلوب دا و، چي ګرشاسب بابا تلپاتی و او اور مړ، اور بل، تود نغری، سوړ نغری بېرته ورپوري ور، په پښتو کي یو مطلب لري، چي د پښتانه اوربل، څراغ روښانه نغری سوړ او ور پرانیستی وي.

ګرشاسب بابا په ختیځ، لوېدیځ، شمال او جنوب کي نومیالی بریالی و، تر اوسه یې نوم تازه دی، حال دا چي دده د ژوند زمانه لږ تر لږه او وه زره کاله د مخه اټکل کیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د اسدي ګرشاسبنامه (۱۰۶۶ز) کي لیکلی، چي اوس نهه سوه اته څلویښت کاله کیږي، چي غرغښت بابا د ګرشاسب په نامه بلل کېده، (غر) په (ګر) چټک بدلیږي او په یوه مهال د لهجو له مخي دواړه ویل کیږي.

استاد کهزاد غرغښت او زردښت نږدې یا خپلوان بولي، ګرشاسب په اویستا کي ګرشاسپه او مها بهارتا کي ګرساسوه لیکل سوی، ډارمستر فرانسوي پوه ګرشاسب د کابل، زابل، سیستان راتلل بولي.

د ګردیزي تاریخ دده په برخه کي لیکلي: ګرشاسپ د سام نیکه او رستم یې هم لمسی و، ګرشاسب زابلستان ونیو او تر هندوستان پوري مځکي یې خپلي کړې.

په (۳۵۶) مخ کي لیکي، له نېکه مرغه زر کاله دمخه حکیم یونصر توسی، چي په اسدي توسي پېژندل سوی، ګرشاسبنامه لکلې ده، کوم پهلوانان چي په دغه شاهنامه کي یادیږي، د کابل، زابل او سیستان دی او سیستان په اصل کي ساکستان دی، چي د ساکو سیمه ده او ځلانده تاریخ لري.

په هر حال د پورتینو توضیحاتو څخه مو مرام، دا و، چي د هېرمند سره د ګرشاسب بابا اړیکه وڅېړو، لکه څنګه چي مو مخکي یادونه وکړه، چي د زرنج ښار ګرشاسب بابا جوړ کړ او داسي یې وویل، چي څلور زره کاله وروسته به د اسلام دین راځي، ښه نو اوس که موږ (۴۰۰۰) څلور زره کاله له (۱۴۳۵) کالو سره جمع کړو، چي دا د اسلام د راتګ تاریخ دی، نو موږ ته به (۵۴۳۵) پنځه زره څلور سوه پنځه دېرش کاله په لاس راسي، یعنې له (۱۳۹۳) لمریز کال څخه که حساب وسي، نو پوره پنځه زره څلور سوه پنځه دېرش کاله پخوا د ګرشاسب

(c) ketabton.com: The Digital Library



بابا لخوا د زرنج ښار آباد سوی، دلته موږ ته یو سوال په ذهن کي راګرځي، چي په هغه وخت، کي په دې وچ زرنج کي به او به چیري وې، چي دلته دوي ښار ودانا وه، نو په ځواب کي د هیتومنت (هلمند) لرغوني سیند دی، چي زرګونه کلونه کیږي، چي بهیږي، د هېرمند سیند یادونه مو، ځکه دلته وکړه، تر څو دا څرګنده کړو، چي ګرشاسب بابا په خپل وخت کي، له دې سیند څخه نهایي ګټه اخیستې او پر سیند یې ښارونه ودان کړي.

مخکي د ګردیزي تاریخ یادونه مو هم وکړه، چي داسي یې ویلي وه، چي ګرشاسب د سام نیکه او رستم یې هم لمسی و، ګرشاسب زابلستان ونیو او تر هندوستان پوري مځکي یې خپلي کړې.

ښه نو چي ګرشاسب بابا د سام نیکه سو، نو د غوریانو (=سوریانو – زوریانو) خو هم هر شاه د خپل د نوم سره سام لیکه لکه (سلطان شهاب الدین سام سوري او سلطان علاوالدین سام سوري)، دا نومونه موږ ته د لرغونو تېرونو اړیکه راښیي، لکه چي استاد فرهاد د درو تمدونونو یادونه کي، د سور (=زور) سوري (=زوري) او د زون (=زور) یادونه هم کړې، نو که (زور، زون، سون، سور، سوري، سروان، سوروان، ساروان) نومونو ته وکتل سي، ددې څخه داسي څرګندیږي، چي د هلمند هغه لرغوني سیمي تر اوسه په دغو نومونو یادیږي او همدارنګه د هرات په شاوخوا کي سوریانو ته زوریان هم ویل کیږي.

ښه چي ګرشاسب د سام نیکه و او غوریانو د خپلو نومونو سره سام لیکی او یادوی، نو ددې څخه داسي څرګندیږي، چي غوریان

(c) ketabton.com: The Digital Library



(سوریان) د ګرشاسب بابا د اولادې ځخه دي او هغوي پښتانه دي او ددغه هېرمند نومیالي بچیان دي.

استاد فرهاد په بل ځای کي یادوي، چي ګرشاسب بابا د آریانا پهلوانو، دې خبري ته که وګورو نو رښتیا هم همداسي ده، ځکه موږ ته ځرګند او ښکاره تاریخونه پراته دي، چي د سور، سام او زور اولاده پهلوانان تېر سوي دي، لکه چي حبیبي صاحب یې یادونه کوي، چي سور (Sur) د پهلوان (Hero) په معنی ده او په اویستا کي (سوره – Sura) د قوي او غښتلي مجازي مفهوم درلود[1]، همداسي که د امیر کروړ د پلار نوم ته وګورو (امیر پولاد) دی، چي په پښتو کي اوس هم کلک او سخت شي ته موږ پولاد او په پاړسو کي (فولاد) ویل کیږي، همدارنګه د امیر کروړ نوم ته که وګورو نو له ورایه ځرګندیږي، چي (کروړ) په معنی د غښتلي پهلوان، سخت، ټینګ او پولاد دی.

حبیبي صاحب په بل ځای کي لیکي: چي امیر کروړ ډېر غښتلی او پهلوانو، په یوه تن له سلو تنو جنګاورو سره جنګېده، ځکه یې نو کروړ باله، چي معنی یې د کلک او سخت دی.

همدارنګه ما (ژمن) له ډېرو پخوانیو او سپین ږیرو خلکو ځخه مي اورېدلي، چي غوریان پهلوانان وه، همدارنګه زه له یو ځوان سره مخ سوم، چي په اصل کي له غور، خو اوس په هلمند کي اوسېده، نوموړي ما ته وویل، چي زموږ نیکه دومره پهلوانو، چي یوا ځي یې یوه غټه ډبره (تیږه) زموږ د کلي (غور کي) د ویالې تر ځنګ ایښې وه او داسي یې ویلي وه، چي زما لمسیان او کړوسیان چي دا ځای ووینې،

---

۱.امیر کروړ او دده کورنی، ۳ مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



نو زما د طاقت او پهلوانۍ درک به دوي ته ور معلوم سي، نو موږي ځوان داسي وويل چي اوس مهال که لس تنه ځوانان هم سره راټول سي او وغواړي چي نو موړي ډبره (تيږه) له ځايه بې ځايه کړي، نو له امکانه وتلی کار دی.

ددې ټولو خبرو څخه موږ ته څرګنده او ښکاره سوه، چي هيتومنت (هلمند) ځومره لرغوني او ځومره غښتلي پهلوانان پاللي، چي اووه زره کاله وروسته يې هم نومونه په نړۍ کي په ټولو تاريخونو کي سته، لکه مخکي چي مو يادونه وکړه، چي ګرشاسب د سام نيکه او رستم يې هم لمسی و، ښه نو دلته د رستم يادونه ضروري بولم، هغه دا چي د ګرشاسب بابا د ښار يادونه مو وکړه، چي په زرنج (لرغوني زرنګ) کي يې ودان کړ او همدارنګه د سام (سور، غور، زور، زوري او سوري) پر نومونو مو بحث وکړ، مګر يو نوم چي پاته دی، هغه د رستم دی، لکه مخکي چي مو يادونه وکړه، چي رستم د ګرشاسب بابا لمسی و، نو دلته خو يو سوال زموږ په ذهن کي راولاړيږي، چي د ګرشاسب بابا په اولاده کي د رستم نوم چي راغلی دا خو هغه رستم پهلوان دی، چي استاد رشاد بابا يې داسي يادونه کوي: (رخج او زميندا ور د سيستان ښارونه دي، دا هيواد د رستم پهلوان دی، چي کيکاوس د دغي سيمي پاچاهي ورکړې وه، قرنين چي د هلمند په ناوه کي واقع دی، په دغه ښار کي د رستم د آس اخور سته. )[1]

ښه چي دا سيمه د رستم پهلوان ده او نوموړي دلته پاچاهي کړې ده، نيکه (ګرشاسب - غرغښت) يې د زرنج ښار ودان کړ، نو دا هم له

---

۱.علامه اکاډمېسن پوهاند عبدالشکور رشاد، د کندهار يادابنتونه، ۴۳ مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



امکانه لیري، خبره نه ده، چي په (هېرمند) کي نوموړي پهلوان یو ستر د اوبو بند جوړ کړی او وروسته یې خپل نوم ورکړی یا د نوموړي په نوم یاد سوی، چي تر اوسه یې نښې او نښاني له ورایه معلومي دي.

اوس تاسو لوستونکي خپله فکر وکړئ، چي له دومره تاریخي قدامت سره – سره، له دومره مېړنو سره – سره، له دومره پهلوانانو سره – سره، له دومره لرغونتیا سره – سره، له دومره اوږده تاریخي مدنیت سره – سره، بیا هم هیتومنت (هلمند) داسي په وینو سور، د بمونو پر بمبارد او د سرونو پکښې کلاوي جوړیږي، زه ستاسو څخه پوښته کوم، چي دا ولي؟؟؟، راسئ چي سره کښېنو، راسئ چي سره جرګه سو، راسئ چي آخیر ددې ناورین عوامل وڅېړو او ددې ناورین حل یوائې په ځوانانو کیږي، ځکه چي زموږ پلرونو او نیکونو چي څومره یې تر وسه کېدل، هغومره یې زموږ سره وکړل، اوس نو زموږ وار دی، اوس نو دا په وینو لړلی هلمند موږ ته سترګي نیولي، اوس نو دا د پهلوانانو وطن موږ ته په تمه دی، اوس نو هلمند دا فکر کوي، چي زما اولادونه به مي وژغوري، پر وطن سور اور بل دی، بچیان پکښې قتلیږي، زه (ژمن) په سلو کي سل سلنه په دې پوهیږم، چي هلمند زموږ پر دغه حالت ژړیږي، چي ولي مي اولادونه دومره غافل پاته دي، ولي مي اولادونه بیده دي، ولي زه داسي سوی یم، ولي مي له وجوده غوښې پرې کیږي او ولي مي د زړه رګ (هېرمند) د بل په سیمي کي بهیږي.

وایي کله چي د نوح (ع) بېړۍ ډوبه سوه، څه خلک چي ژوندي پاته سول، د دوي لومړی کار دا و، چي په خپلو کي کښېناستل او په دې یې

(c) ketabton.com: The Digital Library



خبري وکړي، چې کښتنۍ ولي ډوبه سوه؟ او ولي موږ خپل تګ تکي ته ونه رسېدو؟

زموږ د افغانانو بېړۍ سل واره ډوبه سوې او موږ یو واري سره کښېنه ناستلو او په دې خبره مو بحث او فکر ونکړ، چې موږ ولي په داسي ستونزو اخته یو؟

اوس لا وختي دی، اوس لا سر وخت دی، اوس لا وخت لرو، راځئ چې سره یو سو او د اصلاح وکړو، چې د خپلو نیکونو په څېر ځان چمتو کوو، هغه وخت چې د توري وخت و، نیکونو او پلرونو مو د توري ماهران وه، اوس چې د قلم وخت دی، راسئ چې د قلم مېړني له ځانه جوړ کړو، راسئ چې د قلم توریالي له ځانه جوړ کړو او راسئ چې د یو الله (ج) په نامه سره اتحاد وکړو، چې دا خوار او ناتوان هیواد مو له بدبختیو څخه وژغورو.

## د توږلي ډبري دوره او د هلمند سیمه

(سراوریل ستین) آروپایي ختیځپوهاند چې کله د هلمند حوزې موقعیت کتلی نو وایي، پسله هغه چې د غارونو ژوند د هوا د مساعدت په لحاظ د پراخو ورشوګانو په ژوند واوښت، نو د هلمند حوزه یوه له هغو منطقو څخه وه، چې خلکو یې د توږلي ډبري (کلکولي تیک[1]) په دوره شروع وکړه.

۱.د کلکولي تیک د دورې ژوندون له هغي ورځي پیل کیږي چي بشر د لوړو ځایونو او غرونو څخه د لویو سیندونو او رودخانو حوزوې ته راکښته سوي دي، هغه وخت چي له ښکار کولو څخه کرهڼه او مالداري ډېر رواج موندلی او ښکار کم سوی و، بشر د مځکو سره ډېره علاقه پیدا کړه او په پایله کي د لوی رودخانو په حاصلناکو او اوارو ناوو کي کلي او حتی ښارونه پیدا سول، آریانا

نومورې ټينګ باور لري چې ددې ځای مساعد موقعيت د اباسيند (اندوس) او آمو (اکسوس) تر منځ د کلتوري اړيکي د خپرېدو يوه منځنۍ کړۍ تشکيل کړېده.[1]

احمد علي کهزاد په خپل اثر (د افغانستان پخواني تاريخ کي) داسي ليکي:ـ(د سندهد ناوې او بلوچستان او د اکسوس د شمالي منطقو او د خزر او پارس د خليج تر منځ مځکو او څه لږ وړاندي په بين النهرين کي تر سوزنيان او عيلام پوري د کلکولي تيک د دورې مدنيت د هلمند د ناوې او د سيستان د هامون د حوزې سره اړه او ارتباط لري).

سراورل استهن دغه ډول نظريه ښکاره کوي، چي د هيرمند او سيستان حوزې د کلکولي تيک د مدنيت ټولي دورې ليدلي او تيري کړي دي، د سيستان موقعيت او هغه رول چي پدې باره کي يې لوبولی دی، مخصوصاً د يو انګليسي مدقق توجه ځانته را اړولې او ليکي، چي په لوېديځ کي د (سوز) او په شمال کي د (اتو) او بلوچستان او د اندوس د کښتنۍ حوزې تر منځ د جنوب ختيځ خواته د سيستان

(افغانستان) د خپلي خاوري د طبيعي جوړښت او ساختمان په لحاظ هم لوړي او جګ جګ ځايونه لري چي د آريانا پخوانيو اوسېدونکو د ښکار د دورې په دغو ځايونو کي تېر کړي دي او هم د لويو او مساعدو رودخانو په ناوو کي لکه د هيواد په ختيځه غاړه (اندوس)، په شمالي خوا (اکسوس) او د لوېديځي برخي په منځ (هيتومنت- هيرمند - هلمند ) کي چي د سيستان هامون ته رسيږي، تر اوسه پوري د هغو پلټنو او کشفياتو له مخي چي سوي دي، د کلکولي تيک د زماني د مدنيت (۴ - ۵) زره ق م کلونو کي او د هغو څخه نږدې په لومړي يو زر ق م کال کي د نيل، دجلې، فرات، اکسوس، هلمند (هيتومنت) او د نورو رودخانو په ناوو کي پيدا سوي دي.

۱.کانديد اکاډمېسن محمد ابراهيم عطايي، هلمند د کلتور په ساحه کي، ۳۵ مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



موقعیت ډېر مهم دی او دغه ټول ځایونه د یو (قبل التاریخ) مدنیت څخه مستفید وه.

سراورل استیڼ ددغه مدنیت د نښانو د مشابهت په باب هم ځیر سوی او وایي، چي معلومه نه ده، چي د مدنیت د نښانو نږدې والی او قرابت د مهاجرت له کبله پیدا سوی دی او که د فتوحاتو او دوستانه روابطو او د تګ راتګ له مخي حاصل سوی دی.

کوم شی چي واضع او ښکاره دی، هغه د مدنیت عمومیت دی او د سند هـ لـه حوزي (موهنجو دیـرو)، د پنجاب لـه جنوب (هرپـه) او د بلوچستان له (تال) څخه داسي آثار په لاس راغلي دي، چي د مختلفو خواو له مخي له یوې خوا څخه د بین النهرین د سومریانو څخه پخوا مدنیت او د سوز د لومړي او دوهم مدنیتو سره او لـه بلي خوا د خزر د بحیرې څخه هغې خواتـه د (اکسوس شمال) د مدنیت سره ډېر ورتـه والی لري، هر کله چي سیستان د دغو ټولو ذکر سوو ځایو پـه منځ کي یوه طبیعي لاره وه، نو دا له امکان څخه لیري نه ده، چي خامخا پـه یـو ډول دي ددغو ځایو په ارتباط کي برخه ولري.

کـه چیري نقشـه وکتل سي، نو د هیرمند دلتا د (اتـو) او (موهنجو دیرو) څخه تقریباً پنځه سوه میله لري پرته ده، د سیستان د کلکولي تیک د دورې د قبل التاریخ د خاورینو لوښو او هغو لوښو تر منځ چي امریکایي هیئت (پـومپلي) لـه (اتـو) څخه پیدا کړي، ډېر شباهت او ورته والی موجود دی، لکه چي دغه نظریه د (مسټر اندروس) لـه خوا هم تصدیق سوې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



بل ځای کي کهزاد صاحب بیا لیکي، چي سیستان او هیرمند حوزې[1] د خپل جغرافیایي مناسب موقعیت له کبله په قبل التاریخ زمانو کي ددې لویي ساحې د کلکولي تیک د مدنیت مختلفو اړخونو په خپرولو کي مهم رول لوبولی دی، لاجورد او په هغو ځایونو کي د لاجوردو خپرېدل په ډېر واضح صورت ښکاره کوي، چي (شپېږ زره) کاله پخوا حتی د آریانا په هغو ځایو کي چي تګ راتګ پکښې ډېر سخت و او په ډېرو غرنیو برخو کي چي د بدخشان څخه عبارت دی، د تګ او راتګ او د تجارت لاري هم موجودي وې او دغه طبیعي لاره له یوې خوا د باختر پراخي جلګې ته او د آریانا د لوېدیځو برخو د رود خانو مدنیت پالونکو او سمسورو حوزو مخصوصاً د هیرمند (هلمند) او سیستان حوزې ته ورغلې ده او له دغه ځای څخه د زیاترو احتمالونو له مخي د سپین سیند (دریای سفید) سواحلو او د نیل ناوې ته رسېدله.

د هغو کشفیاتو له مخي چي په پارس کي (کاشان) ته نږدې د (سیاه لک) په غونډۍ کي سوي دي، آریائیان د (۱۰۰۰) قبل المیلاد په شاوخوا کي د لوط د صحرا څخه هغې خوا مځکو کي را پیدا سوي او دوي هغه مهاجرین دي، چي د (۱۹۰۰- ۲۰۰۰) قبل المیلاد په شاوخوا کي له باختر څخه د هیرمند (هلمند)، سیستان او د هریرود د درې له لارو څخه هغې خوا ته تللي دي.[2]

---

۱.سرجان مارشال د موهنجو دیرو او د سندهد ناوې د مدنیت د لومړي جلد په مقدمه کي وايي، چي: بشر د نیل، فرات، کارون او د هلمند او اندوس په حوزو کي یو ډول او په یو شکل خپل مدنیت خپور کړی دی.

۲.احمد علي کهزاد، د افغانستان پخوانی تاریخ، لومړی ټوک، ۲۷ مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د پښتواني کلتور منځنۍ کړۍ:

وروسته له هغه چي اروپايي لرغون پېژندونکو د منځني ختيځ او مصر په هکله د لرغونو مدنيتونو څېړني تر ډېره ځايه بشپړي کړې، نو يو شمېر ختيځ پوهانو د هغو مدنيتونو هغه ارتباطي کړۍ پسې موضوع کړه، چي هغه مدنيتونه يې د آريايي مدنيتو سره تړلي وه، د اباسيند د (آمو) او هلمند حوزې هغه سيمي دي، چي په تحريري او شفاهي اسنادو کي يې د مدنيت ذکر سوی و.

له بلي خوا په څرګنده ډول د منځني ختيځ په کشف سوو آثارو کي ډېر داسي شيان پيدا سوي وه، چي د آريايي مدنيتونو د اړيکي شاهدي يې ورکوله.

مخکي تر دې چي د هلمند په حوزه کي کيندني (حفريات) وسي، يو اروپايي ارکيالوجست (سرجان هرشل) د موهنجو ډېرو (د سيند حوزه) او هرپا (بلوچستان) کي ځيني حفريات کړي وه.

په (۱۹۳۷ز) کال کي چي فرانسوي لرغون پېژندونکی (موسيو هاکن) د افغاني سيستان په (سرخ داغ) کي کيندني وکړې، نو کشف سوي آثارې له يوې خوا د اباسيند د حوزې د آريايي مدنيت او منځني ختيځ د مدنيتونو تر منځ ارتباط پيدا کړ او له بلي خوا د اباسيند، آمو او هلمند تر منځ د کلتوري ارتباط يوه کړۍ تثبيته سوه.[1]

۱.کانديد اکاډمېسن محمد ابراهيم عطايي، هلمند د کلتور په ساحه کي، ۳۶ مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د آریائیانو هجرت هلمند او اراکوسیا (اراکوزیا) ته:

د آریائیانو هجرت له بلخ څخه د (۱۹۰۰ او ۲۰۰۰ ق م) په شاوخوا کي تخمین سوی دی، په دې وخت کي د (پکتا) ټبر درې برخي سوه، یوه برخه یې له نورو ټبرونو سره د هندوکش و جنوبي سیمي ته راغله او د آریانا په جنوب ختیځ ورشو کي مېشت سوه او دا ځای یې د (پکتیا) په نامه سره ونوماوه، چي پسله څو عمره څخه یې د ځای د تنګوالي په نسبت سره یوه لویه ډله کرار کرار کوچېدله، څو په پای کي د اراکوزیا په پراخه سیمه کي و هري خواته تیت و پرک سوه، هغه بله برخه یې په بلخ کي پاته سوه، چي ویدي اویستایي مدنیت یې هلته تېر کړ، په درېیمه مخکي له زېږدیز (قبل المېلاد) پېړۍ کي یې یوه مشر (اوساس) نومي د لوېدیځ و خواته وخوځېد او د شام د یونانیانو برعلیه یې د خپلواکي اعلان وکړ، وایي وروسته له څه وخت څخه د باختر او سپدونکو (پارتیانو) د ځای د تنګېدو او د نفوس د ډېرښت په نسبت سره هم د هري رود د پوري خوا و سیمو ته د کوچېدلو بنا کښېښوله، ګنداریان هم د پکتیانانو په څېر سره پخپلو اصلي ټاټوبي کي مسکون سوه، د سیستان او ارغنداب د سیند دواړي غاړي یې ونیولې.

ښاغلی احمد علی کهزاد لیکي:ـ د ګندارا او سپدونکي لومړی د کابل و ورشو او بیا د ارغنداب و ورشو ته راکوچېدلي دي، نو که د کندهار د نامه نسبت و دې قوم ته وسي، یو څه اړخ لګوي، او بل په پنځم او شپږم عیسوی پېړۍ کي چي د کوشانیانو د ورود په اثر کي مسکون وه، پر ګنداریانو ځای تنګ سو، نو مجبوره سوه په هجرت یې

(c) ketabton.com: The Digital Library



پیل وکړ او د فود د اوبو کاسه یې چې د د بودیزم له یادګارو څخه وه، له لوړ اندوس څخه د ارغنداو وادي ته نقل کړه.

ستاګیدي چې د آریائیانو یوه بله طایفه وه او هیرودت یې په ګندهارانو پوري مربوط ګڼي وايي، دې طایفې ځکه چې د اراکوزیا له زړو او لرغونو اوسېدونکو سره نږدې اړیکي درلودې، نو په تدریجي مهاجرت سره یې ځانونه د هلمند (هېرمند) او ارغنداب رودخانو ته راورسوله او د اراکوزیا په پراخه سیمه کي مېشت سوه.

د بریسایا قبیله هم د آریائیانو له مهاجرو قبیلو څخه وه، چې د ځینو مؤرخینو په عقیده سره د (اتومنتان = هلمند) او ارغنداب په ناوو کي مېشت سوه، چې اوس د برېڅو په نامه سره یادیږي، داسي هم ویل کیږي په هغه وخت کي چې د آریائیانو نوري قبیلې د اکسوس له حوزې څخه په ټوله آریانا کي منتشرېدلې، نو دې قوم د (هیتومنت – هلمند) او (هروویتي) وادیاني د زرغونوالي او سرسبزی په لحاظ سره خوښي کړې او هلته یې په کښت و کر پیل وکړ، دا نه ده معلومه چې د آریایي قومو تر راتګ دمخه په اراکوزیا کي کوم قومونه اوسېدله؟ دا چې په ځینو ځایو کي دې ته اشاره سوې ده، چې مهاجرو اریائیانو د اراکوزیا له خلکو سره نږدې مرواده درلوده، نو بیا دا پوښتنه پیدا کیږي، چې آیا د هغه وخت مرواده کوونکي او مناسبات پالونکي آریائیان وه او که نور څوک؟

د هند معتبره تاریخونه لیکي، چې بهارته قوم د ارغنداب د حوزې له لاري څخه پنجاب ته تللی دی او ددې قوم یو پاچا چې (دیوا داسا) نومېده له اراکوزیا والو سره جګړې کړې دي، نو ځکه د ویدي سرودو په استناد سره دا هم ویلای سو، چې د آریائیانو خپل منځي جګړې د

(c) ketabton.com: The Digital Library



هراویتي په حوزه کي پېښ سوي او لویه جګړه یې د لسو پاچاهانو د جګړې په نامه سره یاده سوې ده، له دې څخه دا هم څرګنده سوه، چي د بهارته قوم یوه لویه برخه دلته پاته سوې ده.[1]

همدا رنګه ساک (سکزي، ساکزي، ساکي) لرغوني قوم دی، چي د ساک تېر د آمو ها غاړي ته د پامیر په شاوخوا کي د هومه راوړونکیو یا د ګړندیو ساکانو په نومو د هغه پاچاهانو تر اداري لاندي او سېدل او د پارت (خراسان) له لاري د (زرنګه- درنګیانه - زرنج) مځکي ته را تېر سو، خپل نوم یې ساکستان ته ورکړی و او هم یې د هندوکش په شمالي سیمو او باختر کي ژوند کاوه، چي بیا له دې ځایه لوېدیځ او ختیځ خواو ته ولاړل او د دوي پېښي د آریانا د تاریخ برخه ګڼل کیږي.

(موسیو هاکن) په خپل کتاب کي چي (په افغانستان کي د فرانسې د لس کلنو کیندنو پایله) نومیږي وایي:.دښت مشتي ساکان تر ډلیز مهاجرت له مخه په باختر کي یونانیانو ته راتلل او د سرتیرو په ډول نوکران کېدل، د دوي ځیني مشران لوړو ملکي او عسکري رتبو ته رسېدلي وه، چي د هغوي له جملې څخه هرایوس (Heraius) د یونانو باختري د وروستیو پاچاهانو په تقلید سکه وهلې او دا سکه یې (هاکن) په تاشقرغان کي موندلې وه، دا تېرونه له باختر څخه د هریرود ناوې او له هغه ځایه د هلمند او ارغنداب ناوو ته را شوه سول او د پاچاهۍ په جوړولو یې لاس پوري کړ، چي د دوي د هیواد وېش ختیځ پلو ته د بولان شاوخوا ته د سندهتر ناوې پوري هم رسېدلی و او هغه یې (کي پن. Ki Pin) بللی دی.

---

۱.عبدالقدوس نجیب، اراکوزیا (کندهار)، ۳۹ مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ساکه له دې تېرونو څخه چې د ارغنداب او کښته سنده په ناوو کې اوسېدل، یوه سړي چې (مایوس–Mayos) نومېده، د (۷۲ ق م) په شاوخوا کې د (بازیلیو زبازیلیون میګا لیوس مایوس) په عنوان یعنې (لوی شهنشاه مایوس) سکه وهلې ده او د خپل هېواد وپش یې تر ټکسیلا پورې رسولی دی، چې یوه ډبرلیک یې په تګسیلا کې پر مشنې غاب کشف سوی، چې نېټه یې (۷۸ ق م) ده.

تر مایوس وروسته دده له پاته کسانو څخه دوه نور هم د سکو له مخې پېژندل سوي، چې یو یې (ازیس – Azes) د (۵۰ ق م) په شاوخوا کې او بل (ازیلیسیس – Azelises) دی.

دوې پر یوه پېر (عصر) اوسېدل او د دواړو پر سکو باندې په یوناني خط (لوی شهنشاه) لیکل سوی دی، داسې سکې هم لیدل سوي، چې د دواړو پاچاهانو نومونه یو په یوناني خط او بل په خروشتي لیکل سوي دي.

هغه وخت چې دغې ګرځندوي کوچي تېر د آمو د بهېدو جنوب ته د باختر په سیمو کې له پکهت – پښت او پښتنو سره ګډ سو، نو د ساکه نوم یې پر دغو پښتنو کښېښود، چې په زابل او کابل کې د پښتنو د سهاک قبیله او په هلمند کې ساکزي (سکزی) تر اوسه ددغه نامه ریښه لري، د دوې نورې قبیلې په خراسان کې د هریرود له ناوې څخه د خزر بحیرې تر کڅو پورې د پارت په نامه مېشته سوې او مځکه یې هم د دوې په نامه یاده سوه، څنګه چې له خپل اصلي ټاټوبي (باختر) څخه د هریرود ناوې ته تر دامغان (د خراسان یوه برخه) پورې تللي وې، نو د ژوستن په وینا د پارت په نامه مشهورې سوې، چې پارت په

(c) ketabton.com: The Digital Library



سکایې (ساکي) ژبه تبعید سوي ته وایي او دوي هم له باختره هجرت کړی و.

(سر او لف کرو) انګرېز افغان پېژندونکی د هلمند د ساکو د حکمرانانو په نومو کي له پښتو سره ډېر ورته والی موندلی او لیکي چي د ساکي حکمرانانو دا نومونه پښتو ته نږدې دي: سپاله که دمه (سپاله = سپاه)+(ګه - د تجلیلي تصغیر نښه)+(دمه=جلال - برم) چي ټوله جمله د (مجلل سپاهي) په معنی ده.

بل نوم (سپاله هوره) دی: (سپاله=سپا+هوره=اور یا هور) د اور سپاهي یا لمر سپاهي او یا د رڼا سپاهي په معنی ده.

همدارنګه د (چستنه) نوم همدا د پښتو (څښتن) د مالک او خاوند په معنی دی.

که موږ (پارت–پارتهوه) د ژوستن په وینا (تبعید سوی) او (مهجور) وبولو، نو په پښتو کي یې اوسنی شکل (پردی) یعني (بېګانه او مهاجر) دی، یا به د پښتو (پرته) وي، (د درېیم توري په زور کي) چي دغه هم د لیري معنی لري، لکه چي وایي: له مخه مي پرته سه، یعنې له مخه مي لیري سه، یا پلانی پرتي وایي، یعنې له عقله لیري خبري کوي.

داسي ښکاري چي سیستان ته د ساکه ټبرونو لومړني مهاجرتونه تردې وختو ډېر پخوا پېښ سوي دي، د (موسیو فوشه) په وینا لوی کوروش (۴۵۰ ق م) د سیستان د نیولو پر وخت دا (ساکان) د دوي د ښو خدمتونو له امله (ښه کړوني - نیکو کردار) چي په یوانانې کي (ایویرګت - Evergetes) بلل، همدا خلک د (۳۳۰ ق م) په

(c) ketabton.com: The Digital Library



شاواخوا کې پر همدې مځکه (هلمند او سیستان) اوسېدل، چې سکندر هم دوي نازولي وه، او ښه نرمه رویه یې وروسره درلوده.[1]

کاندین اکاډمېسن محمد ابراهیم عطایي په خپل اثر (هلمند د کلتور په ساحه کې) داسي لیکي:ـ د سکندر تر توپان وروسته چې د هغه امپراطوري ټوټې ټوټې سوه، نو د آریانا خلک پدې بریالي سوه، چې ځانونه خپلواک کړي هغه و، چې د (یونان او باختري) کورنۍ په وجود راغله، د باختري حکومت سره د نورو سیمو په اړخ کې د هلمند خلکو هم د یووالي (اتحاد) فیصله ومنله، سره له دې چې یو ډېر شمېر صحرا ګرځېدونکي بدویان (ساکان) په هجرت دلته (هلمند ته) راغله، خو ددې ځای اصلي خلکو دې ته ترجیع ورکړه چې د سکندر ځایناستو تر سلطې د صحرایي خلکو سره سازش ښه دی، ساکان او ددې ځای اوسېدونکي آریایي قبایل (پارتیان) سره ګډ سول، د دوي څخه د (پهلویانو) په نامه یوه قبیله منځته راغله، د یونان او باختري کورنۍ د ضعف سره د هلمند قبایل په قوت کې وه، نو دا و چې د (پهلوا) کورنۍ ځانته جلا سلطنت جوړ (تأسیس) کړ او مرکزیت یې د ارغنداب د سیند حوزې (اراکوزیا، اراکوسیا) ته نقل کړ، ددې کورنۍ لوی پاچا (کندوفارنس) د (۹۱–۴۱ ق م) د اراکوزیا (کندهار) یوې خواته تر پنجاب پوري او بلې خواته د هلمند تر وروستي مصب پوري ټوله ملکونه اداره کول.[2]

لوی استاد قدرت الله حداد فرهاد داسي لیکي:.ساکان دومره لوی قوم دی، چې شپږ اووه زره کاله دمخه ټول ذکر په تاریخونو کې د دوي

۱.پوهاند عبدالحی حبیبي، د افغانستان لنډ تاریخ، ۶۳ مخ
۲.کاندید اکاډمېسن محمد ابراهیم عطایي، هلمند د کلتور په ساحه کې، ۴۱ مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



دی، په پارسي او عربي کتابونو کي سکايي او سکزي راغلي، په تاریخي اتلسونو کي ساک او ساکاز (Sakas) لیکل سوي دي، لومړی دوي په مرکزي آسیا کي وه، بیا دوي له شمالي افغانستان څخه د افغانستان جنوب[1] ته تللي او هلته یې لوی دولت جوړ کړی، چي بیا شمالي هند او ورسته د هند جنوب ته تللي دي.[2]

## اویستایي مدنیت او هلمند:

د افغانستان د اریایي خلکو دوهم مدنیت په بخدي (بلخ)، د هندوکش په شمالي او سویلي سیمو او د هلمند په لرغوني سیمه کي و، چي د (۱۲۰۰ م ز) په شاوخوا کي پیل سوی او له هغه پېر څخه یو کتاب د اویستا په نامه پاته دی چي پنځه بابه لري.

د اویستا له کتابه څرګندېږي، چي آریایي خلک د کوچیتوب، مالداری او کډه پر شا ژوندانه مدنیت ته رسېدلي او په کلیو او ښارو کي مېشت سوي دي، د اقتصادي او ټولنیز ژوند په پوړیو کي یې یو نوی پېر پیل کړی دی.

په دې پېر کي لومړی ځل په بلخ کي پاچاهي رامنځته سوه او د "یمه" (جم) په نامه یو پاچا د بلخ ښار ودان کړ او هم په دغو خلکو کي یو ټاکلی ائین د (مزد سینه = مزد یسنا) (یعنې د خدای ستاینه)، په نامه رامنځته کړ، چي مدني او روحي قوانین او هدایتونه یې لرل، مؤسس یې (زره نوشتر = زردشت) و.

۱.یعنې هیتومنت (هلمند) ته راغلي دي
۲.قدرت الله حداد فرهاد، د افغان ملي تاریخ، ۱۰۸ مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



د زریر زوی (بستوئیري - Bastawairi) د بُست ښار ودان کړ، هلته یې ډېر ژر خیراتونه وکړل او هم یې د سلطنت مخالفان، چي هلته وه، له منځه یووړل.

تر اسفندیار ورسته له دې کورنۍ څخه د ځینو نورو پاچاهانو نومونه اخیستل سوي دي، لکه (و هومن سپینداتان)، (بهمن اسفندیاري او لوریې (همای) او (د اراب) د هما زوی، دا پاچاهان د سیستان او هلمند په وادۍ کي داستانونه لري.[1]

د اویستا مذهب د هلمند د خلکو یوائیني مذهب و، چي د عربو تر راتګ پوري یې د هغه پیروی کوله، د سیستان د تاریخ لیکوونکی وایي، چي د زرنج د ښار د (کرکویي) دراوزې په یوه اور عبادت ځای (آتشکده) کي تر هغه وخته رښا وه، چي کله عربو اسلام راوړ او بیا ددې ځای خلکو جزیه قبوله کړه، نو عربو هم تر یو وخته پوري د دوي په آئین کارونه درلود.

## سکندر مقدوني (یوناني) په هلمند کي:

هغه وخت چي مقدوني سکندر د یونان څخه د پارس پر ضد جهانګیرۍ ته راووت، نو د پارس د هخامنشي دولت سلطه په آریانا کي پر ځینو برخو چي د هلمند سیمه پکښې شامله وه خپره سوه.

سکندر چي د بریښنا په څېر په منځني ختیځ کي د پارس متصرفات یو په بل پسې لاندي کړه، نو د هخامنشي دولت پایې وربړدېدلې څو

---

۱.د افغانستان لنډ تاریخ، ۱۳ مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



سکندر پر پارس هم غلبه وکړه او د پارس پلاز (پرسي پولیس) یې اشغال کړ.

پارس ټواک (درېیم داریوش) چي د سکندر په جګړه کي مات سو، نو د آریانا خواته راننوت چي د دې ځای له خلکو څخه د سکندر پر ضد ګټنه وکړي، خو مشران چي له پخوا څخه د پارس د ټولواک لپاره په کمین کي ناست وه، نو د باختر ټولواک (بسوس) د هلمند او زرنګا (سیستان) مشر (باستانتاس) او د هري (هرات) مشر (ستي برزن) د یو متحد پکت په جوړولو دعوت کړل، هغو هم ومنله او پریکړه یې وکړه، چي لومړی به (داریوش) وژنو او بیا به د سکندر سره مقابله کوو.

د آریانا د اداري مشران په لومړي تصمیم کي بریالي سوه او د پارس ټولواک یې د (۳۳۰ ق م) په دوبي کي د (هیرکانتیا) پر مقام مړ کړ، خو د سکندر په مقابل مغلوب سول.

سکندر چي د داریوش تر مرګ وروسته ځان په لوی اقتدار کي ولید، نو د آریانا پر خوا را روان سو، د هري (=هرات) تر نیولو وروسته چي سکندر د هلمند خواته رارهي سو، نو په هرات کي چي دده د جنرالانو او عسکرو پر ضد ولسي خلکو قیام وکړ هغه یې ډېر مړه کړل، دا کودتا د هلمند، هرات او بلخ د مشرانو په ګډ تصمیم عملي سوه، خو سکندر چي بیرته ور وګرځید او د هرات خلک یې مړه کړل، نو د آریانا د مشرانو له پروګرام څخه خبر سو او دا ځل یې پر هلمند په ډېر شدت حمله وکړه، کومه جګړه چي د سکندر او هلمند د خلکو تر منځ وسوه، سکندر هغې ډېر وارخطا کړ، د هلمند خلک ټوله

(c) ketabton.com: The Digital Library



سپاره وه او په نېزو يې جګړه کوله، د دوي سپاهي ګرۍ سکندر ته ډېر خوند ورکړی و، نو ځکه يې هلمند د چټکو سپرو ملک وباله.

سکندر د هلمند تر نیولو وروسته مخ د باختر (بلخ) پر خوا ارکوزیا (کندهار) تـه رهي سو او ددې ځای (هلمند) د آرامۍ لپاره يې يوه مجهزه قوه او خپل پاخه منصبداران پرې ښوول، د هغو د استوګني لپاره يې کومه عسکري چوڼۍ ودانه کړه، پر هغې يې د (بروتتاري اسکندريې) نوم کښېښود.

سکندر چي د هلمند څخه ووت ددې ځای دوو مشرانو د سکندر د څو قوماندانانو په ګډون د يوې کودتا پروګرام طرح کړ، خو مخکي تردې چي پلې سي، سکندر په خبر سو او هغه يې خنثی کړه، وايي چي سکندر په خورا قهر ددې کودتا جوړونکي چي په هغو کي دده نږدې ملګري يوناني جنرالان هم شامل وه، پخپل لاس ووژل.[1]

## هلمند په ملک الطوایفي مرحله کي:

د کوشاني لويي پاچاهي د انحطاط په دور کي چي يفتليان او يا د عربو مؤرخينو په اصطلاح (هياطله) کورنۍ راپورته سوه، نو مرکزي حکومت د پارس د ساساني پاچاهي تر تهديد لاندي و، خو په (۴۲۵ ز) سنه کي د يفتليانو او ساسانيانو تر منځ جګړه وسوه، چي په هغه کي د پارس ټولواک د (لوت) پر دښت محاصره سو، بالاخره يې (قباد) نومی زوی د باج د تاديې تر وخته پوري په تضمين پرېښود.

۱.کانديد اکاډمېسن محمد ابراهيم عطايي، هلمند د کلتور په ساحه کي، ۳۹ مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



له دې وروسته ټول آریانا تر یو ملوک الطوایفي جریان لاندې راغله او د هلمند سیمه هم یوه داسې منطقه وه چې یو کوچني پاچا (خان) اداره کوله.

د آریانا دا کوچنۍ پاچهي د یفتلیانو بقایاوو (کابل شاهانو) په بهرني چارو کې اداره کوله.

سره له دې چې دلته ملوک الطوایفي جریان په ټولو مواردو کې تطبیق و، خو د ساساني کورنۍ وروستي پاچا (یزدګرد) د عربو څخه په تېښته دلته ځان راورساوه، چې په راتلونکو پاڼو کې به په مفصل پرې بحث وکړو.[1]

## هلمند د اسلامي لیکوالانو په اند:

اسلامي مؤرخین د سیستان د آبادۍ او زرغون والي ډېرې کیسې کوي، دوی وایي چې د هلمند پر سیند درې بندونه تړل سوي وه، چې د هغو په اثر به لویې ویالې سرو کال ډکې بهېدې او ځمکې به په کرل کېدې، نوموړې درې بندونه د (اوبو، ریګو او مفسداتو) د بندونو په نامه نومېدل.

مؤرخین وایي، چې د دې ځای خلک ډېر ماړه او زړه وروه، څنګه چې دا ځای ډېر آبات و، نو غښتلي قومونه چې به ورته راغله دلې به مېشت سول، دا تر هغه مهاله پورې چې څو به بل غښتلی قوم متوطن کېده، مؤرخین د سیستان د نوملو وجه تر ټولو د (ساک) قبیلې لېږد او دلته مېشته کېدل مهم ګڼي.

---

۱.همدا اثر، ۴۲ مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



ساکان هغه آریایي قبایل وه، چې له مېلاد څخه تقریباً یوه نیمه پېړۍ تر مخه د آمو (=سیحون . جیحون) تر سیند را پورې وتل او د هندوکش په شمال کې یې د یونان باختري حکومت له منځه یووړ او کله چې د اشکانیانو سره مخامخ سول، نو د هغو سره یې په جګړه کې دوه پاچاهان مړه سول، څو د جنوب خواته د شاتګ (عقب نشینۍ) په ډول راغله او دلته په هلمند کې یې استوګنه غوره کړه، ساکانو د هلمند حوزه په ساکستان یاده کړه څو ورو ـ ورو له ساکستان څخه په سیستان واوښته.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دوهم څپرکی

## د هلمند (هیتومنت) لرغوني کورنۍ

په اویستا کې ددې سیمې نوم هیتومنت راغلی دی، چې معنی یې (بندونو درلودونکی =یا پرتمین) ده، همدا ډول د بندهش په کتاب شلم فصل(۶، ۱۷، ۲۱او ۲۲) برخو کې ددې سیند یادونه سوې ده.

په گرشاسپ نامه کې ددې سیند نوم داسي راغلی:

دومنــــــز تالـــــب هیرمنـــــد
بــد آب خــوش وبــي تســه؟ وکشــمند

ابو القاسم فردوسي په څلورمه هجري پېړۍ کې وايې:

چـــو آمـــد بـــه نزدیکـــي هیرمنـــد
فرســـــتاده ای برگزیـــــد ارجمنـــــد

قطران تبریزي وايي:

از دست او شکوه برد (نیل) و(هیرمند)
وزتیــغ او ســتوده شــود پیــل واژدهــا

(c) ketabton.com: The Digital Library



استاد عنصري وایي:

بغــر تو شــد خــوب همچــو عقــد بــدر
هــوای بســت و لــب هیرمنــد و د شــلکان

د هلمند نوم د زردښت له کتاب (اویستا) څخه وروسته په شاو خوا ټولو تاریخي نسخو کي، لکه بندهش، دینکر، ایاتکار زریران، ویدا، سنسکریټ، مینوی خرد، فردوسي په شاهنامه او داسي نور بې شمېره تاریخي متنونو کي يې د نامه ثرک سته.
له درې زره پنځه سوه کاله راهیسي د کیاني کورنۍ، اسپه کورنۍ، د زال او رستم کورنۍ، امورجیزیان کورنۍ، ساکانو کورنۍ، د شنسب بابا کورنۍ، د صفاریانو کورنۍ او حاجي جمال خان بابا کورنۍ یاد.

## کیاني کورنۍ:

هلمند د لرغوني تمدن ځانګو ده، هلمند د کیانیانو ټاټوبی او دوی په خپل وار د شاهنامي قهرمانان بلل سوي دي.
د زردښتي مذهبي روایاتو له مخي لکه اویستا او نورو پخوانیو او زړو نسخو لکه، دنیکر، بندهش، ایاتکار زریران او نور پهلوي زاړه اثار بیا تر اسلامي دورې پوري لکه د فردوسي شاهنامه، بانو ګشسپ نامه ګرشاسپ نامه او داسي نورو څخه څرګندیږي، چي د کیانیانو سلطنت تر کیخسرو وروسته مستقیماً په هلمند او سیستان پوري اړه پیدا کوي دا ښیرازه سیمه د هلمند سیند له برکته د کیانیانو اصلي ټاټوبی او هلمند د کیانیانو وطن بلل سوی او پېژندل سوی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



کیاني کیانیان یوه کورنۍ ده، چې د پاچهۍ لړۍ یې له بخدي پېشدادیانو (فراداتا) څخه وروسته پیل او بیا تر هلمند غاړو پوري راورسېدل، د اویستا د یادابښتونو له مخي چې ددې کورنۍ لومړنی ټولواک کواته (کیقباد) و، نوموړی د رستم پهلوان د پلار په غوښتنه د البرز په غره کي دپاچهۍ پر تخت کښیناست او پنځه لس کاله یې پاچهي وکړه، ددې کورنۍ د نورو پاچهانو نومونه دادي: کي اپیوه، کي ارتین، کي بیرشن، کي پښن، کوي اوسن یا کیکاوس، کوي سیاورشن یا سیاوش، هوسروا (کیخسرو) چې خپل دښمن افراسیاب توراني یې وواژه.

په هغه لومړی لاس تاریخي نسخو او کتابو کي چې مخکي یې یادونه وسوه، د کیاني کورنۍ د پېژندلو لپاره جلا ځپرکی نومول سوی دی او د فردوسي په شاهنامه کي د کیانیانو تاریخ ته اووه ویشت زره بیته ځانګړي سوي دي.

څه وخت چې موږ وایو چې هلمند له بلخ سره همزولی تاریخي شالید لري، هغه ځکه چې په آریانا (افغانستان) کي د کومو درو لویو کورنیو پاراداتا (=پیشدادیان)، کوي - کي (=کیانیان) او اسپه کورنیو یادونه کوو، ددې درو کورنیو څخه وروسته دوې کورنۍ (کیاني او اسپه) یې د هلمند په تاریخ پوري اړه لري، د اروابښاد کهزاد په وینا دوي د آریانا د قبل التاریخ زماني پاچهان دي، چې په دا وروستیو یعنی د زردښت د راڅرګندېدو سره (۷ - ۹ قبل المېلاد پېړیو) کي چې دا وخت ویشتاسپه (ګشتاسپ) د زریر ورور او د بستویري اکا ټولواک، د دوي د زردښتي دین د خپرولو لومړنۍ سیمه د هلمند ښېرازه ورشو یا کیاني ویجه (د کیانیانو ټاټوبی) ده او دا یوه

(c) ketabton.com: The Digital Library



تـاریخي دوره ده، ددې کـورنۍ پاتـه شـوني پـه دا ورسـتيو کـي، چـي د اسلامي دورې پيل دی هم روښانه تاريخ لري لکه يعقوب ليث صفاري (هلمندی)، امير خلف صفاري (هلمندی) بيا تـر لسـمي هجري پېړۍ پوري د احياء الملوک ليکوال ملک شاحسين کياني (هلمندی) چي ددې کـورنۍ تـاريخ څرګنـدوي، اويسـتا دې کـورنۍ کـاويم هورينـو (=کيانيـان) تـه د کيـاني فـر، کيـاني سـلطنتي عظمت او جلال نسـبت ورکړی دی.

## اسپه کورنۍ:

د اويستا په (زمياديشت) او (فروردين يشت) کي د کاوي (کياني) کـورنۍ لـړۍ کـوه هـو سـراوا (=کـی خسـرو) تـه رسـيږي او د ځينـو څېړونکو په وينا، چي د اويستا لـه مخي د کياني کورنۍ لړۍ اخري کـړۍ خسـرو بانـدي ختميـږي، دلتـه د اويسـتا څرګنـد شـهادت يـوې خواته او د اسپي د کلمي راپيدا کېدل د دوي په نومونو کي بلي خواته د کاوي د کورنۍ د بېلتـون سبب کيـږي او څيړونکـي او تاريخپوهانو ددې لړۍ د تاريخ د څرګندولو لپاره دوي د کيخسرو پـه وروسـتي او د لهر اسپ په لومړي تـن سره بېل کړي دي، مګر لـه آره دا يـوه کيـاني يـا خوبيخي پېشدادي کورنۍ ته يې لړۍ رسيږي، د اسپه کـورنۍ چـي لـه (کي لهر اسپ) څخه پيليږي په را وروسته کي نور غښتلي پاچاهان هم تېر سوي، چي يو لـه دوي څخـه د همـدي لهراسپ زوی ګشتاسپ دی، چي د همده په وخت کي زراتشتر (=زرتښت يا سپين تمـان) رامنځ تـه سوی او د زردښتي دين او ائين د خپرولو بنسټ يـې لـومړی پـه هلمنـد کي کښېښود، تر ده وروسته ددې کـورنۍ څخـه اسفنديار دده زوی، د

(c) ketabton.com: The Digital Library



ګشتاسپ ورور زرير، د زرير زوی بستوري چي ويل کيږی دبُست ښار هم ده ودان کړی دی.

د ګشتاسپ دوې لوڼې (همای) او (به آفريد)، د دوي بل ورور پشتوتن چي دا لړۍ بيا ډېره غزېږي دا ټول د همدې هلمند د غاړو او سېدونکي او په خپل وخت ددې ښېرازي سيمي څښتنان تېر سوي دي، ويل سوي چي د ګشتاسپ اولاده نهويشتو تنو ته رسېده.

## د زال کورنۍ:

د زال د کورنۍ لړۍ هم د تاريخپوهانو د څېړنو له مخي جمشېد پاچا ته رسيږي، خو ددې کورنۍ روښانه تاريخ په هلمند پوري تړلی دی، چي پيل يې په دې ډول دی:.طورک (=تورک)، نور، نريمان له ده څخه شم، اثرط (اسرت) له ده څخه سام له ده څخه يو زوی دنيا ته راغلی، چي سور مخ او سپين ويښتيان يې وه ځکه نودی (زال زر=دستان) ونوماوه، د زال څخه رستم پهلوان (=کروړ) وزېږېده، د رستم نوم په تاريخي اثارو کي په مختلفو بڼو راغلی دی لکه: رستم، تخهمک، رس تهم، رس تخم، په پهلوي ژبه کي رستم زال او په اويستا کي راوت ستخم راغلي دي، ژبپوهانو رستم (=رستهم لوی، غښتلی، هځاند، غونډمنډ او کروړ معنی کړی دی)، د زال کورنۍ د کياني (=اسپه کورنۍ) سره په څنګ د خپل هيواد د پولو په ساتلو او د کياني او اسپه پرتم په خوندي کولو کي ډېري قربانۍ ورکړي دي.

رستم، پهلوان او کروړ سړی و، ده د کياني کورنۍ څو تنه (کيقباد، کيکاوس او کيخسرو) د پاچهۍ پلاز ته ورسول، ويل کيږي چي هيڅ

(c) ketabton.com: The Digital Library



یوه پهلوان یا غیر پهلوان د رستم سره د جګړې په میدان کې ډغرې نه سوې وهلای، هغه یو ګرز او ډېر غښتلی آس د (رخش) په نامه درلود.
له رستم څخه هم زیات اولادونه پاته دي، دوې لوڼې یې لکه مهرمن ګشسپ او مهرمن زراسپ او زوی یې سهراب او.... درلوده، د لا زیاتو معلوماتو لپاره دې تر اسلام مخکې او وروسته نسخو کې دې د زال او رستم په اړه داستانونه وکتل سي.

## د امورجیزیان کورنۍ:

امورجیزیان د ډېرو پخوانیو اسکایي قبیلو یو څانګه ده، د دوی د راتګ وخت او صورت نه دی څرګند، دوی د هیرمند (=هلمند) په حوزه کې خپاره او دلته مېشت سول، دوی تر ساکیانو یا اسکایانو مخکې راغلې کورنۍ او تېر دی، چې تر مېلاد مخکې یې ټاکلې موده نه ده څرګنده، په دې وخت کې تازه راغلي اسکایان هم د دوی سره ګډ سوه چې وروسته به یې جلا یادونه وسي.

## د ساکانو - اسکایانو کورنۍ:

ساکان چې په زړو متنونو کې په مختلفو نومونو یاد سوي د دوهم اشکاني فرهاد په وختو (۱۲۸ – ۱۳۶ قبل المیلاد) د سیحون (=امو) تر سیند راپوري وتل او وروسته تر څو جګړو یې د هلمند ښیرازي سیمې ته ځان راورساوه او دلته مېشت سوه، دا ځای چې مخکې درنګیانا نومېده، د دوی په مېشت کېدو سره (ساکستان، سګستان، سجستان) او په اخر کې (سیستان) سو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د دوي يوې قبيلې چي له سيستان څخه د ختيځ په لور هڅه وکړه اراکوزيا يې ونيوله، د مشر نوم يې وينوس (vonones) و، څه موده وروسته تر اټک پوري وتل او پنجاب يې ونيو، ددې قبيلې د سردار نوم ماويس (maues) و.

لکه څنګه چي د امو پورتنۍ حوزه د تخاريانو په مېشتېدو سره تخارستان سره مشهور سو، همداسي د هيرمند حوزه او د درنګيانا سيمه د همدې ساکانو په نامه سکستان او اخر سيستان يعني د اسکايانو ټاټوبی وبلل سو، دوي د محلي عناصرو سره ګډ سول چي سګزي يا اوسنی ساګزي قومونه هماغه د پخوانيو ساکانو جز دی.

## د شنسب بابا کورنۍ:

د هلمند د لرغونو کورنيو څخه يو هم د شنسب (=سوري، زوري) کورنۍ ده، نوري د خرنک زوی دی، په (۳۶ هجري) دده زوی بيا امير پولاد، دده زوی امير کروړ (د پښتو ژبي لومړنی شاعر) د هغه زوی بيا امير ناصرو، دا کورنۍ د اسلام په لومړيو کي په ژمي کي په زيندا ور (زون داور، سون داور، ارض داور، زمين داور) او په دوبي کي په غور کي اوسېده، اوس هم ددې کورنۍ په نامه ځايونه په سروان کلا کي د سورو (سوريانو) او (کروړيانو) په نامه کلي شتون لري.

## صفاري کورنۍ:

دا درنه کورنۍ د درېيمي هجري پېړۍ په دوهمه نيمايي د هلمند له (صفار) سيمي څخه پر سر د قدرت راغله او ددې کورنۍ څخه يعقوب د ليث زوی د اسلامي دورۍ لومړنۍ افغاني امپراطوري جوړه کړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



- یعقوب د لیث زوی
- عمرو د لیث زوی
- طاهر د محمد زوی
- لیث د علي زوی
- ابو علي معدل د علي زوی د لومړي لیث لمسی او داسي نور...

هغه لرغونې، درنې او غښتلي کورنۍ چي مو ددې سیمي د ارزښت سره وړاندي کړې، هغه د همدې سیند پر غاړه میشتي سوي، پلونه او د لاسو نښې یې لا په میراث راپاته دي، چي موږ د هند د لویي وچي، نورو لرغونو سیمو او ماورالنهر او د مصر (Egypt=) سره په سیالۍ برابروي، دا نښې او دا د پلو نښې هیڅکله د هېرولو نه دي دلته سړي ته د هیواد د تکړه شاعر (درویش دُراني) بیت سترګو ته ودرېږي چي وایي:

ځو مره ده هېر زېږي دا دنیا چي پکښې تېر شو مه
پلـونه مي لاپاتـه وه او زه د خلکـو هېر شو مـه

## د آل ناصر کورنۍ:

د آل ناصر کورنۍ د هلمند د سیمي د کلتور په اوچتوالي کي لویه برخه لري، دا کورنۍ د ساماني پاچهۍ له سقوط سره په عروج کي سوه.

الپتګین د ساماني کورنۍ هغه جنرال و، چي د یوې کودتا په ترڅ کي یې ساماني پاچهي په ړېږد واچوله او ځان ته حکمران سو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د الپتګین تر مرګ وروسته د نوموړي زوم (سبتګین) پاچا سو، چي د آل ناصر د کورنۍ مؤسس بلل کیږي، ده د خپلي پاچهۍ د مرکز په ډول غزنی له دې کبله وټاکه، چي د شمال پر خوا یې د ساماني طغیانو ختڅی کولو ته لاس لنډ وي، په جنوب کي د هلمند شهزادګان تر اداري لاندي راولي او تر ټولو اړینه دا چي د هند خواته یې د فتوحاتو لار راسته وي.

د سبتګین په زمانه کي د هلمند دوه شهزادګان (توغان خان) او دده رقیب (بای توز) یو د بل پر ضد په جګړو بوخت وه، د دوي اختلاف سبتګین ته موقع برابره کړه، چي د هلمند سیمي اداره پخپل لاس کي ونیسي.

هغه مهال چي سبتګین په هند کي په جګړو بوخت و، د هلمند د کښتنۍ برخي یو شهزاده (ولي الدوله ابو احمد خلف) پر بُست حمله وکړه، خو سبتګین سمدستي پر راوګرځېد او بُست یې ورڅخه ونیو او د خلف تر ګناه ور تېر سو.

د سبتګن تر مرګ وروسته چي دده زوی د آل ناصر د کورنۍ لوی ټولواک (یمین الدوله محمود) پاچا سو، خلف بیا یاغي سو، خو محمود یو وار هغه وبخښی او پر دوهم ځل یې له هلمند څخه ګردېز ته تبعید کړ څو هلته مړ سو.

یمین الدوله محمود څو ځله بُست ته پخپله راغی او دلته دا مفکوره ورته پیدا سوه، چي د یوه تازه دمي قوې د ساتلو لپاره ځان جوړ کړي، ده د همدې مطلب لپاره د بُست شمالي خوا ته یو لر عسکري چوڼۍ جوړي کړې چي په محمودي لښکرګاه یادیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د محمود په وخت کې بُست ډېره ترقي وکړه او په غزني پسې د ټولې غزنوي امپراطورۍ د ثقافت دوهم مرکز و، هر کله چې به غزنوي پاچا دلته راتلی، نو د غزني د هغه وخت شاعران او هنرمندان به ورسره وه او د بُست بازار به یې تود ساتی.

د محمود تر مرګ وروسته د نوموړي زوی (سلطان مسعود) پاچا سو، د دې پاچا په وخت کې د هلمند سیمې زښته ډېره ترقي وکړه، هغه لښکرګاه چې بنسټ یې دده پلار (سلطان محمود) ایښی و، مسعود پسې پراخه کړه، څو د پلاز شکل یې غوره کړ او پخپله پاچا په میاشتو میاشتو له دې ځایه د غزني امپراطوري اداره کوله.

## د حاجي جمال خان بارکزي کورنۍ:

دا کورنۍ هم د هلمند له غیرږي را پورته سوې ده، د هلمند په (ناوه بارکزائي - د بارکزو ناوه) او (نادعلي) کې اوسېدل، حاجي جمال خان بارکزی د (حاجي محمد یوسف بابا) زوی، د (یارو بابا لمسی) او د (محمد نیکه کړوسی) دی، نوموړی د (احمد شاه بابا) سلاکار وزیر و، چې په وروسته کې دوي د (محمد زیو) په نامه نومول سوي، بارکزي د محمد زیو نیکه ګان دي او د بارک نیکه له اولادې څخه دي، دې پیاوړي کورنۍ بیا د سدوزیو تر زوال وروسته د افغانستان واک په لاس کې واخیست، چې په راتلونکو پاڼو کې به یې د (هلمندیانو رول د افغانستان په معاصر تاریخ کي) تر عنوان لاندې تر بحث لاندې ونیسو.[۱]

۱.شریف الله دوست (سرواني) مقاله له(www.tolafghan.com)

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دریيم څپرکی

## هلمند ته د اسلام راتګ

د اسلام ظهور ته نږدې (اوومه زېږديز پېړۍ) کې د افغانستان اوضاع پرېشانه او ګډه وډه وه، يعنې د مادي او معنوي له حيثه دغه هيواد له لوی ټولنيز بحران سره مخامخ و، د بېلګې په ډول د دين له خوا چې د ټولنې د يووالي قوي عامل دی، افغانستان له نهو پېړيو را پدې خوا له تفرقې او تشتت سره لاس او ګرېوان و، علاوه پردې باندې پخوانی زردښتي ديانت د بودايي دين له خمار راوړونکي سېلاب سره مواجه و، د هندوکش په شمالي صفحاتو کې هغه کرښه چې له بلخ څخه تر کندهاره ممتد دی، په لوېديځ کې يې زردښتي ديانت او په ختيځ کې يې بودايي ديانت مروج و، دغه وروستی دين له (۲ ق م) څخه مخ پر عروج و او زردښتي عرف يې ګام پر ګام شمالي صفحاتو او د هلمند (=هيرمند) په ناوو کې وروسته کاوه، برهمني عرف هم په تدريج سره مخ په وړاندې تلی او د هند کوه په جنوبي صفحاتو کې يې معبدونو له بودايي معابدو سره سيالي کوله.

(c) ketabton.com: The Digital Library



شیوایي طریقو د هندوکش په جنوبي صفحاتو کي له لومړۍ عیسوي پېړۍ څخه او آفتاب پرستي (لمر نمانځه) د (متراکیش) چي د اویستا د آتش پرستۍ (اور نمانځنه) د یادګار جزو، په زمینداور (هلمند) او د هیواد په مختلفو سیمو کي تر نهمه عیسوي پېړۍ پوري همدارنګه مختلفو هندویي طریقو په زابل، کابل، ننګرهار، لغمان، پاختیا او د سندهد سیند په ښې غاړو کي رواج درلود او هر یوه ټاکلي معبدونه په دغو ځایونو کي درلودل.

عیسوي نسطوري طریقې هم له څلورمي عیسوي پېړۍ څخه تر شپږمي عیسوي پېړۍ پوري د طوس، مروي، هرات او د غزني په ولایتونو کي ګام ایښی و.

د دغو مذهبونو لوی معبدونه لکه د بلخ د (نوبهار بودایي) معبد، د هلمند (زمینداور) د آفتاب پرستۍ د (زور، زون، سون) معبد، د کاپیسا د آفتاب پرستۍ د (آرونا) معبد، د کابل د خیرخانې د کوتل (سوریه برهمني) معبد او د لوګرد (سګاوند هندویي) معبد، د افغانستان د تاریخ په پاڼو کي مشهور دي.[1]

هغه ورځي د افغانستان ټولنه د ژبي په لحاظ د مختلفو مذاهبو له تعدد څخه په لړ ګډوډي او انارشي ګرفتاره نه وه، د دې لامله چي د هیواد جغرافیایي جوړښت د لوړو غرونو په واسطه په متعددو وادي ګانو او صفحاتو وېشل سوی و او هري وادۍ او هر ولایت بېله آب و هوا او ګوښې تاثیر درلود، د یوه ولایت او بل ولایت په منځ کي کافي اړیکه او اختلاف نه و موجود، ځکه چي د تګ راتګ لاري لږي او

---

(c) ketabton.com: The Digital Library



ګراني وې، هري سيمي خاصه ژبه يا خاصه لهجه درلوده او د اسلام ظهور ته نږدې په ټول هيواد کي دېري ژبي رايجي وې، لکه سکزی يا ساکزی، دري، تخاري سانسکريت او پراکيتونه يې هروي، زاولي او نوري ډېري لهجې.

له (۱۲ هـ) څخه تر (۲۲ هـ) پوري د عربو د بې مثاله عسکري فتوحاتو بيرغ د عربستان د وچي په ختيځه کي د مداين پر سر باندي چي ساسانيانو د څو پېړيو امپراطورۍ پلازو، ورپېده، همدارنګه عربستان په شمال (دمشق او شام)، د ختيځ روم د اووه پېړيو د امپراطورۍ په اسيايي مرکز د عربستان په لوېديځه کي، په مصر او نوبه کي دغه بيرغ پر رپېدو راغی، د دغه حيرت انګېزه فتوحاتو توپان لا په دغو درو خواوو کي پرمختګ کاوه او د عربو پوځونو يو په بل پسې د نړۍ مشهور ښارونه لاندي کول، چي له دغي جملې څخه د عربو يو څه فاتح عسکر چي د پارس هيواد يې سرتر سره ونيوه او ساساني يزدګر يې تعقيباوه، د افغانستان پر لور مارش وکړ، په دغه وخت کي لوېديځ ولايتونه او د هيواد شمال چي د ساساني دولت او د لوېديځ ترکانو تر يو کلنۍ استېلا لاندي راغلی و[1] او بيا يې تر چيني نفوذ لاندي ژوند کاوه، متعدد ولايتونه او مختلف تشکيلات يې درلودل، په دغو نواحيو کي د افغانستان محلي حاکمانو او اميرانو د وطني حکمرانانو په حيث چي د بهرني اطاعت لاندي وې، حکومت کاوه، دغه حاکمان او خلک د پردو له تسلط څخه خوابدي وه او فرصت يې لټاوه چي له چيني، ساساني او ترکي نفوذ څخه ځانونه

۱.ساساني تسلط په آريانا کي تر نورو ځايو د هلمند پر حوزه ډېر خپور و.

(c) ketabton.com: The Digital Library



خلاص کړي، دوي یوائې نه سو کولای چې له خپلو لویو او متعددو دښمنانو سره مقابله وکړي، په دغسي وخت کي چې ساساني دولت د عربو تر هجوم لاندي و او افغانانو له لیري ددغي جګړې ننداره کوله، بالاخره یزدګر مغلوب سو او په (۲۲) هجري کي آریانا (افغانستان) ته د پناه راوړونکي په حیث راغی، مګر افغانانو د موافقت څېره او خلاصه تنده وړ ونه ښووله او هغه مجبور سو، چي له مروې څخه ماوراء جیحون ته تېر سي، او د فرغاني له ترکانو څخه مرسته وغواړي.

د عربو شل زره تازه دمه عسکر د احنف بن قیس تر قوماندانۍ لاندي له بصرې او کوفې څخه د یزدګر په تعقیب پارس په شمال ختیځ کي را روان او لومړی ځل د طبسین له لاري او د عربو مؤرخینو په قول د افغانستان له دروازې څخه افغانستان ته راننوتل او تر مروې ورسېدل، یزدګر د ترکو له مرستي او کومک سره د جیحون له هغي خوا مقابلې ته راغی، کله چي د عربو لښکر د افغانستان په خاوره کي تېرېده، افغانانو سعیه کوله چی بې له اړتیا د راغلو مېلمنو په وینو خپل لاسونه سره نه کړي او پرې یې ږدي چي د ساسانیانو یعنې مشترک دښمن ریښې ښې وروباسي، همدغسي وسوه، احنف د یزدګر د درې زره لومړنی لښکر د مروې په جګړه کي محوه کړ او د ترکو خان یې مجبور کړ چي په شا ولاړ سي، مګر یزیدګر لا ژوندی و او د شمالي افغانستان په ولایتونو کي یې یوه خوا بله خوا هڅه کوله، چي چینیانو، ترکانو او د سغدیانې او نورو ځایونو له محلي حاکمانو څخه مرسته لاسته راوړي او په پارس کي هم خلک د عربو پر ضد تحریک کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



یزدگرد په تخارستان کي د هغه ځای د محلي پاچا سره او سېده، چي نمائنده يې له چين څخه بېرته راغی او د چين له دولت څخه يې د معاونت په باب منفي ځواب راوړ، چي د ډېري مسافې له لاسه د هغوي لخوا مرسته نسي کېدای، نو یزدگرد له مایوسی سره له تخارستان څخه بلخ ته ولاړ او زوی يې فېروز په تخارستان کي پاته سو.

عربو په (۲۲ هـ) او (۲۳ هـ) کلنو کي د ساسانیانو سره ډېري جګړې وکړې، په هغه وخت کي د خلفاوو راشدينو دوره وه، چي حضرت عمر د اسلامي آمارت چاري مخته بېولې.

بل کال (۲۴ هـ) کي امیرالمومنین عمر (رض) له دې نړۍ څخه رحلت وکړ او د نوموړي څخه وروسته درېیم خلیفه امیرالمومنین عثمان (رض) د مسلمانانو امیر وټاکل سو.

د عثمان (رض) په وخت کي له (۲۴ هـ) څخه تر (۳۱ هـ) کال پوري يې د ساسانیانو، چینیانو او ترکانو لمن له افغانستان څخه ټوله کړه.

له یوې خوا د افغانانو په ګټه تمامه سوه، چي د ساسانیانو، چینیانو او ترکانو ټغر د هیواد له لوېدیځ او شمال څخه بیخي ټول سو، له بلي خوا عربو دا ګټه وکړه، چي د یزدگرد د تعقیب په نامه او د ساسانیانو د رېښو ایستلو په پلمه يې په افغانستان کي سیاسي او نظامي نفوذ پیدا کړ، که څه هم تر دغه وخته عسکري سوقیاتو دومره شدت نه درلود او د عربو پر مختګ په هرات، مرو، بلخ، تخارستان کي عارضي او مؤقتي و، مګر په نیشاپور او سیستان (د هلمند حوزه) کي وضعیت بل رنګ و او دغه دوه ځایه عجالتاً د عربو لښکري او اداري مرکزونه وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



قیس بن الهیثم د عبدالله بن عامر وکیل په نیشاپور کي او یو تن له بني حارثه و څخه د ربیع بن زیاد په وکالت په سیستان کي د عربو د دیني او سیاسي نفوذ په تعمیم مشغول و.

کوم وخت چي ترکان په ماوراء النهر کي تر شا سوه، چینیانو تخارستان پرېښود او ساسانیان په (۳۱ هـ) کي د یزدګرد په وژنه له منځه ولاړل،[1] نو له هغه وروسته د عربو لښکري په مؤقتي ډول ولاړې، خو په بل وار کي یې د هلمند سیمي د اداري لپاره یو نائب (ربیع بن زیاد) راواستاوه، څو د هجري لومړۍ پېړۍ په نیمایي کي د هرات خلکو پر عربي نائبانو یو شبخون وکړ او په دې وخت کي د هلمند خلکو هم د هغوي نائب (ربیع) له زرنج څخه وایستی.[2]

له ربیع وروسته د خلافت له خوا دا وارد (حضرت محمد ص) له نامتو اصحابو څخه یو تن چي عبدالرحمن بن سمره نومېده، د حسن بصري او ډېرو نورو فقهاوو سره زرنج ته واستول سو، نوموړي په (۳۳ هـ) کال هغه ښار کلا بند کړ او د هغه ځای ساتندوی او امیر چي (اپرویز یا پېرزو او یا ایران) نومېده، د روغي له لاري وروړاندي سو، او د دوو میلیونو درهمو او دوه زره نابالغه مریانو په ورکړه یې روغه ورسره وکړه.

له هغه وروسته عبدالرحمن د اسلامي فقهاوو په مرسته د اسلام په خپرولو پیل وکړ، خو په دغه وخت د حضرت عثمان (رض) د شهادت خبر سیستان ته راورسېد، نو عبدالرحمن له خپل طرفه (امیر بن احمر شکري) په زرنج کي پرېښود او خپله د بصرې خوا ته ولاړ، دا مهال د

۱.غلام محمد غبار، په افغانستان کي د اسلام خپرېدل او د عربو نفوذ، ۱ مخ
۲.کاندید اکاډمېسن محمد ابراهیم عطایي، هلمند د کلتور په ساحه کي، ۴۳ مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



سيستان خلکو يا د عبدالرحمن بن سمره له غيابت څخه ګټه واخيسته او پر امير يې بلوا وکړه، نوموړی يې له دې ځايه وشاړه او په دې توګه سيستانيانو وکړای سوه، چې د عربي حاکمانو د اطاعت له کړۍ او لړۍ څخه خپلي غاړي وباسي.[1]

## هلمند په اموي دوره کې:

په (۴۳ هـ) کال معاويه بيا عبدالرحمن بن سمره د دوهم ځل لپاره د سيستان د حاکم په توګه راواستاوه، نوموړي په يوه کال کې د دې سيمې ټولي نا آرامۍ آرامي کړې او تر هغې وروسته د بُست او کش (د کندهار کشک نخود) او د داور (د هلمند پر غاړو زمينداور) او رخج (اراخوزيا، د ارغنداب د ناوې) خواته پر مخ ولاړ او د زور غره ته (د زميندا ور او غور تر منځ) او د هغه ځای لوی بت ته ورسېد، هغه لوی د سرو زرو بت چي سترګي يې ياقوتي وې، د عبدالرحمن په لاس مات کړای سو، تر هغه وروسته عبدالرحمن د زابل او ترنک ناوې ته تر غزني او کابل پوري ولاړ.

په (۴۶ هـ) کال ربيع الحارثي د سيستان والي سو او په (۴۷ هـ) کال يې پر بُست او رخج (رخذ) يرغل وکړ، د زابلستان له پاچا رتبيل (يا زنبيل) سره ونښت او هغه يې مات کړ، ربيع په زابلستان او د ارغنداب په ناوه او سيستان کې د خراج او محاسبې ديوان پرانيست او دا هيواد يې د حسن بصري په مرسته تر اسلامي اداري او قوانينو لاندي راوست.

---

۱.شريف الله دوست سرواني، د هلمند نوميالي، لومړی ټوک، ۱۱۴ مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



تر هغه وروسته په (۵۱ هـ) کال کي عبدالله د ابي بکره زوی سیستان ته راغی، د هغه ځای د ګبرګانو (زردښتیانو) سره ونښت او بیا تر بُست، رخج او کابل پوري پر مخ ولاړ، له رتبیل (یا زنبیل) سره یې جګړه وکړه، مګر په دوو میلیونو درهمو یې ورسره روغه وکړه، پدې توګه رتبیل (زنبیل) غاړه کښېښوده او عبدالله بیرته سیستان ته ولاړ.

په (۵۹ هـ) کال د معاویه له خوا عباد د زیاد زوی د سیستان واکمن وټاکل سو، نوموړی هم له هلمنده تېر، تر کندهار او کابله ورسېد، همدا عباد د معاویه د وخت تر پایه د سیستان واکمن و، هغه وخت چي یزید پر تخت کښېناست، عباد له شل میلیونو درهمو او نورو مالونو سره چي د کابل له غنایمو څخه یې د سیستان په خزانه کي راټول کړي وه، بصرې ته ولاړ او د (۶۲ هـ) کال په لومړیو میاشتو کي یې یزید د زیاد زوی د سیستان په امیری وګماره، دا مهال بیا د افغانستان خلکو د کابل د پاچا په مشرتابع پر عربي ګمارل سویو بلوا وکړه او د خپلواکۍ د ګټلو لپاره راولاړ سول، یزید پر کابل یرغل وکړ، خو له ډېر سخت مقاومت سره مخامخ او پخپله یزید له ډېرو مسلمانانو سره ووژل سو.

دا ځل له اموي دربار څخه طلحه الطلحات او ورور یې عمر د سیستان د تنظیم لپاره راغلل او د عربو هریو سردار د افغانستان د یوې یوې ناحیې واګي په لاس کي واخیستې، هغه وخت چي مروان الحکم په شام کي د اموي پاچاهۍ پر تخت کښېناست، عبدالعزیز د عبدالله عامر زوی یې چي له پلار او نیکه څخه یې د سیستان په چارو کي تجربه درلوده، د سیستان حکمران کړ، نوموړي تر (۶۴ هـ) وروسته په سیستان کي د طلحه لښکر راغونډ کړ او څنګه چي د

(c) ketabton.com: The Digital Library



افغانستان خلکو د عربي حکمرانانو اطاعت نه باله، نو د بُست او کابل خواته یې مخه کړه او د زابل له پاچا رتبیل (زنبیل) سره یې ونښت، هغه یې مات کړ، او له ډېرو غنایمو سره بیرته سیستان ته راوګرځېد، نو موړی تر (۷۲ هـ) کال د اموي عبدالمالک تر وختو پوري په سیستان کي امیر پاته سو، عبدالمالک په همدغه کال (حجاج) د سیستان امیر وټاکه او حجاج له خپلي خوا امیه د عبدالله زوی سیستان ته واستاوه، ده په (۷۴ هـ) کال پر بُست یرغل وکړ او د زابل له پاچا رتبیل (زنبیل) سره یې جګړه وکړه، نو موړی یې په یو خروار زرو او دوه میلیونو درهمو اړ کړ او هم یې له هغه څخه د ځان لپاره دري سوه زره درهمه واخیستل.

پر (۷۵ هـ) کال عبدالمالک اموي، امیه بن عبدالله یې د سیستان له واکمنۍ څخه لیري کړ او پر ځای یې موسی د طلحه زوی راواستاوه، خو په سیستان کي د کړکیچ له امله بیا همهغه عبدالله د ابی بکره زوی چي د سیستان په چارو کي ښه پوه و، د نیمروز چارو ته وګمارل سو، نو موړي په (۷۸ هـ) کال یو لوی لښکر د حریش بن بسطام په مشرۍ سیستان ته راوست، زرنج ښار یې ونیو او د بکوا دښتي له لاري یې پر بُست او زابل یرغل وکړ، مګر رتبیل (زنبیل) دا لښکر له منځه یوووړ، چي د جیش الفنا په نامه یاد سو.

په (۸۰ هـ) کال عبدالرحمن چي سیستان ته راغی، د خوارجو ستر سالار همیان بن عدي له غښتلي لښکر سره په سیستان کي له ده سره جګړه وکړه، خو همیان مات سو، عبدالرحمن د خوارجو ډېر مشران ووژل بیا یې پر بُست یرغل وکړ او تر هغه وروسته یې د زابل له رتبیل (زنبیل) سره سخته جګړه وکړه او له زیاتو ولجو سره سیستان ته ولاړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په (۸۶ هـ) کال مسمع د مالک زوی سیستان ته واستول سو، له ابوخلده خارجي سره يې جګړې وکړې او هغه يې ونیو، خو څنګه چې سمع په همدغه کال مړ سو، دده پر ځای قتیبه بن مسلم راغی، ده چې شمالي خراسان ته مخه وکړه، اشعث د بشر زوی يې په سیستان کې پرېښود، په (۸۸ ه) کال يې په بُست کې له رتبیل (زنبیل) سره جګړه وکړه.

اموي دوره تر (۱۳۰ ه) کال پوري دوام وکړه، ډېري جګړې پکښې وسوې، خصوصاً هلمند، زابل او کابل سیمو کې، د افغانستان خلک له مرو او سیستان څخه نیولې تر کابل او پېښور پوري څه دپاسه یوه پېړۍ په دغو جګړو کې تېره سوه او د افغانستان خلکو په دې مقاومتو کې په ډېره مېړانه خپلواکي ساتله، دوی د اسلام دین هم ورو، ورو ومانه، په دې وختو کې د ګندهارا ولایت له کابل تر پېښوره او ویهند، کندز، سندها او ټکسیلا پوري د ګریکو بودیک د مدنیت او هنر مرکزو او په دغه هیواد کې بودایي او برهمني لوی مزدکونه موجود وه.[۱]

## هلمند په عباسي دوره کې:

په افغانستان کې د راشده خلافت او اموي امارت یو سلو دېرش کلنه اسلامي دوره په کړکېچ او جګړو تېره سوه، ددغه هیواد خلکو لومړی د عربي دولت سیاسي او لښکري واک نه مانه او دوهم دا چې بني هاشم او بني امیه تر منځ په اختلاف کې د آل هاشم پر خوا وه،

۱.پوهاند عبدالحی حبیبي، د افغانستان لنډ تاریخ، ۱۰۵ مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



وروسته تر هغو چې اسلام يې ومانه او له وسلې څخه يې لاس واخيست، تل يې دا هڅه وه، چې خلافت دې بېرته بني هاشم ته ورکړل سي او ددغه انقلاب په ترڅ کې يې کوښښ کاوه، چې خپله واکمني او خپلواکي بيا ټينګه کړي، د همدغې موخې لپاره د خراسان يو نوميالی عبدالرحمن په ابو مسلم مروزي مشهور، په کال (۱۲۴ هـ) کوفې ته ولاړ او په مکه کې يې له امام ابراهيم عباسي سره وکتل، خلک يې د عباس کورنۍ د بلنې تايد ولو ته راوبلل، چې له هغه سفره بيرته هيواد ته راغی.

په (۱۲۹ هـ) کال يې د افغانستان په شمالي سيمو کې له مرو څخه نيولې تر تخارستان پوري خلک له ځان سره کړل او د عباسي کورنۍ خلافت يې اعلان کړ، تور بيرغ يې چې ددې بلنې نښه وه، ورپاوه او پخپله لښکري چونۍ کې يې لوی اور بل کړ، ځان يې د (شهنشاه) په لقب ونوماوه، د خراسان د اموي حکمران نصر بن سيار او ابو مسلم تر منځ سخته دښمني پيښه سوه.

مروان اموي په (۱۳۱ هـ) کال د امام ابراهيم سره د آهکو په بنۍ کې وپيچه او ويې واژه، ورور يې (عبدالله سفاح) کوفې ته وتښتېد، خو ابو مسلم تر خراسان پر مخ ولاړ او له خراساني لښکرو سره په کوفه ورننوت، په (۱۳۲ هـ) کال يې د کوفې په لوی جومات کې د عباسي عبدالله سفاح په نامه خطبه وويله او د امويانو د دولت نسکوريدل يې اعلان کړل، ددغه مهم کار او د عباس کورنۍ د خلافت تر بنسټ اېښوولو وروسته بيرته مرو ته راغی، ده تر (۱۳۵ هـ) کال پوري خراسان منظم کړ او ماوراء النهر يې هم ونيو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ابو مسلم په کال (۱۳۷ هـ) د سفاح د وروړ (خلیفه منصور دوانیقي) لخوا ووژل سو، په (۱۴۴ هـ) کال د هلمند (بُست) او کندهار خلک د منصور پر خلاف وښورېدل او د سیستان د حکمران (زهیر) د (محمد ازدي) له زوی سره یې سخته جګړه وکړه.

د سیستان په جبهه کي د سفاح په وختو کي یو هلمندی (بُستي) سړی، چي بوعاصم نومېده، د سیستان امیر سو، دا وخت د عباسي دربار له خوا سلیمان کندي له خراسانه راغی او بوعاصم (هلمندی) یې له منځه یووړ، په بُست کي یې له رتبیل (زنبیل) سره جګړه وکړه او هغه یې مات کړ.

په عباسي دوره کي د لرغوني هلمند په سیمه کي ډېري جګړې وسوې، کله به هلمندیانو پر نورو واکمني کوله او کله به نورو پر هلمندیانو.

د افغانستان له هغو واکمنو کورنیو څخه چي د عباس کورنۍ د خلافت په جوړښت کي یې له ابو مسلم خراساني سره ملګري وکړه، یوه د غور د سوریانو (زوریانو) کورنۍ وه، له دې کهاله څخه د امویانو د پېر په پای کي شنسب د خرنګ زوی د غور په غرونو کي امارت درلود او زوی یې امیر پولاد د (۱۳۰ هـ) په شاوخوا کي د خراسان په هڅو کي د ابو مسلم ملاتړی و، چي په راتلونکو پاڼو کي به په مفصله توګه بحث پرې وکړو.[1]

۱.همدا اثر، ۱۱۰ مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



## هلمند په صفاري دوره کې:

د عباسیانو خلاف د افغاني مبارزو دا سلسله روانه وه، چې په په زرنج کې د قرنین په ښار کې د مسګرو له کورنۍ څخه یو پهلوان (یعقوب صفار هلمندی) چې د (لیث هلمندي) زوی و، راپورته سو او د خپلو درو ورونو (عمرو، علي او طاهر) په مرسته یې د پښتني میړاني جنډه راپورته کړه، د ساکزیانو دغه علاقه اوس د نادعلي ولسوالۍ په نامه یادیږي، چې د هلمند په جنوب کې موقعیت لري.

یعقوب صفار هلمندی یو غښتلی سړی و، دی د لیث هلمندي زوی او د معدل هلمندي لمسی و، نوموړي په پېښه مسګر (پښ) و، خو تل به له میړنو سره ملګری و، کله چې طاهریانو د عباسیانو لپاره د سیستان پر خلکو ظلم شروع کړ، نو یعقوب صفار هلمندي توره راپورته کړه او د میړتوب یو مثال سو، په زرنج کې یې د عیارانو د فرقې سره په ملګرتیا د صفاري دولت بنسټ کېښود.

عیاران په هغه وخت کې د نني سیاسي ګوند غوندي یوه ډله وه، چې د خپلو حقوقو غوښتنه یې کوله، یعقوب صفاري او دده ملګرو عیارانو لومړی د احمد حاکم طاهري خلاف د سیستان د حاکم صالح مطوعه مرسته وکړه، چې په بدل کې یې صالح مطوعه ورته د بُست سرهنګي ورکړه، بیا دده او صالح تر منځ هم تېنګي ښتي وسوې، صالح مطوعه آخر تېښتي ته اړ سو، وروسته صالح د زاولشاه (زابل شاه، کابل شاه) رتبیل (زنبیل) څخه مرسته وغوښته او هغه د صالح په ملګرتیا د یعقوب صفاري سره لویه جګړه پیل کړه، پدې جګړه کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



شپږ زره کسان ووژل سول او تقریباً د پرش زره کسان تپیان سول او پخپله رتبیل (زنبیل) هم په دغه جګړه کي ووژل سو.

په کال (۲۳۷ هـ) کي درهم بن نصر سیستانی (هلمندی) چي د صالح مطوعه افسر و، د سیستان امیر سو او یعقوب صفاري هلمندی د سیستان سپه سالار سو، وروسته له هغه په کال (۲۳۹ هـ) کي یعقوب صفاري (هلمندي) خوارج مات کړل، درهم بن نصر (هلمندی) یې له تخته کښته او پخپله د سیستان امیر سو.

یعقوب صفاري د سپاهي ژوند تېر اوه او ډېر ساده کالي یې اغوستل، دده تکیه پر خپلو خلکو وه او خلکو پر یعقوب اعتماد کاوه، دا مهال افغانستان پر اسلامي او غیر اسلامي برخو وېشلی و او طاهریان یې د اسلامي برخي واکمنان وه.

په کال (۲۴۰ هـ) کي یعقوب صفاري بیا د افغانستان د استقلال زمه واري پر خپله غاړه واخیسته، د اسلامي او غیر اسلامي برخو سره یو ځای کولو په غرض یې په کال (۲۴۱ هـ) کي کابل شاه وواژه او صالح مطوعه یې په کندهار کي بندي کړ، چي وروسته په محبس کي مړ سو، بیا یعقوب صفاري (هلمندي) خوارجو ته مخه کړه او د هغوي مشر عماد یې د زرنج د ښار پر دروازه را وځړاوه.

په کال (۲۴۴ هـ) کي یعقوب صفاري صالح بن حجز (د کابل شاهانو مرستیال) ته په هلمند (بُست) کي ماته ورکړه، هرات او پوښنګ یې له طاهریانو څخه ونیول، پر شمال مخ یې ټول خراسان ونیو او پر پارس یې برید وکړ، په (۲۴۶ هـ - ۲۴۷ هـ) کلونو کي یې کرمان او شیراز ونیول او پارس یې هم تر لاسه کړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په کال (۲۵۰ هـ) کې یې د کابل شاه زوی په جګړه کې ونیو او بندي یې کړ، وروسته په (۲۵۱ هـ) کال یې نیشاپور فتح کړ او آخري طاهري حکمران (محمد) چې د بغداد په نمائندګۍ ناست و، وواژه، خپله توره یې راوکښه او ویې ویل (زه پاچا یم، خلیفه هم د توري په زور ناست دی او زما هم دغه توره حکم او فرمان دی).

یعقوب صفاري هلمندي په لږ موده کې افغانستان ته ملي سیاسي وحدت ورکړ او یو اسلامي صفاري دولت یې ترې جوړ کړ، چې لومړی ځل یې کابل هم په اسلامي نړۍ پوري پیوند کړ، دارنګه یې په درېیمه هجري پېړۍ کې دغه نوی سلطنت د یوه لوی قوت په توګه په نړۍ وپېژاند او همدارنګه د غزني ښار هم یعقوب صفاري هلمندي آباد کړی و، چې وروسته په افغانستان کې د علم، ادب او تهذیب مرکز سو.

په کال (۲۵۳ هـ) کې یعقوب د ایران عباسي حکمران (والي) محمد بن واصل ته ماته ورکړه او ایران یې له بغداد څخه را بېل کړ، که څه هم چې ناروغ و، خو بیا یې هم بغداد ته یو ځونه مارش کړل، د بغداد خلیفه وارخطا سو او د یعقوب په نامه یې یو لیک واستاوه، چې پکښې لیکلي وه: (نړۍ مو تا ته سپارلې ده، ته یې واکمن او سه ځکه چې ته د هند، چین، ایران، ترکستان او سراندیب واکمن یې، ته دواړو سمندرونو ته رسېدلی یې، نو ستا احترام پر ټول اسلام واجب دی، موږ فرمان ورکوو، چې په حرمین کې دي ستا د نامه خطبه هم وویل سي، موږ د حضرت محمد (ص) له اهل بیت څخه یو او ته د دین قوت یې، موږ لره یوه خطبه هم بس ده، کوم عدل چې د ابوبکر (رض) او

(c) ketabton.com: The Digital Library



عمر (رض) په دور کې و، ستا په دربار کې ښکاري، ته کولای سې، چې مسلمانان سره یو ځای کړې).

يعقوب پر دغه ليک شکي و، ځکه يې يقين ونه کړ او د خليفه سفير (ډيپلوماټ) ته يې يو منګی، څو دانې پياز، يوه سړه ډوډۍ او يوه توره ورښکاره کړه، ورته يې وويل چې خليفه ته دا پيغام وروړه، چې که روغ سوم، نو زما او ستا فيصله به دا توره کوي او که مغلوب سوم، نو زما عادي خوراک دا پياز او سړه ډوډۍ ده، چې هر ځای کې ستا او مالره بس ده.

په کال (۲۵۴ هـ) کې يې پر بغداد حمله وکړه خو قسمت يې مرسته ونه کړه او د دجله د سيند پر غاړه يې ماته وخوړه.

يعقوب صفاري (هلمندی) تر دغې ماتې وروسته ډېر خواشنی سو او ناروغي يې هم زياته سوه، په کال (۲۵۷ هـ) کې له همدغې ناروغۍ څخه وفات سو، نيشاپور ته نږدې د دغه ستر وطنپالونکي مزار او س هم دده يادګار دی.

يعقوب صفاري هلمندی يوا ځنی افغان حکمران و، چې نوم يې د بغداد د خليفه سره سم په خطبه کې شامل و، نوموړی يو غښتلی پاچا و، چې د سلطنت پولې يې تر ملتان، سيند او مکران پورې رسېدلې وې.

د يعقوب صفاري هلمندي وروسته په همدغه کال د نوموړي ورور (عمرو ليث صفاري هلمندی) د صفاري سلطنت مشر سو، نوموړی د يعقوب غوندې يو غښتلی مشر و، افغانستان دده په وخت کې يو ډېر لوی قوت و، زرنج د حکومت پلاز او د بُست ښار د هغه وخت سوداګريز مرکز و، ګاس او ققفاز هم د دغه دولت برخې وې، د بغداد

(c) ketabton.com: The Digital Library



خلیفه د پښتنو د ځوانمردی او د دوي د ټولنیز نظام ډېر قدر کاوه او هیله مند و، چي دا قوم د اسلام په پرمختګ کي د عربو مل پاته کېدای سي، خلیفه د هند او ایران واک په رسمي توګه عمرو لیث صفاري هلمندي ته وسپاره او د احترام په توګه یې د ولایت حرمین واک هم عمرو ته ورکړ، عمرو لیث صفاري (هلمندي) د اسلامي خلافت ملا ټینګه کړه او شل ملیونه درهمه یې د کاله اسلامي خزانې ته د (حق المقاطعه) په توګه ورکول.

په کال (۲۶۸ هـ) کي بغداد پر ایران حمله وکړه، صفاري پاچا په نره بغداد ته ماته ورکړه او له بغداده یې ځان خلاص کړ، عمرو د افغانستان لوېدیځه برخه کنترول کړه او د کابلستان پر خوا روان سو، چي هغه وخت د برهمن پاچا (کلمو) په قبضه کي و، د برهمنو پلاز او سني اټک ته نږدې و، خو د عمرو صفاري هلمندي او برهمنو جګړه په لوګر کي وسوه، برهمنو ماته وخوړه او د هغوي لوی عبادت ځای (مندر سګاوند) هم په دغه جګړه کي ړنګ سو.

په کال (۲۷۳ هـ) کي رافع هم د محمد الخوارزمي له لاسه په خوارزم کي قتل سو، عمرو صفاري د ماوراء النهر واک تر لاسه کولو لپاره د آمو (جیحون) په لور روان سو، هغه وخت اسماعیل ساماني د امو تر سیند را واوښت او د صفاریانو پر پوځ یې یرغل وکړ، که څه هم د عمرو صفاري لښکر کمزوری سو، خو هغه بیا هم د ماوراء النهر پر خوا هڅه وکړه او حمله یې ورباندي وکړه، خو هلمندي صفاریان بریالي نه سول، ماته یې وخوړه او په کال (۲۷۸ هـ) کي عمرو بندي سو، صفاریان او سامانیان یو له بل سره اخته وه، عمرو لیث صفاري د اسماعیل ساماني په لاس ورغی او هغه په کال (۲۷۹ هـ) کي د بغداد

(c) ketabton.com: The Digital Library



دربار ته واستاوه، خلیفه عمرو لیث په بغداد کي بندي کړ، چي وروسته په محبس کي ووژل سو.

دا صفاري دولت و، چي د افغانانو خپلواکي يې د عمرو ليث صفاري هلمندي تر مشرۍ لاندي ساتلې وه، د هغه تر وژني وروسته صفاري دولت کمزوری سو او په افغاني هیواد کي ملي يووالی هم پاته نه سو.

طاهر بن محمد صفاري هلمندی له عمرو ليث صفاري څخه وروسته پاچا سو، خو اهلیت يې نه درلود، ځکه خلکو په کال (۲۸۷ هـ) کي ایران ته وتښتاوه، د ايران والي نوموړی لومړی بندي کړ او بیا يې بغداد ته واستاوه.

په کال (۲۸۸ هـ) کي د زرنج خلکو د سلطنت واګي د ليث بن علي بن ليث صفاري هلمندي په لاس ورکړې، نوموړي پر ایران برید وکړ، خو د بغداد په مداخلت لیث بندي سو او بغداد ته وسپارل سو، په زرنج کي محمد بن علی بن لیث تش په نامه پاچا پاته سو.

هلمندي صفاريانو د افغان قوم د يو ستر ځواک په حيث نړۍ ته وپېژندل، دوي د عباسي سلطنت سره سيالي کوله او د هغوي د ساري په توګه پېژندل کېدل، دوي کابل شاهانو ته ماته ورکړه او افغانستان ته يې ملي وحدت ورکړ، د غزني ښاريې آباد کړ، لوی شمېر پښتانه ځوانان يې په خپل پوځ کي ودرول، سره له دې چي د عباسيانو مخالف وه، د دوي په دور کي لوی شمېر پښتنو اسلام د خپل يو اځني دين په توګه قبول کړ.

تر صفاريانو وروسته د عباسي خليفه له خوا د افغانستان واک د ماوراء النهر ساماني حکمران ته وسپارل سو، په کال (۲۸۹ هـ) کي

(c) ketabton.com: The Digital Library



سامانیانو د بغداد په مرسته سیستان قبضه کړ او دولت یې بیا هم د بلخ په نامه ونوماوه.

امیر اسماعیل ساماني د بغداد د خلیفه لخوا حکمران وټاکل سو، سامانیان تر څه وخته پر افغانستان د بغداد د خلیفه لخوا واکمنان وه، خو افغانانو خپلې آزادي تېرواکې لرلې، د اوسني جوزجان سیمه د فریغونیانو په لاس کې وه، چې د سامانیانو سره یې ښې اړیکې درلودې، ددغه تېریو واکمن ابو الحارث د محمود غزنوي خسر و، فریغونیان علم دوسته خلک وه، چې په خپل دربار کې یې د جغرافیه (حدود العالم) کتاب د لیکلو انتظام کړی و، د دوي واک له آمو څخه تر غور پوري و، چې هلمند او تالقان هم پکښې شامل وه.[1]

## هلمند په غوري او غزنوي دوره کې:

دلته موږ غوري دوره او غزنوي دوره تر یوه عنوان لاندي تر بحث لاندي نیسو، که څه هم چې د دوي د واکمنۍ نېټې له یو بل څخه ډېر توپیر کوي او هم د یوې کورنۍ نه دي، خو بیا هم نه سره جلا کېږي، په هر حال راځئ، چې دواړه ګډ سره تر بحث لاندي ونیسو.

د غوري کورنۍ له پخوانیو مشرانو څخه په تاریخونو کي نور څه نه دي څرګند، خو منهاج سراج چې د غور په دربار کي محشور و د ملک شنسب (د اول په زېر د دوهم په زور د درېیم او څلورم په سکون) اخلاف رانښیي او وایي چې ده د حضرت علي (رض) په عهد کي د هغه په لاس ایمان راوړ او له خلافت سره یې ژمنه درلوده.

---

۱.همدا اثر، ۱۳۰مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



نو موړی د سوري کورنۍ لومړنی حکمران دی، چي په اسلامي دوره (۳۶ هـ) کال کي موږ دی په غور کي پېژنو او له احوالو يې خبر يو، په مرو کي دده معاصر حکمران (ماهوي سوري) و، چي ښايي د مرو او غور دواړه سوري حکمرانان (حضرت خلافت) ته رسېدلي وي.

منهاج سراج هم د سور (=زور) د کورنۍ د نسب له تسلسله ناخبره و، ځکه دده نه دي ويلي، چي د ملک خرنک بن شنسپ نيکونه د افسانوي ضحاک تر وروره (سور) پوري څوک وه؟

له شنسب څخه وروسته د ابو مسلم خراساني تر وتلو پوري (۱۳۰هـ) د سلو کلو په موده کي له سوري حکمرانانو کومه خبرتيا نه لرو، تر هغې چي منهاج سراج د امير پولاد يادونه کوي، دی د ملک شنسپ له غير مستقيمو اخلافو څخه ګڼه سي او لږ تر لږه دغه امير پولاد بايد د ملک شنسب کړوسی وي.

منهاح سراج د امير پولاد په هکله وايي:ـ(اطراف جبال غور در تصرف او بودند و نام پدران خود احياً كرد، چون صاحب دعوت عباسيه ابو مسلم مرو زی خروج کرد و امرای بنی امیه را از خراسان اخراج نمود، امير پولاد لشکر غور را به مدد ابو مسلم برد، و درتاييد آل عباس آثار بسيار نمود و مدتها امارت منديش و فرماندهی بلاد جبال غور مضاف بد و بود).

تردې ځايه موږ پوهيږو، چي له اسلام څخه په مخکنيو زمانو کي د غور شاهي کورنۍ سلسله هماغه سوريه (=مهر =لمر) نومېده، چي تر ده وروسته يې دغه کورنۍ تر ملک شنسپ پوري سوري نژاده ګڼله او د سوري (=زوري) په نامه يوې قبيلې له خراسانه د سند هـ تر مجاريو پوري شهرت درلود، چي ژبه يې پښتو وه او بيا په لوېديځو

(c) ketabton.com: The Digital Library



برخو کي دري سوه، خو له ملک شنسپ څخه وروسته شنسپانیان ده ته منسوب سول او اوس هم په ختیځ کي سوري او لوېدیځ کي زوري دي.

امیر پولاد چي تر زیاتي مودې پوري د غور د پلاز (مندیش) حکمران و، د پلار نوم یې نه پېژنو، خو له نامه یې چي پښتو او دري مشترکه کلمه ده، پوهېدل کیږي، چي په داسي محیط کي زو کړی، چي مشترک ثقافت یې درلود، یقین ته په نږدې حدس سره ویلای سو، چي د بابا د غره لوړه څوکه (شاه پولادي) او د ختیځ غور یوه سیمه (دای پولادي) به دغه پولادي امیر ته منسوبه وي.

تر امیر پولاد وروسته دده زوی امیر کروړ جهان پهلوان د پښتو پټې خزانې له مخي پېژنو، کروړ (د اول په سکون د دوهم په پېښ د درېیم او څلوم په سکون) په پښتو کي د سخت او کلک په معنی دی او هغه شي ته ویل کیږي، چي سخت مغز ولري).

د پټې خزانې مؤلف (محمد بن داود خان هوتک) (۱۱۴۲ ق- ۱۷۲۹ ز) د پښتو یو قدیم شاعر په همدې نامه راپېژني، چي د یوې پښتو حماسې ویونکی دی، محمد هوتک دده احوال او شعر د شیخ کټه متی زی خلیل (۷۵۰ هـ - ۱۳۴۹ ز) له کتاب (لرغوني پښتانه) څخه رانقلوي، چي دغه احوال بیا نوموړی شیخ کټه د محمد بن علي بُستي (هلمندي) له تاریخ (سوري - ۶۵۰ قمري شاوخوا تألیف) څخه په بالشتان (=والشتان- د غور جنوبي برخه او اوس د کندهار شمال ته د تیري مربوطه سیمه) کي اخیستی و.

امیر کروړ جهان پهلوان په (۱۳۹ هـ) د غور په مندیش کي امیر سو، نوموړی په دوبي کي په هلمند (زمین داور) کي و او هلته یې ماڼۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library



درلوده، چي کټ مټ د منديش په شان وه او په دغه ځای کي يې ښکار کاوه.

محمد بن علي بُستي (هلمندی) په خپل کتاب (سوري) کي ليکي:- دا اميران له پيړيو په غور او بالشتان او بُست کي وه او د هغه سور نومي له اولاده دي، چي د سهاک له پښتنه و، بل ځای ليکي، د عباسي دعوت په جګړو کي چي امير کروړ ډېري سوبې وکړلې، نو يې دا بيتونه وويل، چي وياړنه يې بولي، هغه دا دی، چي شېخ کټه الرحمه له تاريخ (سوري) څخه رانقل کړي دي:[1]

شېخ کټه په خپل کتاب کي وايي:

تاريخ سوري ما په (بالشتان) کي وليد، چي هلته د (امير کروړ جهان پهلوان) نوم ياد سوی و او دده د جګړو يادوني پکښې سوي وې او دا هم ليکل سوي وه، چي د جهان پهلوان به په ژمي کي په زميندا ور کي پايتخت و او هلته يې يوه ماڼۍ هم جوړه کړې وه او همېشه به يې هلته ښکار کاوه او شعر به يې وايه.

کوم نظم چي امير کروړ جهان پهلوان ويلی دی، هغه په لرغوني لحاظ او د پاکو پښتو لغاتو يوه قيمتداره بېلګه (نمونه) ده، د شعر د پخته ګۍ (پخوالي) څخه يې سړی دا حکم کولای سوای، چي تر هغه دمخه ډېر اشعار ويل سوي، څو داسي پخوالي ته رسېدلی دی.

د امير کروړ شعر چي (وياړنه) نومېږي او د يې ټولو اک شاعر د خپل ځان په وصف کي ويلې، دا لاندی شعر دی:

---

۱.امير کروړ او دده کورنۍ، ۹مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



زه یـم زمـری پـر دې نـړۍ لـه مـا اتـل نسـته
پـه هنـد و سـند و پـر تخـار و پـر کابـل نسـته

بـل پـه زابـل نسـته
لـه مـا اتـل نسـته

غشـي د مـن مـي ځـي بریښـنا پـر میرڅمنـو بانـدي
پـه ژوبلـه یـونم یرغـالم پـر تښـتېدونو بانـدي

پـه ماتېـدلو بانـدي
لـه مـا اتـل نسـته

زما د بریو پـه خول تاویږي هسک پـه نمنځ او ویاړ
داسي لـه سوو مي مځکو رېږدي غرونه کاندم لتاړ
زمـا د تـوري تـر شپول لاندي دی هرات او جـروم(۱)
غـرج و بامـیان و تـخار بولي نـوم زمـا پـه اودوم

زه پېژنـدوی یـم پـه روم
لـه مـا اتـل نسـته

پـر مـرو زمـا غشـي لـوني ډاري دښـمن راځخـه
د هریـوا لـرود پـر څنـډو ځـم تښـتي پلـن راځخـه

د پـــی زړن راځخـــه
لـه مـا اتـل نسـته

د زرنـج سـوبه مـي د تـوري پـه مخسـور وکـړه
پـه بـاداري مـي لـوړاوی د کـول د سـور وکـړه

۱: اوسنی د هلمند (گرمسېر ښيي) (جروم – گروم – جرمسېر – گرمسېر)

(c) ketabton.com: The Digital Library



ستر مې تربور وکړه
له ما اتل نسته

خپلو وګړو له ور پېرزوینه کوم
دوي په ډاډينه ښه بامم ښه يې روزنه کوم
تل يې ودنه کوم
له ما اتل نسته

پر لويو غرو مې وينا درومي نه پر څنډو په تال
نړۍ زما ده نوم بولي پر دريغ ستايوال
په ورځو شپو مياشتو کال
له ما اتل نسته

دا شعر هغه يوازينی نظم دی، چې تر اوسه د پښتو ادبياتو په تاريخ کې لومړنی مقام لري او د هلمند سيمي سره د شاعر د ډېري دلچسپۍ په وجه له دې کبله به د کال يو موسم په دې سيمه کې اوسېده، موږ يې د هلمند سيمي ته منسوبوو.[1]

د دغه وروستي تاريخي سند له مخي، چې عنعنه يې څرګندوي، موږ له سوري کورنۍ څخه دوه تنه نور (امير کروړ او امير ناصر) هم پېژنو، چې په نورو مأخذو کې يې ياد نسته، امير ناصر د (۱۶۰هـ) په شاوخوا کې د غور پر اطرافو، بُست او زميندا ور حکومت کړی دی او د پلار (امير کروړ جهان پهلوان) حماسه يې د قديمي پښتو يو شعر دی، چې دده له حاله حکايت کوي او دده د بريو، مېړانې، زړورتوب او غيرت

۱.کانديد اکاډمېسن محمد ابراهيم عطايي، هلمند د کلتور په ساحه کې، ۱۱۵ مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښکارندوی دی او داسي کلمې لري، چي اوس په پښتو ژبه کي مستعمل نه دي.

د منهاج سراج طبقات ناصري، چي د غور د سوریانو په باب یوازینی قدیم مأخذ دی، له امیر پولاد (۱۳۰ هـ حدود) وروسته د هارون الرشید (۱۷۰ هـ حدود) تر زماني پوري ددغي کورنۍ د شاهانو یادونه کوي او د څلوېښت کلو دغه تشه د تاریخ سوري روایت دکوي، چي د پټي خزانې په وسیله تر موږ رارسېدلی دی.[1]

ګرانو لوستونکو، لکه څنګه چي مخکي مو د غوري پاچاهانو یادونه وکړه او د هغوي اړیکه مو د هلمند (هېرمند) سره وڅېړله، نو اوس رائځ، چي یوه بله کورنۍ چي د (آل ناصر) ده او په غزنویانو هم یادیږي، وڅېړو، د هغوي رقابتونه او اړیکه له غوریانو سره او همداشان د دواړو اړیکه له هلمند سره تاسو ته وړاندي کوو.

په لسمه عیسوي پېړۍ کي د خلیفه هارون الرشید له وفات وروسته، اسلامي خلافت ډېر کمزوری سو، ورو -ورو ډېر واړه – واړه خپلواک حکومتونه جوړ سول، د سامانیانو واک هم پر ختمېدو سو، لکه څنګه چي مخکي یې بیان وسو، الپتګین په دغه وخت کي د سامانیانو په دربار کي یو غلام و، د ساماني امیر عبدالمالک له درباره امیر حاجب الپتګین په کال (۳۳۹ هـ) کي د خراسان سپه سالار وټاکل سو.

د عبدالمالک ساماني تر مرګ وروسته په کال (۹۶۱ ز) په غزني کي یې حکومت جوړ کړ، خو تر (۹۶۶ ز) کال پوري یې واکمني وکړه او په نوموړي کال وفات سو، دده تر مرګ وروسته زوی یې چي ابراهیم

---

۱.امیرکروړ او دده کورنۍ، ۱۴ مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



نومېده، د مشر په توګه وټاکل سو، بیا بلکاتګین او پریتګین هم د غزني واکمنان سول.

په (۹۷۵ز) کال کي د غزني په شاوخوا کي ملي غورځنګ جوړ سو، په خپلو کي نه سره جوړېدل، نو یې سبکتګین، چي د الپتګین زوم و، د خپل مشر په توګه وټاکه.

په کال (۹۷۷ز) کي سبکتګین د یوه نوي اسلامي دولت مشر سو او د (امیرخراسان) لقب یې خپل کړ،[1] نوموړي د خپلي واکمنۍ مرکز غزني له دې کبله وټاکه، چي د شمال پر خوا یې د ساماني طغیانو خنثی کولو ته لاس لنډ وي، په جنوب کي د هلمند شهزاده ګان تر اداري لاندي راولي او تر ټول مهمه دا چي د هند خوا ته یې د فتوحاتو لار راسته وي، د سبکتګین په زمانه کي د هلمند دوه شهزادګان (توغان خان) او دده رقیب (بای توز) یو د بل پر ضد په جګړو بوخت وه، د دوي اختلاف سبکتګین ته موقع برابره کړه چي د هلمند سیمي اداره پخپل لاس کي ونیسي.

هغه مهال چي سبکتګین په هند کي په جګړو بوخت و، د هلمند د کښتنۍ برخي یو شهزاده (ولي الدوله ابو احمد خلف) پر بُست حمله وکړه، خو سبتګین سمدستي پر راوګرځېد او بُست یې ورڅخه ونیو او د خلف تر ګناه ور تېر سو.[2]

سبتګین د هلمند (زمینداور) څخه په څو ـ څو ځله پر غور یرغلونه وکړل او د غوري واکمنانو څو کلاګاني یې ونیولې.

۱.پښتانه د تهذیب په څپو کي، ۱۹۰ مخ
۲.کاندید اکاډمېسن محمد ابراهیم عطایي، هلمند د کلتور په ساحه کي، ۴۸ مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ابو الحسن الهیثقم بن محمد النابي د تاریخ له مخي د محمد سوري د هیواد د شرحي په لړ کی په لنډ ډول سره داسي لیکي: ((کله چي له سامانیانو او صفاریانو څخه د خراسان او زاولستان (=زابلستان) امارت امیر سبکتګین ته ورسېد، هغه څو ځله له بُست څخه د غور په غرنیو سیمو بریدونه وکړل او ډېري جګړې یې وکړې)).

نوموړی مؤرخ بیا هم د غزنوي دور د پیښو په شرح کي لیکي: ((سبکتګین چي واک ته ورسېد، لومړی یې له غزني څخه خپلو مهمو ګاونډیو سیمو ته مخه کړه، بُست، زمینداور، د قصدار سیمي، بامیان، تخارستان او غور یې تر لاسه کړل)).

خو ښایي وو ایو، چي د منهاج السراج په استناد پر غور د سبتګین بریدونه یوه ربښتیني مسئله ده او لیدل کیږي، چي مؤرخینو په دې اړه لږ تر لږه په ضمني توګه هم تفصیل نه دی ورکړی، تر څو یو لړ مطالب تر لاسه سوي وای.[1]

د سبکتګین څخه وروسته په کال (۹۹۸ ز) کي د نوموړي زوی (محمود) واک ته ورسېد، په بُست کي بیا خلف یاغي سو، خو محمود یو وار هغه وبخښی او په دوهم واریې له هلمند څخه ګردېز ته تبعید کړ، څو هلته مړ سو.

محمود غزنوي څو ځله بُست ته پخپله راغی او دلته دا مفکوره ورته پیدا سوه، چي د یوه تازه دمي قوې د ساتلو لپاره ځان جوړ کړي.

۱.پښتانه د تهذیب په څپو کي، ۱۶۱ مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



ده د همدې مطلب لپاره د بُست شمالي خوا ته يو لړ عسکري چوڼۍ جوړې کړې چې په محمود ي لښکرګاه ياديږي.

د سلطان محمود غزنوي په وخت کې بُست ډېره ترقي وکړه او په غزني پسې د ټولې غزنوي امپراطورۍ د ثقافت دوهم مرکز و، هر کله چې به غزنوي پاچا دلته راتلی، نو د غزني د هغه وخت شاعران او هنرمندان به ورسره وه او د بُست بازار به يې تود ساته.(۱)

محمود هم د پلار په څېر په ارام کښېناست او د غور د ترلاسه کولو لپاره يې څو – څو ځله بريدونه وکړل.

بيهقي د مسعود بن محمود غزنوي په اړه د ليکنې په وخت د محمود بريدونه په ضمني توګه داسي شمېري: ((امير محمود رضي‌الله‌عنه دوه درې ځله د زميندا ور له لارې د غور شا و خوا سيمو ته ورغی، خو د هغې سيمې تنګو او ايسارو ځاينونو ته وړاندې نه سو، خو دا يې ونه ويل چې زه پاته راغلی يم)).

بيهقي پر غور د محمود غزنوي د دوهم بريد په اړه ليکي: ((امير محمود په (۴۰۵ هـ) کال له بُست څخه د خوا يين خوا ته، چې غور سره پوله په پوله پروت دی او زميندا ور په لور، چې هلته ډېر پياوړي او پليد کافران اوسېږي، هغوي ډېر تنګ و تروش ځايونه او کلکې کلاګانې لري، امير مسعود چې د پلار سره ملګری او د هغه په وړاندې يې ستر – ستر کارونه ترسره کړي وه، يو ځل بيا يې د جګړې ميدان ته جنګيالي د ځان ملګري کړل، د هغو ډېر شمېر کلاګانو ته پناه ور وړه، له کلا څخه يو تن جنګ پيلوونکي (بربرجي) مسلمانانو ته

۱.کانديد اکاډمېسن محمد ابراهيم عطايي، هلمند د کلتور په ساحه کې، ۴۸ مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډېر بد و رد وویل، یو تن په خوله کې په غشي وویشت او له برج څخه کښته مړ ولوېد، د ملګرو زړونه یې وارخطا سول، ماته یې وخوړه او کلا یې وروسپارله)).[1]

د سلطان محمود غزنوي تر مرګ وروسته د نوموړي زوی سلطان مسعود پاچا سو، د نوموړي پاچا په وخت کې د هلمند سیمې زښته ډېره ترقي وکړه، هغه لښکرګاه چې بنسټ یې دده پلار (محمود) ایښی و، مسعود پسې پراخه کړه، ځو د پایتخت شکل یې غوره کړ او پخپله پاچا په میاشتو میاشتو له دې ځایه د غزنوي امپراطوري اداره کوله.[2]

همدارنګه د هلمند د زمینداور لرغونې سیمه هغه مهال د جوړښت او ارزښت له لامله همدارنګه د ښې هوا او ښیرازۍ له اړخه هم ډېر زیات شهرت لاره او نړدې ټولو مؤرخینو او تاریخ لیکونکو په خپلو اثارو کې ددې سیمې یادونه کړې ده او د همدغو ارزښتونو د لرلو له لامله ددې ځای د خپلولو لپاره د غزنوي او غوري واکمنانو تر منځ شخړې رواني وې او هري ډلې غوښتل، چې په هر رقم چې کېدای سي، دغه ځای خپل کړي، نو ځکه د دوي د زور او قوت په تناسب کله د غوري امیرانو او کله هم د غزنوي امیرانو په لاس کې به و.[3]

غوري پاچاهان او امیران له پخوا راهیسي لرغوني زمینداور ته تلل راتلل او دغه سیمه یې له ځینو وختونو پرته په واک او د ژمي پلازمېنه یې وه.

---

۱.عتیق الله پژواک، غوریان، ۱۶۲ مخ
۲.کاندید اکاډمېسن محمد ابراهیم عطایي، هلمند د کلتور په ساحه کې، ۴۹ مخ
۳.عتیق الله پژواک، غوریان، ۹۶ مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



لکه څنګه چې د سلطنتي چارو اړتیا وه، د ژمي په موسم کې به یې همدغه سیمه د پلازمېنې په توګه کاروله، پخپله واکمن به د هغه ځای په ښکلي ماڼۍ کې اوسېده او کوم ځایونه یې چې د مېلو لپاره جوړ کړي وه، هلته به مېلې ته ورتلل، ښکار به یې کاوه او پوځي و عسکري ازمېښتونه به یې تر سره کول.

په هر حال د غزنویانو او غوریانو دښمني له ډېره پخوا شروع وه، خو هغه وخت یې زور واخیست، چې کله ملک الجبال غوري په غزني کې د بهرام شاه غزنوي لخوا په قتل ورسېد.

د نوموړي تر مرګ وروسته د غزنویانو او غوریانو هغه کینه او عداوت، چې له پخوا راهیسې موجوده وه، لا پسې زیات سو او غوري واکمنانو پرلپسې بریدونه پر غزني پیل کړل، هغه و، چې د ملک الجبال قطب الدین محمد ورور (سلطان سیف الدین غوري) د غزني واکمن (بهرام شاه) ته ماته ورکړه او د غزني تاج و تخت یې تر لاسه کړل.

سلطان سیف الدین غوري د غزني پر تخت ډېر وخت پاته نه سو، بهرام شاه چې د غه وخت هند ته تښتېدلی و، بېرته راغی، سلطان سیف الدین یې په ډېر بې رحمۍ قتل کړ.

کوم وخت چې علاوالدین غوري (جهانسوز) د خپل ورور د قتلولو څخه خبر سو، نو یې د غور او غرجستان جنګیالان سره را ټول کړل او د سلطان بهرام شاه غزنوي خلاف یې جګړه پیل کړه، نوموړي بهرام شاه یې مات کړ او د غزني پلازیې هم ونیو، د غزني بشپړ ښار یې وسوځاوه او د غزني تخت یې ړنګ کړ، د غزني ښار د سوځني او تباهۍ ننداره خلکو تر اووه ورځو کوله.(۱۱۴۸ ز کال)

(c) ketabton.com: The Digital Library



له غزني څخه وروسته علاوالدین غوري د هلمند پر خوا را روان سو او تر بُست پوري ولاړ، په بُست کي چي هغه وخت ښکلې عمارتونه وه، ټول یې وران کړل.[۱]

په نوموړو ودانیو کي لښکرګاه مخصوصاً (سلطاني قصر) پاک وسوځل سو، د غوري پاچا تر قهر وروسته د هغه نائبانو چي دلته اوسېدل ځیني ځایونه بیرته ترمیم کړه او خلکو اوسېدنه پکښې شروع کړه.

علاوالدین چي غزني او لښکرګاه د یوې میاشتي په فاصله کي وسوځل، نو د خرابۍ توپیر یې دا و، چي د غزني د ماڼیو چتونه او دېوالونه ټوله د لرګي وه، نو عمارتونه یې د سوځلو په وخت کي اکثره له منځه ووتل، خو د لښکرګاه د ماڼیو دېوالونه چي د خټو او خښتو وه، نو د اور په وخت کي یې یوائي سرونه راونړېدل خو دېوالونه یې پاته سو، چي دا دی تر اوسه ولاړ دي، پدې خرابۍ کي لښکرګاه او بُست په عمراني لحاظ ډېره خساره ولیدله.[۲]

علاوالدین بامیان، تخارستان، بدخشان، هلمند (ګرمسېر، زمینداور او بُست)، مرغاب او غرجستان په خپل سلطنت را ګډ کړل.

علاوالدین ځان لره د سلطان لقب خپل کړ، خو د غزني خلکو نوموړی د جهان سوز په نامه بللی دی، چي اوس یې هم خلک په علاوالدین جهانسوز پېژني.[۳]

۱.همدا اثر، ۱۷۵ مخ
۲.کاندید اکاډمېسن محمد ابراهیم عطایي، هلمند د کلتور په ساحه کي، ۵۴ مخ
۳.عتیق الله پژواک، غوریان، ۱۷۵ مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



## هلمند په مغولي دوره کي:

د چنګېز د منځته راتګ پر مهال د غزنوي او غوري کورنيو واکمني له منځه تللې وه، ټول هيواد پر وړوکو حکومتونو وېشل سوی و او هري سيمي ځانته واکمن درلود.[1]

د يارلسمه عيسوي پېړۍ د افغانانو بلکې د ټولو مسلمانانو په تاريخ کي د يوې توري پېړۍ په توګه بلل کيږي، چنګېز چي پر افغاني ولس کوم ظلمونه وکړل هغه يو زوړ، تور او تېر داستان دی، خو يادونه يې دومره ترخه ده، چي پښتانه نن هم (مغول)[2] د ښمن او (د ښمن) مغول بولي.

د چنګېز د راپورته کېدو په وخت کي افغانستان، ايران او عراق د خوارزم تر واک لاندي وه، د سند هـ په حوزه کي د ناصرالدين شاه غوري حکومت و او په منځني هند کي واک د سلطان شمس الدين التمش په لاس کي و، په وړه آسيا کي صليبي جګړې رواني وې، په کومو کي چي د نړۍ غټې غټې قوتونه واړه او کمزوري سوي وه، هغه وخت مغلو په آسيا او اروپا کي ډېري ورانۍ وکړې، لنډه دا چي له (۱۲۰۴ز) څخه تر (۱۲۱۹ز) کال پوري تر افغانستان پوري يې پوځونه راورسېدل،[3] چنګېز په دې منظور چي مخ په وړاندي برياليٰ روان وي او د شا له خوا ځوک نه وي، چي ورته پورته سي، نو د ژوند شرايط يې ختمول چي په دې وسيله خلک ګډ وډ او سره وپاشل سي، چنګېز

1.پوهاند عبدالحی حبيبي، د افغانستان لنډ تاريخ، ۱۹۱ مخ
2.مغول د ژړ نژاد يو ټبر دی، چي مورنۍ ټاټوبی يې مغولستان (منګوليا) دی.
3.پښتانه د تعذيب په څپو کي، ۲۱۵ مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



چي افغانستان ته راورسېد نو لښکرو یې د هغه وخت د ثقافت مرکزونه وران کړل.

چنګېز چي د بلخ، بامیان او ابایسن په حوزه کي خپل په مخ کي ښارونه وران کړل، نو نمائندګانو یې د هلمند د سیند حوزه کي په ورانیو شروع وکړه، چي په دې سلسله کي زرنج، بُست، لښکرګاه او نور شاوخوا وران سول، ولي لږ و ډېر، نږدې او لیري بیا د ژوند آثار ښکاره سوه.[1]

د چنګېز تر مړیني وروسته د نوموړي زوی (تېمور = ګوډ تېمور) په افغانستان کي د سلطنت اعلان وکړ، هغه وخت په هیواد کي هیڅ یو مرکزي حکومت نه و او نه سیاسي وحدت وجود درلود.

تېمور په کال (۱۳۸۳ز) کي پر سیستان وحشیانه یرغل وکړ، تاریخي بند (بند رستم) یې مات کړ او د زرنج خلکو ته یې ډېر لوی زیان ورساوه، دا هغه المیه وه، چي یو آباد وطن یې په ویرانه بدل کړ، ویرانه هم داسي چي اوس یې لا هم پر دوه سوه کیلو متره آثار ځله پراته دي، زرنج، قرنین، طاق، بُست، درتل، بغنین، ښوران او زوران غوندي کلاوي او ښارونه یې داسي تباه کړل چي کنډوالې یې دا وخت هم په رېګ کي ځله خورې ورې پرتې دي.[2]

ښاغلی عطایي د ګوډ تېمور په لاس د هلمند سیمي ورانی داسي یادوي: ((ګوډ تېمور چي راپورته سو هغه د خپلو ورانیو په سلسله کي یوه کامله خاموشي پر دې حوزه خپره کړه، تېمور د هلمند پر سیند هغه لوی بند (د سیستان بند) چي د هلمند سیمه په او بېدله مات کړ، د

۱.کاندید اکاډمېسن محمد ابراهیم عطایي، هلمند د کلتور په ساحه کي، ۵۴ مخ
۲.پښتانه د تهذیب په رڼا کي، ۲۲۴ مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



بند او به د یو لوی توپان په ډول د هلمند پر مځکو ور خپرې سوې، چي د ژوند امکانات يې په کامله تباهي له منځه یوو ړل.

له هغه وخت څخه بیا د هلمند ښارونه بهرني ختیځ پېژندونکو د (مړو ښارونو) په نامه یاد کړي دي، حتی دده ناحیې لوی مرکز (لښکرگاه) تر دا څو کلنو مخکي پوري هیچا پېژند له هم نه)).[1]

دا سوه د مغولو چنګېزیانو د وران کاریو پایله، خو یوه خبره رښه ده، هغه دا چي الله عزوجل پر خپل مخلوق تر هغه وخته عذاب نه رالیږي، تر څو چي دوی د خیر لمن نیولې وي، مګر چي کله د شر پیرو کاري تر حد زیاته سي، نو بیا په سوره الانعام کي وایي، چي رب العزت په دې قادر دی، چي پر تاسو له لوړ څخه عذاب نازل کړي، یا يې ستاسو تر پښو لهلاندي څخه راپورته کړي او بیا تاسو پخپله پر ډلو ووېشي او یوه ډله د بلي په طاقت له منځه یوسي، داسي بریښي چي د مسلمانانو خلیفه ګانو او حکمرانانو په دغه وخت کي د حق لمن پرې ایښې وه او په ظلمونو بوخت وه، نو ځکه د الله تعالی د وعدې مطابق له دغه لوی عذاب سره مخامخ سول.

## د ملک اودل حکمراني او د هلمند سیمه:

د شاه جهان په عصر کي ملک اودل د هلمند د وادی په لویدیځه سیمه او ګرمسېر کي خپلواک حکومت درلود، د مغولي دورې مؤرخین لیکي، چي د کندهار نیمي صوبې په ده پوري تعلق درلودې، د حکومت مرکز يې د خانشین کلا وه، چي بُست ته نږدې د هلمند د

۱.کاندید اکاډمیسن محمد ابراهیم عطایي، هلمند د کلتور په ساحه کي، ۵۵ مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



بارکزو په ناوه کي واقع ده، دا سړی یو له زبردستو ملي رئیسانو څخه و، چي د مغولي حکومت او صفوي مملکتو په منځ کي یې خپلواک سلطنت وکړ او ددغو دوو سلطنتو حکمرانانو د ډېر قدر په سترګه ورته کتل، د بُست عزت خان یې ډېر فرمانبردار و او حمزه د ملک جلال الدین زوی د سیستان ملي مشر له نوموړي سره هم همراهي درلوده.[1]

۱.عبدالقدوس نجیب، اراکوزیا (کندهار)، ۱۰۳مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ځلورم څپرکی

## د هلمندیانو رول د افغانستان په معاصر تاریخ کې

څنګه چې مخکې مو یادونه وکړه، مغولو د هلمند ډېرې ودانې سیمې ورانې او تباه کړلې، خو څه چې پاته سوه، د هغه څخه وروسته پارسي صفویانو تر وحشت لاندې راغله، له (۱۵۱۰ز) څخه تر (۱۷۲۲ ز) کال پورې د هلمند لرغونې سیمه د پارسي صفویانو په لاس کې وه او پدې سیمه کې یې په خپل نامه سکه وهلې وه.

ددې دوه نیمو پېړیو په اوږدو کې افغان ولس که په ختیځ و لویدیځ کې وه او که په شمال و جنوب کې، په وار – وار یې د پردیو تېرې کوونکو او یرغلګرو ځواکونو په مقابل کې پاڅونونه کړي دي او دا پاڅونونه د تېري کوونکو تاړاک ګرو له خوا ټکول سوي دي.

بیا هم په همدې دوران کې د کندهار، هلمند، زابل، ارزګان، هرات او نورو ولایتونو زړورو افغانانو د هوتکیانو په مشری تر اصفهان پورې پرمختګ وکړ او دا سیمې یې د افغانستان په خاورې پورې وتړلې. (۱۷۲۲– ۱۷۲۹ز)

نادر افشار په کال (۱۷۳۶ز) د پارس (ایران) څخه د افغانستان په لور پوځي یرغلونه پیل کړل، دا وخت د هوتکیانو دوره وه، د نادر افشار پوځ له ډېرو جګړو څخه وروسته په هرات کې یې د ابدالیانو او

(c) ketabton.com: The Digital Library



په کندهار کې یې د هوتکیانو واکمنۍ ته د پای ټکی کېښود، د افغانستان له نیولو وروسته د افغان پوځ په ګډون یو لوی لښکر جوړ کړ او د هند په لوري یې مارش کړ، چې د هلمند یو نومیالی مشر (نورمحمد الیزی (=علیزی) هلمندی – میرافغان) هم د نوموړي په لښکر کې د پوځ مشر و، برخه درلوده.

میرافغان، نادر افشار ته ډېره موده په پارس، افغانستان او هند کې پوځي خدمتونه وکړل، چې نادر د دې خدمتونو په بدل کې میرافغان ته د زمینداور لرغونې سیمه ورکړه، چې په هغه وخت کې یې (۳۶۰) کارېزونه درلودل، نوموړي هم په دې سیمه کې خپل قوم (علیزی) ځای پر ځای کړ.

په خبوشان کې د نادر تر مړینې وروسته افغاني پوځونو دا هوډ وکړ، چې افغانستان ته ستانه سي او د افغاني حکومت په جوړونه کار پیل کړي، د (۱۱۶۰هـ. ۱۷۴۷ز) کال د رجب په میاشت کندهار ته راورسېدل، افغاني مشرانو ژر تر ژره د نادرآباد نوي کلا ته نږدې د شېرسرخ پر هدیره ملي جرګه جوړه کړه، چې په هغې کې د افغاني پېژندویو ټبرونو مشران لکه نور محمد خان هلمندی (میرافغان) د علیزو مشر، محبت خان د پوپلزو مشر، موسی خان د ساکزو مشر، نصرالله خان د نورزو مشر او حاجي جمال خان هلمندی د بارکزو مشر ګډون درلود.[1]

دا جرګه په دې موخه جوړه سوې وه، چې دا خانان او قومي مشران له خپله منځه یو ملي مشر د افغاني حکومت د واکمن په توګه وټاکي،

---

۱.پوهاند عبدالحی حبیبي، د افغانستان لنډ تاریخ، ۲۸۰ مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



هر خان او هر مشر د واک د راخپلولو په لټه کي و، نو يو بل به يې رداوه، دې جرګې تر اتو ورځو پوري دوام وکړ، خو جرګه د اتو ورځو شننو او وراشو په ترڅ کي کومي پايلي ته ونه رسېده، جرګې په خپلي نهمي ورځي پرېکړه وکړه، چي د شېر سرخ د مزار مجاور (صابر شاه ملنګ) چي يو روحاني سړی و، په خپلو منځو کي د حکم په توګي وټاکي، جرګې پتېيلې وه، که صابر شاه هر څوک ټاکي، نو ټول به له هغه سره بيعت کوي، دا صوفي مشر هم له خپله ځايه راپورته سو، په ورځېرمي سيمي کي يې د غنمو يو وږی راواخيست او بيرته د جرګې منځته راغی، په جرګې کي د ټول ناستو کسانو سترګو دغه درويش ته رغړېدلې او دې ته يې کتل، چي چاته به ورنېږدې کيږي، صابر شاه چي ليدلی يې وه، په دې جرګې کي يو ازيني ناست سړی، چي ډېري خبري نه کوي، احمد خان دی، نو درويش نوموړي ته نږدې سو او د غنمو وږی يې د احمد خان پر دستار باندي کښېښود او وې ويل:ـ (دا ستا جيغه ده او ته دُراني پاچا يې)، په جرګه کي ټولو ناستو کسانو د احمد شاه بابا ټاکنه، په خپلو مبارکيو لا پرتمينه کړله. (۱۷۴۷ ز کال د اکتوبر مياشت).[۱]

احمد شاه بابا په کال (۱۷۴۹ ز) کي د خپلي امپراطورۍ د پراخوالي په درشل د کابل او پېښور له لاري لاهور ته ولاړ، د لاهور له حکمران مېرمنو معين الملک سره يې روغه وکړه، د سالکوټ، ګجرات او د پنجاب ماليات يې د مېرمنو پر غاړه کښېښوول، کندهار ته بېرته د رسېدو پر وخت يې د قبيلو ځيني مشران لکه: نور محمد خان مير

۱.کانديد اکاډمېسن محمد اعظم سيستانی، د وزير فتح خان او د هغه د کورنۍ تاريخي رول په سدوزي دولت کي، ۶۷ مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



افغان عليزى، ګډو خان او محبت خان پوپلزى چي دده پر خلاف يې دسيسه جوړه کړې وه ووژل.[1]

د احمدشاه بابا له خوا دا لومړي پښتانه وه چي ووژل سول، خو د عليزو قوم د ميرافغان وژنه داسي بيانوى:.(د احمدشاه مور خپله لور د ميرافغان پلار حاجى اسماعيل خان عليزي ته په نکاح ورکړه، چي د ميرافغان ميره يا دوهمه مور ګڼل کېدله، د اسماعيل خان تر وفات وروسته ميرافغان د سپاه سالار په توګه وټاکل سو، څه وخت چي به ميرافغان کور ته راتلى يا دندي ته به تلى، نو د احمدشاه خور دده ډېر عزت کاوه، خو کله چي احمدشاه بابا پاچا سو، نو د هغه خور د پخوا په شان د نوموړي عزت نه کاوه، يوه ورځ ميرافغان د خپلى ميرې څخه وپوښته چي ته اوس ولى زما دومره عزت او احترام نه کوى لکه مخکي چي دي کاوه، ميره يې په ځواب کي ورته وايي، چي سر پښو ته نه ولاړيږى او ته زما په وړاندى پښې يې، ددې خبرى په اورېدو سره ميرافغان په قهر کيږي او خپله ميره پر دواړو غبرګو پښو په توره وهي، د ډېري خون ريزى په وجه دا مېرمنه خپل ژوند له لاسه ورکوي، ددې پيښي څخه کله چي احمدشاه بابا خبريږى نو ميرافغان په دار کوي).

پورتنۍ کيسه د خدايداد خان چي د ميرافغان زوى دى، د خولى روايت دى چي تر موږ پورى دا خبره را رسېدلې ده، خو په هغه وخت کي احمدشاه بابا کوم اقدام ونکړ او کېدلاى سي چي د عقدې په شکل دا حادثه يې له ځانه سره ساتلې وي.[2]

۱.پوهاند عبدالحى حبيبي، د افغانستان لنډ تاريخ، ۲۸۲ مخ
۲.عبدالغفور، زميندار او عليزي، ۴۸ مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوس به راسو دلته به تاسو ته یو بل ملي مشر در وپېژنو، چې د احمد شاه بابا د حکومت په ټینګولو کې ډېر زیار یې کښلی دی، نوموړی مشر چې حاجي جمال خان بارکزی (هلمندی) نومیږي او مخکې یې هم یادونه سوې ده، خو دلته دده او دده د کورنۍ په اړه په مفصله بحث کوو:

## حاجي جمال خان نیکه (هلمندی) او دده لویه کورنۍ:

د یوولسمي هجري پېړۍ په پای کې د هلمند د تاریخي سیمې د بارکزو په ناوه[1] کې د بارکزو د قبیلې یو د رونـد مشر د خپل قوم مشرتوب پر غاړه درلود، چې حاجي جمال خان نومېده او وروسته په ولس کې په حاجي جمال خان نیکه مشهور سو.

د حاجي جمال خان نیکه د مشرتوب زمانه د کندهار په ښار کې د ملي قاید (حاجي میرویس خان نیکه) په لاس د یوه ملي حکومت د تأسیس سره برابره ده.

حاجي جمال خان نیکه له هغو ځوارلسو تنو ابدالي مشرانو څخه و، چې افشار نادر ورته د مشرتوب په سترګه کتلي وه، کله چې د شېرسرخ په جرګه کې د نوي افغانستان د زعامت پر سر باندې خبرې کېدلې، حاجي جمال خان نیکه لومړی شخص و، چې د احمد خان زعامت یې ومانه او د بیعت لاس یې ورکړ، دده په پیروۍ د جرګې نورو برخه والو هم ځوان احمد خان د خپل مشر په توګه ومانه.[2]

---

۱.د جغرافیې په برخه کې د بارکزو ناوه وګورئ.
۲.حافظ مرغزي، احمد شاهي شهنامه، ۵۳۹ مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



درانـي احمدشـاه هم دده د خدمتونو لـه کبلـه ده تـه د سرداری لقب ورکړ، مګر دا چې د بیت الله شریفي طواف یې کړی و، نو حاجی جمال خان یې باله او د سردار په نامه نه یادېده.[1]

حاجي جمال خان نیکه هغه مخور شخصیت و، چې په یوه ږغ به یې زرګونه قبیلوي ځوانان او سپین ږیري راټول، چې یوه به یې هم د خبرو څخه سر نه غړاوه او خبره یې منل، د هري قـومي جرګې پـه منځ کـي بـه ناست و، متـوازیني او برابري پرېکړې بـه یـې کـولې، دده لـه مسـاوي وېش او پریکړو ټول ولس راضي و.[2]

د احمد شاه بابا تـر واکمـن کېدو وروسته حاجی جمال خـان نیکـه د هغـه پـه دربـار کـي د ډېر مهم او صلاحیت لرونکي مشـاور (سلاکـار) دنده درلوده، چې احمدشاه بابا هم پـه ټولـو چـارو کـي لـه ده سره سلا مشـورې کـولې، حـاجي جمـال خـان نیکـه هم د احمدشاه بابـا پـه ټولـو لښکر کښیو کي د خپل قومی لښکرو سره ونډه اخیسـته او پـه حقیقت کي دده ملاتـړ، هوښیاري او سپېڅلې همکـاري وه، چې د احمـد شـاه دراني واکمني پرې ټینګه وه.

احمدشاه بابا هم تـر وروستي سلګۍ پوري د دغـه درانـه او خـوږمن سپین ږیري له شان سره سم دده درناوی کاوه او د هیواد په لویو او وړو هیوادنیو چارو کي یې د هغه خوښه او مشوره اخیسـته.[3]

---

۱.کاندید اکاډمېسن محمد اعظم سیستاني، د وزیر فتح خان او د هغه د کورنۍ تاریخي رول په سدوزي دولت کي، ۸۲ مخ

۲.شریف الله دوست سرواني، د هلمند نومیالي، ۳۲۸ مخ

۳.احمد علي کهزاد، افغان مېړني او تاریخي پیښې، ۱ مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



حاجی جمال خان نیکه دوې مېرمنې درلودې، چې یوه یې غلجۍ او بله یې بارکزۍ وه، له دواړو مېرمنو څخه یې څلور زامن او یوه لور زیږېدلې ده، لور یې تېمورشاه ته واده سوه چې شاه محمود، همایون او حاجي فېروزالدین د هغې څخه زیږېدلي دي، زامن یې هارون خان، رحیمداد خان، پائنده خان او بهادر خان وه.[1]

د احمدشاه بابا تر مړینې دوه کاله مخکې په کال (۱۱۸۴) لمریز حاجي جمال خان نیکه له دې نړۍ څخه سترګې پټې کړې او له ده څخه وروسته د نوموړي مشر زوی (رحیمداد خان) د احمد شاه بابا د سلاکار او د بارکزو د مشر په توګه دنده اجرا کوله، چې په آخیر کې د احمدشاه بابا تر مړینې وروسته د تېمورشاه لخوا رحیمداد خان له دندې ګوښه او د هغه کشر ورور (سردار پائنده محمد خان) یې پر ځای د بارکزو مشر او د ځان سلاکار وټاکه.

## تېمورشاه ته د سردار پائینده محمد خان (هلمندي) خدمتونه:

سردار پائنده محمد خان د حاجی جمال خان بارکزي کشر زوی، چې د هغه د وفات پر مهال اووه کلن ماشوم و، د خپل مشر ورور رحیمدادخان تر لاس لاندې لوی سو، کوم وخت چې (۱۶) کلن سو، تېمورشاه دده د مشر ورور پر ځای د قوم مشري ورکړه او په دربار کې یې د پام وړ ځای ورکړ.

لومړی کار چې د تېمورشاه پام یې د پاینده محمد خان په لور واړاوه، هغه په کندهار کې د درانیانو د ښورښ ارامول وه، چې د

1. کاندید اکاډمېسن محمد اعظم سیستانی، د وزیر فتح خان او د هغه د کورنۍ تاریخي رول په سدوزي دولت کې، ۹۰ مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



تېمورشاه په وړاندې یې کړې و، دا ښورښ د احمدشاه بابا د اکا (عبدالخالق خان) په مشرۍ له کندهار څخه د کابل په لور ترسره شوی و، پائنده محمد خان وکړای سو د ښورښ کوونکو له ډلې څخه (مهراب خان) او (دلاور خان ساکزی) راجلا او د تېمورشاه په پلوۍ یې ودروي، پدې ډول د عبدالخالق قواوو ماته وخوړه، پخپله ونیول سو او وروسته د تېمورشاه په امر ړوند کړل سو.

تېمورشاه ددې بري په وړاندې، پائنده محمد خان ته د (سرفرازخان) لقب، دلاورخان ته یې د (مددخان) لقب او قاضي فیض الله خان ته یې د وزارت رتبه منظوره کړه، له هغه څخه وروسته سرفراز خان او مدد خان د کشمیر د یاغي سوي والي د ټکولو لپاره ولېږل سول، پائنده محمد خان په دومره میړاني وجنګېده، چې ډېر ژر یې یاغي والي (آزاد خان) مغلوب کړ.

کوم وخت چې دوی ددې بریالي ماموریت څخه کابل ته راغلل، مدد خان تېمورشاه ته د پائنده محمد خان د مېړاني او زړورتوب کیسې وکړې، ځکه نو تېمورشاه هغه په بلوچستان کې د شال او کوئټې د مالیاتو ټولولو لپاره په دندې وګماره، پائنده خان هلته د خلګو سره دومره ښه سلوک وکړ، چې هغوی یې ټول له دولت څخه خوشحاله کړل، ډېر ژر دده د لیاقت او استعداد کیسې د هیواد تر ګوټ – ګوټ پوري ورسېدې او پر تېمورشاه باندې دومره ګران سو، چې د غلجي[1] قبیلې مشري او اداره هم ده ته وروسپاره او اجازه یې ورکړه تر څو د شاه پلاز ته نږدې ځانته ځای وټاکي.

---

۱- غلجي، غرزی یا غلزی، (غر- زوی) یعنې د غره زوی، چې په پاړسو کې کهزاد یې بولي

(c) ketabton.com: The Digital Library



کله چې د تېمورشاه زوی شهزاده عباس د ارسلان خان مومند په لمسون پېښورکې د خپل پلار په وړاندې بغاوت پیل کړ، پائنده محمد خان د یوه لښکر سره د هغه مقابلې ته واستول سو، د کابل مست رود دواړو خواو تر منځ باډاسکې وهلې، پائنده محمد خان (سرفراز خان) ځان وروا چاوه او عسکرو یې هم د هغه په پیروۍ دا کار وکړ، له نېکه مرغه بیله تلفاتو تر رود پوري وتل، سمدستي یې ځان لالپور ته ورساوه، هلته ارسلان خان د مقابلې توان په ځان کې ونه لید او په تېښته بریالی سو، ددې پیښې وروسته د پېښور په شاوخوا غرونو کې سرګردانه او پائنده محمد خان کابل ته راستون سو.

له هغه څخه لږ موده وروسته د ازبکانو د شورښ له کبله د هیواد امنیت له خطر سره مخامخ سو، ددې شورښ اوازه پوره جدي او ډارونکې وګڼل سوه، چې تېمورشاه خپل جرئت له لاسه ورکړ او نیت یې وکړ، چې کابل پرېږدي او هرات ته ولاړ سي، مګر پائنده محمد خان دی لدې ډارن کار څخه منع کړ، تېمورشاه په کابل کې پاته سو او پائنده محمد خان د یو لښکر په مشرۍ د بلخ په لور وخوځېد، نوموړي سیمي ته په ور رسېدو سره بیله دې چې له توري کار واخلي د ازبکي مشرانو سره خبرو ته کښېناست او ټولي ناخوالي یې د سوله ایزي لاري حل کړې، وروسته کابل ته ستون سو او د شاه سره یو ځای پېښور ته ولاړ.

پېښور ته د تېمورشاه په رسېدو سره شهزاده عباس پر ځان وډارېد، د پلار په پښو کې ولوېد او بخښنه یې ور څخه وغوښتل، ارسلان خان مومند هم د شاه څخه د بخښني غوښتلو په خاطر پېښور ته راغی،

(c) ketabton.com: The Digital Library



مګر په سهار سر پرېکړې بدن خلکو ته ور وښوول سو او وروسته تېمورشاه د خپل زوی عباس سره کابل ته راوګرځېد.

څه موده وروسته یو وار بیا تېمورشاه ته خبر راورسېد، چې د بخارا د پاچا (شاه مراد) په تحریک ازبکانو ښورښ پیل کړی دی، شاه مراد د څه وخت راهیسي په شمال کي د درانیانو پر خاوره تیری کاوه، هغه وخت چي تېمورشاه و بهاولپور ته په جګړې تللی و، د شاه مراد تیری دومره حد ته ورسېد، چي تېمورشاه مجبور سو د خپلو شمالي سیمو د ساتني په موخه پرېکنده تصمیم ونیسي، ځکه چي شاه مراد لدې څخه مخکي پر مرو باندي برید کړی و او د هغه ځای شعیه وګړي یې په زوره مجبوره کړي وه، چي شعیه مذهب پرېږدي او سني مذهب ته را واوړي او که چیري دا کار ونه کړي، نو سرونه به یې ور غوڅ کړي، دا هغه ته ورته یو کار و، چي صفوي شاه (اسماعیل) د خپل واک پر مهال د (۱۵۰۲ ز) کال وروسته د پارس د سني مذهبه وګړو او د هغو په ډله کي د مروی د سني مسلمانانو په هکله کړی و.

د (۱۷۸۹ ز) کال په پسرلي کي تېمورشاه د یوه لښکر سره چي الفنستون یی شمېر (۱۰۰۰۰۰) او غبار (۳۰۰۰۰) په شاوخوا کي ښوولی، د کابل څځه د بلخ په لور روان سو، شاه څه موده په کندز کي پاته سو او وروسته د آقچې پر خوا چي ازبکانو لاندی کړې وه وخوځېد، شاه مراد هم د آمو تر سیند را تېر سو او کلفت ته راغی، ده خپل ورور عمر قوش بیګي د یوه واړه پوځ سره اقچې ته ولېږه، الله وردي ته یې دنده وسپارله، چي پر تېمورشاه باندي د خوراکي موادو د رسولو لار بنده کړي، مګر د تېمورشاه پوځ چي سردار پائنده محمد خان یی محوری ټکی و، هر ځای چي به د دښمن سره مخامخ سو هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library



بـه یـې دړي وړي کـړ، شـاه مـراد ډار ونیـوی، یـو شـمېر ملایـان او روحـانیون د قـران شـریف سره تېمورشـاه تـه د بخښـنې لپـاره ولېږل او پدې بهانه چې د مسلمانانو وینی توي نسي د سولې وړاندیزیې وکړ، پدې خبرو کی د آمو سیند د پخوا په شان د افغانستان او بخارا تر منځ سرحد پاته سو او تېمورشاه کابل ته راوګرځېد.

د موهن لال په قول پر تېمورشاه باندي پائنده محمد خان د خپل ځـان پـه ډول ګـران و، داسـي ورځ بـه نـه وه چـي پـه انعـام بـه یـې نـه سـتایه، تېمورشاه په (۱۷۹۳ز) کال له دې نړۍ څخه سترګي پټې او په کابـل کي خاورو ته وسپارل سو.

رښتیا خبره داده چي د بارکزو اقتدار د تېمورشاه پـر مهـال پـه کابـل کـي ریښـې وځغلـولې او د سـلطنت تـر لاسـه کولـو پـوري وغځېـدلې، پائنده محمد خان به هیڅکله هم دا فکرنه و کړی چي دده تر ټولـو کشـر زوی دوست محمد به یو وخت د کابل پر تخت ناست وي او د برتـانیې سفیر به یې دربار ته ورځي.

د احمد شاه بابا هغـه تاج او تخت چي د حاجی جمال خـان نیکـه پـه مرسته یې ترلاسه کړی و، دده د اولادې په لاس په پـای کـی رانسـکور سـو، دا د پاینـده محمـد خـان د هلوځلـو میـوه وه چـي وروسـته بچیـانو ترلاسه کړه.

لنـډه دا چـي سـردار پائنـده محمـد خـان د تېمورشـاهي دولـت پـه ټینګښت او ټکاو کي نه ستړي کېدونکي هلي ځلي وکړې، دده پر ضد یـې هغـه توطیـه چي د ارسـلان مومنـد پـه تحریـک دده زوی شـهزاده عباس په لاره اچولې وه، د بیخه خنډ کړه، د تېمورشاه دولـت مخالفـان

(c) ketabton.com: The Digital Library



یې په پېښور، کابل، کشمیر، بلخ او نورو ولایتونو کې دې ته اړ ایستل سول، تر څو د مرکزي دولت اطاعت ته غاړه کښېږدي.[1]

### زمان شاه ته د سردار پائنده محمد خان (هلمندي) خدمتونه:

په (۱۷۹۳ ز) کې تېمورشاه وفات سو، نوموړي خپل د ځای ناستي په توګه څوک نه و ټاکلی، دده لویه کورنۍ او ډېر میراث خوران پاته سول، دده د ۲۴ زامنو له ډلي څخه شهزاده همایون په کندهار، شهزاده محمود په هرات او شهزاده زمان چي پنځم زوی یې و، د پلار په ژوند کي د کابل والی ټاکل سوی و.[2]

کله ناکله چي به تېمورشاه د کابل څخه په سفر تلی، شهزاده زمان به یې د ولیعهد په توګه پرېښود، د شهزاده زمان اخلاق او کړه وړه درباریانو ته ډېر د منلو وړ وه، دده مور د تېمورشاه تر ټولو ګرانه مېرمنه وه.

د تېمورشاه تر وفات وروسته دغي ښځي د موقع څخه ګټه پورته کړه، سردار پائنده محمد خان ته ورغله د خپل زوی لاس یې دده په لاس کی کښېښود او هیله یې ورڅخه وکړه چي د تخت په نیولو کي مرسته ورسره وکړي، دا چي پائنده محمد خان یو پښتون و او د پښتونولۍ په دود ښه بلد و ویې نه کړای سو، د یوې ښځي هیلو ته چي هغه ملکه هم وي، منفی ځواب ووایي، پدې توګه یې د هغې غوښتنه ومنله، د نورو دراني او قزلباشانو خانانو او قومی مشرانو

---

۱.کاندید اکاډمېسن محمد اعظم سیستانی، د وزیر فتح خان او د هغه د کورنۍ تاریخي رول په سدوزي دولت کي، ۹۱ مخ

۲.میر غلام محمد غبار، افغانستان در مسیر تاریخ، ۳۹۱ مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځخه یې د شهزاده زمان لپاره بیعت واخیست او هغه پر تخت کښیناست.

پائنده محمد خان د زمان شاه مور ته د وعدې له مخې د قاضي فیض الله خان دولتشاهي هروي او ملا عبدالغفار چې د تېمورشاه وزیران او باوري کسان وه، ورسره یې وکتل، دوي په ګډه داسي پرېکړه وکړه چې د شاه د مړینې تر اعلانولو دمخه باید ټول خانان او د قوم مشران سلطنتي دربار ته ګویا د شاه په امر را وغوښتل سي، کله چې دوي ټول حاضر سول، د دربار د صالون دروازې وتړل سوې، وروسته یې دوي ته د تېمورشاه د وفات خبر اعلان کړ، پائنده محمد خان احساس کړه چې قاضي فیض الله خان په زړه کې د شهزاده عباس پلوی دی، کله چې پائنده محمد خان پدی پوه سو چې قاضي ښایي د شهزاده عباس پلوي وکړي، نو یې د خبرو لړۍ پخپل لاس کې واخیستله او ویې ویل:.(د میت له ښخولو دمخه پکار ده، چې د شاه له زامنو ځخه یو تن د پاچا په توګه وټاکل سي، دا باید داسي یو ځوک وي، چې ددغه مقام لیاقت ولري او تاج و تخت ورباندي ښکلي ښکاره سي، په یوه لاس دوې توري نسي کارول کېدلای، موږ چې شخصي اغراض او موخي نلرو، یواځي او یواځي د هیواد ښېګڼه او پرمختګ غواړو او د سلطنتي کورنۍ خیر مو ارزو ده، باید د پاچاهۍ لپاره دغسي د ښو صفتونو لرونکی ځوک وټاکو، تاسي ټول چې پخپله هم د لوړې کورنۍ شهزادګان یاست باید په دغو غوښتونو کي زموږ سره همږغي اوسئ، شهزاده زمان چې د ټولو دغو شمېرل سوو صفتونو او شرطونو درلودونکی دی، دخپل علمیت، لیاقت او په سلطنتي چارو کې د فعالیت له کبله تر خپلو نورو ورونو برلاسی دی، باید د شاه په توګه

(c) ketabton.com: The Digital Library



وټاکل سي، له همدې لامله زه پر تاسي باندي ږغ کوم چي و ده ته بیعت ورکړئ.

دده تر وینا وروسته نورو وزیرانو هم هر یوه په نوبت سره د پائنده محمد خان د خبرو په تائید د زمان په پلوي نور دلایل هم چي دده د صفتونو ښکارندوی وه، راوړل، دا ټولي خبري د ناستو کسانو لخوا د تائید وړ وګرځېدې او څلرویشت کلن ځوان (شهزاده زمان) یې د پاچا په توګه وټاکه، وروسته فاتحه ولوستل سوه او د تېمورشاه د جنازې چاري پیل سوې.

پائنده محمد خان لکه څنګه چي مو ولیدل د شهزاده زمان سره پر تخت دده د کښېناستلو په چارو کي لویه مرسته وکړه، مګر بیا هم پائنده محمد خان د شهزاده عباس لخوا بیغمه نه و، دده دا تشویش پر ځای راوخوت، د فاتحې مراسم لا پای ته نه وه رسیدلي چي شهزاده عباس ټول ورونه د چهلستون په ماڼۍ کي راټول کړل، د هغوي څخه یې بیعت واخیست او ځان یې پاچا اعلان کړ، کله چي پائنده محمد خان او نور د زمان شاه پلوه خانان خبر سول، د میر اصلان خان جوانشېر او جعفرخان جوانشېر په مشرۍ یې یو شمېر عسکر ولېږل، څو د چهلستون ماڼۍ محاصره کړي، شهزاده عباس یې د ټولو ورونو سره ونیو او د شاه زمان حضور ته یې راویست، زمان شاه د خپل سکني ورور شجاع پرته (چي یوائې درې ورځې بندي و) نور ټول ورونه تر غضب او شکنجو لاندي ونیول، په پای کي مجبور سول چي

(c) ketabton.com: The Digital Library



بخښنه وغوښتله او ده ته بیعت وکړي، ده هم هغوي ټول وبخښل او په بالا حصار کې یې ځای ورکړ.[۱]

کله چې شهزاده همایون په کندهار او شهزاده محمود په هرات کې د زمان شاه د پاچا کېدو څخه خبر سول، هر یوه ښورښ ته ملا وتړله، همایون په کندهار کې د پاچاهۍ اعلان او سکه یې پخپل نامه باندي ووهله، وروسته یې د زمان شاه سره د جګړې لپاره تیاري ونیول، زمان شاه هم د پائنده محمد خان په مشرۍ پوځونه د کندهار په لور واستول، دواړه پوځونه د کندهار په څلور میلۍ واټن کې په (باغ ببرو) نومي ځای کې سره مخامخ سول، د همایون د لښکرو قوماندان مهرعلی خان د مدد خان ساکزي د مېرمني ورور (دده اخښی) و، د جګړې تر پیلېدو وړاندي پائنده محمد خان د هغه سره اړیکي ونیولې او هغه یې د خپلو منطقي خبرو تر اغېز لاندي دومره راوست چې په ډېره خوښۍ سره د همایون د پلوۍ څخه واوښت او د زمان شاه د عسکرو سره یو ځای سو، پدی کار سره همایون ماته وخوړه او بلوچستان ته وتښتېد، هلته د بلوڅ نصیر خان سره یو ځای سو او پر کندهار باندی د راتلونکی برید په هیله کښېناست.

سردار پائنده محمد خان کندهار ته ورغی، خانان او مشران یې ادایستل څو زمان شاه ته بیعت ورکړي، دده د غو صادقانه خدمتونو د زمان شاه په وړاندي د نوموړي قدر او درناوی نور هم زیات کړ او ده ته یې د کاله اتیا زره روپۍ معاش وټاکه، دبارکزو او غلجو سربېره یې د قزلباشو د قواوو مشرتوب هم دده پر غاړه واچاوه.

---

۱.کاندید اکاډمېسن محمد اعظم سیستانی، د نولسمي میلادي پېړۍ په لومړي نیمایي کې د افغانستان دوه پوځي او سیاسي اتلان، ۲۶ مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



زمان شاه د کندهار د چارو د سمون وروسته خپل وړوکی زوی (قیصر) چی اووه کلن ماشوم و، د عبدالله خان نورزي تر سرپرستۍ لاندي د کندهار حاکم وټاکه او پخپله یې د قواو سره د هرات په لور حرکت وکړ، شهزاده محمود هم تسلیم سو، په هرات کی د چارو د سمون وروسته کابل ته راغی او په هند کي د فتوحاتو په هیله پېښور ته روان سو، همایون چی د فرصت منتظر و، د بلوچستان څخه یې پر کندهار برید وکړ، نوموړي سیمه یې ونیوله او وړوکی قیصر یې زندان ته واچاوه، مګر عبدالله خان د یحیی خان نسقچي باشي سره یو ځای ځان په پېښور کي زمان شاه ته ورساوه، همایون یو وار بیا ځان پاچا اعلان او سکه یې ووهله، پدغه وخت کي د عبدالله خان نورزي ورور احمد خان نورزی د خپلو قواو سره پر ښار حمله وکړه، مګر عبدالکریم خان (یا عبدالکبیر خان) د پائنده محمد خان د ورور رحیمداد خان زوی چي د همایون قوماندان و، دفاع ته راووت او خونړۍ جګړه ونښته، په پای کي احمد خان زخمی او مات سو، د نښتي پر وخت یې ډېري ویني ضایع کړې، ضعف ورباندي راغی او له آس څخه ولوېد، ملا حسن درویش چي یو فقیر سړی و، ورباندی پېښ سو، کور ته یې بوت او درملنه یې وکړه، همایون په خبر سو، نفر یې ورپسې واستول او ځانته یې وغوښت، نیت یې و چي له منځه یې یوسي، مګر د یو شمېر دراني خانانو د منځګړیتوب له مخي یې د وژلو څخه تېر سو او د خپلو قواو سر قوماندان یې وټاکه.

د همایون لخوا د کندهار د نیولو څخه چي زمان شاه ته خبر ورسېد، هغه اړ سو څو پېښور پرېږدي، کابل او وروسته بیا کندهار ته حرکت وکړي، د دواړو خواوو لښکري یو ځل بیا د کندهار په ۴۰ کروهۍ کي

(c) ketabton.com: The Digital Library



سره مخامخ سوې ( ۱۷۹۴ پسرلی)، د زمان شاه د لښکرو قوماندان دا ځل هم پائنده محمد خان و، خو همایون بیا د زمان شاه پخوانی قوماندان احمد خان نورزی د خپلو قواوو قوماندان ټاکلی و، چې وروریې عبدالله خان نورزی دلته د شاه زمان په پلوی جګړې ته راغلی و، دا ځل پائنده محمد خان جګړه بېله وینو تویولو وګټله، د احمد خان سره یې اړیکې ونیولې هغه یې خپلې خوا ته را مات کړ، همایون بیا مات سو او د هرات پر خوا وتښتېد، څو له شهزاده محمود سره یو ځای سي، فتح خان بارکزی (د پاینده محمد خان زوی) تر ګرشک پورې په هغه پسې ولاړ، خو ګیر یې نکړ او بېرته کندهار ته راستون سو.

زمان شاه کندهار ته له رارسېدو سره سم شهزاده محمود ته یو لیک واستاوه، چې همایون ونیسي او لاس تړلی یې ده ته راولي، مګر همایون د فراه څخه د رېګستان له لارې بلوچستان ته تللی و، له هغه ځایه د سند هتر څنډو رسېدلی و او د هغې ډلې سره مخامخ سو چې دده د نیولو لپاره ټاکل سوې وه، دلته یې ماته وخوړله او د سندهـ ختیځو غاړو ته وتښتېد، هلته یې ونیو، چې د زمان شاه په امر ړوند کړل سو او پاته عمر یې په زندان کې تېر کړ.[1]

---

۱.کاندید اکاډمېسن محمد اعظم سیستانی، د وزیر فتح خان او د هغه د کورنۍ تاریخي رول په سدوزي دولت کې، ۱۰۰ مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د زمان شاه په حکومت کې د هلمند د لو (لویه) ادې سرښندنه:**

لو (لویه) ادې د کلان خان لور او د منصور خان خور، چې په (۱۱۵۰ هـ ق) شاوخوا د هلمند په لرغوني سیمه کې او سېدل، دغه مېړنۍ مېرمن د ګرشک د مالګیر د کلي په خټه پښتنه بارکزۍ وه.

لویه ادې د اشرف الوزرا وزیر فتح خان بارکزي مور وه، چې په هوښیارۍ او دلاورۍ کې تر خپل خاوند (سردار پائنده محمد خان بارکزي) کمه نه وه.

د ګرشک د لویدیځ په (۱۵) کیلو مترۍ د (مالګیر) په کلي کې د (ادې باغ) په نامه هم یو ځای سته، چې نړېدلي دېوالونه یې تر اوسه هم پاته دي، پدې کلي کې هم بارکزي او سیږي.

لکه څنګه چې مخکې یې یادونه وسوه، چې شهزاده همایون، د زمان شاه مشرورور او د تېمور شاه مشر زوی، په کال (۱۷۹۴ ز) کې کندهار یې له قیصر څخه ونیو، قیصر د پلار لخوا د کندهار والی ټاکل سوی و، د همایون لخوا د کندهار د نیولو څخه چې زمان شاه ته خبر ورسېد، هغه مجبورسو څو پېښور پرېږدي، کابل او وروسته بیا کندهار ته حرکت وکړي، د دواړو خواوو لښکري د کندهار په (۴۰) ځلو ښت کروهي[1] کې سره مخامخ سوې، دې کې د زمان شاه د لښکرو قوماندان سردار پائنده محمد خان و، خو همایون بیا د زمان شاه پخوانی قوماندان احمد خان نورزی د خپلو قواوو قوماندان ټاکلی و، چې ورور یې عبدالله خان نورزی دلته د شاه زمان په پلوۍ جګړې ته راغلی و، پائنده محمد خان جګړه بېله وینو تویولو وګټله، د

۱.کروه: شېرشاهي کروه= ۶۰ جریبه او هر جریب ۶۰ سکندري ګزه ته وایي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



احمد خان سره یې اړیکي ونیولې هغه یې خپلي خوا ته را مات کړ او شهزاده همایون د هرات پر خوا وتښتېد، څو له شهزاده محمود سره یوځای سي، فتح خان بارکزی (د پاینده محمد خان زوی) تر ګرشک پوري د هغه پسې ولاړ، خو ګیر یې نکړ او بېرته کندهار ته راستون سو.

هغه مهال چي خلکو لا د جګړې د پایلو په هکله خبر نه درلود، دغی غیرتمني ښځي خپله بوغره (برقع) واغوستله او توره یې تر ملا وتړله، پر آس سپره سوه، د ښار پر زندان یې برید وکړ او (۸) اته کلن قیصر د زمان شاه زوی یې له زندانه ازاد کړ، بېرته یې د حکومت پر چوکۍ کښېناوه، پدې توګه نوموړې پتمني ښځې د زمان شاه سره خپل ملاتړ وښود، د قیصر آزادول یې د جارچي له لاري د خلکو تر غوږونو ورسول.

دې مېرمني همدارنګه د جګړې د پایلي تر معلومېدو پوري د ښار امنیت ته پاملرنه وکړه، چي په غلا او چپاول لاس پوري نسي، یوځل دې ته خبر ورسېد، چي ددې زوم (مرتضی خان) غواړي په ښار کي تجارتخوني او دُکانونه چور کړي، لو ادې هغه ددې کار څخه منع کړ او اخطار یې ورکړ چي که دا کار وکړي نو سر به یې پرې کړي، هغه ددې خبري ته غوږ ونه نیو او په چور یې لاس پوري کړ، لویې ادې حمله پر وکړه او په توره یې داسي وواهه چي د مځکي راپورته کېدای نسو، وروسته یې زندان ته واچاوه، په پای کي یې د یوه روحاني سړي په شفاعت هغه وبخښی او له زندان څخه یې راوایست.

دا زړه وره ښځه تر اوسه هم د درناوی سره ملګرې ده، دګرشک د انجونو لېسه ددې په ویاړ نومول سوېده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



څو ورځې وروسته زمان شاه د خپلو لښکرو سره د کندهار ښارته ننوت، کله چې یې خپل وروکی زوی د همایون په جګړه کې زخمی سوی ژوندی ولید، ډېر خوشحاله سو، د لویې ادې څخه یې مننه او درناوی وکړ او قیصر یې بیا هم په کندهار کې پرېښود. [1]

**د سردار پائنده محمد خان هلمندي په وړاندي د زمان شاه بې پروایي:**

کله چي زمان شاه له کندهار څخه کابل ته ستون سو او سلطنت یې ټیکاو وموند، د قومي مشرانو سره یې بې پروایي خپله کړه او ورو ورو یې د مطلق العناني (زورواکۍ) لاره یې ونیوله، زمان شاه ته چي خپل نظر ډېر پر ځای ښکارېده، نه یې غوښته چي نور خلک پر ده باندي د خپلو خدمتونو په خاطر منت واچوي او یا دا چي د خپلي قومي ونډې له مخې د هیواد په اداره کې شریک او اغېز ولري.

په همدې موخه یې د خپل سلطنت په درېیم کال (۱۷۹۶ ز) کې (سردار رحمت الله خان د سردار فتح خان پوپلزي زوی) چي د ملتان د مېشتو ابدالیانو څخه و، د افغانستان په لویو ښارونو لکه کابل، کندهار، هرات او نورو کې یې قومې اغیز نه درلوده، د (وفادار خان) په لقب سره خپل صدر اعظم (لوی وزیر) وټاکه.

له بده مرغه پدې وخت کې دده وزیر هم یو عصبي او بد خویه قهرجن سړی و، چي د قومي مشرانو سره یې ښه سلوک نه کاوه او تل یې ددغو مشرانو په وړاندي زمان شاه بدبینه کاوه.

د دغو سردارانو او قومي مشرانو په ډله کې یو هم پائنده محمد خان د بارکزو مشر او د دربار د نږدې کسانو څخه و، سره لدې چي پائنده

۱.محمد شفیق ژمن، زما هلمند، د مقالو ټولګه، ۳۱۶ مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



محمد خان د شاه محمود سکنی ماما و، مګر په داخلي جګړو کې یې د زمان شاه پلو ونیو.

ښکاره ده چې ده ددې ټولو خدمتونو په خاطر هیله درلوده څو د وزارت څوکۍ ورکړل سي، همدارنګه قزلباش مشرانو لکه میراصلان خان جوانشیر او جعفرخان جوانشیر چې دده د سلطنت د ټینګښت لپاره یې ډېرې هلې ځلې کړې وې، دوی هم د زمان شاه څخه ډېرې هیلې درلودې.

کله چې وفادار خان پدې پوه سو، چې زمان شاه یې د مکارۍ په جال کې ګیر سوی دی، نوموړي ته یې د درواغو راپورونه ورکول چې ګویا پائنده محمد خان د شجاع لپاره فعالیت کوي، څو پر پلاز باندې یې کښېنوي.

پدې توګه یې شاه د ټولو قومي مشرانو په ځانګړې ډول د پائنده محمد خان په هکله بدبین کړ، دا خبره تر هغه ځایه ورسېده، چې شاه به په څرګنده د نوموړي کسانو په وړاندې مخالفت کاوه، د همدې کبله سرداران او قومي مشران له شاه څخه ناراضه سول او غوښتل یې په مناسب وخت کې غبرګون وښیي.

د نظر خاوندان وایي چې زمان شاه یو په بل پسې دوې سیاسي تېروتنې وکړې:- لومړۍ دا چې د کم عقل وفادار خان په دسیسه او تحریک یې فرمان صادر کړ، چې له مخې یې ټول بارکزي د دولتي مقامونو او امتیازاتو څخه بې برخې کېدل او دوهمه دا چې هغه مقام چې د خپل خدمتونو په مقابل کې د پائنده محمد خان حق و، هغه یې بې کفایته وفادارخان ته ورکړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



پیرس لیکي:ـ وفادار خان یو حریص او ځان غوښتونکی سړی و، نو موړي کوښښ کاوه چي ټول د شاه اقتدار پخپل لاس کي ونیسي، دی د خپلو کښتو کسانو (زیردستانو) په وړاندي ډېر مغرور او تر ځان د لوړو کسانو (بالادستانو) په وړاندي ډېر نرم، چاپلوس او ډارن و، ده د هر چل او نیرنګ څخه کار واخیست، څو زمان شاه یې د خپل لاس آله وګرځاوه، لدې څخه وروسته چي هر څه ده غوښتل، زمان شاه هم هغه کول.

الفنسټون وایي:.ددې لپاره چي زمان شاه د خپلو عزیزانو له ډلي څخه یو ډېر بې کفایته سړي ته واک سپارلی و، دا کار هم ده د برباد کېدو لامل سو او هم یې ملت د سترو بدبختیو سره مخامخ کړ.

## د زمان شاه پر ضد د خانانو او قومي مشرانو یوه پټه توطیه:

له هغه څخه وروسته چي زمان شاه، پائنده محمد خان او نور قومي مشران له دندو لیري کړل، پائنده محمد خان ګرشک او په نادعلی کي د ادې کلا ته راغی، چي د شاه او د بد غوښتونکو رقیبانو څخه لیري وي، دا چي ده غوښتل یا نه یې غوښتل، په هلمند کي د بارکزو د ناوې مشران به یې مجلس ته راتلل، وفادار خان دا خبره زمان شاه ته ورسوله او دده ذهنیت یې لا نور هم د نوموړي په هکله خړپړ کړ.[1]

په همدغو وختونو کي یو هندی چي غالباً پنجابی به و، ځکه په نامه کي میا ددغه مطلب ثبوت کوی او نوم یي (پیر غلام) و، دا سړی په

۱.کاندید اکاډمېسن محمد اعظم سیستانی، د وزیر فتح خان او د هغه د کورنۍ تاریخي رول په سدوزي دولت کي، ۱۰۳مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



کندهار کي دېره سو او مریدانو ته یې لوی لنګر جوړ کړ، دده لنګر ته قومي مشران، روحانیون او عام خلک ډېر ور جذب وه.

قومي مشرانو د پیر غلام په ځای کي یوه دسیسه او توطیه چي د کودتا شکل یې درلود، طرحه کړه، ددغي کودتا یعنې وزیر اعظم به وژني او زمان شاه د سلطنت څخه ګوښه او بل چا ته د حکومت سپارلو پلان په همدغه لنګر کي جوړ سو، کودتا کوونکو ځکه دا یو مصئون ځای باله چي دا د یو پیر لنګر و، خو وزیر رحمت الله خان د لومړي سره دغه ډله تعقیبوله او زمان شاه ته یې د هغو راپور ورکاوه، ددې حرکت مشران دا کسان وه: (سردار پائنده خان بارکزی، محمد عظیم خان الکوزی، محمد رحیم خان علیزی، نورالله خان بابر، اسلام خان پوپلزی، حکمت خان سرکاڼي، سلطان خان نورزی، خضر خان علیزی، (زمان خان پوپلزی(=رکاب باشی)، امیراصلان خان جوانشېر، جعفرخان جوانشېر او مُنشي محمد شریف خان قزلباش) دغو کسانو پر لاندنۍ معاهده قرآن او لوړه کړې وه:

لومړی – زمان شاه دي لیري او پر ځای دي شجاع پاچا سي.
دوهم – آینده به پاچا د قومونو په مصلحت پاچا کیږي.
دریم – کوم پاچا چي د قومي غوښتنو سره سم کار نه کوي سرداران به یې په خپل اختیار لیري کوي.

ځیني لیکوالان داسي هم وایي چي دغې ډلي پرېکړه کړې وه، چي زمان شاه به وژني او پاچاهي به محمود ته ورکوي.[1]

۱.کاندید اکاډمېسن محمد ابراهیم عطایي، د افغانستان پر معاصر تاریخ یوه لنډه کتنه، ۴۷ مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



د عملیات موده پنځلس ورځې ټاکل سوې وه، محمد عظیم خان الکوزی د وزیر رحمت الله خان (وفادار خان) د مړینې لپاره ګمارل سوی و او نورې چارې د سردار پائنده خان بارکزي په غاړه وې.[1]

د دغې کودتا سمبالوونکې مخکې تردې چې عمل وکړي ونیول سول، میا پیر غلام محمد هندی د هندوستان پر خوا وتښتید، خو ونیول سو او د هغو افغاني قومي مشرانو سره یو ځای اعدام سو، (۱۲۱۴هـ د روژې ۱۳)، پدې کسانو کې سردار پائنده خان بارکزی هلمندی لوی قومی شخص و او یو زیات شمېر ملاتړلی زامن یې درلودل چې تقریباً ټول د جنګ د میدان سپاهیان او جنرالان وه، په سر کې (فتح خان) چې وروسته د (اشراف الوزراء وزیر فتح خان په نامه وپیژندل سو) و.[2]

## د غچ اخیستلو لپاره مبارزه:

د سردار پائنده محمد خان هلمندي د اعدام په خبرېدو سره دده زامن، دوستان او خپلوان د کندهاره ووتل او خپل ټاټوبي (هلمند) ته یې ځانونه ورسول، څو په هلمند کې د ناوې د بارکزو څخه د پائنده محمد خان په غچ اخیستلو کې مرسته وغواړي، دلته بارکزیانو تر هر څه دمخه د پائنده محمد خان مشر زوی (فتح خان) د خپل قوم د مشر په توګه وټاکه او وروسته یې پرېکړه وکړه، چې دده هر تصمیم په

۱.کاندید اکاډمېسن محمد اعظم سیستانی، د نولسمي میلادي پېړۍ په لومړي نیمایي کې د افغانستان دوه پوځې او سیاسي اتلان، ۳۰ مخ

۲.کاندید اکاډمېسن محمد ابراهیم عطایي، د افغانستان پر معاصر تاریخ یوه لنډه کتنه، ۴۸ مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



عملي کولو کي به مرسته ورسره کوي، فتح خان که څه هم لا شل کلن سوی نه و، خو ددې کار لپاره مناسب سړی او پوره وړتیا یې درلوده.

دا وخت د زمان شاه ناسکه ورور (شهزاده محمود) چي څو واره یاغی سوی و او په پارس (ایران) کي اوسېده، فتح خان له نوموړي سره د یو ځای کېدلو لپاره د پارس پر لور وخوځېد او د سیستان له لاري یې کرمان ته چي هلته محمود دېره و، ورسېد، هغه یې د زمان شاه په وړاندي د سلطنت نیولو ته وهڅاوه، دواړو د قرآن کریم مخته سوګند وکړ، چي له یو بل سره د همکارۍ په کولو به هیڅکله یو بل ته خیانت ونه کړي، له سوګند وروسته دواړه له پنځوس سپرو سره یو ځای د سیستان پر لور وخوځېدل.

مخکي تردې چي فتح خان د کندهار پر خوا وخوځېږي، خپل دوه ورونه یې له سیستانه د اتلسو سپرو په بدرګې د درانې سردارانو په ځانګړې توګه د فراه د بارکزو د ټبر د مشرانو د ملاتړ د خپلولو لپاره فراه ته واستول، وروسته فتح خان، محمود او کامران میرزا سره یو ځای فراه ته ولاړل.

محمود او فتح خان د زمان شاه او د هغه د ناتار او ځانغوښتني په اړه د فراه مشرانو ته کیسې وکړې، په پای کي د فراه د درانیو یو شمېر خلکو د فتح خان او محمود په رکاب کي د خپل چوپړ تیاري څرګند کړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



محمود له دغو ځواکونو سره یو ځای د کندهار په لور مارش وکړ او ځرګند ده، چې د هلمند د ګرشک او د بارکزو د ناوې د سیمي بارکزو هم ددغه ځواک ملا لا پیاوړې کړله.[1]

د یادولو وړ ده چې فتح خان یو غښتلی، هوښیار او متنفذ شخصیت و، چې په درانیو ټبرونو کي له فراه څخه تر کندهاره یوازینی د میدان سرتیری او د ملی قوت خاوند ګڼل کېده، ده ډېر غښتلي ورونه درلودل او دده تر شاهي کهاله وروسته د افغاني قوت یوازینۍ بیلګه وه.[2]

محمود او فتح خان د بارکزو په مرسته د کندهار خوا ته وخوځېدل، په (کشک نخود) کي مهر علی خان ساکزی له زرو پلیو (پیاده) او سپرو سره د دوي مخ ته ودرېد، خو ماته یي وخوړله او کندهار ته وتښتېد، سردار فتح خان د کندهار ښار کلابند کړ، تر (۴۳) ورځو کلابندۍ وروسته ښار یې محمود ته وسپاره او مهر علی خان ساکزي پخپله د کندهار د نیولو خبر زمان شاه ته چې په پېښور کي و، ورواستاوه، زمان شاه له قهره په پنجاب کي د رنجیت سنګ پر ضد له خپلو اقداماتو تېر سو او مخ پر کابل روان سو، د محمود او سردار فتح خان د تمبولو لپاره یي د غزني لار خپله کړه، د احمد خان نورزي او خپل زوی شهزاده ناصر په مشرۍ یې لس زره کسیز لښکر جوړ او مخ د کندهار په لوري واستاوه، د غلجیو د کلات او مقر تر منځ په (سراسپ) سیمه کي احمد خان نورزی، فتح خان ته په سلامي سو،

۱.کاندید اکاډمېسن محمد اعظم سیستانی، د وزیر فتح خان او د هغه د کورنۍ تاریخي رول په سدوزي دولت کي، ۱۰۹ مخ
۲.پوهاند عبدالحی حبیبي، د افغانستان لنډ تاریخ، ۲۹۹ مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځکه چي دی هم د نورو په څېر د وزیر رحمت الله خان څخه سخت خپه و، نو د زمان شاه زوی پر شاتګ ته اړ سو، زمان شاه له غزني څخه کابل ته ستون سو، چي نوی ځواک برابر کړي، خو ښار ته له رسیدو سره هغه ورسره پوځیان هم خواره واره سول، په دغه وخت کي وزیر وفادار خان او دوه سوو سپرو او څلورو سوو پلیو څخه پرته نور ټوک ورته پاته نسو، نو له همدی کمکۍ (کوچنۍ) ډلي ټپلي سره یې د جلال آباد مخه ونیوه، محمود او فتح خان په یوه منډه د مقر او غزني له لاری کابل ته ورسېدل او د دوي تر منځ د جګړې په وچه پاڼه کي لنډه نښته وسوه، چي زمان شاه ماته وخوړه.

توربختی زمان شاه چي تر څو میاشتو مخکي پوري په پنجاب کي د هیواد د بهرنیو دښمنانو د ایلولو په سوچ کي و، د ورونو د ناخوالو او کورنیو ګډوډیو له لاسه داسي سوی و، چي ډېر لږ ملګري ورته پاته وه، پرېشانه و او بې ارادې اړ سو، چي لږ تر لږه د یوې شپې لپاره د ملا عاشق شینواري کلا ته پنا وروړي.

ددې کلا ناوړه پیښي ټولي د بدبختۍ له لاسه پیښي سوې، کنې له ټولو هغو ماتو سره بیا هم تر پنجابه د افغانستان ختیځي او جنوبي برخي دده د توري تر شپول لاندي وې او دده سکه ورور شجاع پر پېښور پیاوړی واکمني کوله، زمان شاه له هغه څخه په یوه لیک کي د مرستي غوښتنه کړې وه، چي خیبریان او یوسفزي دده مرستي ته واستوي.

ملا عاشق شینواري په سر کي په ورین تندي د مېلمنو هر کلی او درناوی وکړ، خو چي وایې ورېده چي محمود کابل ونیو، بیري واخیست چي سبا یې د زمان شاه په پنا ورکولو محمود ونه نیسي، نو

(c) ketabton.com: The Digital Library



د کلا دروازې یې وتړلې او په شپه کې یې د زامنو په لاس شاه محمود ته پیغام واستاوه، چې د بندیانو په نیولو او بیولو پسې ځوک راواستوي.

شپېبه لا تېره نه وه، چې زمان شاه او ملګري یې پوه سول، عاشق شینواري د مېلمه پالني او کوربه توب د دود پر خلاف د فرېب لاره خپله کړې وه او کلک مخالف سوی و، زمان شاه او ملګرو یې هر څه خواری وکړې چې د ځان د خلاصون لپاره ګودر ومومي خو بریالي نه سول.

ددې ناڅاپي پېښې خبر دواړو خواوو (کابل او پېښور) ته رسېدلی و، له یوې خوا شاه محمود د خپل سیال د نیولو لپاره متې راونغښتې او له بل لوري شجاع د خپل ورور د خلاصون په لټه کې سو.

له کابل څخه د وزیر فتح خان ورور (اسد خان) د یوه جراح سره د جلال آباد پر خوا رهي سو او له بلې خوا له پېښور څخه عبدالکریم خان د بندي پاچا په خلاصون پسې راوخوځید، (جګدلی چې کابل ته لنډ پروت دی)، ځکه اسد خان کلا ته مخکې ورورسېد، زمان شاه یې ونیو او جراح یې د شاه محمود په وینا سترګې وایستې او له ملګرو سره یې کابل ته راوست، له رارسولو سره یې سمدستي په بالاحصار کې د تورو تمبو شاته واچاوه، وفادار خان وزیر او نور پلویان یې له تېغه تېر کړل، دې ناوړه پېښې د شاه محمود او ناسکه ورور شجاع تر منځ د سختو دښمنیو ور پرانیست.[1]

---

۱.احمد علي کهزاد، افغان مېړني او تاریخي پېښې، ۱۷ مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



د زمان شاه په له منځه تلو سره، په هند کې د انګلیسي ښکېلاک او زېښناک پایښت او خپرښت ته ښه موقع او د دوي په ګټه ښه شرایط په لاس ورغلل، په انګرېزانو سربېره د افغانستان نورو ګاونډیانو (روسانو، پارسیانو او سکانو) ته هم دا فرصتونه موجود سول، چې د لوی افغانستان له وجود څخه په وار – وار ترېنه لوی – لوی هډونه وشکوي او په تدریجي توګه یې له خپل ځواکمنتوب، امنیت، یووالي، پرمختګ او جغرافیایي تمامیت څخه محروم کړي.

د زمان شاه زوی قیصر، چې دا وخت په هرات کې حکمران و، پارس ته وتښتېد او هرات یې خپل اکا حاجي فېروزالدین ته پرېښود، د پارس پاچا لکه څنګه چې انتظار کاوه، قیصر یې ونازاوه او د هر راز مرستې وعده یې ورسره وکړه.

عاشق شینواري چې دا لوبه لوبه کړې وه، هم روغ پاتـه نه سو، درې کاله وروسته چې د شاه محمود لومړی واکمني د شجاع په لاس رنګه سوه، لومړنی کار یې دا وکړ، چې عاشق شینواری یې راوغوښت او پر دار یې وځړاوه، د کوه نور د الماسو غمی چې زمان شاه د شینواري د کلا په دېوال کې ټمبلی و، هم شجاع ته په لاس ورغي.[1]

## د شاه محمود پاچهي او د وزیر فتح خان (هلمندي) وزارت:

شاه محمود په (۱۸۰۱ ز) کال کې د افغانستان د پاچا په حیث پر پلاز کښېناست، نوموړی چې د کابل د تخت د نیولو سره، د خپل ژوند تر ټولو لوی مقصد ته ورسېد، د زمان شاه د وخت د تجربې خاوندان،

---

۱.همدا اثر، ۲۲ مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



نظامي او ملکي وزيران او مامورين يې بې واکه کړل، د دوي پر ځای يې خپل پلويان وټاکل، په دې لړ کي د سردار پائنده خان بارکزي زوی فتح خان بارکزي ته يې د شاه دوست لقب ورکړ، خپل وزير يې وټاکه او قاضي محمد سعيد خان بارکزی يې د کندهار د قاضي القضات او د (خان علوم) لقب يې ورکړ.

د وزير فتح خان د مهر سجع په لاندي بيت پيل کيږي:

طالع محمود را نازم کزوست طالع محمود را نازم کزوست
سرفراز فتح و نصرت شاه دوست سرفراز ملک و دولت شاه دوست

او د قاضي القضات محمد سعيد خان بارکزي مهر په لاندي سجع و:

محمد سعيد از فضل حق مشهود شد قاضي القضات شاه محمود شد [1]

شاه محمود د تخت ناستي سره سم، د هيواد ټولي سياسي، نظامي او نوري چاري وزير فتح خان ته وسپاره، وزير فتح خان هم د معمول سره سم، خپل ټول ورونه د افغانستان په بېلابېلو ولايتونو کي حکمرانان کړل، يوازي دوست محمد خان يې له ځان سره په مرکز کي وساته، محمد عظيم خان او بيا وروسته عبدالجبار خان ته يې کشمير ورکړ، پېښور يې تر اټکه يار محمد خان او سلطان محمد خان ته وسپاره، سندھ او ښکارپور يې رحمدل خان، غزني يې شېردل خان،

۱.کاندید اکاډمیسن محمد اعظم سیستاني، د نولسمي میلادي پېړۍ په لومړي نیمایي کي د افغانستان دوه پوځي او سیاسي اتلان، ۴۳ مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



بامیان یې کهندل خان، کندهار او د هغه شاوخوا له کلاته تر بولان درې، فراه او هلمند پوري مهردل خان او پردل خان ته او دېره جات تر پنجاب او د پېښور تر غرنیو سیمو پوري نواب عبدالصمد خان او د هغه زوی نواب زمان خان ته ورکړ سو،[1] ګواکي عملي اجراآت او حکومتي چاری وزیر فتح خان او د هغه وروڼو سرته رسولې او د عیش او عشرت کارونه شاه محمود ته پاته سول، د افغانستان په تاریخ کي ښایي د شاه محمود په څېر نالایق او بې پروا پاچا ته ډېر لږ د قدرت نوبت رسېدلي وي او که ورته رسېدلی وي، نو هغه به هم دده په څېر د افغانستان د بربادۍ سبب ګرځېدلی وي.[2]

## شاه محمود ته د وزیر فتح خان (هلمندي) پوځي خدمتونه:

لکه مخکي چي مو ولوستل د شاه محمود لپاره د پاچاهۍ په نیولو کي وزیر فتح خان ډېر زیار وکېښ او د خپلي ژمني په پوره کولو کي چي د شاه محمود سره یې کړې وه بریالی سو او نوموړي ته یې د کابل پلاز ونیو.

د هغه څخه وروسته په ټول افغانستان او ګاونډیو کي یو ډول ګډوډي (انارشي) منځته سوه، چي لومړی د زمان شاه سکه ورور شجاع الملک چي دا مهال په پېښور کي و، یاغي سو او د سکه ورور (زمان شاه) د غچ اخیستو او پلاز لپاره کارپیل کړ.

شجاع دغه وخت شل کلن و، د ساتونکو له یوې وړې ډلي سره په پېښور کي پرېښوول سوی و، د زمان شاه کورنۍ او د دولت ټول

---

۱.پوهاند عبدالحی حبیبي، د افغانستان لنډ تاریخ، ۳۰۵ مخ

۲.عبدالباري جهاني، هرات، پښتانه او ستره لوبه، ۱۸۸ مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



جواهر او نوري شتمنۍ ده ته سپارل سوي وې، له هغې ناڅاپي ویرې وروسته چې دده د ورور له ماتي پیدا سوې وه، ده وپتېیله چې ځان پاچا اعلان کړي او له شاه محمود سره د یوې منظمي نښتي لپاره تیاري ونیسي، نو ده له دې امله د پېښور شاوخوا قومونو په مینځ کي ډېري روپۍ ووېشلې او ډېر ژر یې ولیدل، چې د برو درانیو ډېر کسان د هغه تر بیرغ لاندي ټول سوي دي.

د (۱۸۰۱ ز) کال د دسمبر په لسمه نېټه شجاع الملک له پېښوره پر کابل باندي د حملې لپاره را روان سو، د جلال آباد ښار یې ونیو، خو د محمود له پوځ سره چې هغه له درېیو زرو مېړو څخه جوړ و او مشر یې وزیر فتح خان و، مخ سو، د شجاع الملک سره لږ تر لږه لس زره عسکر وه، خو دوي ټول بر درانیان وه او که څه هم دوي د خپلو قومي جګړو سره روږدي وه، خو له منظمي جګړې او د هغه د سپلین سره نا آشنا وه، د جګړې په پیل کي د شجاع الملک پوځ بریالی و، خو دده بر دراني پوځیان له ګډوډۍ څخه د خپلي ګټې په امید وه، همدا چې په دې فکر سول، چې بری قطعي سوی له خپلو لیکو څخه ووتل او د پاچاهۍ خزانې په لوټلو یې پیل وکړ، چې شجاع الملک د بې احتیاطۍ له امله له ځان سره د جګړې ډګر ته راوړې وه.

وزیر فتح خان له دغي موقع څخه ګټه واخیسته او د شجاع الملک پر پوځ یې برید وکړ، شجاع الملک یې مات کړ، شجاع چې دې حالت ته وکتل، نو د خیبر غرونو ته وتښتېد، چې هلته د پاچاهۍ د نیولو لپاره د نویو شېبو انتظار وباسي، خو وسله او پانګه یې د وزیر فتح خان د ځواکونو لاس ته ورغله، فتح خان د شجاع الملک له خزانې څخه تر لاسه سوي پیسې پر خپلو جنګیالیو ووېشلې او د پېښور پر

(c) ketabton.com: The Digital Library



لوريې خپل پرمختګ ته دوام ورکړ، د پېښور دروازې په لنډي مودې کې د فتح خان د لښکر پر مخ پرانيستل سوې او له نږدو سيمو څخه يې د ماليې راټولونه پيل کړه.

کوم وخت چې وزير فتح خان په پېښور کې و، غلزيو له زابل څخه د لوګر تر سيمو پورې په پاڅون لاس پورې کړ، هغوي لومړی عبدالرحيم خان غلزی (غلجی) د پاچا په توګه وټاکه او وروسته يوې ډلې د شهاب الدين توخي په مشرۍ د کندهار پر ښار حمله وکړه، عبدالحنان هلمندي (چې د فتح خان د اکا زوی دی) او سيدال خان الکوزي د ښار دفاع ته ملا وتړله، د پُل سنګي په سيمه کې سخته جګړه وسوه، دوه سوه تنه دراني او زر تنه غلزي په نوموړي جګړه کې ووژل سول.

هغې ډلې چې د عبدالرحيم خان غلزي په مشرۍ پاڅون کړی و، تر غزني پورې يې ټوله سيمه لوټ کړې وه، د غزني پر ښار يې حمله کوله، مګر د غزني ښار خلکو د ځان څخه دفاع وکړه، شورشيانو د شلګر او زرمل لاره ونيوله، چې شمېر يې شلو زرو تنو ته رسېده.

شاه محمود درې زره کسان جګړې ته چمتو کړل، خو دا وخت وزير فتح خان په پېښور کې و، نو شاه هم دې ته اړ سو، چې شېر محمد مختارالدوله (د احمدشاه بابا صدراعظم) له بند څخه خلاص کړي، دغه مجرب سړي شورشيان يې وټکول او د څو تنو سرونه يې ورپرې کړل او کابل ته يې واستول او د محمود په امر د بلخ د غونډۍ سره نږدې يې د سرونو څخه کله منار جوړ کړ.

د (۱۸۰۲ز) کال په پسرلي کې غلجيان بيا ناڅاپه راولاړ سول، لکه څنګه چې لومړی را ولاړ سول، مګر دا ځل هغوي په يو خاص نظم

(c) ketabton.com: The Digital Library



باندي کار پیل کړ، پدې بغاوت کې د غلجیو ټول قبائل ګډ‌ون درلود او پنځوس زره پوځ سره غونډ سو.

دا ځل له درېیو لارو (لوېدیځ، جنوب او ختیځ) څخه یې غوښتل چې پر کابل یرغل وکړي، وزیر فتح خان بارکزی او شهزاده کامران چې دا مهال په پېښور کې وه، کابل ته راغلل، عبدالواحد خان هلمندی د فتح خان بارکزي د اکا زوی د کابل په شاوخوا کې د ښار څخه دفاع وکړه، وزیر فتح خان پخپله د جبارخېلو او احمدزیو غلجیانو سره جګړه وکړه او هغوي ته یې ماته ورکړه، ورپسې یې د عبدالرحیم غلجي ډلې ته چې غوښتل یې د لمر خاته لخوا پر کابل یرغل وروړي ماته ورکړه او ونیول سو، چې په اخیر کې د دوو زامنو سره په توپ والوزول سو، وزیر فتح خان هم د غلجیانو ټولي دفاعي کلاوي ونړولې، دا ځکه چې نوموړو به له دې کلاګانو څخه د ښه دفاعي سنګرونو په توګه کار اخیسته.

شاه محمود خپل ټول پام د کابل د ورځېرمو سیمو خوندیتابه ته اړولی و، چې شجاع یو ځل بیا د خیبر د وګړو له منځه یو شمېر د پیسو او ډالیو په بدل کې ځانته راوهڅول او دوولس زریز لښکر یې جوړ او پر پېښور یې یرغل وکړ، خو د پېښور ساتونکو د شجاع ګڼ شمېر جنګیالي له پښو وغورځول او شجاع یو ځل بیا په تیښتي و تښتېد، د همدغه کال (۱۸۰۲ ز) په لړ کې وه، چې د آمو د سیند له بلي غاړي ازبکو پر بلخ برید وکړ، خو د بلخ په ورځېرمو سیمو کې د وزیر فتح خان د استول سوي ځواک له خوا یې ماته وخوړله او اړ سول چې بېرته د آمو د سیند بلي غاړي ته په شا سي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د وزیرفتح خان پرله پسې بریاوې د شاه محمود د دربار پر یوه نېږدې او مخَور غړي (اکرم خان الکوزي) باندې ډېرې درنې پرېوتلې او له وزیر فتح خان سره یې تربګني پیل کړه، وروسته پرېکړه وسوه چې محمد اکرم خان دې په کابل کې پاته سي او وزیر فتح خان دې پېښور ته ولاړ سي.

وزیر فتح خان پېښور ته ولاړ او د هغه ځای له پرګنو څخه یې د خپل لښکر د لګښتونو لپاره مالیه را ټوله کړه، د کشمیر حاکم ورته پنځوس زره روپۍ واستولې، بیا یې د کوهاټ، بنو او دامان په لور ودرومل او له هغو ځایونو څخه یې هم مالیه را ټوله کړه، ورپسې یې د وزیرستان د نیولو تکل وکړ، د وزیرستان له نیولو وروسته، د (۱۸۰۳ز) کال دوبی و، چې کندهار ته ورسېد.

وزیرفتح خان کندهار ته د ستنېدا په لاري کي خبر سو، چې شهزاده قیصر د پارسیانو (ایرانیانو) په مرستي پر کندهار د برید تکل لري، په دغه وخت کندهار د شهزاده کامران په لاس کي و، وزیر په بېړه ځان کندهار ته ورساوه او له شهزاده کامران سره یې یو ځای د قیصر په تمبولو پیل وکړ، د دواړو خواوو ترمنځ په (کوکران) کي ډېره کلکه خونړۍ جګړه ونښتله، چي په پای کي قیصر ماته وخوړله، د قیصر د لښکر بولندوی (اکرم خان) په دغه جګړه کي ووژل سو، قیصر ونیول سو او کابل ته یې واستاوه.

څه موده وروسته وزیر فتح خان له خپل ورور دوست محمد خان سره کابل ته ولاړ، شجاع الملک، کابل ته د فتح خان له ورتګ څخه په ګټې اخیستني چي میدان یې تش لیدلی و، یو ځل بیا پر کندهار برید وکړ، خو وزیر فتح خان له خپل ورور سره یو ځای د کامران ملاتړ ته ورغی

(c) ketabton.com: The Digital Library



او یو ځل بیا یې شجاع ته ماته ورکړه، شجاع بېرته پېښور ته وتښتېد، په دغه ځای کې وزیر فتح خان د غفور خان بارکزي، سید الخان الکوزي او خواجه محمد خان سدوزي پر پالیالی او صداقت باندې شکي سو او درې سره یې زندان ته واچول.

د وزیرستان د سوبې او د کندهار په کوکران کې د قیصر د ماتې په پام کې نیولو سره دا د شاه محمود د حکومت د مخالفینو پر وړاندې د وزیر فتح خان اتمه بریالی جگړه وه، د فتح خان نهمه جگړه د کابل په قلعه قاضي کې د شجاع پر وړاندې وه، چې د شاه محمود د ژغورني لپاره یې تر سره کړه.

وزیر فتح خان په کندهار کې و، چې اکرم خان الکوزی په کابل کې مړ سو، له بلې خوا (مختار الدوله شېرمحمد خان) هم له شاه محمود څخه د وزارت د څوکۍ غوښتونکی و، خو شاه محمود دا څوکۍ د وزیر فتح خان حق گاڼه او پر دغې څوکۍ یې د شېرمحمد خان له گومارني څخه ډډه وکړه، شاه محمود خپل زړه پر قزلباشو باندې تړلی و او هغوی هم د خلکو پر خیټو او برخلیک باندې واک چلاوه، شاه د سنیانو په سرټکونو او شکایاتونو خپل غوږ هم نه گراوه.

په داسې وخت کې چې په ښکاره حالت آرام ښکارېده، د اهل سنت بلوا او د اهل تشیعو د وژنې پېښه په کابل کې منځته راغله، چې په پای کې د شاه د سلطنت په له منځه تللو تمامه سوه.

لکه څنگه چې پوهېږو، نادر افشار د هرات، کندهار او کابل تر فتحه کولو وروسته د ترکانو، ترکمنو او کردانو یو شمېر قبیلې چې په عمومي توگه د قزلباشو په نامه یادېدلې، له خپلو کورنیو سره یې په نوموړو ښارونو کې مېشت کړلې، چې په دې توگه د سوق الجیشي د

(c) ketabton.com: The Digital Library



مهمو ځایونو څارنه وکړي او د هغه لپاره د هند دروازې پرانیستي وساتي.

احمدشاه بابا دغه کسان د شاهي غلامانو په نامه د دایمي منظم لښکر په توګه په خپل پوځ کې شامل کړل او د هغوی د مشرانو او مخکښانو لپاره یې رتبې او جاګیرونه وټاکل، په (۱۷۹۹ ز) کال کې کله چې زمان شاه هرات ته ولاړ، نو دا یې احساس کړ، چې د هغه ځای قزلباش د هغه ورور (محمود) ته چې په هرات کې یې ډېر وخت تېر کړی و، ژمن او وفاداره دي، نو د دولس زرو په شا وخوا کې د هرات قزلباش یې کندهار، غزنې او کابل ته کډه کړل، دوی د پخوانیو قزلباشو او یو شمېر هغو خلکو سره چې په اصل کې پارسیان (ایرانیان) وه او د دولت د کارکوونکو لکه، مُنشي، مستوفي او په نورو نومونو سره یې په دربار کې خدمت کاوه، په کابل، غزنې، کندهار او نورو ښارونو کې یې د اهل شیعه و اقلیت تشکیل کړ، چې د اهل سنت مذهب د اکثریت په منځ یې په ښو ودانیو او ځایونو کې ژوند کاوه.

د شاه محمود د سلطنت په وخت کې د اهل سني او اهل تشیعو تر منځ یوه ستونزه راولاړه سوه، دلته موږ له تاسو ته د بېلابېلو لیکوالانو نظرونه شریکوو:

د سراج التواریخ لیکوال لیکي:.(څو تنو قزلباشو ځوانانو یو سني مذهبه تنکی ځوان په زور سره خپل کورته داخل کړ او د لواطت ناوړه فعل یې ورسره په جبر اجراء کړ، وروسته له څو ورځو کله چې راخلاص سو، نو موضوع یې له خپل پلار سره شریکه کړه، پلار یې د جمعې په

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورځ په جومات کې له میر واعظ څخه د انصاف غوښتنه وکړه، نوموړي میر په همدې غونډه کې د قزلباشو د وژلو امر صادر کړ.)

الفنستن چې فقط شپږ یا اووه کاله له دې پېښې وروسته افغانستان ته راغلی و، دا موضوع په بله بڼه بیانوي:.(د اهل سنتو یو ځوان چې یو قزلباش یې وژلی و، د محکمې په حکم اعدام سو، اهل سنت پدې کار په قهر سول او دا کار یې له قزلباشو څخه د شاه د پلوی له لامله وباله او د هغه په جنازه کې یې په ډېر شمېر کې د خپلو احساساتو په څرګندولو سره ګډون وکړ او خلکو د میر واعظ کور ته مخه کړه او د هغه په فتوا سره یې د قزلباشو په کورنو برید وکړ).

د تاریخ سلطاني لیکوال لیکي: (یوه قزلباش، یو سني مذهبه تنکی ځوان خپل کور ته مېلمه او ورپسې ورسره لواطت وکړ، تنکي ځوان کور ته له ستنېدا وروسته پېښه خپلې کورنۍ ته بیانوي، د ځوان هلک پلار شاه محمود ته خپل ګرېوان څیري او د انصاف غوښتنه کوي، پاچا هم قضیه د ښار قاضي ته وروسپاره، قاضي د جرم د اثبات لپاره شاهدان غواړي چې دا کار د مدعي علیه لپاره ناشوني و، د هلک پلرګنې د جمعې په ورځ د پل خشتي جومات ته ځي او له میرواعظ آغا څخه د مرستې غوښتنه کوي، میرواعظ د قزلباشو پر کورنو د یرغل او د هر قزلباش د وژنې بولنه ورکوي، خلک د پل خشتي له جوماته راولاړېږي او پر چنداول، چې د قزلباشو استوګنځی دی، ور اوړي او د چنداول په لارو او کوڅو کې چې هرڅوک یې مخې ته ورځي په تورو، چړو او کوتکو وهي، یا یې وژني او کورونو ته یې اور ور اچوي).

(c) ketabton.com: The Digital Library



د پیښې علت هر څه چي وي، د قزلباشو د عامه وژني اقدام چي د هغوي افرادو د وروستی پېړۍ په نیمایي کي د سلطنت ځانګړې اردو تشکیلوله او د پاچا د کړنو د نفوذ او د هغه د رقیبانو په ځانګړې توګه د فیوډالانو او سردارانو په مقابل کي مهمه وسیله وه، په حقیقت کي دا اقدام د سلطنت د ځواک د کمزوري کولو او بیا له سره، سردارانو، اشرافو او قبایلي نفوذ لرونکو ته د واک لېږدول و، په همدې علت پر روحانیونو سربېره د درانیانو ستر سرداران لکه مختارالدوله شېر محمد خان، احمد خان نورزی او نواب خان ددې ډلي یعنې د سني لښکر مخکښان وه او څنګه یې چي نه سوای کولای، قزلباش د شاه او د مرکزي خدمت په نامه له منځه یوسي، نو د کابل له شاوخوا د سني مذهبه خلکو مذهبي احساسات راوپارول او غته بلوا یې جوړه کړه، پاچا چي نه یې غوښتل د هغه د اردو افراد قتل عام سي، نو تر خپله وسه یې د قزلباشو حمایت وکړ او انتظار یې درلود، تر څو وزیر فتح خان چي په کندهار کي و، له خپلو ځواکونو سره کابل ته راستون سي او ددې فتنې اور مړ کړي.

مختارالدوله چي په ښکاره د سولي او تقوا خبري په جامه ملبس و، په اصل کي ډېر کینه ناک او مقام غوښتونکی سړی و او د وزیر فتح خان په رتبه او مقام یې حسد کاوه، په دې هڅه کي سو، چي د خلکو له عامه احساساتو څخه استفاده وکړي او شاه محمود له منځه یوسي او د هغه پر ځای بل پاچا وټاکي او د چارو واګي هغه ته وسپاري، دې موخي ته د رسېدلو لپاره یې شجاع الملک ته مخ وګرځاوه، هغه تر دې مهاله شاه محمود ته نه و تسلیم سوی او له څو ناکامو بریدونو وروسته په زرمت کي د فرصت په انتظار کي ناست و، شاه محمود چي

(c) ketabton.com: The Digital Library



د مختارالدوله له ارادې څخه خبر سو، نو د هغه د نیولو فرمان یې صادر کړ، مختارالدوله په تېښته له کابل څخه ووت او د شجاع الملک له لښکر سره یو ځای سو او هغه یې پر کابل باندې برید کولو ته پهٔ شا وټکاوه، له بلې خوا میرواعظ، شاه یې د قزلباشو سره په لاس یو کولو تورن کړ، سني مذهبه یې د هغه په خلاف راوپارول، چې په پایله کې شاه محمود او قزلباش په بالاحصار کې د خلکو لخوا کلابند سول او شجاع الملک چې په دې وخت کې د ډېر شمېر دراني سرداران ورسره یو ځای سوي وه، پرته له کومې جګړې کابل یې ونیو، خو لا هم د هغه بری یقیني نه برېښېده، ځکه وزیر فتح خان له یوې ډلې سره د شاه محمود مرستې لپاره له کندهاره د کابل په لوري په حرکت کې و، کله چې کابل ته رانږدې سو، نو شجاع الملک او امیران د نوموړي مقابلې ته راوړاندې سول او دواړو خواوې د قلعه قاضي په سیمه کې مخامخ سوې،[1] د دواړو خواوو تر منځ خونړۍ جګړه ونښتله، دا نښته له سهاره تر ماښامه روانه وه، داسې برېښېده، چې سوبه د وزیر فتح خان د لښکر په برخې ده، ځکه د جګړې په وروستیو شېبو کې فتح خان له خپلې ځلاندې توري سره راووت او پر دښمن یې یرغل وروړ، دښمن ونه سو کولای ځان ټینګ کړي، نو فتح خان او د هغه بدرګه جنګیالیو ته یې لاره ورکړه او د ښار پر خوا یې خپل پرمختګ ته دوام ورکړ، خو په همدې لړ کې د وزیر فتح خان د لښکر یوه مشر د جبهې له شا د شجاع الملک په پلوۍ د وزیر فتح خان له لیکو ووت او د فتح خان د لښکر شاتینۍ برخه له ګډوډۍ سره مخامخ سوه، کله چې وزیر

---

۱.میر محمد صدیق فرهنګ، افغانستان په وروستیو پینځو پېړیو کې، ۲۳۰ مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



د نوموړي افسر له خیانته خبر سو، نو دې ته اړ سو چې له خپلو ورونو او یو شمېر بدرګه ملګرو سره په ګډه د دښمن لیکه د توري په زور ماته او د کندهار پر خوا وخوځېږي.

که څه هم وزیر فتح خان په دې جګړه کې ماته وخوړله مګر دې ماتې ونه سو کولای د هغه پر پیاوړو روحیاتو او ټینګ هوډ باندې کومه ناوړه اغېزه وشیندي، ځکه فتح خان د پیاوړو روحیاتو څښتن و او دې ماتې ونه سو کولای د واکمنۍ په بیا لاسته راوړنه کې یې نا هیلی کړي.

شاه محمود د وزیر فتح خان د توري او تدبیر تر سیوري لاندې د درو کالو لپاره په کابل کې سلطنت وکړ، خو له دې چې نوموړی چړچه مار، آرام خوښی او ضعیف النفسه سلطان و، وګړي د وزیر فتح خان په نشتوالي کې د هغه پر وړاندې ولاړ سول او په کال (۱۸۰۳ز) د جولای په میاشت کې شجاع الملک یې د پاچاهۍ پر ګدي کښېناوه.[۱]

## د شاه شجاع لومړی ځل پاچاهي:

د کابل په بالاحصار کې د شاه محمود په بندیکولو سره شجاع الملک د شاه شجاع په نامه د افغانستان پاچا سو، له هر څه لومړی یې خپل سکه ورور (زمان شاه) چې د محمود لخوا یې سترګې ایستل سوي وې، له بنده را خلاص کړ او بیا وروسته یې ملا عاشق شینواری چې مخکې یې یادونه سوې ده، په دار کړ او د نوموړي د کلا ښځه یې

۱.کاندید اکاډمېسن محمد اعظم سیستانی، د وزیر فتح خان او د هغه د کورنۍ تاریخي رول په سدوزي دولت کې، ۱۴۸مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



د کوه نور الماس راوکیښ او بیا یې ټوله کلا د خاوري سره خاوري کړه.

شاه شجاع غوښتل چي شاه محمود په سترګو ړوند کړی، مګر چي ښنګه محمود د قرآن کریم سره یو ځای خپله عریضه ورته واستوله او د بلی خوا شېر محمد خان د هغه شفاعت وکړ او داسی هم ویل کیږی، چي زمان شاه، شاه شجاع ته وویل (ماته د ړندېدلو زور معلوم سوی دی، هیله ده چي شاه محمود بندی کړه او ړندوه یي مه)، نو ځکه شاه شجاع هغه ړوند نه کړ، شاه شجاع به په تاریخ کي ډېري تېروتني کړي وي، خو د شاه محمود په بخښلو سره یې داسي اشتباه وکړه، چي حتمن به تر مرګه وروباندی پښیمانه وي.(۱)

د شاه شجاع وزیر (مختارالدوله شېرمحمد خان) غوښتل د بارکزو او سدوزو د دوو سترو کورنیو تر منځ د کینې او حسد پر اور باندي د پای د ټکي په ایښوولو دښمني ورکه کړي، نو په همدې هیله یې د دوست محمد خان خور (وفا بېګم) د شاه شجاع په نکاح کي راوستله، خپلوي رامنځته سوه، شاه شجاع له نواب اسد خان او د خپل د وزیر له ورور (ګل محمد خان) څخه وغوښتل چي کندهار ته ولاړ سي او فتح خان کابل ته راولي او ورته وواياست چي د شاه شجاع په دربار کي به د خپل پلار په شان له سرلوړی او درنښته برخمن واوسي، په دې پلاوي کي شهزاده حیدر، احمد خان نورزي او عطامحمد خان بارکزي هم ګډون درلود، شاه شجاع د وزیر فتح خان د ډاډيني لپاره یو ژمنلیک هم د پلاوي په لاس واستاوه.

۱.ستر جنرال ګلزرک ځدران، د افغانستان تاریخ، ۸۴ مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



کله چي پلاوی په کندهار کي فتح خان ته ورسېد او د شاه شجاع د درنښت او هیلو سلامونه یې ورته وړاندي کړل نو فتح خان هم کابل ته مخه کړه او د کابل پر لور روان سو، له بلي خوا کامران د وزیر فتح خان دغه ګام د اړیکو د پرېکون په توګه وګاڼه او د هرات پرلور وتښتېد او د هغه پرځای د زمان شاه زوی قیصر د کندهار د حاکم په توګه وټاکل سو.

له دې خوا وزیر شېر محمد خان واورېدل چي وزیر فتح خان کابل ته رارهي سوی دی، نو د هغه مخي ته تر غزني پوري د ښه راغلاست لپاره ورغی او وزیر فتح خان یې په ډېر تاوده هرکلي کابل ته د پاچا دربار ته راووست، خو شاه شجاع له خپلي کړي ژبي او ژمني پښېمانه او منکر سو، په ځانګړې توګه شاه شجاع هغه مهال له خپلي ژبي واوښت، چي ګوري فتح خان له وزیر شېرمحمد خان سره په یوه کور کي ژوند کوي، اکرم خان چي د شاه شجاع بل وزیر دی، پاچا ته وړاندیز کوي، چي دی دي پېښور ته واستوی، شېر محمد خان او فتح خان به هم له ځان سره بوزي او دوي به یې هلته بندیان وساتي او په دې توګه به شاه د هغوي له سرخوږي خلاص سي، شاه شجاع هم دغه وړاندیز ومانه او پېښور ته د تګ او تیاری امر یې ورکړ، خو شېرمحمد خان له هر سوري چي و، خبر سوی و، چي پاچا ورته کوم پخلی په پام کي نیولی دی، شېر محمد خان دغه خبره له وزیر فتح خان سره شریکه کړه او پرېکړه وسوه، چي فتح خان دي په کابل کي د پاته کېدلو لپاره یوه پلمه جوړه کړي او د پاچا د نه شکمنېدلو لپاره به شېرمحمد خان له اکرم خان سره پېښور ته ولاړ سي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



شېر محمد خان له فتح خان سره ژمنه وکړه، چې د وزیر فتح خان دوست به دده دوست او دښمن به يې دده دښمن وي او تل به له یو بل سره په سلا د دښمن پر وړاندې په ګډه جنګيږي، بيا يې وزير فتح خان ته اويا زره روپۍ ورکړې، چې د خپلو موخو د پلي کولو په لاره کې يې د اړتيا پر مهال ولګوي.

شاه شجاع تيزين ته رسېدلی و، چې د خپل وزير له دسيسې څخه خبر سو او وبېرېد، چې ښايي ياده دسيسه د وزير فتح خان له پلوه پلې نه سي، نو هغه و، چې شاه د خپلو سرتيرو يوه ډله په بېړه کابل ته واستوله، چې فتح خان له نورو سردارانو سره په ده پسې د بندي په توګه پېښور ته راولي، خو کله چې فتح خان د پاچا له دغه ګام څخه خبر سو، نو د سترګو په رپ د لوګر له لارې د کندهار پر لور ولاړ.

## د وزير فتح خان (هلمندي) هلي ځلې:

وزير فتح خان چې کله له شاه شجاع څخه نا هيلی سو، نو پدې لټه کې سو، چې په څه ډول د احمد شاه بابا له کورنۍ څخه يو بل غړی پر پلاز کښېنوي، نو کندهار ته چې کله راوسېد لومړی ځل يې د زمان شاه د زوی (قيصر) سره چې دا وخت د کندهار والی و، وکتل او نوموړي ته يې ډاډ ورکړ، چې د پلاز په نيولو زه درسره ملاتړی يم، خو قيصر د فتح خان سره پر خپلې ژمني ونه درېد او فتح خان هم له هغه سره اړيکي پرې کړې، له هغه څخه وروسته بيا قيصر وغوښتل چې د وزير فتح خان په مرسته د کابل پلاز ونيسي، خو شاه شجاع چې کله خبر سو، نو کندهار ته راغی، قيصر د کندهار ډالې ته وتښتېد او له هغه ځايه مرکزي غرونو ته ولاړ، شاه شجاع چې د وزير فتح خان له

(c) ketabton.com: The Digital Library



یاغیتوب څخه ډېر سترې سوی و، نو د فتح خان سره یې اړیکه ونیول او نوموړی یې بیا ځلی خوشحال کړ.

شاه شجاع او وزیر فتح خان د پېښور د یاغیانو د ټکولو په تکل د پېښور پر لوري یې خوځېدا پیل کړه، د (۱۸۰۵ز) کال په اپرېل کي پېښور ته ورسېدل، په دغه وخت کي شاه شجاع په دېره غازي خان کي میرعلم خان له واکمنۍ ګوښه او پر ځای یې عطا محمد خان نورزی وګوماره، فتح خان د شاه مخي ته ودرېد او ویې غوښتل چي دا کار ونه کړي، خو نوموړي ونه مانه، د پاچا دغه کار وزیر فتح خان یې خفه کړ او په خوابدي زړه هرات ته ولاړ، د هرات والي (حاجي فېروزالدین) داسي سړی نه و، چي په کابل کي د سلطنت د نیولو لپاره ملا وتړي، له دې کبله فتح خان او ورور یې دوست محمد خان یو ځل بیا کندهار کي، قیصر ته ورغلل، خو وزیر فتح خان د قیصر لخوا بندي سو، دوست محمد خان په مېړانه خپل ورور له بنده خلاص کړ او خپلي پلرني ټاټوبي (هلمند) ته ولاړل.

وزیر فتح خان څو ځله له شاه شجاع سره یو ځای سو او بیا یې ورسره پرېکون وکړ، پدې کي هیڅ شک نسته چي له دغو یو ځای کېدنو او پرېکونونو څخه د وزیر موخه د سدوزو په کورنۍ کي دداسي یوه وړ او پوه سړي موندنه وه، چي د احمد شاه بابا په څېر د هیواد د چارو د پر مخ بېولو لپاره پیاوړې ورتیا پکښې نغښتې وي او دا هغه ځانګړتیاوي وې چي نه د شاه شجاع، نه د کامران، نه د قیصر او نه د حاجي فېروزالدین په ځان کي لیدل کېدلې، له دې کبله د کار چاره یې د شاه شجاع له زندانه د شاه محمود په خلاصون او یو ځل بیا د افغانستان پر پلاز د هغه په کښېنولو کي ولیدله.

(c) ketabton.com: The Digital Library



وزیر فتح خان هیڅکله ستړیا نه منله او خپلي موخي ته د رسېدلو په لاره کي یې د هر راز ګواښ په منلو وېره نه درلوده، له همدې کبله د شاه محمود له پرځېدلو وروسته، وزیر په یوه ځای کي نه تم کېده، کله به هلمند، کله کابل، کله کندهار، کله فراه او هرات او کله پېښور، سندهـ او شکارپور ته د آس پرشا لالهانده په تګ راتګ و، د همدغه تګ راتګ په لړ کي به کله له لښکرا و کله به له خپلو وروڼو او ملګرو سره د کابل او فراه ترمنځ خنډونه د خپلي لاري له سره لیري کول.

په هغو شپو ورځو کي چي د مختارالدوله شېر محمد خان له لاسه د چارو واګي واخیستل سوې او ګوښه پر کور کښېنول سو او له میرواعظ سره یو ځای د شاه شجاع د راپرځولو لپاره یې هلي ځلي پیل کړي وې، فتح خان خپل ورور شېردل خان ته دنده وسپارله، چي د قزلباشو په مرسته دي د کابل له بالاحصاره د شاه محمود د ژغورني په لاره کي کوښښ وکړي، څرګنده ده، چي له بالاحصاره د محمود ژغورنه دومره آسانه نه وه، ډېري چابکۍ او ځیرکۍ ته یې اړتیا درلوده.

د بارکزو وروڼو په منځ کي له وزیر فتح خان څخه وروسته شېردل خان په ډېري پوهي، پوخوالي او ځیرکتابه سمبال و، هغه وکولای سول د اتو ساعتونو په اوږدو کي د کارپوهو ورهنګرو (ماهرو کاسبینو) په مرسته، د کابل تر بالاحصار لاندي یو کیندوی (نقب) ووهي او بندي پاچا ورڅخه را خلاص کړي، شاه محمود تر یوې مودې پوري یې په شهدای صالحین کي د یوې مقبرې تر څنګ تر هغې شپې پوري پټ سو، چي ښاري ګزمه د هغه له لټون څخه نا امیده سوه، شاه محمود د شپې په تیاره کي پر آس له څو تنو سره یې یو ځای په تېښتي د هرات پر

(c) ketabton.com: The Digital Library



لور ودانګل، شاه محمود ته په هرات کې د هغه ورور فیروزالدین په خوښې ښه راغلاست وو ایه، خو ورور یې په لنډ وخت کې خپل چلند بدل کړ، ښایي فیروزالدین په ځان وېرېدلی وي، چې ورور یې هرات دده له منګولو ونه باسي.

شاه محمود د خپل ورور په چلند کې د بدلون په لیدلو له هراته، فراه ته ولاړ، هلته د فتح خان او د هغه د ورونو د راتلونکي په پام کې نیول سوي ګام پورته کولو ته سترګې په لار کښېناست.

په حقیقت کې بارکزیو ورونو په کندهار کې د ځواک له راټولولو سره سم شاه محمود ته پیغام واستاوه، چې کندهار ته راسي، بیا یې د کابل پر لور تګ ته ملا وتړله، کابل ته د لارې په اوږدو کې چې کله کلات ته ورسېدل، نو له شاه محمود سره د بدرګه لښکر په منځ کې بېلتون رامنځته سو، نورمحمد خان او عطامحمد خان بامیزی د شاه محمود له لښکره بېل سول، له شاه محمود سره یوازې فتح خان او دوست محمد خان سره له خپلو نورو ورونو پاته سول، بارکزي ورونه پوه سول، چې له لښکر پرته نه سي کولای کوم کار تر سره کړي، له دې کبله دوي هم خپله مخه بېرته د هلمند خوا ته تاو او په ګرشک کې دېره سول.

شاه شجاع چې تر کلاته مخته راغلی و، له هغه ځایه بېرته پېښور ته ولاړ، چې د الفنستن تر مشرۍ لاندې انګرېزي پلاوي ته ښه راغلاست وو ایي، انګرېز پلاوی د (۱۸۰۹ز) کال د فبرورۍ د میاشتې په (۲۵) نېټه پېښور ته ورسېد او د شاه شجاع له پلوه ورته په تودو ولولو هرکلی وویل سو، پلاوی ځکه راغلی و، چې شاه د روسیې او فرانسې له نوي ګډې تلوالې څخه خبر کړي، له همدې کبله

(c) ketabton.com: The Digital Library



د برتانوي هند او د کابل د سلطنت تر منځ لو مړنی ګڼ دفاعي تړون لاسلیک سو ، د تړون تر ټولو مهمه موخه دا وه، چې د کابل له لاري دي هند ته د فرانسویانو د ورتګ مخه ونیول سي، په داسي حال کي چي انګریزی پلاوی لا په پیښور کي و ، شاه شجاع ته د کورنیو جګړو مخه سوه.[۱]

کوم وخت چي شاه شجاع په پیښور کي و ، محمود او وزیر فتح خان کندهار یې ونیو او له هغه ځایه د کابل په لوري وخوځېدل، له بلي خوا شاه شجاع چي کوم پوځ د کشمیر د سرغړونکي والي د ټکولو لپاره استولی و ، د لښکر په مشرانو کي د اختلاف او بې اتفاقی له کبله د ماتي سره مخ سو ، شاه شجاع دې ټکي ته متوجه سو ، چي د هغه د سلطنت د خوندي ساتلو لپاره د کشمیر او نورو سیمو له سوبولو څخه د کابل او کندهار اهمیت ډېر دی، خو اوس او به له ورخه اوښتي وې، منظمه اردو او د مهماتو ډېره برخه د هغه له لاسه وتلې وه، لاچار په ډېره چټکی سره یې د خلیل او مهمند له قبیلو څخه یو نوی پوځ چمتو او د کابل په لور وخوځېد ، خو مخکي له دې چي کابل ته ورسیږي، شاه محمود او وزیر فتح خان کابل فتحه کړی و او د پیښور په لوري په حرکت کي وه، دواړي خواوي د نملې سیمي ته نږدې، یو بل ته مخامخ سوې، د شاه شجاع لښکر ماته وخوړه او خزانه یې چي له دوو میلیونو سټرلینګ پونډو څخه زیاته وه، د وزیر فتح خان لاس ته ورغله، په خپله شاه شجاع په ډېره سخته له جګړې څخه نجات وموند ، پیښور ته ولاړ او له هغه ځای څخه بیا کندهار ته ولاړ، په هر ځای کي له ماتي

۱.کاندید اکاډمېسن محمد اعظم سیستانی، د وزیر فتح خان او د هغه د کورنۍ تاریخي رول په سدوزي دولت کي، ۱۵۰ مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



سره مخ سو، په پای کې یې راولپنډۍ کې د رنجیت سنګ تر حمایت لاندې ځای ونیو او شاه محمود د دوهم ځل لپاره د کابل پر پلاز کښېناست.

## د شاه محمود دوهم ځل پاچاهي او د وزیر فتح خان وزارت:

کله چې شاه محمود پاچا سو، نو وزیر فتح خان یې خپل وزیر وټاکه او د هیواد ټولي چارې یې وزیر او د هغه وروڼو ته پرېښود او خپله په عیاشۍ لګیا و، ځکه نو کولای سو، چې د نوموړي دوهمه دوره د وزیر فتح خان د واکمنۍ دوره ونوموو.

د شاه محمود دوهم ځل پاچاهي چې له (۱۸۰۹ ز) څخه تر (۱۸۱۸ ز) پوري دوام وکړ، وزیر فتح خان پدې بریالی سو، چې د افغانستان امنیت تأمین کړي، د سند هـ او بلوچستان په ګډون د لیرو پرتو ولایتونو واکمنان یې دې ته اړ کړل، چې د مرکز اوامر ومني او له عوایدو څخه د مرکز ونډه ورکړي، څنګه چې وزیر فتح خان د مېړاني او سخاوت دوه خویونه پکښې یو ځای وه، نو د خلکو پاملرنه یې ځانته واړوله، تردې چې تر شاه محمود یې هم ډېر شهرت پیدا کړ او په ټول آسیا کې یې د نامه اوازه خپره سوه.[1]

لوېدیځو تاریخ پوهانو د سردار پائنده خان زامن د بارکزیو وروڼو په نامه یاد کړي دي، د بارکزیو وروڼو په منځ کې وزیر فتح خان د مشرۍ، پوهي، کار، هوښیارۍ، ځیرکۍ، مېړاني، زړورتیا، لوی لاسۍ، ژمنتابه، ټینګښت او غچ اخیستني له اړخه چې (د افغانانو

۱.میر محمد صدیق فرهنګ، افغانستان په وروستیو پنځو پېړیو کې، ۲۴۳ مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



یوه خصیصه ده)، ځانګړې پوهه او وړتیا درلودله او د ټولو وروڼو په منځ کې مخکښ و، فتح خان د فعالو او پیاوړو روحیاتو څښتن و، نوښتګر، له شور و ځوږه ډک هنګامه یې او انقلابي و، دغو ټولو ځانګړتیاو چې په ختّه کې یې هیواد پالنه، د هیواد له مځکنۍ بشپړتیا ننګه او د هیواد په کورنیو چارو کې د پردیو د لاسوهنې له منځه وړل اخښل سوي وه، فتح خان داسې مشخصات درلودل، چې انګرېزانو (کینګ میکر ـ King Maker) یا پاچا جوړونکی باله، په دې معنی هر چا ته چې د فتح خان بارکزي زړه غوښت هغه ته به یې تاج وربخښه او چې نه یې غوښتل تاج یې ورڅخه اخیسته.

د هلمند ددغه نومیالي بچي چې د خپلواکۍ غوښتنې، سرلوړۍ او افغاني پرتم وینه یې د هلمند د څپاند سیند د څپو په شان په هر رګ کې خوټېدله او په ختّه کې یې مېړانه، زړورتیا او لوی لاسي پروت و، سره له دې چې نومیالیتوب یې هر چیري په درنښت یاد سوی، بیا هم لا تر اوسه هغه په سمه نه دی پېژندل سوی، ددغه پولادي، هوډمن او زغملرونکي نومیالي د برخلیک بیا پېژندنه به زموږ راتلونکو حق پېژاندو نسلونو ته له شک پرته د ستري زده کړي، نوې کړکۍ پرانیزي او پوه به سي چې د هیواد د تاریخ او پرګنو لاربښوونکو په څومره مېړاني او ویاړ خپل ژوند تېر کړی دی.[1]

شاه محمود چې د خپل سلطنت دوهم پړاو یې هم د فتح خان او د هغه د وروڼو د هڅو په مټ ګټلی و، د هیواد د اداري ټولي واګې یې وزیر فتح خان او د هغه وروڼو ته چې ورته د ډېر ډاد وړ کسان وه، وسپارلې،

---

۱.کاندید اکاډمېسن محمد اعظم سیستاني، د وزیر فتح خان او د هغه د کورنۍ تاریخي رول په سدوزي دولت کې، ۱۲۵ مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



وزير فتح خان يې د سر وزير په توګه وټاکه او له درنښت ډک د (اشرف الوزراء) لقب يې ورکړ، د پاچا د همدغه ډاډ له کبله بارکزيو ورونو هم تر وسي وسي هڅه وکړه، چي د افغانستان د ستر احمد شاه بابا د پړاو ځواک، برم و پرتم بېرته راژوندی کړي، دغي موخي ته د رسېدلو لپاره اشرف الوزراء وزير فتح خان د افغانستان د ګڼ شمېر ولايتونو د ولايتي چاور واکي د خپلو ورونو په منځ کي چي خپل ټول ژوند يې د شاه محمود د سلطنت د بيا تر لاسه کولو په لاره کي په سربښندني ډالۍ کړی و سپارلې، هغوي هم په نه ستړي کېدونکې توګه د هيواد اړوندي چاري په زړورتيا پر مخ بېولې.(۱)

اشرف الوزراء وزير فتح خان (هلمندی) د هيواد د اداري او پوځي چارو کنټرول په لاس کي درلود، چي د شاه محمود پر ضد د مخالفينو، په ځانګړې ډول د شاه شجاع د بريدونو مخه يې نيوله، په کوهستان کي يې ياغيان آرام کړل، هرات يې حاجي فېروزالدين ته پرېښود، کشمير يې د مختارالدوله شېر محمد خان د زوی عطا محمد خان له لاسه واخيست او خپل ورور سردار محمد عظيم خان يې د هغه پر ځای وټاکه، په نوموړې حمله کي چي په کال (۱۸۱۲ز) کي وسوه، رنجيت سنګ هم له هغه سره مرسته وکړه، خو د جګړې په پای کي، وزير فتح خان نوموړي ته د کشمير د درېيمي برخي خراج ورکولو څخه مخ واړاوه، چي په پايله کي د افغانانو او سيکانو تر منځ نښته وسوه، که څه هم کشمير د افغانانو په واک کي پاته سو، خو سيکان په دې بريالي

۱.همدا اثر، ۱۷۲مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



سول، چې د سند هـ سیند په غاړه د اټک کلا په خپل کنټرول کې راولي او د پېښور امنیت له ګواښ سره مخ کړي.[1]

وزیر فتح خان په (۱۸۱۳ ز) کال کې د اټک د کلا د تر لاسه کولو لپاره چمتووالی ونیوه، اته زره پوځیان یې راغونډ کړل او د اټک کلا چې دا وخت د سیکانو په لاس کې وه، سخته محاصره کړه، هغه و، چې رنجیت سنګ پوه سو، چې د وزیر فتح خان د زور نه دی، نو یې د کلا قوماندان ته امر وکړ، چې کلا خوشي کړي.

وزیر فتح خان خپل ورور دوست محمد خان د سیکانو پر پوځیانو باندي د حملې لپاره د دوو زرو افغاني عسکرو په مشری وټاکه، هغوي د سیکانو پر قراول باندي برید وکړ، دښمن تېښتي ته اړ سو او دوست محمد خان لاس ته ډېري وسلې ورغلې، افغانان د غنیمت په راټولولو بوخت وه، چې سیکانو بیا له دغې موقعې څخه ګټه واخیستله او افغاني پوځ ته یې ډېر زیان ور ورساوه.

بل کال (۱۸۱۴ ز) کې رنجیت سنګ چې کشمیر ته یې سترګې نیولي وې، د مالیاتو یوه برخه تر لاسه کول یې پلمه کړ او د سردار محمد عظیم خان په وړاندي یې لښکر واستاوه، خو د ماتي سره مخ سو او په نوموړې جګړه کې شپږ زره سیکان ووژل سول.

وزیر فتح خان چې د رنجیت سنګ له ناوړو نقشو څخه ښه خبر و، نو له نوموړي سره د جګړې لپاره تر ملتانه ولاړ، هلته یې شاه شجاع ته ماته ورکړه او د هغه څخه وروسته یې له سیکانو څخه د اټک کلا ونیوله،

---

۱.میر محمد صدیق فرهنګ، افغانستان په وروستیو پینځو پېړیو کي، ۲۴۵ مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



رنجیت سنګ تر څو چي وزیر فتح خان بارکزی ژوندی و، پر اټک او کشمیر یې یرغل ونکړ.

وزیرفتح خان، شاه شجاع ته وړاندیز وکړ، چي شاه محمود ته غاړه کښیږدي او یو ځای دي کابل ته ورسره ولاړ سي، خو بدمرغه (شاه شجاع) د افغان وزیر دغه وړاندیز ونه مانه او د سیکانو له سرتیرو سره یو ځای لاهور ته ولاړ، کله چي شاه شجاع لاهور ته ورسېد، د رنجیت سینګ منګولو ته ورغی او ښه یې وزبېښه، چي د عطا محمد خان له زندانه د هغه د ژغورني په بدل کي دي، د کوه نور الماس[1] نوموړي ته ډالۍ کړي، چي تر دغه مهاله د شاه شجاع سره و، خو شجاع د کوه نور د الماسو له ورکړي ډډه وکړه، رنجیت سینګ، شاه شجاع ته د مرګ ګواښ ورکړ او دا یې هم ورته وویل، که چیري ته

۱.د کوه نور د الماس تاریخي مخینه زرګونو کلونو ته رسیږي، له نن څخه پنځه زره کاله وړاندي د هندوستان یو نامتو پهلوان چي د سوریا د خدایګوټي د لوی معبد څښتن او ساتونکی (ملنګ) و، ده یو جادویي غمی درلود چي د دغه معبد په یوه ځانګړي برخه کي یې په خاص احترام ایښی و، ګڼ پوښونه یې پرې غوړولي وه، د عبادت په خاصو ورځو کي به یې لڅاوه، خلګو ته دا موجیزه ښکارېدله او درناوی به یې کاوه، دا د زرګونو کلنو غمی اوس د کوه نور په نامه یادیږي، یاد غمي له معبده غلا سو او بیا وخت پر وخت د دغو واکمنانو لاسونو ته ولوید:

–له ننه ۲۱ سوه کاله مخکي د هند (د اوبه این) نومي پاچا لاس ته ولوېد او د هغه د تاج زینت سو.

–تر ده وروسته د هند د (مالوه) پاچا ته

–په څلورمه هجري پېړۍ کي په هند کي لودي پښتنو پاچاهانو لاس ته ولوېد.

–تر دي وروسته د ظهیرالدین بابر په مشرۍ د هندي مغولي پاچاهانو خزانې ته ورسېد، له ده څخه همایون ته او بیا جلال الدین اکبر ته پاته سو؛ له هغه شاه عالم ته؛ بیا د جهاندار شاه لاس ته ورغی او تر ده وروسته محمد شاه ګورګاني ددې غمی خاوند سو.

–په (۱۱۵۲هـ) د ایراني نادر افشار لاس ته ولوېد، تر دي وروسته احمد شاه بابا ته ډالۍ سو او دده څخه وروسته، سلیمان شاه، تېمورشاه، زمان شاه، شاه شجاع، رنجیت سنګ او په اخیر کي انګریزانو لندن ته یوړ، چي اوسمهال د انګلستان د لندن د ښار په یو موزیم کي پروت دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ماته دا الماس راکړې، نو په پنجاب کې به درته جاګير درکړم او د کابل د سلطنت په لاس ته راوړلو کې به درسره مرسته وکړم، په دې توګه يې د کوه نور الماس ورڅخه واخيست. (۱۸۱۶ز).

د هيواد په لوېديځ کي هم د هرات د حاکم حاجي فېروزالدين او د پارسي (ايراني) چاروا کو ترمنځ د غوريانو د کلا پر سر سخت اختلاف پيدا سو، چې په پايله کي په کال (۱۸۱۷ز) پارسيانو هرات کلابند کړ، حاجي فېروزالدين چي يو ډارن سړی و، نو يې پارسيانو ته د سولي وړانديز وکړ، ويل کيږي، چي نوموړي د پارس لښکرو ته ډېري پيسې ورکړې، په هرات کي د پارس د پاچا په نامه خطبه وويل سوه او سکه يې هم ووهل سوه، حاجي فېروزالدين چي کله د پارسيانو تر فشار لاندي راغی، نو يې خپل ورور شاه محمود ته خبر واستاوه، چي تر څو نوموړی مرسته ورسره وکړي، هغه و، چي شاه محمود هم د خطر د دفعي لپاره وزير فتح خان واستاوه.

وزير فتح خان په لومړي سر کي يې په خپله حاجي فېروزالدين بندي کړ او له خپلي کورنۍ سره يې کابل ته واستاوه او بيا يې د پارسيانو (ايرانيانو) سره مقابله پيل کړه، په کافر کلا[1] نومي ځای کي يې د خراسان له والي شهزاده حسن علی ميرزا شجاع السلطنه سره جګړه وکړه، پدې جګړه کي د افغانستان نظامي قواوو پارس ته ماته ورکړه او هغه يې پسې واخيستل، پدې وخت کي داسي پېښه رامنځته سوه، يوه مرمۍ، چي خپل شدت يې له لاسه ورکړی و، د وزير فتح خان پر خوله ولګېده، چي له لامله يې نوموړی بې هوښه سو او له آس څخه پر

1. اوسنۍ اسلام کلا

(c) ketabton.com: The Digital Library



مځکه راولوېد ، ددې خبر په اورېدو افغانانو خپل مورال له لاسه ورکړ او د پارسيانو له تعقيبولو څخه يې چې د لسو زرو تنو په شمېر کې يې تلفات ليدلي وه، لاس واخيست، د پارس پاته عسکر چې له دې پېښې څخه خبر سول، مشهد ته وتښتېدل او افغاني پوځ هرات ته ستون سو ، په داسي حال کي چې هري خوا د خپل بريالیتوب دعوه کوله، له مرکزي دولت سره د هرات په يو ځای کولو وزير فتح خان د قدرت لوړ پوړ ته ورسېد ، که څه هم شاه محمود پاچا و ، خو په حقيقت کي وزير فتح خان او د هغه وروڼو هيواد اداره کاوه، دا کار پر نورو سردارانو ډېر ګران تمامېده او تل ددې فرصت په لټه کي وه، چې هغه په يوه پلمه له پښو وغورځوي، له بلې خوا د شاه محمود مشر زوی شهزاده کامران هم د وزير فتح خان په مقام او شهرت کينه کوله، د هرات د فتحي او له پارس سره د جګړې د خبر په اورېدو سره، شاه محمود او کامران د هرات لاره ونيوله، په لاره کي د حاجي فېروزالدين له خلع کېدو او له هغې دښمنۍ څخه چې د وزير فتح خان د وروڼو دوست محمد خان او کهندل خان لخوا د ښځو په ګډون د هغه د کورنۍ له غړو سره کېدله، ورته څرګنده سوه، چې دغو سردارانو د نغدو پيسو او جواهراتو د لاسته راوړلو لپاره د حاجي فېروزالدين د حرم له ښځو څخه چې د شاه محمود لور رقيه بېګم هم پکښې وه، له هغوي څخه يې ځاني جواهرات په زور اخيستي.[1]

سيستاني صاحب ددې موضوع په هکله داسي ليکي:-(دوست محمد خان او څو تنه خدمتګاران يې چې (جايي سنګ) هم ورسره

۱.مير محمد صديق فرهنګ، افغانستان په وروستيو پينځو پېړيو کي، ۲۴۵ مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



ملګری و، د حاجي فیروزالدین په حرمسرای ننوتل او د حرمسرای ښځي یې لوټ کړلې، له دې کار وروسته، پرته له دې چې له خپلو عملیاتو څخه وزیر فتح خان ته خبر ورکړي، د وزیر له ویري له خپلو څو تنو خدمتګارانو او له هغو شیانو سره یو ځای چي له حرمسرای څخه یې ترلاسه کړي وه، د کشمیر پر لور وتښتېد، کله چي وزیر د خپل ورور له ناپوهۍ ډک کار څخه خبر سو، نو ډېر سخت په قهر سو او خپل بل ورور سردار محمد عظیم ته یې لیک واستاوه، چي دوست محمد خان ونیسئ او زندان ته یې واچوئ، سردار محمد عظیم خان هم همدغسي وکړل او دوست محمد خان یې د کشمیر د ماران په زندان کې بندي کړ).[1]

شاه محمود ددې خبري په اورېدو سره ډېر سخت په قهر سو، خپل زوی کامران ته یې چي د هغه د قهر اور هم په لمبو و، اجازه ورکړه، چي هرات ته ولاړ سي او وزیر فتح خان ته سزا ورکړي.[2]

کله چي شهزاده کامران هرات ته ولاړ، نو وزیر فتح خان په ډېر احترام مخي ته یې راغی او ښه راغلاست یې ورته وویل، خو نوموړي ناپوه شهزاده چي مخکي هم د وزیر فتح خان له مقام څخه ناخوښه و، وزیر یې ونیو، لومړی یې سترګي ورڅخه وکښلې او بیا یې له ځان سره یو ځای له هراته تر غزني او وردګو بوت، نو بیا یې دا نومیالی او د ارمانونو زانګو وزیر فتح خان د وژلو لپاره چمتو کړ، په داسي حال کي چي په سترګو زخمي و، کامران له لوی وزیر (فتح خان) څخه د پزي،

۱.کاندید اکاډمېسن محمد اعظم سیستانی، د وزیر فتح خان او د هغه د کورنۍ تاریخي رول په سدوزي دولت کي، ۱۹۰ مخ
۲.میر محمد صدیق فرهنګ، افغانستان په وروستیو پینځو پېړیو کي، ۲۴۶ مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



غوږونو، شونډو او لاسونو په پرېکولو پیل وکړ، په ژوندون یې د بدن پوټکی (پوست) وایسته او بیا یې نوموړی ټوټې، ټوټې کړ، په بوجۍ کې یې واچاوه او بیا یې د ډېر وخت وروسته د شیخ رضی الدین علی لالا د زیارت تر څنګ ښخ کړ. (۱۸۱۸ ز)

له دې هولناکو ظلمونو څخه کوم حقیقت چې په شهرت راپاته دی، هغه دادی، چې وزیر فتح خان بارکزي له پیل څخه تر پایه پوري، ددې دردونو له امله یو (آه) قدر ږغ تر خولې ونه کیښ او نه یې له شاه محمود څخه د ترحم تمه وکړه، په دې ترتیب سره دا د هلمند بچي له بې مروته شاه محمود سره د لویو ـ لویو سربښندنو (قربانیو) په بدله کې په دې زړه دردونکې توګه شهید کړای سو.[1]

اشرف الوزراء فتح خان (هلمندی) په مېړانې، زړورتیا او زغم دغو شکنجو او ځورونو ته ځان وسپاره او د مرګ تر دمه یې یوه وړوکې (آه) له خولې ونه وتله او نه یې له چا بخښنه وغوښتله او نه یې په خپلې سزا کې د کمښت غوښتنه وکړه او له سره تر پایه یې خپل وقار او پرتم تر پښو لاندې نه کړ او د خدای له نامه پرته یې بل څه ونه ویل او د ویاړلې مرګ غېږې ته یې ځان وسپاره.[2]

کوم وخت چې وزیر فتح خان د شاه محمود د زوی شهزاده کامران له خوا ړوند او د غزني په لاره کې د شاه محمود په تحریک ټوکر ټوکر سوی مړ سو، مور ته یې چا خبر راوړ، لویه ادې چې خبره سوه تر هر څه

۱.ستر جنرال ګلزرک ځدران، د افغانستان تاریخ، ۱۱۰ مخ
۱.کاندید اکاډمېسن محمد اعظم سیستانی، د وزیر فتح خان او د هغه د کورني تاریخي رول په سدوزي دولت کې، ۲۰۵ مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



دمخه یې دا پوښتنه وکړه، (فتح چې یې واڼه– آه او اخ یا نور څه بد حالي خو یې نه کوله؟).

قاصد وویل: نه بیخي بې پروا و.

لویي ادې وویل: اوس مي نو خپلي شیدې ور بخښلي دي، ددې دا جمله د یو لوړ همتې نښه ده، چې د خپل زوی مرګ او نیمه خوا کېده یې هېر دي دمخه تر هر څه د نوموړي د آه او واخ پوښتنه کوي.[۱]

اشرف الوزراء فتح خان (هلمندی) د هیواد د ځکمنې بشپړتیا او د ملي واکمنۍ د ټینګښت لپاره خپل ځان، وروڼه او پلویان له کشمیره تر سنده او له بلوچستانه د هرات تر وروستیو پولو پوري ډال ګرځولي وه، چې هیواد له تباهۍ او د تجزیې له ګواښه وژغوري او د سدوزي دولت مخالفان او باغیان یې سرپورته کولو ته نه پرېښوول، ان د افغانانو پخوانی دښمن رنجیت سنګ تر هغو چې فتح خان (هلمندی) ژوندی و، دا جرئت نه درلود، چې دُراني قلمرو ته دې د طمعې یا په بدو سترګو وګوري.

وزیر فتح خان د خپلي زیرکۍ، زړورتیا او جنګیالي توب له مخې د خپلو ټولو وروڼو او د وخت د سیالانو په سر کې ځای درلود، دده او یو شمېر نورو وروڼو د خاړپوڅو ځای د هلمند د (پشت رود) سیمه یعنې ګرشک دی.[۲]

۲.زما (ژمن)، د لویه ادې مقاله

۲.کاندید اکاډمېسن محمد اعظم سیستانی، د وزیر فتح خان او د هغه د کورنۍ تاریخي رول په سدوزي دولت کې، ۲۱۲ مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



په پېښور کې وزیر باغ د وزیر فتح خان د لاس ننبه ده او هر وخت یې یاد پر نوموړي باغ تازه کېږي، فتح خان خپل ژوند په جګړو کې تېر کړ او په دې باغ کې به د نوموړي پوځیانو د جګړې لپاره تیاري کاوه.

د وزیر فتح خان مرګ د وروڼو لپاره د انقلاب زیګنال و، د وزیر فتح خان وروڼو د غچ اخیستلو لپاره یو ځای سول او په څو میاشتو کې یې شاه محمود او د هغه غافل زوی کامران یې له کابل، غزني او کندهار څخه وشړل، محمود او کامران مجبور سول، چې هرات ته په شا سي، بیا کله کله جګړې وسوې او څو کاله یې دوام وکړ.

له (۱۸۲۶ ز) کال څخه وروسته کله چې اعظم خان مړ سو، دوست محمد خان پدې بریالی سو، چې په کابل کې قوتونه تحکیم کړي او محمود یې په هرات کې محاصره کړ، ډېر کلونه په کار وه، چې کندهار هم تر کنترول لاندې راولي.

رنجیت سنګ هم داسي فرصت ته منتظر و، (۱۸۱۸ ز) کال لا پای ته نه و رسېدلی، چې نوموړي د اټک د پاسه له اباسین څخه تېر سو او تر پېښور پوري ورسېد، دلته د وزیر فتح خان له وروڼو څخه یو تن د یار محمد خان په نامه د پېښور والي و، نوموړي عسکر نه درلودل، ټول منظم عسکر محمد اعظم خان د شاه محمود مقابلې ته بیولي وه، نو ځکه دی مجبور و، چې له پېښور څخه ووځي، مګر رنجیت سنګ ډېر احتیاط کاوه، دی پوهېده چې موقف یې دومره پیاوړی نه دی، نو ځکه یې پېښور ونه نیوه، په خیر آباد کې یې اټک ته مخامخ د کلا په جوړولو پیل وکړ، د خیر آباد نسیم ډېر تازه کوونکی و، اوس د خیر آباد نسیم د سیکانو بیرغ ورپاوه، د اباسین په دواړو غاړو کې له یوې

(c) ketabton.com: The Digital Library



کلا څخه بلي کلا ته د سکانو زیګنالونه استول کېدل او اخیستل کېدل.

رنجیت سنګ له پېښور څخه په شا سو او غوښتل یې چي هغه هدف تر لاسه کړي، چي ډېره موده یې په زړه کي و، د اعظم خان تګ او د ورور د مړیني غځ اخیستل بله پلمه سوه، چي پخوانۍ هیله تر سره کړي، نو ځکه په (۱۸۱۹ ز) کال کي یې د ګلاب سنګ په مرسته کشمیر ونیو او د اعظم خان ورور جبار خان یې له کشمیر څخه وایسته، درانی حکومت په کشمیر کي اووه شپېته کاله دوام وکړ، احمد شاه بابا کشمیر له مغولو څخه په (۱۷۵۲ ز) کال ونیو، تقریباً دوه سوه کاله کشمیر د مغولو د امپراطورۍ برخه وه او له هغه څخه دمخه د (۱۳۴۱ ز) کال راهیسي د مسلمانانو په لاس کي و، تقریباً پنځه پېړۍ افغانانو په دې هیواد کي برجسته رول درلود، دوي نه یوائي په حکومت کي ونډې درلودې، بلکي په ډېر شمېر مېشت سوي هم وه، نو دا د حیرانتیا وړ خبره نه ده، چي د سرحدي قبایلو پښتانه هلته خاصه مینه ښیي، ددغي پښتني میني موجودیت به ددغي درې پر راتلونکي بې تاثیره نه وي.

په هر حال، د وزیر فتح خان پر ضد دداسي اقدام له کبله، محمود په کال (۱۸۱۸ ز) کي له قدرت څخه ګوښه سو او د نوموړي له ګوښه کېدو سره د سدوزو سلطه پای ته ورسېدله، یوائي کامران پاته سو، چي په هرات کي یې حکومت کولو ته دوام ورکړ، د هیواد نوري سیمي د بارکزو تر منځ وویشل سوې.

اوس نو انګرېز د افغانستان په اړه د خپل پروګرام د پلي کولو لپاره نوي ګامونه پورته کړل، لومړی ګام یې د پېښور پر خوا واخیست، د

(c) ketabton.com: The Digital Library



انګرېز (وفادار متحد) رنجیت سنګ پر ملتان، دېره جاتو، پېښور او کشمیر تېری وکړ، پېښور د سلطان محمد خان او کشمیر د نواب جبار خان، د دوو بارکزو وروڼو په لاس کي وه، د سیکانو په لاس د پېښور سقوط د افغانستان لپاره ډېره دردناکه پېښه وه، ددې پېښي پایلي خورا درنې وې او د سیک ځواکونو له خوا پر پېښور د ترور او دهشت تیاره خپره سوه، د پېښور بالاحصار، چي د افغانستان د ژمي پلازو، له خاورو سره خاوري کړل سو، پر ولس باندي په ګرځېدو او راګرځېدو بندیز ولګېد، له دې کبله چي د انګرېزانو په ملاتړ ډاډه و، رنجیت سنګ د چا پر سر او مال صرفه نه کوله، پېښور خپلو اوسېدونکو ته د مځکي پر سر دوږخ ګرځېدلی و، خو رنجیت سنګ د افغان ولس په مخامخ محکومولو کي ناهیلیو او ناکامۍ سره لاس و ګرېوان و، لدې کبله د پېښور حکومت یې په طلایي مشهور سلطان محمد خان بارکزي ته وسپاره، نوموړي ومنل چي سیکانو ته به کوچنۍ مالیه ورکوي.

انګرېز پدې توګه په سیمه کي د خپل راتلونکي پلان د پلي کولو لپاره یو ستر ګام پورته کړی و او د افغانستان پر لوري یې پر مختګ کاوه، په لومړي پړاو کي هغه وخت چي انګرېزان لا په دفاعي حالت او له افغانستان څخه لري په ستلیج کي وه، تر هغه پوري یې د خپلو ګوډاګیانو له لاري د افغانستان د کمزورولو هڅه کوله، د انګرېز استازی (سرجان ملکم) او (سرفورد جونز) د قاجار په دربار کي د افغانستان د نسکورولو په نقشه بوخت وه، نوموړو فتح علی شاه ته شخصاً دوه د الماسو غمي، چي قیمت یې دوه لکه پنځوس زره روپۍ و، وربخښلی و او درې میلیونه نقدي روپۍ یې د قاجار خزانې ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډالۍ ورکړې وې، پردې سربېره یې د ېرش زره ټوپک او شل توپونه د پارس پوځ ته ورسپارلي وه، دېرش تنه انګرېزي انجنیران او تخنیکاران یې د هغه پوځ د روزنې لپاره ور استولي وه او ژمنه یې ورسره کړې وه، چې د افغانستان د خراسان ولایت به بیا د ډالۍ په ډول پارس ته ورکوي.

په افغانستان کې د سدوزو د دورې له زوال سره سم هیواد د نارامیو، بې ثباتیو او کړکېچونو په لوی ګردار کې راښکېل سو، د سیاسي واک مدعي ځواکونو تر منځ کورنۍ جګړه تر (۱۸۲۵ز) کال پورې اوږده سوه، سردار یارمحمد خان په پېښور کې حاکم و، نواب جبار خان په کشمیر کې، سردار محمد اعظم خان په کابل کې، دوست محمد خان په غزني او سردار پردل خان په کندهار کې واکمن و، د هیواد نور ولایتونه هم د سردار پائنده محمد خان د ګڼو زامنو تر ولکې لاندې وه.

په (۱۸۲۶ز) کال کې دوست محمد خان چې په پټه توګه یې د ولس په منځ کې خپل نفوذ خپور کړی و، نوموړي ته ثرګنده وه، چې له خپلو ورونو سره د رقابت په حالت کې په هیواد کې ثبات راوستل شونې نه ده، نو له دې کبله یې د واک نیولو په سیالۍ کې د ټولو بارکزو ورونو تر منځ د یوه تړون پر لاسلیک راضي سوی و، چې د هغه له مخې هیواد عملاً پر څو برخو وېشلی پاته سو او هر ځواک چې په هره سیمه یې تسلط درلود، پر هغې سیمې د حکمرانۍ کولو واک ترلاسه کړ.

کوهاټ، هنګو او د هغه شاوخوا سیمې د نواب عبدالصمد خان تر سلطې لاندې وې، پېښور، اشنغر، خالصو (خالصه جات) او په هغو پورې تړلې نورې سیمې له سردار محمد خان، سلطان محمد خان او

(c) ketabton.com: The Digital Library



سردار سید محمد خان سره پاتـه سوې، د تړون پـه یوه مـاده کـي لیکـل سوي وه، چي (پـدې ژبـه او ژمنـه موږ ورونـه او تربرونـه یوه بـل تـه د دوستۍ لاس ورکوو او تـرمنځ مـو لـه پخوانيو اختلافونو څخـه لاس اخلو).

تـر (۱۸۳۲ ز) کـال پـوري د دوست محمد خان ځـواک تـر ډېره حده پوري پیاوړی سوی و او د هیواد پـه اوږدو کي يې اقتدار او صلاحیت مخ پـه ډېرېدو و، نوموړی پدې هڅه کي و، چي پـه هیواد کـي يو پیاوړی مرکزي دولت پر پښو ودروي، مگر له یوې خوا له ده سره دده ورونو د مخالفت او پـه هیـواد کـي د ملـوک الطـوایفي لـه کبلـه دا تصـمیم لـه خنډونو سـره مخـامخ و او لـه بلـي خـوا انگرېزانـو پـر پښـو درېـدلی افغانستان او پـه هغـه کي یـو پیـاوړی مرکزي حکومت نسو زغملای، هغـو پـه کابل کي يـو گـوډاگی حکومت غوښت چي مزي (تارونـه یـا شترینگ) يې د هند د وایسرای پـه لاس کـي وي او پـه هـر ډول او هـر وخت چي وغواړي هغـه لـه خپلو موخو سره سم استعمال کړي، نو ددې موخي د لاسته راوړلو پـه لـور د وسیلو او پلمو مونـدلو او د دوست محمد خان د راپرزولو پـه لټه کي سول، ددې لپاره د لندن پـه لاس کي سمدلاسه پرتـه وسله هماغه فراري شاه شجاع و، چي له (۱۸۱۳ ز) کال څخه راپدېخوا پـه لودیانه کي د پرنگي ځیره خور پاتـه سوی و، هغـه و چـي شـاه شـجاع او رنجیـت سنگـ يـې دواړه ولمسـول، چـي د دوسـت محمـد خـان پرضـد راپورتـه سـي، دا گـوډاگی سـردار، چـي د لـوی احمد شاه بابا د سلسلي يې ځان میراثخور بالـه، د انگرېزانو لـه موخو سره ښـه برابـر و، نـو سمدلاسـه د شـاه شـجاع او رنجیـت سنگـ تـر منځ موافقه وسوه، چي د دواړو گډ ځواکونه به پر افغانستان برید کوي او

(c) ketabton.com: The Digital Library



د شاه شجاع تخت به، چي قانوني وارث يې و، ورته بېرته په لاس ورکوي، له هغه څخه وروسته چي د افغانانو، هنديانو او د ختيځ هند شرکت (د برتانيا ختيځه هندي کمپنۍ - The British East India Company) د اجيرانو ګډه دوه ويشت زره کسيز پوځ يې ټول کړ، شجاع د (۱۸۳۴ ز) کال د جنوري په مياشت کي د خپل تاج و تخت د نيولو لپاره د کندهار په لور وخوځېد، ددې لښکر اداره او قومانده د آروپايي اجيرانو له ډلي څخه د يو تن (مستر کمپيل.Mr.Campbell ) په لاس کي وه، کندهار د بارکزو ورونو د يوه رقيب ورور کهندل خان سره و، پداسي وخت کي چي دوست محمد خان د شاه شجاع، سيکانو او انګرېزانو سره په جګړه بوخت و، رنجيت سنګ د جنرال هري سنګ په مشرۍ له لس زره پوځ سره پر پېښور يرغل وکړ، له دې سره - سره شاه شجاع په کندهار کي ماته وخوړله او بېرته لوديانې ته وتښتېد، مستر کمبيل په جګړه کي ټپي او له نيول کېدو وروسته مسلمان سو.[1]

## د دوست محمد خان لومړی ځل پاچاهي:

له کندهار څخه تر بيرته راستنېدو وروسته، دوست محمد خان (هلمندي) د پېښور د خپلواکولو اعلان وکړ، افغانانو چي کله واورېدل، رنجيت سنګ پر پېښور حمله کړې ده، د هغه پر ضد يې د جهاد کولو هوډ وکړ، دا چي جهاد پرته له امير نسي کېدلای، نو ځکه دوست محمد خان چي همدې موقعې ته منتظر و، د علماوو، اميرانو

۱.غلام محمد زرملوال، افغانستان تر وروستي افغانه، لومړی ټوک، ۱۴۲ مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



او وروښو په خوښه ځان په کابل کې د ډېرو ساده مراسمو په ترڅ کې د امیر په توګه وټاکه.(۱۸۳۵ز).

حاجي میر د میرواعظ زوی د سیاه سنګ په عیدګاه کې د دوست محمد خان په لنګۍ کې د اوربشو اوږی وتمبه، پدې توګه یې افغاني پیداور د تاج زینت وګرځېد، همدارنګه د امیر المؤمنین لقب یې ورته ورکړ.[1]

وروسته له دې مراسمو څخه دوست محمد خان له پنځوس زره پلیو او لس زره سپرو عسکرو سره یو ځای یې د پېښور په لوري حرکت وکړ، د خیبر درې د شیخانو په سیمه کې یې پوځي قرارګاه ونیوله، د نوموړي دا هوډ د ټول ولس له خوا بدرګه سو او تر بل هر وخت له مخې یې د افغانستان د امیر په توګه دریځ خورا پیاوړی سوی و، رنجیت سنګ پدې پوهېده چې په ډګر کې د افغانانو مقابله ورته ګرانه ده، نو سمدلاسه یې یو لوړ رتبه پلاوی د سولې په نامه، چې په هغه کې جنرال هریلال او فقیر عزیزالدین شامل و، دوست محمد خان ته واستاوه، د سکانو هیئت، ددې پر ځای چې یوائې له امیر سره د سولې په خبرو بوخت سي، د دوست محمد خان د (پېښوري بارکزی ورور) سلطان محمد خان طلایي، په اجیر کولو یې لاس پوري کړ، رنجیت سنګ چې د طلایي د شخصیت په کمزورتیاوو خبر و، نوموړي ته د غټو بډو او د پېښور د حکومت وعدې ورکړې، دوست محمد خان په دې دسیسه باندې د پوهېدلو په پایله کې د سلطان محمد خان د نیولو اراده وکړه،

---

۱.بشیر احمد ریان، د افغاني پاچاهانو لنډ ژوند لیک، ۸۰ مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



خو پېښوري سردار له لس زره پوځ سره یو ځای د شپې په تیاره کې د سیکانو کمپ ته وتښتېد.

دوست محمد خان اړ سو چي بېله جګړې بېرته کابل ته ستون سي، سیکانو طلایي ته د پېښور حکومت ورنکړ، یو څه موده یې د روهتاس حاکم وګماره او بیا وروسته یې په پېښور او کوهاټ کې څه مځکې او جاګیر وروبخښل.

دوست محمد خان یو کال وروسته په هند کې د انګرېزانو نوي وایسرای (لارډ اکلنډ) ته د مبارکي ویلو لپاره یو لیک واستاوه او له هغه څخه یې مشوره غوښتې وه، چي سیکانو سره څه ډول معامله وکړي.

دوست محمد خان له پرنګي څخه په زړه کې د ښېګڼې کلکه تمه درلوده او له همدې کبله یې خپل استازي ته هدایت ورکړ، چي له انګرېزانو څخه وغواړي، ترڅو د پېښور په معامله کې د مُصلح منځګړي په توګه له افغانانو سره مرسته وکړي او که هغوي ورسره دا نیکي وکړي، نو دی (دوست محمد خان) به یې هر خدمت ته تیار وي، مګر دوست محمد خان خو خطا وتلی و، خپل وفادار دوست (رنجیت سنګ) په مقابل کې هیڅکله هم پرنګي له ده سره مرسته کول نه غوښتل او په اصل کې خو د پردې ترشا ټول له لوبه د انګرېزانو په لاس لوبېدله، هماغه و چي لارډ اکلند د دوست محمد استازی تش لاس ورواستاوه او ورته یې وویل، چي افغانان دي له سیکانو سره خپله ستونزه پخپله هواره کړي، کله چي د سیکانو زړه ډاډه سو، نو په پېښور کې یې په افغان ولس د استبداد او ناروا توره تیاره جوړه کړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دوست محمد خان په (۱۸۳۷ ز) کال د مې په میاشت کې خپل زوی (محمد اکبر خان) د سیکانو مقابلې ته واستاوه، افغاني لښکرو خیبر ته نږدې په جمرود کې د سکانو پر پوځونو برید وکړ، دولس ورځې د دواړو خواو تر منځ سخته جګړه روانه وه، په پای کې محمد اکبر خان د سیکانو د ځواکونو جنرال (هري سنګ) چې د پېښور والي هم و، له اسلامیه کالج سره نږدې په جګړه کې تېپي کړ، چې په پایله کې مړ سو او سیکان شاتګ ته اړ سول، پداسي حال کې چې دښمن د پېښور ښار د تخلیه کولو په فکر او افغاني غازیان د لوړګي پر پوځي کلا حملې ته تیاري نیوله، خو امیر دوست محمد خان بېرته کابل ته راوغوښتل.

د هري سنګ په مرګ رنجیت سنګ ډېر زیات ویرجن سو او ددې پیاوړي قوماندان له مړیني سره د سیکانو د مقاومت ملا ماته سوې وه، د هري سنګ پر ځای لومړی جنرال (دهیال سنګ) او بیا له نوموړي وروسته یو تن ایټالوی جنرال (اوویټاویلي) وټاکل سو.

پداسي حال کې چې افغاني لښکر د سیکانو پر ضد په جګړه کې بوخت و، په لوېدیځ کې د پارس لښکرو پر هرات یرغل وکړ او ښاریې محاصره کړ، ددې ټولو راپورته سوو ستونزو له کبله او ددې پر ځای چې رنجیت سنګ د افغان ولس په زور او غوښتنه له خپلي خاوري څخه وباسي، دوست محمد خان یو ځل بیا د پرنګیانو په دوستۍ زړه وتاړه او له لارډ اکلنډ څخه یې (چې په ۱۸۳۶ زېږدیز کال کې د لارډ پالمرسټون پر ځای د هند وایسرای ټاکل سوی و)، د یوه لیک په ترڅ کې د افغانانو او سیکانو ترمنځ د منځګړیتوب غوښتنه وکړه.

پدې توګه دوست محمد خان له لارډ اکلنډ څخه د پېښور د بېرته آزادۍ په اړه د مرستي په غوښتنه انګرېزانو ته په افغانستان کې د

(c) ketabton.com: The Digital Library



مخامخ لاسوهني لار پرانیستله، پدې اړه چې دوست محمد خان ولي له لارډ اکلنډ څخه د منځګړیتوب غوښتنه وکړه، یو فکتور هم ویل کیږي، دا و چې د برتانیا د بهرنیو چارو وزیر (لارډ پالمرستون) هندوستان ته د فرانسوي ګواښ پرضد، چې په هماغه موکه یې د روسي ګواښ ځای نیولی و، د افغانستان د ملاتړ غوښتنه کړې وه، نو امکان لري چې امیر له پرنګي څخه د بالمثل راکړې ورکړې خوب په سر کې و او لدې کبله د افغاني غازیانو لښکرو ته چې په لوا ړګي د ورختلو او پېښور ته د ځان رسولو لپاره یې تیاري نیوله، په ناڅاپي ډول له کابله امر ورسېد، چې اوربند وکړئ، بېله دې چې پېښور ونیسئ، امیر دوست محمد خان په سادګۍ سره د لارډ الکنډ په انصاف زړه تړلی منتظر پاته سو.

اکلنډ ته انتظار اوږده موده ونه نیوله، دوست محمد خان ته په یوه ځوابیه لیک کې لارډ اکلنډ ولیکل چې:.(ملګرې تاته څرګنده ده چې د برتانیا د حکومت دا دود نه دی، چې د نورو خپلواکو هیوادونو په کورنیو چارو کې لاسوهنه وکړي).

دوست محمد خان هک حیران پاته سو او ښایي خپلي سادګۍ او ناپوهۍ ته یې پام سوی وي، ښایي نومورې پدې پوه سوی وي، چې لدې سره – سره چې دیپلوماسي د یوه ولس په مبارزه کې خورا غوره رول لوبوي، خو د ډیپلوماسۍ شاته د خپل ملت پر متهو باندي د ډاډ د نشتوالي په صورت کي بریالی کېدل او د بري هیله کول، یو اځي د ځان غولول دي، د لارډ اکلنډ د یوه لیک په ځواب کي امیر دوست محمد خان بیا لیکي چې:– (په نړۍ کي ډېر کسان د انګرېزانو له نیکیو څخه

(c) ketabton.com: The Digital Library



برخمن سوي، خو پدې اړه به زموږ بې برخه توب د انګرېزانو د حکومت د نه پېرزویني له کبله نه، بلکې زموږ خپله بد قسمتي وي).

تر کومه پوري چې د لارډ اکلنډ د نه لاسوهني په کاذبه ادعا پوري اړه لري، نو راتلونکو پېښو په زغرده داسې ثابته کړه، چې دا ادعا د یوه لږ نا ببره تېرایستنو په لړ کې د یوه لږ خورا خندا وړ پېښو له ډلې څخه یوه پېښه وه.

له لندن څخه (سري کمېټه) د (۱۸۳۶ز) کال د جون په میاشت کې لارډ اکلنډ ته په یوه یادښت کې لارښوونه کوي، چې (په هر ډول مناسب یا ضروري اقدام چې کولای سئ، باید په افغانستان کې د حالاتو د انکشاف نږدې څارنه او د روسانو د نفوذ مخنیوی وکړئ).

د دوست محمد خان د لیک په ځواب کې لارډ اکلنډ دا هم لیکلي وه، چې (برتانیا هیله لرله چې د سوداګرۍ د پراختیا له لاري د سیمې د وګړو د ژوند کچه لوړه سي، نو موږ یادونه کړې وه، چې (کپتان الګساندر برنس) ته یې ماموریت سپارلی، چې د یوه پلاوي په مشرۍ د (۱۸۳۷ز) کال په سپټمبر کې کابل ته ولاړ سي).

د هغه لیک پر بنسټ د کپتان برنس ښکاره ماموریت دا و، چې له افغانستان سره د دوه اړخیز (سوداګرۍ) د امکاناتو او د اباسین له اوبو څخه د (اباسیند د دواړو غاړو حکومتونو) د ګټې اخیستلو په هکله خبري وکړي.

وروسته بیا حوادثو ثابته کړله چې د برنس د ماموریت موخه هم په اساس کې پر افغانستان باندي زور اچونه او په سیمه او مرکزي آسیا کې د جاسوسۍ د جال خورول و او د سوداګرۍ نوم یوا ئې د سرپوښ لپاره ورکړل سوی و.

(c) ketabton.com: The Digital Library



سرجان کي ليکي:.(که چيري د ستراتيژيکي موخو د لاس ته راوړلو لپاره د سوداګرۍ د ټکي د استعمال اجازه ورکړ سوې نه وای، نو په ختيځ کي به موږ ډيپلوماتانو څه کول).

له انګريزانو سره د امير دوست محمد خان د راتلونکو خبرو په هکله افواهاتو په هيواد کي دننه دده پرضد، د نوموړي ورونو کينه او حسد وپارول.

علامه عبدالحق مجددي په خپل اثر (حقيقت التواريخ) کي ليکي:. (کله چي د دوست محمد خان وروړ سردار کهندل خان، چي د کندهار والي و، د انګريزانو او امير تر منځ د خبرو په پروګرام خبر سو، نو هغه يې د خپل حاکميت پر ضد خطر وباله او سمدلاسه يې له پارس څخه د افغانستان په چارو کي د مداخلې غوښتنه وکړه).

په (۱۸۳۷ ز) کال کي افغانستان له لويديځ څخه يو ځل بيا د پارس له خوا له تيري سره مخامخ و، په دې کال پر هرات باندي د پارسيانو يرغل د انګريزانو او روسانو ترمنځ اړيکي ترينګلي کړي وې، قاجاري پارس چي له تزاري روسيې سره د ترکمانچې له تړون څخه وروسته يې له برتانيې څخه مخ اړولی و، د روسانو له خوا هڅېده، چي د افغانستان پر خاوره باندي تېری وکړي.

آخير هغه و چي د کال په وروستيو مياشتو کي، محمد شاه قاجار پر هرات د يرغل تياري پيل او د هرات له والي (سدوزايي شهزاده کامران) څخه د يرغملو غوښتنه وکړه او ورته يې وويل چي پر هرات باندي دده بشپړي سلطې ته غاړه کښيږدي، مګر د کامران وزير، (يار محمد خان الکوزی) انکار وکړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



پر محمد شاه قاجار باندي د وزیر یارمحمد خان دا ځواب ښه ونه لګېده او پرېکړه یې وکړه، چې پر هرات به خامخا یرغل کوي، کامران او یار محمد خان خپل پوځونه چمتو کړل، نو هغه و چې د پارس لښکري پر هرات یرغل وکړ، که څه هم د هرات د نیولو لپاره په اعظمي توګه پنځه ویشت ورځې په کار وې، خو د قاجار پوځونه نږدې نهه میاشتي دا ښار په محاصره کي وساته، مګر فتح یې نه کړای سو، وزیر یارمحمد خان الکوزی پر خپله خبره ټینګ ودرېد او د نهه میاشتو کلابندی پر وخت یې له ښار څخه په مېړانه دفاع وکړه.

د افغانستان ددې دورې تاریخ پداسي حساسه موکه کي و، چي په امیر دوست محمد خان باندي له ختیځ څخه د برتانیې فشار په زیاتېدو سو او کپتان الګساندر برنس کابل ته راغی.

## افغانستان ته د دوو ښکېلاکي هیوادونو د پلاوو راتلل:

امیر دوست محمد خان ته د لارډ اکلنډ د (۱۸۳۶ز) کال د اګسټ (۲۲) نېټې په لیک پسې دیارلس میاشتي وروسته، د الګساندر برنس په مشری، یو پنځه کسیز پلاوی په کابل کي د امیر دربار ته ورسېد، له الګساندر برنس سره (برید من ووډ، جګړن لیچ، ډاکتر لارډ او موهن لال)، ملګري وه، د (۱۸۳۷ز) کال د مې د میاشتي د (۱۵) نېټي په هغه لیک کي چي برنس د لارډ اکلنډ له لوري د افغانستان امیر ته وړاندي کړ، لیکل سوي وه، چي (زما د ۱۸۳۶ زېږدیز د اګسټ د (۲۲) نېټي له لیک سره سم، دا دی اوس برنس در استوم، تر څو له تاسو سره پدې خبري وکړي، چي څنګه د افغانستان او هند تر منځ سوداګري په ښه توګه آسان کېدلای سي).

(c) ketabton.com: The Digital Library



خو د امیر دوست محمد خان سره په کتنه کي، چي د (۱۸۳۸ ز) کال د سپټمبر پر (۲۱) نېټه وسوه، انګرېز استازي د پروتوکول له مخي د جوړي سوي اجنډا پـه محتویـاتو سترګي پټـي کـړې او د سیاسـي مسـائلو پـه اړه یې پـه خبرو پیـل وکړ،[1] دوست محمد خـان د انګرېز استازي (برنس) ته د سیکانو څخه د پېښور د سیمي د بېرتـه اخیستلو مطالبه مختـه کړه، پـه داسي حال کي چي برنس پـه کابل کي لـه امیر دوست محمد خـان سره پـه خبرو بوخت و، د روسیې یـو استازی چي (ویتکوویچ) نومېده، کندهار او لـه هغه ځای څخه کابل ته راغی.

دوست محمد خان چي لا تردغه مهاله له انګرېز څخه د پېښـور پـه اړه وروستی ځواب نه و ترلاسه کړی، د هغـه د هرکلي پـه باره کي یې لـه برنس سره سلا وکړه او د هغه پـه مشوره یې د روسیې د استازي هرکلی وکړ.

لـه ویتکوویچ سره دوه لیکونه وه، یو د روسیې د قیصر لخوا او بل پـه تهران کي د دغـه هیواد د سفیر لخوا، د دواړو لیکونو سکالو لـه کابل سره د سوداګري اړیکو د ټینګـار پـر محور څرخېده، د قیصر پـه لیـک کـي پـر نـورو خبـرو سربېره دا هـم یـاده سـوې وه چـي:ـ(ستاسـو والا حضرت سفیر (میرزا حسین) پـه نېکمرغـه وخت کي زمـوږ دربـار تـه راورسېد او ستاسـو دوستانه لیـک یې راوسپاره، زه د هغـه پـه راتـګ ډېر خوښ سوم او ستاسو دوستي د خپل دولت لپاره غنیمت بـولم، تـل دا غـواړم چي د کابل له خلکو سره چي د سوداګرۍ لپاره زما هیـواد تـه راسي مرسته وکړم).

۱.غلام محمد زرملوال، افغانستان تر وروستي افغانه، لومړی ټوک، ۱۴۶ مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځنګه چي د امیر اصلي موخه د انګرېزانو له لاري د پېښور بېرته لاسته راوړل و، نه دا چي له روسیې یا پارس څخه مرسته تر لاسه کول، نو له دې لامله یې نه یوائي دا چي د ویتکوویچ دواړه لیکونه برنس ته وښوول، بلکې د هغه کاپیاني یې هم برنس ته ورکړې او برنس هغه دواړه د هند واکمن ته واستولې.

ډېره موده لا نه وه تېره سوې، چي د لیک او دوست محمد خان د غوښتنو په اړه د برنس د وړاندیز ځواب د هند د عمومي چارواکي لخوا راورسېد، پدې ځواب کي چي نېټه یې د (۱۸۳۸ز) کال د فبروري (۲۱) ده، څرګنده سوې وه، چي د هند عمومي حکمران دې ته چمتو نه دی، چي د پېښور د بېرته ورستنېدو په هکله د دوست محمد خان د غوښتني په اړه ژمنه وکړي، امیر باید له خپلي دغي غوښتني څخه تېر سي او ویتکوویچ ډېر ژر له خپل قلمرو څخه وباسي.

ددې ځواب په تر لاسه کولو سره دوست محمد خان له برنس سره خپلي اړیکي وشلولې او انګرېزی پلاوی د اپرېل پر (۲۵) نېټه له کابل څخه د هند پر لوري حرکت وکړ، وروسته له دې چي دوست محمد خان له برتانیې څخه ناهیلی سو، په ځانګړي پاملرني سره یې د روس له استازي سره خبري پیل کړې، نوموړي استازي امیر ته وعده ورکړه، چي دولت به یې د پېښور د بیا حاصلولو په کار کي مرسته وکړي او په مقابل کي دوست محمد خان هم د هرات پر ضد په عملیاتو کي د پارس له دولت سره د خپلي همکارۍ څرګندونه وکړه.

ویتکوویچ له دې خبرو اترو وروسته بېرته کندهار ته ولاړ، د هغه ځای د چارواکي او د پارس تر منځ یو تړون یې برابر کړ، چي تر مخه یې

(c) ketabton.com: The Digital Library



پارس ژمن سو، چي د هرات تر فتح کولو وروسته به نوموړی ښار کندهاري ورونړو ته وسپاري.

حیرانوونکې خو داده، چي د روسیې سفیر د دغه تړون لاندي د ګواه په حیث لاسلیک کړی و او په ترڅ کي یې علاوه کړې وه چي: (نوموړی له خپل اړخه، په هرات باندي غوریان ورزیاتوی).

خو له دې څخه هم دا عجیبه ده، کله چي له دې ټولو تړونونو او فعالیتونو څخه وروسته (سن پترزبورګ) ته ستون سو او د وخت د بهرنیو چارو له وزیر (کنټ نسلروډ) سره یې د ملاقات وړاندیز وکړ، نوموړي ورسره له لیدني څخه انکار وکړ او څرګنده یې کړه چي: – (زه په دې نامه څوک نه پېژنم، مګر یو تن ماجرا غوښتونکی چي پدې وروستیو کي یې پخپل سر په کابل او کندهار کي توطیو ته لاس غځولی دی).

ویتکوویچ چي یو احساساتي ځوان و او له سیاسي چالونو څخه بې خبره و، دغه چلند ورباندي دومره بده اغېزه وکړه، چي د تومانچې په ګولۍ یې ځان وواژه.

## پر افغانستان باندي د انګرېزانو لومړی پوځي یرغل:

د (۱۸۳۸ز) کال په پسرلي کي وروسته له هغه چي د برنس د سفارت ناکامي جوته سوه، د هند عمومي چارواکي (لارډ اکلنډ) په افغانستان کي د پوځي عملیاتو د ترسره کولو هوډ وکړ، که چیري د هند د حکومت موخه د روسیې او پارس د نفوذ مخه نیول وای، نو ددې کار معقوله او سمه طریقه دا وه، چي له پارس سره یې د جګړې اعلان کړی وای او خپل ځواکونه یې د هرات د مرستي لپاره استولي

(c) ketabton.com: The Digital Library



وای، خو لارډ اکلنډ غوښتل چي په عين حال کي دوست محمد خان او کندهاري سرداران چي د هرات او پېښور په اړه يې د هغه له نقشې سره مخالفت درلود، هم له مخي ليري کړي او د هغه پرځای يو داسي شخص چي په ټوله معنی د انګرېز دولت ته تابع او امرو ته يې غاړه ايښې دي، د سلطنت په ګډي کښېنوي، دا شخص شاه شجاع و، چي له څو کلونو راپدې خوا له خپل ورور زمان شاه سره په لوديانه کي اوسېده، د هند د وايسرای سلاکارانو د هغه تړون نقل چي په کال (۱۸۳۳ز) کي د شاه شجاع او رنجيت سنګ ترمنځ سوی و، راپيدا کړ او دا يې په افغانستان کي د خپلو عملياتو لپاره سند وګرځاوه، د مې په مياشت کي مګناټن له دغه نقل سره لاهور ته ولاړ او رنجيت سنګ ته يې وړانديز وکړ، چي دا تړون د اعتبار وړ وګرځوي او د برتيانيا دولت هم پکښې شريک کړي، چلباز رنجيت سنګ په ښکاره خو موافقه وکړه او په پايله کي د سيکانو د دولت، شاه شجاع او د انګرېزي کمپنۍ ترمنځ درې اړخيزه معاهده وسوه، ددې تړون ترمخه رنجيت سنګ ژمن سو، چي له شاه شجاع سره به د افغانستان د تاج و تخت په بېرته لاسته راوړو کي مرسته کوي.[1]

د نوموړي تړون په لومړي ماده کي داسي ليکل سوي وه:ـ(په افغانستان پوري ټولي تړلي سيمي به، چي د اباسين په دواړو خواو کي پرتې دي، د رنجيت سنګ تر ولکې لاندي سي).

پدې سيمو کي د افغانستان دا خاوري شاملي وې:ـ(کشمير، پېښور، ديره اسمعيل خان او ملتان).

---

۱.مير محمد صديق فرهنګ، افغانستان په وروستيو پينځو پېړيو کي، ۲۷۹ مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



سربېره پردې پر شاه شجاع باندې د سند هاو هرات د خپلواکۍ خبره هم منل سوې وه، پدې توګه د افغانستان د ولس او خاورې پرضد د توطئې پلان به برې سره جوړ او پردې سربېره دا ژمنه يې هم وکړه، چې د انګرېزانو او د سيک دولت له اجازې پرته به له هيڅ بهرني دولت سره اړيکي نه ټينګوي او له هر هغه دولت سره به، چې د معاهدې له دوه نورو اړخونو سره مخالفت ولري، دښمني کوي.

انګرېزان د يوه ستر پوځ په برابرولو مصروف سول، اوس يوائځنۍ پوښتنه دا وه، چې ددې لوبې د لوبولو لپاره صحنه څنګه جوړه سي، نو پدې ترڅ کې د هند عمومي چارواکي د (۱۸۳۸ز) کال د اکتوبر په لومړۍ نېټه په شيملا[1] کې يوه اعلاميه صادره کړه، چې په هغې کې يې دوست محمد خان د رنجيت سنګ پر ځواکونو باندې چې د برتيانيې پخواني متحد ځواکونه وه، پرته له کوم دليل او په ناڅاپي توګه په بريد کولو تورن کړ او د پارس په ملګرتيا يې پداسې غوښتونکو پلانونو او جاه طلبۍ لاس پوري کړ، چې د هند د پولو سولې او امنيت ته خطر دی، لدې کبله د هند حکومت د (دوست محمد خان له نسکورولو پرته بل بديل نه ګوري).

لارډ اکلنډ ويل چې:.(هر کله شاه شجاع د خپل پلار او نيکه پر پلاز باندې مستقر سي او د افغانستان خپلواکي او مځکنۍ بشپړتيا خوندي سي، د انګرېزانو پوځ به له افغانستان څخه ووځي) او داسې يې هم ويل چې:ـ(بارکزي مشران د انګرېزانو ښه ملګري نسوه کېدای، نو له همدې کبله بايد هغوي له ډګر څخه ايستل سوي وای).

---

۱.د هندوستان په هيماچال پرادش ايالت کې د يو ښار نوم دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



لـه دې څخـه مخکـې چې انګرېـزان خپـل پـوځ د افغانسـتان پـه لـور وخوځـوي، لارډ اکلنـډ د بلوچسـتان لـه والـي (محـراب خـان) سـره يـو تـړون لاسليک کـړ، چې د هغـه لـه مخي بـه د (انـدوس پـوځ) تـه اجـازه ورکړي، چې د بولان په کنډو کندهار ته تېر سي.[1]

کوم پوځ چې انګرېزانو د عملياتو لپاره افغانستان تـه واستاوه، د بنګال له پوځي قواو څخه يوه فرقه چې (۷۵۰۰) کسان پکښې وه، بله فرقه د بمبيي له پوځي قواو څخه وه، چې پـه (۵۵۰۰) تنو مشـتمله وه، چې مجموعاً (۱۳۰۰۰) تنه جنګيالي کېدل، پردې سربېره يـو (۶۰۰۰) کسيز پوځ شاه شجاع له هندي مسلمانانو او نيپاليانو (ګورکه- ګوره ګـانو) څخـه، چـې د برتـانوي منصب لرونکـو پـه واسـطه د ځـانګړي ځواک په توګه روزل سوي وه، چې پدې توګه د پوځي جنګياليو شمېر (۱۹۰۰۰) تنو ته رسېده.

لـدې پـوځ سره د (۱۵۰۰۰) تنـو پـه شـمېر کـي نـوکران، بـاروړونکي، کسبګر، د مالونو او کاليو سوداګر او د فاحشـه ښځو پـه ګډون چې د پوځ تر شا بـه تللې، هم ملګري وه،[2] وورسته بيا انګرېزۍ مېرمنـې هـم د هغوي له يو شمېر غلامانو او مينځو سره په ډېر برم، شوکت او دبدبه د افغانستان (مېلمستون) ته ننوتل.

د (۳۰۰۰۰) دېـرش زرو پـه شـمېر پـيلان، اوښـان، قچـري او خـره هـم ورسـره وه، چـې د جګـړې سـامان او مهمـات پـرې بـار سـوي وه، پـر افغانستان باندې ددې لوی اردو تېرېدل د ملخو داسې سېل تـه ورتـه

---

۱.غلام محمد زرملوال، افغانستان تر وروستي افغانه، لومړی ټوک، ۱۶۳ مخ
۲.مير محمد صديق فرهنګ، افغانستان په وروستيو پينځو پېړيو کې، ۲۸۵ مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



و، چې په کليو او بانډو باندې ورتوئېدل او د خپلې لارې په اوږدو کې يې خوراک، وابښه او شنه بوټي نه پرېښوول.

د انګرېزانو او شاه شجاع دا پوځ په کال (۱۸۳۹ ز) د مارچ په مياشت کې د بولان کنډو له لارې د کندهار په لوري وخوځېد، له (۴۵۰۰۰) تنه مېړو څخه ډېر دا جنګي ځواک، د برېد جنرال سر کاټن، برېد جنرال سرجان کين، برېد جنرال سر ويليم ناټ، او ډګر جنرال ډنکين تر قوماندانۍ لاندې خوځېده.

له څو اونيو مارش وروسته، چې د لارې په اوږدو کې يې هرڅه له خاورو ايرو سره برابرول، انګرېز پوځ د (۱۸۳۹ ز) کال د اپرېل په (۲۵) نېټه د جنرال ناټ په قومانده له شاه شجاع سره يو ځای د کندهار ښار ته ننوت، سبا يې کندهاري سرداران (کهندل خان، مهردل خان او رحمدل خان) له خپلو لښکرو سره تر ښکارپر دروازې راووتل، مازديګر ته جګړه ونښتله، د شپې تيارې مخاصمې لښکري سره بيلې کړلې، سرداران چې په ښار ننوتل کلابند سول، شاه شجاع خپل لښکر پر ښار راتاو کړ، کلابندي چې سخته سوله، سردار کهندل خان د محمد حسن خانعلوم په وسيله له سردار دوست محمد خان څخه نظامي مرسته وغوښتله او نوموړي هم دا غوښتنه ومنله او له خپلو لښکرو سره يې کندهار ته ځان ورساوه، په دغې جګړه کې له امير دوست محمد خان سره دده زامن (سردار محمد افضل خان او سردار محمد اکبر خان) ملګري وه، خو د ډېرو جګړو وروسته سرداران مات سول او کندهار د شاه شجاع لاسته ورغی، جنرال ناټ چې خپل هرتن سرتېری (عسکر) يې له زرتنه افغانانو سره مساوي باله، د کندهار د ګارنيزيون قوماندان سو او له ولس سره يې په بېساري ظلم او

(c) ketabton.com: The Digital Library



استبداد لاس پوري کړ، د سوبمن پرنگي د وحشت او بربریت د یوې بېلگې په توگه (مایکل ایډوارډز) لیکي: (ددې پوځ یو سیاسي اجنټ یو کلی وران او د هغه کلي (۲۳) تنه او سېدونکي یې لدې کبله قتل عام کړل، چې دده په اند یې ورته په بې احترامي کتل).

د شاه شجاع لپاره د انگرېزانو یوه سلاکاره ډله هم وټاکل سوه، ددې ډلي مشري (ویلیم مگناټن) کوله، چې د زیاتي تجربې خاوند و او د شاه شجاع دربار ته د هند د حکومت استازی وزیر ټاکل سوی و، واقعیت دادی چې د (حقیقت التواریخ) پر استناد (مگناټن لومړی وزیر)، (برنس د کورنیو چارو وزیر) او (موهنلال د استخباراتو مشري) په غاړه درلوده، مگناټن او برتانوی جنرال اوس په افغانستان کي پخپله سوبه باندي بیخي ډاډه وه او د (۱۸۳۹ ز) کال د مې د میاشتي په (۷) نېټه یې له شاه شجاع سره یو اووه ماده ییزه تړون لاسلیک کړ، پدې تړون کي افغانستان اجازه نه درلوده، چې د برتانیا له حکومت سره له مشورې او رضایت څخه پرته د هیڅ یو بهرني ځواک سره اړیکه ونیسي.

په کندهار کي له څو اونیو دمي او تمېدو وروسته د اباسین پوځ د (جنرال کین) تر مشری لاندي د کابل پر لور وخوځېد، په کلات او غزني کي له سخت مقاومت سره مخامخ سو او د افغانانو د مخامخ مقاومت بېلگه یې د لومړي ځل لپاره ولیدله، د (۱۸۳۹ ز) کال د جولای په (۲۱) نېټه د کلات او غزني دوه زره سپرو غازیانو کړې توري له تیکي وایستلې او په انگرېزي پوځ یې برید وکړ، پدې برید کي د غازیانو اصلي موخه د شاه شجاع د اوسېدو تامبو ته ځان رسول

(c) ketabton.com: The Digital Library



وه، تر څو هغه ته، چي له هيواد او اسلام سره يې خيانت کړی و، پخپله سزا ورکړي، مګر بريالي نه سول.

پدې توګه د پرنګي پوځ چي په پرمخ تللو وسلو سمبال و، دا بريد شنډ او تر ېسارو وينو تويولو، ورانۍ او ويري خپرولو وروسته د (۱۸۳۹ز) کال د اګست په (۶) کابل ته ورسېد، شاه شجاع له خپلو ښځو، ماشومانو او کورنۍ سره چي شمېر يې اته سوه پنځوس تنو ته رسېده، د کابل بالاحصار په ارګ کي ژوند پيل او د پنځه زره انګرېزي عسکرو لخوا يې ساتنه کېدله.

د لارډ اکلنډ سياستمداري او هوښيارتيا په لندن کي په خورا برم او دبدبه ونمانځل سوه، د برتانيې صدراعظم (پالمرسټون) ليکي چي: (په افغانستان کي د اکلنډ ځلانده بری به اوس ټوله آسيا ولړزوي او زموږ لپاره به هر څه اسانه سي).

د اکلنډ، مګناټن، جنرال کين او برنس په ګډون په افغانستان کي برتانوي مامورين په لوړو انګرېزي وياړونو، مډالونو او رتبو وياړل سول، دوست محمد خان له يوې مودې مقاومت[1] څخه وروسته پارس ته د تګ نيت وکړ، مګر دده ورور (نواب عبدالجبار خان) ډېر ټينګار وکړ او د بخارا تګ ته يې وهڅاوه، امير هم زړه نا زړه د خپلي کورنۍ سره بخارا ته ولاړ، خو هلته د بخارا د پاچا لخوا بندي سو.

مرحوم غبار ليکي: کله چي په کال (۱۸۳۹ز) کي انګرېزان د کندهار، غزني باميانو، پروان، کابل او جلال اباد په سوق الجيشي ځايونو کي خپل ځانونه ټينګ کړل او خپلي توپخانې يې د سپرو او

۱.غلام محمد زرملوال، افغانستان تر وروستي افغانه، لومړی ټوک، ۱۶۵ مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



پیاده سرتېرو د ځای پر ځای کېدو سره لا پیاوړي کړې، نور نو انګرېزان دوستان نه بلکې باداران وه او د افغانستان پوځي حاکمان او اصلي واکمنان سول، مګناټن په عملي توګه د افغانستان د صدراعظم او نائب السلطنه په توګه راڅرګند سو، د دولت ټولي چاري د وزیرانو ټاکل او ګوښه کول، افغاني افسرانو ټاکل او شړل، بودجه، مالیات، مجازات او امکانات ټول د انګرېزانو په لاس کي وه.

## د انګرېز او شاه شجاع په وړاندي د افغانانو پاڅونونه:

په کال (۱۸۴۰ز) د مارچ په میاشت کي د افغان ولس غبرګون او پاڅون پیل سو، لومړی دیني عالمانو په منبرونو کي د خطبې څخه د پاچا نوم لیري کړ او د پاچا د سکې په اړه دا بیت د خلکو په خولو کي ولوېد:

سکه زد برسیم ورز شاه شجاع ارمنی
نور چشم لات و برنس خاک پای کمپنی

دا دی بیا د افغانانو د ملی هویت د څرګندولو په اړه غورځنګ د پیلېدو په حال کي و او د پردي دښمن په وړاندي ټول په یوه لیکه کي سره راغونډېدل، د هلمند، د مشرقي، د غزني، خورد کابل او د شمالي سیمو خلکو پاڅون په کال (۱۸۴۰ز) کي د انګرېزانو په وړاندي پیل سو.

لکه څنګه چي زموږ د بحث موضوع هلمند دی، نو موږ دلته تاسو ته د هلمندیانو د پاڅون په هکله په لنډه توګه کي معلومات درکوو: (د (۱۸۴۰ز) کال د ډسمبر په میاشت کي د زمینداور د سیمي او د هلمند

(c) ketabton.com: The Digital Library



د شاوخوا سیمو خلکو د اختر محمد خان هلمندي (علیزي) په لارښوونه د انګرېزانو په وړاندې د جهاد اعلان وکړ او جنرال ناټ یې څو موده په جګړه او مبارزه کې بوخت وساته، د انګرېز دوه کنډکه سرتیري او یوه توپخانه له کندهار څخه د اخترمحمد خان علیزي د ټکولو لپاره د ګرشک لور ته وخوځېده، مګر دوي ونسو کړای چې پاڅون غلی کړي، دا ځکه چې دا مهال محمد اکرم خان د زرو تنو پوځیانو سره له دغه پاڅون سره یو ځای سو، انګرېزانو نوري تازه قواوې د ناټ تر مشرۍ لاندې سیمې ته ولېږلې او د توپخانې په زور د مبارزینو څخه مخنیوی وکړ او ملی مبارزین یې شاتګ ته اړ کړل، محمد اکرم خان دهراود ته د نویو لښکرو د یو موټي کولو لپاره ولاړ، مګر د انګرېزي جاسوسانو لخوا ونیول سو او په کندهار کې په توپ کې والوزول سو، د نوموړي مېړني مېرمني هم د جهاد بیرغ پورته کړ، خلک به یې جهاد او پاڅون ته هڅول، جنرال ناټ دغه مېړنۍ مېرمنه ونیوله او له څو نورو ښځو سره یې کابل ته ولېږه، مګر د غزني خلکو د انګرېزي ګارډ په وړاندې ودرېدل او هغوي یې له مینځه یووړل او دغه مېړنۍ مېرمنه یې آزاده کړه).

په (۱۸۴۰ ز) کال کې امیر دوست محمد خان، د بخارا د پاچا له بند څخه د لس زرو روپو په مقابل، چې د زندان ساتونکي ته یې ورکړې، په دغه حال کې خپل زوی (محمد اکبر خان بارکزي) ته یې وویل، چې درځه وتښتو، خو نوموړي انکار وکړ او خپل پلار ته یې وویل، چې تر تېښتي زندان غوره او بهتر دی.

امیر دوست محمد خان، افغانستان ته ستون سو او دلته یې د انګرېزانو پر ضد ډېر پوځ ټول کړ، امیر لومړی په بامیانو کې له

(c) ketabton.com: The Digital Library



انګرېزانو سره جګړه وکړه، چې په نوموړي جګړه کې یې د ښمن ته ډېر زیانونه ور ورسول او یو توپ یې هم تر لاسه کړ، په دغه جګړه کې له دواړو غاړو څخه زر تنه مړه سول، څلور ورځې وروسته بیا امیر په ځُلم کې پر انګرېزانو برید وکړ او د هغوي څخه یې زیات ووژل، هغوي مجبور سول، چې د باجګاه او سفان پلو ته په شا تګ وکړي.

امیر تر دوولسو ورځو چریکي جګړو وروسته د عبدالسبحان کور ته چې د چاریکار د خانانو له جملې څخه و، ورغی، هغه لومړی د مېلمه ښه هر کلی وکړ، خو وروسته یې انګرېزانو ته حال ورواستاوه، چې امیر یې کور ته دی او که غواړئ چې امیر ونیسئ، نو راسئ، انګرېزانو هم د امیر د نیولو لپاره پوځ چمتو کړ او د نوموړي خان کور ته یې ځانونه ورساوه، امیر چې د انګرېزانو په راتګ خبر سو، نو یې خپله توره راوکښله او عبدالسبحان یې هلته په کور کې ټوټې ټوټې کړ، بیا له هغه ځایه څخه یې ځان خلاص کړ او خپلي قرارګاه ته ولاړ.

بل ځل امیر د کوهستان او پروان د مجاهدینو په ملګرتیا پر د ښمن برید وکړ، د هغوي ډېر کسان یې ور ووژل او څه یې بندیان له ځانه سره ونیول، انګرېزان شا تګ ته اړ سول، د هغه څخه وروسته انګرېزانو بله لاره خپله کړه، هغه دا چې، خانانو ته یې پیسې ورکړې، تر څو امیر ونیسي، خو هغه پلان یې هم بریالی نسو.

کله چې د امیر په پوځ کې ماته راغله او خانانو غوښتل چې امیر دوست محمد خان لاسترلی انګرېزانو ته په لاس ورکړي، نو پر امیر یې هم ډېره بده اغېزه وشیندله، هغه و، چې نوموړي هوډ وکړ چې انګرېزانو ته ځان خپله تسلیم کړي، دا خبري یې میر مسجدی خان ته وکړې او سبا ته د کابل په لور راوخوځېد، چې پدې توګه امیردوست

(c) ketabton.com: The Digital Library



محمد خان له (۱۸۳۹ ز) کال د اګست څخه تر (۱۸۴۰ ز) کال د نوامبر د میاشتي تر پایه پوري له ډېرو ناکامیو، نامردیو سره چي ملګرو یې ورسره کړي وې، مخامخ سو.

امیر دوست محمد خان چي کله کابل ته ورسېد، د پل محمود خان له لاري بالاحصار دروازې ته ور ننه سو، امیر له آس څخه راکښته سو، مګناټن روغبړ ورسره وکړ، اته ورځي وروسته د امیر کورنۍ له غزني څخه چي هلته بندي وه راوغوښتله او هند ته یې تبعید کړل.

د (۱۸۴۱ ز) کال په اوږدو کي د شاه شجاع او مګناټن سلطنتي دستګاه فساد پر خلکو فشار راوست، چي د کابل ځیني سرښندونکو او سرتېرو مېړنو لکه، عبدالله خان اڅکزی، امین الله خان لوګری، ملامون غلجی، شمس الدین خان بارکزی، ګل محمد خان، عبدالعزیز خان، محمد شاه خان بابکرخېل، اسکندر خان بامیزی، عبدالسلام پوپلزی او ځیني نور مخور شاه شجاع ته ورغلل او هغه یې خپلو ملي، وطني او افغاني دندو ته ځیر کړ، چي له بده مرغه پاچا د خپل نه اختیار او واک نه لرل پلمه کړل.

تر هغه وروسته عبدالله خان اڅکزی او نائب امین الله خان لوګری د پاڅون په فکر کي سول او خپلي نظریې یې د امیر دوست محمد خان له وراره (نواب محمد زمان خان) سره هم شریکي کړې او هغه یې مرستي ته راوباله، نواب محمد زمان خان دغه خبري له خپلو نورو ملګرو سره هم شریکي کړې، چي د کابل د هماغه وخت د مشرانو نومونه په دې توګه موږ ته رارسیدلي دي: (اسکندر خان بامیزی، عبدالسلام پوپلزی، د مختارالدوله شېر محمد خان زوی غلام احمد خان، د نواب عبدالصمد خان زوی محمد عثمان خان بارکزی، د نواب

(c) ketabton.com: The Digital Library



اسدالله خان بارکزي زوی نواب محمد زمان خان شجاع الدوله، میر احمد خان، میر افضل خان، محمد خان، محمد حسین خان عرضبیګي، حاجي علی خان امیر آفتاب خان، میر حاجي د حاجي میر واعظ زوی، میر محبوب خان، میر سید خان، میر غلام قادر، آقا حسین توپچي باشي، ولی محمد خان میراخور، اکبرخان خوابګاهي، عبدالرحمن خان عثمانلو، کپتان دوست محمد خان اسحاقزی، محمد هاشم کاه فروش، نور محمد خان او دلاور خان شاه غاسي او نور...

د دغو کسانو شمېر د اکبر نامې په قول د محمدشاه بابکرخېل او عبدالعزیز خان جبارخان جبارخېل، په ګډون د نواب محمد زمان خان په کور کي او په بل روایت د عبدالله خان اڅکزي په کور کي، چي د اوسني کابل د نواب په کوڅه کي دی، سره راغونډ سول او د قران کریم په وړاندي يې ژمنه او لوړه وکړه، چي تر څو انګرېزان له کابل څخه ونه شړو تر هغو په ارامه نه کښېنو، مجلس د پاڅون د تمرکز لپاره نواب محمد زمان خان بارکزی د مشر او د هغه مرستیال يې امین الله خان لوګری د مجاهدینو د رهبرانو په توګه وټاکل سو.

حمید کشمیري په اکبر نامه کي لیکلي، چي تردې وروسته د کابل مبارزین بریالي سول، هغوي د رائیو په اتفاق، سردار محمد زمان خان د سردار اسد خان زوی، د سردارپائنده محمد خان لمسی او د حاجي جمال خان بارکزي کوسی، د پاچا په توګه وټاکه او روحانیونو د شاه شجاع د نامه پر ځای د زمان شاه نوم په خطبه کي یاد کړ.

د (۱۲۵۷ هـ ش) کال د روژې د مبارکي میاشتي په (۱۷ مه) چي (۱۸۴۱ ز) کال د نوامبر د دوهمي نېټې سره سمون لري، سهار وختي مهال ملي مبارزین چي چړې، سیلاوه، خنجرونه، توري، غشي،

(c) ketabton.com: The Digital Library



ټوپکان او لرګي ورسره وه، د اوسني خرابات په سیمه کي چي د برنس د استوګني ځای و، ځانونه ورسول، برنس په حمام کي په ځان مینځلو بوخت و، چي کور یې محاصره سو، غازیانو برنس لومړی په اور وسوځاوه او بیا یې ټوټې ټوټې کړ، د کپتان جانسن او نورو انګرېزانو منصبلرونکو کورونه هم لوټ سول او هغوي پخپله ووژل سول، وروسته د خلکو غضب د بالاحصار خوا ته متوجه سو، پدغه وخت کي له بالاحصار څخه یو اووه سوه کسیز کنډک د (جنرال کمپل) تر مشرۍ لاندي د پیښي ځای ته راروان سو، څنګه چي د دغو تنګو کوڅو څخه تېرېدل، د کابل د ښار انجونو او پېغلو هم د بامونو له سرو څخه په تودو اوبو او د خښتو په ویشتلو سره له هغوي سره مبارزه کوله.

له هغه څخه وروسته پاڅون کوونکو د انګرېزانو د غلې پر ګدامونو برید وکړ، تر څو د مجاهدینو لپاره خواړه برابر کړي او انګرېزان بې غلې داني سي، په دغه وخت کي مګناټن یو زر کسیزه پوځ د ګدامونو د ساتني لپاره ورولېږه، نوموړو پوځیانو په پیل کي د ګدامونو په ساتنه بریالي سول، خو څو تنو غلجي غازیانو په یوه خندق کي کمین نیولی و او د یوې برېښنا په شان پر دښمن توره شپه جوړه کړه او د ګدام یوه برخه یې د باروتو په واسطه منفجر کړه، افغاني اتباعو هجوم پر وروړ او هر یوه ځانته غله ذخیره کړه.

کله چي په خاورو سپېره عسکرو د مجاهدینو سره په دغو تنګو کوڅو کي مخامخ سول، د دښمن ناریه وسلې له کاره ولوېدلې او هلته یې کار نسو کولای، په دغه جګړه کي چي تن په تن و، د مجاهدینو

(c) ketabton.com: The Digital Library



تبرونو او سېلاوو اووه سوه انګرېزي سرتېري لکه د پسونو په شان تر تیغ تېر کړل.

په دغه ډله کې د بي بي مهرو د غونډۍ جګړه له لویو او مهمو جګړو څخه شمېرل کېږي، په دغه جګړه کې عبدالله خان اڅکزي په ډېره مېړانه له انګرېزانو سره وجنګېده او ډېر پرنګیان یې له خاورو سره خاروي کړ، په دغه جګړه کې غازي عبدالله خان اڅکزی د یوه ملي خائن لخوا چې عبدالعزیز نومېده، د شا لخوا وویشتل سو او د نوامبر پر (۲۹) نېټه یې له دغه ټپ څخه شهادت په نصیب سو.

کله چې د کابل پاڅون پیل سو، نو د غازي محمد اکبر خان د راتګ اوازه سوه، چې له بخارا څخه خُلم ته راغلی دی، نواب زمان خان چې دا وخت د مجاهدینو امیر او پاچا ټاکل سوی و، سمدستي یې محمد اکبر خان ته لیک واستاوه او بلنه یې ورکړه، نوموړي هم ډېر ژر کابل ته ځان ورساوه، د پاڅون کوونکو سره مل سو او د هغوی رهبري یې په لاس کې ونیوه.

په دغه وخت کې انګرېزان له ماتي سره مخامخ وه، چې مګناټن د غازیانو مشرانو ته داسي لیکونه واستول، چې په هغو کې دوی تطمیع سوي وه، د بېلګې په ډول مګناټن له غازي محمد اکبر خان څخه د لیدلو غوښتنه وکړه او ده سردار سلطان احمد خان ورواستاوه، مګناټن نوموړي ته یو لیک ورکړ، چې په هغه کې یې اکبر خان ته لیکلي وه: (له بولانه تر خیبر پوري چې کوم ملک د شاه شجاع په نامه دی، هغه به محمد اکبر خان ته ورکړو، پلار به یې کابل ته راوغواړو، د دوي خوښه چې پلار پاچا کېږي که زوی، وضعه چې ارامه سوه، انګرېزان له افغانستان څخه وځي، اوس به سمدستي د وولس لکه

(c) ketabton.com: The Digital Library



روپۍ محمد اکبر خان ته ورکړو او تردې وروسته به له کاله دوه لکه روپۍ ورکوو، محمد اکبر خان دي نائب امین الله خان و نیسي او موږ ته دي وسپاري او نور د غازیانو مشران دي له کابل څخه وباسي).

خو د محمد اکبر خان ایمان او وجدان دومره کمزوري نه وه، چې د پرنګي له لاسه خطاء وځي، هغه و چې انګرېزان د پاڅون کوونکو څخه په تنګ سول، مګناټن د جهاد له قایدینو سره د خبرو اترو غوښتنه وکړه، د نوموړي پیشنهاد ومنل سو، په لومړنۍ غونډه کي مګناټن د غازیانو مشرانو ته دغه شرطونه وړاندي کړل، چې لنډیز یې دا دی:

۱.د انګرېزانو پوځ به له افغانستان څخه وځي.
۲.شاه شجاع به هند ته ځي.
۳.د غازیانو د مشرانو له ډلي څخه به یو تن د انګرېزانو د پوځ د ضرورت وړ د اکمالاتو او موادو د رانیولو څارنه کوي.
۴.بیا به د انګرېزانو پوځ افغانستان ته نه راځي.

د جهاد مشرانو د مګناټن دا پیشنهاد رد کړ، بالمقابل دوي د دوولس فقره ییز تړون شرطونه ورته وړاندي کړل، چې لنډیز یې دا دی:

۱.انګرېزان به له قید او شرط پرته، له کابل، جلال آباد، غزني او کندهار څخه سمدلاسه وځي.
۲.له نهه میله توپونو او په لاس کي له وسلو څخه پرته، نوره وسله به انګرېزان ټوله غازیانو ته پرېږدي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۳.شپږ کسه انګرېزان به د امیر دوست محمد خان تر بېرته راتګ پورې، غازیانو ته په یرغمل ورکوي.

۴.هند ته د شاه شجاع تلل دده په خوښه پورې اړه لري.

۵.له دې وروسته به انګرېزان بیا په افغانستان باندې تېری نه کوي.

۶.د وسلو او مهماتو په بدله کې افغانان، انګرېزانو ته دومره زېرمې ورکوي، تر څو له کابل څخه د دوی د وتلو پورې ورته بسنه وکړي.

۷ـ که انګرېزان د تړون د موادو مطابق عمل وکړي، تر جلال آباد پورې به د دوی امنیت نیول کیږي.

مګناټن د افغانانو له خوا د تړون مواد ومنل، خو کله چې شاه شجاع د تړون په موادو خبر سو، پرې خوابدی سو او د انګرېزانو په مقابله کې یې د پاڅون سپارښتني وکړې، هغه بېرته هند ته د تللو په هکله خپله ناخوښي وښووله.

له تړون سره سم د کارتوسو او وسلو په بدله کې افغانانو، انګرېزانو ته غذايي مواد ورکړل، پر دې سربېره له تړون سره سم د اوس لپاره دوه تنه انګرېزان (تورن اېري او تورن کونولي) یې افغانانو ته یرغمل ورکړل.

خو مګناټن د غدارۍ نیت درلود، په حیله او غدر سره یې خپل وخت تېراوه او له افغانستان څخه د انګرېزانو وتل یې په یوه او بله پلمه وځنډول، په پټه یې د موهن لال جاسوس له لارې د افغانانو ترمنځ د بې باورۍ او دښمنۍ اچولو هڅې پیل کړې وې.

مګناټن غوښتل چې د بې باورۍ اچولو له دسیسو څخه په استفاده د جهاد مشران د یو بل په مقابل سره ودروي او یا یې لږ تر لږه په خپل

(c) ketabton.com: The Digital Library



منځ کې سره بدګمانه کړي، په همدې منظور مګناټن د یوې لیدنې کتنې په ترځ کې، له سردار محمد اکبر خان څخه د نائب امین الله خان لوګري د وژلو او یا د هغه د نیولو او انګرېزانو ته د نومړي په لاس ورکولو غوښتنه وکړه، په بدله کې یې سردار محمد اکبر خان ته د شاه شجاع د وزارت او د امیر دوست محمد خان د بېرته راستنېدو ژمنه یې ورسره وکړه، سردار محمد اکبر خان کله چې د مګناټن په غدارۍ پوه سو، نو په ظاهر کې یې ورسره موافقه وکړه او له مګناټن څخه یې لیکلی سند هم ترلاسه کړ.

په همدې شان مګناټن له امین الله خان لوګري سره اړیکې ونیولې او د سردار محمد اکبر خان د وژلو غوښتنه به یې کوله، امین الله خان لوګري هم په بشپړې ځیرکتیا سره له مګناټن څخه لیکلې سند ونه تر لاسه کړل، د جهاد قایدین چې له غرضي خواهشاتو پرته د غدار دښمن په مقابله کې ټول سره یو صف او یو وجود ګرځېدلي وه، د مګناټن لخوا د غدارۍ سند لیکونه یې یوه بل ته سره وښوول، د جاسوسۍ له لارې د جهاد مشرانو د وژلو لپاره د انګرېزانو په دسیسو باندې پخپله یوه انګرېزي داسې اعتراف کړی دی: (کله چې سرداران په دې پوه سول چې د فسادونو منبع (موهن لال) د دوی پر سرونو باندې بیه ټاکلې وه او د همدې دسیسې په ترځ کې د دوی (سردارانو) له شمېر څخه تر اوسه پورې دوه تنه (میر مسجدي او عبدالله خان اڅکزی) مړه سوي وه، نو په بشپړه توګه راوپارېدل).

په داسې حال کې چې مګناټن له ټولو مشرانو سره څو ورځې دمخه یو تړون لاسلیک کړی او د میاشتې په پنځمه نېټه یې له افغانستان څخه د انګرېزانو د وتلو ژمنه کړې وه، خو په پټه یې د تړون خلاف د

(c) ketabton.com: The Digital Library



غداری تصمیم درلود ، له همدې کبله د جهاد مشرانو دا تصمیم ونیو ، چې له مکناټن سره به له دې وروسته غوڅه معامله کوي.

سردار محمد اکبر خان وګمارل سو ، چې په ځیرکتیا او تدبیر سره به مکناټن لاس ترلی یرغمل نیسي او ښار ته به یې راولي، په همدې منظور سردار محمد اکبر خان یو وار بیا له تدبیر څخه په کټنه، دا ځل د خپل اکا زوی (سردار سلطان احمد خان) په واسطه له مکناټن سره اړیکه ونیوله او داسي څه یې ورته واورول:(ددې ترون د منظورېدو په سبا به نائب امین الله خان لوګری انګرېزانو ته سپاري، د محمود خان قشلې او بالاحصار ته به د انګرېزانو یو غونډ راځي، شاه شجاع به پاچا پاته کیږي، خو وزیر به یې محمد اکبر خان جوړیږي، د انګرېزانو ځواکونه به تر پسرلي پوري په خپلو چوڼیو کي پاته کیږي).

مکناټن د محمد اکبر خان لخوا دا ذکر سوی فکر، د خپلو پټو هڅو د کامیابیو لپاره لاس ته ورغلې یوه ښه پایله وبلله، پداسي حال کي چي پخپلو دسیسو ډاډه سو ، له خپلي خوا یې همدا فکر د سند په توګه ورته ولیکه او ورته یې لاسلیک کړ او د جدي پر دوهمه نېټه یې په همدې مقصد له سردار محمد اکبر خان هلمندي سره د لیدو کتو ژمنه وکړه.

### د مګناټن وژل (۱۸۴۱ ز) د (دسمبر ۲۳) نېټه:

مګناټن له محمد اکبر خان سره د لیدو په مقصد له خپلي چوڼۍ څخه د ورځي پر (۱۱) یوولسو بجو راووت، له تورن لارنس، تورن تریور او جګړن مېکنزي سره یو ځای د اوسني دولتي مطبعې د سیمي په لوري

(c) ketabton.com: The Digital Library



راغی، د برید من (لي) په مشرۍ (۱۶) تنه امنیتي ګارډ یې هم تر شا ورپسې رهي و.

سردار محمد اکبر خان هم له خپلو ملګرو سره یو ځای په بی بی مهرو کې د پخواني یوې ویالې په ژۍ باندې ورته راروان ښکاره سو، له سردار محمد اکبر خان سره راروان ملګري یې دا کسان وه: (محمدشاه خان جبارخېل او ورور یې دوست محمد خان، د سردار محمد اکبر خان د اکا زوی سردار سلطان احمد خان، غلام محی الدین خان، خدابخش خان، آزاد خان غلزایي او اتم کس یې د امین الله خان لوګري ورور و).

مګناټن هم ورته راورسېد، خو کله چې یې د امین الله خان لوګري ورور ولید نو پوه سو، چې موضوع هغه څه نه ده، چې فکر یې کاوه.

له معمول ښه راغلاست وروسته له واوري څخه د خلاصي یوې صوفي پر سر باندې پر یوه آس باندې پرته یوه قالینچه وغوړول سوه او وربانـدې سـره کښېناسـتل، تـورن لارنـس د زیـاتو غازیـانو پـه موجودیت باندې اعتراض وکړ، سردار محمد اکبر خان ورته وویل، چې دوی ټول په راز کې شریک دي، له هغې وروسته سردار محمد اکبر خان مګناټن مخاطب کړ او ده ته یې له مجاهدینو سره د تړون خلاف دده د پټو دسیسو او غداریو سندونه ورښکاره کړل.

سردار محمد اکبر خان په ډاګه، انګرېزان او په سر کې یې مګناټن خاینان، غداران او د تړون ماتوونکي وبلل، ورته ویې ویل، چې اوس موږ مجبور یو چې تا له ځانه سره یرغمل بوزو، تر څو مو له تړون سره سم وتلو ته مجبور کړو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



سردار محمد اکبر خان د مګناټن غداري يې ټولي دده په مخ ورته راویستلې، مګناټن چي څه ځواب نه درلود، نو په غوصه سو، پدې لحظه کي یوه مشر، محمد اکبر خان ته وویل: وخت تیریږي، د پرېښودو نه دی.

دوست محمد خان غلزي په ورځېرمه انګرېزانو باندي په حمله پیل وکړ، سردار سلطان احمد خان او سردار محمد اکبر خان ورپورته سول، مګناټن یې تر متو راونیو، له صوفي څخه یې راوغورزاوه، د جرګې نورو غازیانو هر یوه پر یوه – یوه انګرېز حملې وکړې، ویې نیول او وسلې یې ورڅخه واخستلې، د انګرېزانو د امنیتي ګارډ او غازیانو تر منځ د ټوپکو ډزي پیل سوې، انګرېزانو د غازیانو د ډزو په مقابله کي مقاومت ونسو کړای، په تېښته یې شروع وکړه او بېرته د چوڼۍ پر خوا وتښتېدل.

تورن لارنس د محمد شاه خان د آس په سورلي ژوندی وتښتول سو، په همدې شان مېکنزي هم غازیانو له ځانه سره ژوندی ښار ته ورسره راوست.

مګناټن له رالوېدو سره سم په مقاومت لاس پوري کړ او د کابل ښار ته له راتللو څخه یې منع وکړه، په مځکه کي یې پښې ټینګي کړلې او غوښتل یې چي په کش او ګیر ځان خلاص کړي، خو سردار محمد اکبر خان دی په هماغه تو پانچه وویشت، کومه چي مګناټن هغه د امین الله خان لوګري د وژلو لپاره ورکړې وه، د مګناټن سر یې پرې کړ او کابل ته یې ورسره راوړ، د کابل بازار د چارچنې په چوک کي یې وځړاوه، پدې کار سره یو ځل بیا سردار محمد اکبر خان د زړورتیا، مېړاني او

(c) ketabton.com: The Digital Library



توري ږغ د ټولو غازیانو په منځ کي خپور سو او د غازیانو په زړونو کي یې ځای ونیو. (۱)

د پیښور الحاج خانمیر خان هلالي په (ننګیالي پښتانه) نومي کتاب کي د غازي محمد اکبر خان په باب یو مضمون خپور کړی دی، چي له (۱۶۳) مخه څخه تر (۲۳۲) مخه پوري اویا مخونه نیولي دي، ددې مضمون عنوان (سکان او پیرنګیان تښتوونکی اکبرخان) دی، مضمون په دې بیتونو پیل کیږی:

چا چي هري سنګهـ او مګناټن کولمي شلولي دي
چا چي پیرنګیان او سیکان دواړه شرمولي دي
چا چي په زلزل کړلـو پنجاب، هند، انګلستان
هغه بریالی غازی پښتون دی اکبر خان (۲)

دې پیښي په افغانستان کي د برتانوي ځواکونو راتلونکي وټاکله، د مګناټن په وژلو سره ددغو ځواکونو د مقاومت وروستۍ اراده او ان چي د پوځونو د ساتلو لپاره یې د وروستۍ ټکۍ او خطا ایستلو هڅه هم له منځه ولاړه، پاتینجر چي د سیاسي ماموریت دنده په غاړه واخیستله، نو لومړی یې پوځي افسرانو ته وړاندیز وکړ، چي بالاحصار ته ولاړ سي او ژمی هلته تېر کړي، خو هغوي بیا هم جلال آباد ته په تګ ټینګار درلود، نو په دې اساس له افغاني مشرانو سره خبري په همدې بنسټ له سره پیل سوې، د خبرو اساس هماغه د سردار

۱.کاندید اکاډمیسن محمد اعظم سیستانی، د نولسمي میلادي پېړۍ په لومړي نیمایي کي د افغانستان دوه پوځي او سیاسي اتلان، ۱۵۶ مخ
۲.ملي غازي وزیر محمد اکبر خان، ۸ مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



محمد اکبر خان وړاندیز و، چې نوموړي د مګناټن له وژلو وړاندي لوستلی و، ددغه وړاندیز مسوده پاتینچر ته واستول سوه او نوموړي د هري فقرې په مقابل کي خپل اند د ځواب په بڼه ولیکل او بېرته یې افغاني قرارګاه ته واستوله، سردار محمد اکبر خان بیا د هر ځواب په مقابل کي یوه تبصره ولیکله، له دې لامله چې اوس د انګرېزانو دریځ ډېر کمزوری سوی و، افغاني مشرانو د خبرو په جریان کي خپلي غوښتني پراخي کړې او انګرېزان چمتو سول چې هر ډول شرایط چې د هغوي په ښکېلاکي تاریخ کي بېلګه نلري، ومني.

څنګه چې دا خبري په دریځ سرېږه، د دواړو خواو د فکر طرز، په ځانګړې توګه د افغاني مشرانو، د بېلابېلو مسائلو په برخه کي روښانه کوي، په لاندي ډول د هغوي مسوده د وروستني قرارداد له مسودې سره رانقلوو، په هره ماده کي لومړی د افغاني لوري وړاندیز، بیا د انګرېزانو ځواب او وروسته بیا د افغانانو نوې تبصره چې زیاته برخه یې د یو هلمندي (۲۵) کلن ځوان محمد اکبر خان بارکزي په قلم ده، وړاندي کوو.

## لومړۍ ماده:

د افغاني لوري وړاندیز:.د انګرېزي عسکرو په حرکت کي باید هیڅ ځنډ رامنځته نسي.

د انګرېز د لوري ځواب:ـ موافق یو، دوي (۲۴) ساعته وروسته له دې چې یو زر باروړونکي اوښان یا یابوګان پیدا کړي، حرکت کوي.

تبصره:.په دوي پوري اړه لري، باید کرایه یې چې په وس کي لري تادیه کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دوهمه ماده:

د افغاني لوري وړانديز:ـ افغاني سرداران به له پوځ سره يو ځای وي، چي ځوک مخالفت ته پرېنږدي، په خوراکي توکو کي دې ورسره مرسته وکړي.

د انګرېز د لوري ځواب:. ډېره ښه ده.

تبصره:. سردار عثمان خان او شاه دولت خان.

## درېيمه ماده:

د افغاني لوري وړانديز:. د جلال آباد عسکر دي، د کابل د ځواکونو له حرکت څخه دمخه د پېښنور په لوري حرکت وکړي.

د انګرېز د لوري ځواب:. موافقه لرو، آيا ځوک ټاکئ، چي له هغوي سره ولاړ سي؟

تبصره:. عبدالغفور خان.

## څلورمه ماده:

د افغاني لوري وړانديز:ـ د غزني ځواکونه دي د ترتيباتو له نيولو وروسته په ډېره چټکۍ د کابل له لاري پېښنور ته وخوځېږي.

د انګرېز د لوري ځواب:. موافقه ده، آيا ځوک ټاکئ، چي له هغوي سره ولاړ سي؟

تبصره:. يو تن د نائب له خپلوانو څخه يا مهتر موسى.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## پنځمه ماده:

د افغاني لوري وړانديز:ـ د کندهار او په افغانستان کي نور ټول انګرېزي عسکر بايد ډېر ژر هند ته ولاړ سي.
د انګرېز له لوري ځواب:.موافق يو ، بايد يو څوک ورسره ولاړ سي.
تبصره:.نواب جبار خان.

## شپږمه ماده:

د افغاني لوري وړانديز:.د اميردوست محمد خان ټوله شتمني دي، که د انګرېز دولت سره ده او که د شخصي افسرانو په لاس کي، پر ځای دي پرېښوول سي.
د انګرېز له لوري ځواب:.سمه ده، کومه چي د رسمي مامورينو په واک کي ده، ښرګنده ده او کومه چي د شخصي افسرانو په لاس کي ده، په ګوته يې کړئ او وايې خلئ.

## اوومه ماده:

د افغاني لوري وړانديز:.د انګرېزانو هغه شتمني چي نه وړل کيږي، ساتنه به يې کيږي او په لومړي فرصت کي به واستول سي.
د انګرېز له لوري ځواب:.موافق يو ، خو موږ ټول پاته شيان نواب ته ورکوو.
تبصره:.توپونه، ټوپکونه او مهمات بايد ماته راکړل سي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## اتمه ماده:

د افغاني لوري وړانديز:. که شاه شجاع وغواړي چې په کابل کې پاته سي، نو موږ به د کال يو لک روپۍ تنخواخ ورکړو.
د انګرېز له لوري ځواب:.موافقه ده، څنګه يې چې خوښه وي ودي کړي، هيله من يو چې خپله دوستي موږ ته ثابته کړئ.

## نهمه ماده:

د افغاني لوري وړانديز:ـ که د شاه شجاع کورنۍ د بار وړونکو څارويو د کمښت له لامله پاته سي، نو د هندوستان په لوري د حرکت تر وخته پوري د اوسېدو لپاره همغه محل ټاکو، چې اوس په بالاحصار کې پکښې اوسيږي.[1]
د انګرېز له لوري ځواب:.د شاه درناوی د درانيو درناوی دی او له تاسو سره ښايي.

## لسمه ماده:

د افغاني لوري وړانديز:ـ کله چې انګرېزي ځواکونه پېښور ته ورسېدل، نو بايد چې امير دوست محمد خان او د هغه نورو افغانانو له خپلو مالونو او کورنيو سره د حرکت لپاره ترتيبات ونيول سي.
د انګرېز له لوري ځواب:ـ موافقه لرو، هغوي به په درناوي او سلامتيا سره راواستول سي.

---

۱.اتمه او نهمه ماده په اصل کې د سردار محمد اکبر خان له خوا ورباندي کرښه وهلې ده، معملوميږي، چې له فکر کولو وروسته يې هغه نه دي خوښي سوي

(c) ketabton.com: The Digital Library



## یوولسمه ماده:

د افغاني لوري وړانديز:. کله چي امير دوست محمد خان او نور په سلامتيا سره پيښور ته ورسېدل، نو د شاه شجاع کورنۍ به د تللو اجازه ولري، د تللو په اړه د هوډ کولو تر مهاله به په هغه محل کي چي ورته ټاکل سوی دی، اوسيږي.

د انګرېز له لوري ځواب:. موافقه لرو.

## دوولسمه ماده:

د افغاني لوري وړانديز:ـ څلور تنه نارينه انګرېزان به د برمتې په ډول په کابل کي وي، تر هغه چي امير دوست محمد خان او نور افغانان پيښور ته راورسيږي، پس له هغه به د انګرېز سړي د تګ اجازه ولري.

د انګرېز له لوري ځواب:. موافقه لرو.

تبصره:. شپږ تنه بايد برمته وي.

## ديارلسمه ماده:

د افغاني لوري وړانديز:ـ سردار محمد اکبر خان او سردار عثمان خان به له انګرېزي عسکرو سره تر پيښوره پوري ملګري وي او هغوي به په سلامتيا سره هغه ځای ته رسوي.

د انګرېز له لوري ځواب:. موافقه لرو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## څوارلسمه ماده:

د افغاني لوري وړاندیز:ـ د انګرېزانو له وتلو وروسته به دوستانه اړیکي دوام لري، یعنې د افغانستان حکومت به د انګرېز له موافقې او مشورې څخه پرته هیڅ بهرني هیواد سره تړون نه لاسلیک کوي او نه به ورسره اړیکي ټینګوي او که هغوي هر وخت د بهرني دولت د برید پر مهال مرسته وغواړي، نو د برتانیا دولت به دداسي مرستي له ورکولو دریغ نه کوي.

د انګرېز له لوري ځواب:.تر کومه ځایه چي په موږ پوري اړه لري، موافقه لرو، خو پدې باره کي یوائې د هند عمومي واکمن صلاحیت لري، موږ به هڅه کوو، چي د دواړو دولتونو ترمنځ دوستي ټینګه سي او د خدای په مهربانۍ سره به دا هیله پوره سي او د راتلونکي لپاره به دوستي موجوده وي.

## پنځلسمه ماده:

د افغاني لوري وړاندیز:.هر چا چي له شاه شجاع او انګرېزانو سره مرسته کړې ده او له هغوي سره د تګ هیله ولري، اجازه ورکول کیږي، موږ د هغوي مزاحم کیږو نه او که هغوي دلته پاته سي، هیڅوک به ورڅخه د خپلو کړنو پوښتنه ونکړي او په هیڅ پلمه به تکلیف او ضرر نه وررسوي، هغوي کولای سي، ددې هیواد د نورو اوسېدونکو په شان ژوند وکړي.

د انګرېز له لوري ځواب:.موږ یو څو کلیمي شاملي کړي دي، چي عین دوستي به وي، که تاسو ورسره موافقه وکړئ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



## شپاړسمه ماده:

د افغاني لوري وړاندیز:. که له انګرېز څخه څوک د اړتیا له مخي پاته سي، د تګ تر وخته پوري به ورسره په درناوي چلند وسي.

دا شپاړس ماده ییزه تړون چي د افغاني غازیانو او انګرېزانو تر منځ سوی و، تاسو ته مو وړاندي کړ.

## د انګرېزانو تګ او تباهي:

د پورته ذکر سوي تړون مسوده د (۱۸۴۲ ز) کال د جنوری په لومړۍ نېټه د لاسلیک لپاره برتانیا ته واستول سو، وروسته تر هغې چي انګرېزي منصب لرونکو هغه لاسلیک کړ، د جلال آباد په لوري د انګرېزي پوځونو حرکت د بتخاک، جګدلک او نملې له لاري د جنورۍ پر (۶) نېټه پیل سو،[1] د هغه کال په سخت ژمي کي د بتخاک له لاري جلال آباد ته د تګ په اوږدو کي د اندوس پوځ له درندې او بېساري تراژیدي سره مخامخ سو، په کندهار او غزني کي هم د انګرېزانو ډېر پوځیان په قتل ورسېدل، د هغه شپاړس زره پوځ او عملې له ډلي څخه چي جلال آباد ته د تګ په نیت له کابل څخه وتلې وه، یوائې د شاه شجاع د اردو یو طبي افسر (ډاکتر برایډن) نیم ژواندی جلال آباد ته ورسېد، له ټول اندوس پوځ څخه په بند کي ژوندي ټول پاته سوي پرنګیان یو دېرش افسران، لس ښځې، یوولس ماشومان، دوه تنه ملکي مامورین او دوه پنځوس عسکر وه.[2]

---

۱.میر محمد صدیق فرهنګ، افغانستان په وروستیو پینځو پېړیو کي، ۳۱۱ مخ
۲.غلام محمد زرملوال، افغانستان تر وروستي افغانه، لومړی ټوک، ۱۷۲ مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



کهزاد په خپل اثر (بالاحصار کابل و پیش آمد های تاریخي) کي د انګرېزانو د پوځ د وتلو د ورځي داسي یادونه یې کړې:( ۶ جنوري سال (۱۸۴۲ م) روزي که برای تخلیه تعین شده بود فرا رسید چون اوایل چله بود، برف باری های زمستان دامنه کوهای آسمائي و شیر دروازه و تپه های بی بی مهرو و مرنجان و روی جلگه های اطراف کابل را گرفته و تقریباً همه جا سفید میزد و شش انچ برف د پیش روی قشله فرنګي در دشت بی بی مهرو افتاده بود، میزان خنک به اندازه ئی بود که یخ از سم ستوران به چکش کنده نمیشد).[1]

لیدي سیل چي ددې بندیانو په ډله کي وه، له دوي سره د افغانانو په ښه چلند او پاک لمنۍ باندي پخپلو یادښتونو کي په تفصیل سره لیکلي دي، او نوموړې د اندوس پوځ د برخلیک په اړه بیا لیکي، چي په ګندمک کي د انګرېزي لښکرو له تباهۍ او جلال آباد ته د ډاکتر برایډن له رسېدو سره، هغه وینا په اثبات ورسېده کومه چي موږ ته له کابل څخه د وتلو څخه دمخه سوې وه او هغه دا چي سردار محمد اکبر خان بارکزی به ټول پوځ پوپنا کړي او یو تن به پرېږدي چي جلال آباد ته ورسیږي او نورو ته کیسه وکړي.

دا لومړی ځل و، چي په ختیځ کي د برتانیا پوځ دومره سپک سوی و او هم له هغو ټولو ځاني او مالي زیانونو سره – سره انګرېزان په خپلو بې ثمره هلو ځلو کي بریالي نه سول، د افغانانو د دوستۍ پرځای، چي په خورا اسانۍ سره یې ترلاسه کولای سوه، تلپاتې دښمني او کرکه ور پر غاړه سول.

---

۱.احمد علي کهزاد، بالاحصار کابل و پیش آمد های تاریخی، ۵۱۱ مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



پردې سربېره په افغانستان کي د پرنګي د پوځ ماته ممکن په هند کي برتانوي امپراطورۍ ته نه جبیره کېدونکي تاوانونه رسولي وای.

ارنولډ فلیچر لیکي: (هیڅ یوې نښتي هم د هند په تاریخ کي د برتانیا او برتانوي پوځ پرستیژ دومره نه دی ذلیل کړی، چي په پایله کي یې (۲۴) کلن ځوان (سردار محمد اکبر خان هلمندي) د شهرت معراج ته ورسېد، د پلار تخت او تاج یې وګاټه او ټولو هغو نورو ولسونو ته یې هم د امید ډېوه بله کړه، چي په ختیځ کي د انګرېز له برلاسۍ سره په مبارزه کي وه).

پدې توګه له درې کلونو او ځلورو میاشتو اشغال، وینو تویولو، دروند لګښت، بربادۍ او ویجاړولو څخه وروسته د هغې زمانې ستر ځواک د وطن مینو افغانانو توري په وړاندي په ګونډه سو او مجبور وه چي په ټیټ سر له افغانستان څخه ووځي.[۱]

کاندید اکاډمیسن محمد ابراهیم عطائي په خپل اثر (د افغانستان پر معاصر تاریخ یوه لنډه کتنه) کي د افغان او انګرېز د جګړې په هکله داسي لیکي:. (د جنوري د شپږمي څخه تر دیارلسمي پوري د انګرېز اووه لس زره اردو له کابل څخه جلال آباد ته وخوځېد له، خو له دغه ستر بهیر څخه صرف یو د اردو ډاکتر د برایډن په نامه ژوبل او ناروغه جلال آباد ته ورسېد، نور ټوله له یو مخیزه تپ او تباه سول، دا د افغان او انګرېز لومړۍ جګړه وه، چي انګرېز ته یې لویه خساره تکیه کړه، په متفرقو جګړو او د کابل، جلال آباد د لاري د وژل سوي لښکرو په شمول د انګرېز دېرش زره تنه قتل سول او د پیسو خساره یې

۱.غلام محمد زرملوال، افغانستان تر وروستي افغانه، لومړی ټوک، ۱۷۲ مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



دېرش کروړه هندي روپۍ وې، د همدغي پیښي څخه لارډ اکلنډ ګورنر جنرال له دندي ګوښه او حتی په لندن کي حکومت ټکاني سو).

په پای کي د (۱۸۴۲ ز) کال د اپرېل پر دوهمه نېټه سهار شاه شجاع په خپله ګاډۍ کي په تېښته د بالاحصار څخه د جلال آباد خوا ته روان سو، په سیاه سنګ کي د یوې زړې ژرندي سره راګیر سو او د سردار زمان خان زوی (شجاع الدوله خان) په ټوپک ډزي پرې وکړې او مړ یې کړ، وایې په دغه وخت کي یې هم نارې وهلې چي (سرکار بې ګناه است).

له دغه وخت څخه چي شاه شجاع ووژل سو، بیا د دوست محمد خان تر راتګ پوري یوه ډراماتیکه صحنه په وطن کي جوړه سوې وه، کله چي شاه شجاع ووژل سو، د کابل د هغه وخت روحاني شخصیت میر حاجي راغی او د ښار په منځ کي یې نارې کړې: لوی لارډ (شاه شجاع) د کوچني لارډ (مکناټن) سره یو ځای سو.

نواب زمان خان د موقع څخه په استفاده غوښتل ځان پاچا کړي، خو نائب امین الله خان لوګري او نورو ملي مشرانو د وضع تر معلومولو په زیاته بیا د سردار محمد اکبر خان تر راتګ پوري د نواب زمان خان مخه پدې ونیوله، چي ورته وې ویل مصلحتاً به د وضع د آرامۍ لپاره د شاه شجاع زوی (فتح جنګ) پاچا کړو، میر حاجي چي د شاه شجاع د د کورنۍ مخالف و، ددې خبري مخالفت یې وکړ او وضع جګړې ته ورسېده، فتح جنګ چي دا بهتره بللې وه، چي د انګرېز لمني ته وغورزي، خپله پښه وایستله.[1]

۱.کاندید اکاډمېسن محمد ابراهیم عطایي، د افغانستان پر معاصر تاریخ یوه لنډه کتنه، ۶۲ مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



یو تاریخ لیکونکی د انګرېزانو د یرغل په اړوند، چي پر افغانستان یې وکړ، لیکلي:. (په برتانوي هند کي د انګلیس دولت ته (۱۵) میلیونه پاونډه تاوان ورسېد او د (۲۰۰۰۰) شل زرو څخه زیات عسکر ووژل سول، ددې تر څنګ هغه بې پایلي کوښښونه چي انګلیسانو غوښتل چي د روسانو په وړاندي افغانستان د یو وسپنيز دېوال په حیث پاته سي، د ناکامۍ سره مخ او په نړیواله کچه یې نظامي شهرت ته تاوان ورسېد.[1]

د انګرېزانو د وتلو او د شاه شجاع د وژل کېدو وروسته د قوم د مشرانو او سردارانو تر منځ جګړې پیل سوې او دا جګړو تر هغه پوري تاو واخیست چي نائب امین الله خان او محمد نواب زمان خان بارکزي تر منځ د جګړې تیاري ونیول سوه، جګړه پیل سوه، د محمد نواب زمان خان بارکزي ټولټال پوځ شپږ زره او د نائب امین الله خان پوځ اتلس زرو ته رسېده، د دواړو خواوو څخه ډېر زیات مړه او ژوبل سول، د ورځي په غاړې کي چي د نائب امین الله خان پوځونه د محمد نواب زمان خان پر ځواکونو برلاسي کیدل، دا وخت سردار محمد اکبر خان او سردار سلطان احمد خان له تیزین څخه کابل ته را ورسېدل، سردار محمد اکبر خان له درو سوو سپرو سره د نواب زمان خان پلویتوب وکړ او د فتح جنګ او نائب امین الله خان ځواکونه یې له مخي ایسته کړل.

مات سوي پوځونه د بالاحصار لورته وتښتېدل، سردار محمد اکبر خان او ملګرو یې هغوي په بالاحصار کي معاصره کړل، نائب امین الله خان چي ددغه کار راتلونکی ناوړه ګاڼه د محمدشاه خان بابکرخېل

۱.پوهندوی م شهرزاد، افغانستان د نړیوالو سیاستونو محراق، ۵۶ مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



سره یو ځای سو، د محمد شاه خان بابکرخېل د منځګړیتوب له مخي شخړه حل سوه او داسي پرېکړه وسوه، چي فتح جنګ دي پاچا وي او سردار محمد اکبر خان دي وزیر وي، ددغه دښمنۍ د له منځه وړلو لپاره دي نائب امین الله خان لوګری خپله لور سردار محمد اکبر خان ته نکاح کړي، چي لدې نېټې څخه وروسته سردار محمد اکبر خان د وزیر محمد اکبر خان په نامه شهرت وموند.

له بده مرغه دا روغي جوړي او مصالحې هغه وخت رواني وې، چي جنرال پالک د شلو زرو عسکرو سره د غچ اخیستلو په نیت په جلال آباد کي د یرغل لاره څارله.

## د غچ اخیستلو پوځي یرغل:

په افغانستان کي د انګرېز د ماتي په هکله په هند کي انګازې خپرې سوې، ددې خبر له اورېدو سره د لارډ اکلنډ زړه ولوېد او په ککره کي یې د افغانانو په هکله د ژوري کینې تور توپان خپور سو، خو څنګه چي یې په هند کي ماموریت سرته رسېدلی و او پر ځای یې (لارډ ایلنبوره) د هندوستان د وایسرای په توګه ټاکل سوی و، نو لدې کبله یې پخپله هیڅ ډول تصمیم نسو نیولای او پدې اړه پرېکړه اوس د نوي وایسرای پر غاړه وه.

د افغانستان په اړه اوس د انګرېزانو د وړاندي تګ پالیسي (Policy Farwad) ودرول سوه او شا تګ پالیسي ( Backward Policy) ته مجبور سوي وه، ایلنبوره په کلکه پتېيلې وه، چي له افغانستان څخه د خپل مات سوي پوځ په ایستلو پسې به په هر ډول او هره بیه چي کیږي د برتانوي امپراطورۍ پوځي پرستیژ بېرته خوندي

(c) ketabton.com: The Digital Library



کوي او ددې کار د سرته رسولو لپاره يې پر افغانانو باندي د درنې او پرېکوونکي څپېړي د وارولو لاربښوونه وکړه.

په افغانستان کي څلور پنځوس زريز انګرېزي پوځ د ييخي ورکاوي له ګواښ سره مخامخ و، په جلال آباد کي د جنرال سيل ژوند له ګواښ سره مخ و او د خپلو عسکرو د ژغورني لپاره له پېښور څخه د مرستندويه قوت ور رسېدو ته سترګي په لار و، په کندهار کي جنرال ناټ پداسي حال کي چي اته زره تنه عسکر يې وژل سوي وه، د شاه شجاع د زوی (تېمور) تر بيرغ لاندي په دفاع بوخت و، هماغه و چي د هند وايسرای خپلو جنرالانو ته لاربښوونه کړې وه، چي د دوي ژغورلو ته ورودانګي، په افغانستان کي خپلو پاتو نورو پوځونو ته يې ويلي وه، چي که غواړئ دواړه پوځونه دي د کابل له لاري جلال آباد او بيا پېښور ته ستانه سي، لدې کبله جنرال پالک مخکي دمخه له پېښور څخه يو پوځ خوځولی و، چي په جلال آباد کي له جنرال سيل او په کندهار کي له جنرال ناټ سره مرسته وکړي.

جنرال پالک او جنرال ناټ د (۱۸۴۲ز) کال د سپټمبر پر (۱۷) او (۱۹) نېټه يو په بل پسې کابل ته ورسېدل او له ښار څخه يې دباندي مورچې ونيولې، په هغې پسې وروسته يې بيا په درنو وسلو سمبال پوځي ټولۍ ښار ته ننه ايستلې او د کابل پر ښار باندي د انتقام او بدل اخيستلو لړۍ پيل سوه، د کابل چهارچته بازار ته يې، کوم ځای چي پکښې غازيانو د مکناټن مړی د وژل کېدو وروسته ځړولی و، اور

(c) ketabton.com: The Digital Library



واچاوه، د ښځو او ماشومانو په ګډون د بې شمېره کسانو وینې یې تویې کړې او د کابل ښار یې له خاورو سره خاوري کړ.[1]

سردار محمد اکبر خان د (۱۸۴۲ز) کال د جنوری له (۶) نېټې څخه په هماغه کال په جلال آباد او لغمان کې د انګرېزانو په وړاندې مبارزه کوله، د کابل - جلال آباد پر لار انګرېزانو د اوولس نیم زره پوځ تر نابودۍ وروسته لغمان ته ورسېد، لومړی یې انګرېزي بندیان د لغمان د بدیع آباد په کلا کې ځای پر ځای کړل او وروسته یې د جنرال پالک د پوځ د مخنیوي لپاره د خیبر درې ته پوځ واستاوه او وروسته یې خپله هم په جلال آباد کې انګرېزي ځواکونه چې د جنرال پالک لخوا اداره کېدل او مرستې ته انتظار و، تر فشار لاندې ونیول، مګر وروسته یوه بله مهمه دسیسه د سردار محمد اکبر خان په وړاندې جوړه سوه.

انګرېز لومړی د سردار محمد اکبر خان ساتونکي (پائنده محمد) ته یو لک روپۍ ورکړې، چې اکبر خان مړ کړي، کله چې ده یوه ورځ خپل پوځونه معاینه کول، پائنده محمد د شا لخوا په مرمۍ وویشت، له نېکه مرغه هغه مړ نسو او یوازې ټپي سو.

وروسته انګرېزانو پر افغاني غازیانو سهار وختي برید وکړ، اکبر خان چې ټپي هم و، غوښتل یې چې مقاومت وکړي، مګر توان یې نه درلود او د لغمان لور ته په شا سو، سردار اکبر خان له کابل څخه مرسته وغوښتله، مګر د کابل لخوا کومه مرسته ورته ونه رسېده، ځکه چې دلته افغاني مجاهدین پر دوو ډلو وېشل سوي وه.

---

۱.غلام محمد زرملوال، افغانستان تر وروستي افغانه، لومړی ټوک، ۱۷۴ مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



په دغه وخت کې جنرال سیل، سردار محمد اکبر خان ته یو لیک واستاوه، چې په لیک کې یې داسې لیکلي وه: (که چیرې ته د انګرېزانو پرضد د جګړې څخه لاس وانخلې، ستا کورنۍ چې (۱۴۹) تنه ده، ټول به انګلستان ته تبعید کړو، هغه وخت به هیڅ اسلامي شریعت د هغوی د کورنۍ په وړاندې په پام کې ونه نیول سي).

دا لیک سردار محمد اکبر خان ته یو تکان ورکوونکی لیک و، د ننګ او ناموس د ساتنې مسئله، وه، له جګړې څخه یې انصراف ونه، ځکه وایي (مال تر سر جار، سر تر ناموس جار)، د هغه څخه وروسته سردار محمد اکبر خان د خپل د ناموس د ساتنې لپاره، بامینانو ته په شاتګ اړ سو.[1]

د مګناټن د مرګ او د انګرېز د پوځ د ماتې له بدل اخیستلو وروسته، انګرېزي پوځونه پداسې حال کې چې د (سومنات) دروازه، چې سلطان محمود غزنوي له هندستانه راوړې وه، له غزني څخه یې له ځانه سره یوړه، له افغانستان څخه ووتل او د پنجاب په فېروزپور کې یې فاتحانه جشنونه ونیول، لارډ الن برو د خپلې ترخې ماتې د پټولو لپاره په یوه وینا کې وویل: (د هندوستان خلکو ! زموږ فاتح عسکرو پس له څو کاله دادی د سومنات دروازه له افغانستان څخه راوړه او اوس یې تاسو ته سپارو باید زموږ اتحاد دایمي سي).[2]

کله چې جنرال پالک له کابل څخه هند ته روان سو، نو د شاه شجاع یو زوی (شاهپور) یې په کابل کې د پاچا په توګه وټاکه، ددې خبر په

۱.کاندید اکاډمېسن محمد اعظم سیستانی، د نولسمې میلادي پېړۍ په لومړي نیمایي کې د افغانستان دوه پوځي او سیاسي اتلان، ۲۱۰ مخ
۲.غلام محمد زرملوال، افغانستان تر وروستي افغانه، لومړی ټوک، ۱۷۵ مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوربېدو سردار محمد اکبر خان چي دا مهال په خُلم کي و، کابل ته راستون سو، شاهپور یې له دندي څخه ګوښه کړ، خو د هغه سیالانو د نواب زمان خان په مشرۍ پر هغه برید وکړ او محمد اکبر خان یې په بالاحصار کي کلابند کړ، دوست محمد خان چي په پنجاب کي له دې موضوع څخه خبر سو، سمدستي یې افضل خان او خپل نور زامن کابل ته واستول، د هغوی په رارسېدو او د دوست محمد خان د بېرته راستنېدو د خبر په اورېدو، زمان خان له مخالفت څخه لاس په سر سو او ټولو په ګډه د امیر هر کلی وکړ.

په کندهار کي د صفدر جنګ په نامه د شاه شجاع یوه بل زوی چي د انګرېزي ځواکونو له وتلو وروسته یې د چارو واګي په لاس کي نیولي وې، د مقاومت توان یې په ځان کي ونه لید، نو هند ته ولاړ، مهردل خان او د هغه ورونه چي پخوا یې پارس ته پناه وړې وه، له هغه ځایه بېرته راستانه سول او د کندهار د ولایت د چارو اداره یې بیا له سره په خپل لاس کي واخیستله.

کندهاري ورونو د قلات څخه تر هلمند (ګرشک) پوري او جنوب خواته یې د سند هتر غاړو او د افغانستان ټول جنوب لوېدیځه حوزه او په شمال کي تر ارزګان پوري سیمي یې په لاس کي وې او د شکارپور حکمراني هم په دوي پوري اړه درلوده.(۱)

۱.کاندید اکاډمېسن محمد ابراهیم عطایي، د افغانستان پر معاصر تاریخ یوه لنډه کتنه، ۶۷ مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د امیر دوست محمد خان دوهم ځل پاچاهي:

په کال (۱۸۴۳ ز) کي امیر دوست محمد خان دده د نومیالي زوی (غازي محمد اکبر خان هلمندي) په مشری د افغان ولس د ډېرو سربښندنو (قربانیو) په پای کي د دوهم ځل لپاره پر پلاز کښېناست، د افغانستان د سیاسي یوبښت (وحدت) ساتل، په هیواد کي د یوه پیاوړي مرکزي حکومت جوړول او خوندي ساتل او د هیواد د لاسه وتلو سیمو بېرته راګرځول هغه اړین کارونه وه، چي په تر سره کولو یې باید لاس پوري سوی وای، ددې دندو د ترسره کولو لپاره پیاوړي او خوځند مشرتابه ته اړتیا وه،[1] خو امیر دوست محمد خان دا ځل تېرو آزموینو خاصه چي هغه په هند کي د انګرېزانو قوه او ځواک لیدلی و، هغه یې تر پخوا ډېر احتیاط کاره (محافظه کار) ګرځولی او دا مسئله یې لامل سوه، چي د کورني اصلاحاتو پلان په سیاسي خپلواکۍ نور هم وړاندي کړي او د خپلو بهرنیو اړیکو په اړوند له ډېر احتیاط څخه کار واخلي، له انګرېزانو سره د خپلو تړونونو په هکله په ډېري ځیرکتیا او ژمنتیا پر مخ ولاړ سي او آن تردې چي کورني سیاست په هکله هم د تېرېدو له لاري پر مخ ولاړ سي او له هیچا سره په ښکاره ډول د خولې خوند خراب نکړي او د افغانستان د یو کېدو او اتحاد پلان چي د هغه ستر آرمان و، په ډېر احتیاط او کراری تر کړني لاندي راولي، نو د همدې بنسټ له مخه و، چي کندهار پیوستون (۱۵) پنځلس کاله او د هرات پیوستون (۲۰) کاله وخت ونیو او د شمالي

۱.غلام محمد زرملوال، افغانستان تر وروستي افغانه، لومړی ټوک، ۱۷۸ مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



ولایتونو په اړوند پرته له بلخ څخه تقریباً د هغه د پاچاهۍ تر وروستیو ربښتنوي بڼه غوره نکړه.(۱)

د امیر دوست محمد خان د دوهم ځل سلطنت په لومړي کال (۱۸۴۳ ز) کي سردار سلطان احمد خان د سردار محمد عظیم خان زوی، چي د امیر زوم هم کېده، د امیر د سلطنت سره یې مخالفت وښود، سردار محمد اکبرخان ورسره پدې هکله ځو ځلي خبري وکړې، خو کومه ګټه یې ونکړه، ښايي ددې لامل د امیر لخوا د سردار محمد عظیم خان د کونډې مجبورول وه، چي دده سره واده وکړي، امیر په کابل کي دا کار د خپل قدرت پر مهال د سردار محمد عظیم خان د شتمنیو د ترلاسه کولو په خاطر کړی و.

په هر حال سلطان احمد خان د امیر د دوهم ځل پر تخت کښېناستو څخه څو میاشتي وروسته کابل پرېښود او کندهار ته ولاړ، هلته یې کندهاري سردارانو ته ځان ورساوه چي اکاګان یې وه، هغوي په عزت سره دده تود هرکلی وکړ، سلطان احمد خان په کندهار کي سرداران د امیر پرضد تحریک کړه، پنځه میاشتي وروسته د پنځه زرو عسکرو سره د سردار مهردل خان او سردار رحمدل خان په ګډون د کابل په لور د امیر دوست محمد خان سره د جګړې په نیت وخوځېدل، امیر چي ددې موضوع څخه خبر سو، په غزني کي یې سردار غلام حیدر خان ته هدایت وکړ، چي مخنیوي ته یې ورودانګي او سردار محمد اکبر خان یې هم د یوه پوځ سره د کابل څخه مرستي ته واستاوه، هغه و چي د مقر د سرچشمه په سیمه کي دواړي خواوي یو د بل سر مخامخ سوې، څو

۱.سید قاسم رښتیا، افغانستان په نولسمه پېړۍ کي، ۲۶۳ مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورځي دواړو خواوو د يوه خونړي جنګ لپاره تیاري ونیوله، نابېره د سردارانو له خوا محمد اکبر خان ته د سولې وړاندیز وسو، نوموړي هم وړاندیز ومانه او د سلطان احمد خان هلوځلو ځای ونه نیو.

د کندهاریانو پوځ بېرته د کندهار پرخوا روان سو، سردار مهردل خان د محمد اکبر خان سره کابل ته د امیر حضور ته ورغی او بخښنه يې ورڅخه وغوښته، دواړو خواوو موافقه وکړه چې مقر به د دوي ترمنځ پوله وټاکل سي.[1]

په (۱۸۴۶ ز) کال کې د امیر دوست محمد خان پر ضد په ننګرهار کې يو لړ پاڅونونه پیل سول، د هغه د دفع او تمبولو لپاره غازي محمد اکبر خان وګمارل سو، د خبرو اترو او سلا مشورو په پایله کې پاڅېدلي ځواکونه پدې سلا سول چې د غازي محمد اکبر خان په مشرۍ د پرنګي پرضد د جهاد ناره پورته او د افغانستان د خاوري د بیا لاس ته راوړلو لپاره د اباسین په غاړو برید وکړي، د داسي يوه ملي اقدام په لور د ګام پورته کولو په درشل کې غازي محمد اکبر خان د ملاریا تبې ونیو او د يوه هندي ډاکتر له خوا ورته په نسخه سوو ګولیو (درمل) کي زهر ورکړل سول، چې له څو ساعتونو څخه وروسته مړ او پدې توګه پر اباسین د حملې پلان شنډ پاته سو، پدې ډول يوه خورا لويه سیاسي وژنه، چې په پیاوړي احتمال به يې د موزر پرنګي لاس شاته و، تر سره سوه او افغانستان خپل يو خورا ستر اتل بچی له لاسه ورکړ.[2]

---

۱.کاندید اکاډمیسن محمد اعظم سیستانی، د وزیر فتح خان او د هغه د کورنۍ تاریخي رول په سدوزي دولت کي، ۲۸۲ مخ
۲.غلام محمد زرملوال، افغانستان تر وروستي افغانه، لومړی ټوک، ۱۸۰ مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



قاضي عطا الله خان د غازي محمد اکبر خان د مرګ په هکله داسي لیکي: (محمد اکبر خان څه معمولي شان ناروغه سو او یو هندو حکیم د نوموړي د درملني لپاره اتفاقاً راغی، دې حکیم سره په دبلي کي ډېري ګولۍ وې، چي په هغې کي دوې ګولۍ د زهرو وې، د هغه دبلي څخه دوې بې ضرره ګولۍ دې حکیم د محمد اکبر خان په مخ کي د هغه د اعتبار راوستلو لپاره وخوړلې او د زهرو ګولۍ یې اکبر خان ته ورکړې، اکبر خان چي دا ګولۍ وخوړلې، نو په درېیو ساعتونو کي یې ساه ورکړه). [1]

غبار داسي لیکي: (وزیر اکبر خان دچار تب ملاریایی گردید و توسط گولی های زهرآگین یک طبیب هندی مسموم گردید و در ظرف چند ساعتی به نفع دولت انگلیس چشم از جهان پوشید). [2]

عطائي په (د افغانستان پر معاصر تاریخ یوه لنډه کتنه) کي د محمد اکبر خان د مرګ په هکله داسي یادونه کوي:.(وزیر محمد اکبر خان په جلال آباد کي ناروغ او مړ سو، داسي افواهات خپاره وه، چي امیر انګرېز ته وعده ورکړې وه، چي اکبر خان به له منځه وړي او د امیر په لارښوونه په اکبرخان د الماس پوډر خوړل سوي دي، دا آوازې وې حقیقت نه دی معلوم، خو امیر کار ته اوږه ورکړه). [3]

علت چي هر څه و، خو افغانستان خپل یو ستر قهرمان بچی له لاسه ورکړ، دغه لوی مجاهد او ملي قهرمان د (۱۲۶۳ هـ ق) کال د صفري

۱.قاضي عطاء الله، د پښتنو تاریخ، ۵۷۶ مخ
۲.میر غلام محمد غبار، افغانستان در مسیر تاریخ، ۵۹۸ مخ
۳.کاندید اکاډمېسن محمد ابراهیم عطایي، د افغانستان پر معاصر تاریخ یوه لنډه کتنه، ۶۷ مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



پر یوویشتمه د چهارشنبې په ورځ په جلال آباد کې په شهادت ورسېد، غم اکبر یې د مرګ تاریخي ماده ده، چې (۱۲۶۳) ځیني راوزي.

لوی غازي وزیر اکبر خان (هلمندي) د زکندن په وخت کې یې وصیت وکړ، چې ما د اسد الله الغالب علی ابن ابیطالب رض الله عنه په زیارت کې ښخ کړئ، امیردوست محمد خان د خپل دغه توریالي غازي او شهید زوی مړی د پیل په انبالۍ کې مزار شریف (بلخ) ته واستاوه او هلته خاورو ته وسپارل سو.[۱]

د یادولو وړ ده، چې وزیر محمد اکبر خان ته د اشرف الوزراء لقب ورکړل سوی و او پدې اړه رشاد بابا داسي وایي:-(د اشرف الوزراء لقب په افغانستان کي لومړی پلا د لوی احمدشاه بابا له خوا شخه شاه ولي خان بامیزي، ته ورکړل سو، دوهمه پلا دغه لقب وزیر فتح خان بارکزي ته د شاه محمود سدوزي له خوا ورکړل سو او په هغو فرمانونو کي چي د امیر دوست محمد خان او نورو سردارانو تر منځ استول سوي او یوه پنډه ټولګه یې د اعلحضرت محمد ظاهر شاه په کتب خانه کي په (۲۵۹۵) ګڼه خوندي ده، د وزیر اکبر خان غازي سره اشرف الوزراء کښلی دی.[۲]

په کال (۱۸۴۸ز) کي امیر دوست محمد خان یو ځل بیا د پېښور د نیولو خیال را ژوندی کړ، دده ورور سلطان محمد خان له سکانو سره اړیکي پخې کړي وې او خپلي ځوکۍ ته راغلی و، دوست محمد خان پرېکړه وکړه، چې له دغه طلایي چانس څخه ګټه واخلي او سکان باید له انګرېزانو سره په جګړه مصروف کړي، امیر په دسمبر کي پېښور ته

۱.علامه اکاډیمیسن پوهاند عبدالشکور رشاد، ملي اتل غازي وزیر محمد اکبر خان، ۴۷ مخ
۲.همدا اثر، ۴۴ مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



ولاړ او بالاحصار یې ونیو او د لنډي سیند جنوب ته یې ټوله سیمه ونیوله او هلته یې د وزیر اکبر خان زوی د والي په توګه وټاکه.[1]

په (۱۸۵۳ز) کال په کندهار کې توخي او هوتک قومونو د کهندل خان پرضد قیام وکړ، امیر دوست محمد خان خپل زوی سردار شېرعلی خان د غزني حاکم په کندهار کې د شورشي کوونکو ځپلو ته ورواستاوه، شېرعلی خان د ډېرو تلفاتو په منلو سره چې پخپله هم زخمي سو، د قلات د کلا په نیولو سره وتوانیده، چې د شورشي کوونکو څخه مالیات راټول او کابل ته یې ولیږي، د شېرعلی خان پدی کار سره کندهاري سرداران په قهر سول او دا یې د خپل حاکمیت پر سیمه باندي تیری وباله، وروسته یې څلور زره کسیز پوځ د څو عراده توپونو سره د مهردل خان په مشري قلات ته ولیږل، کله چې امیر خبر سو، شېرعلی خان ته یې په غزني کې امر وکړ، چې ولاړ سي قلات ونیسي او مهردل خان له هغه ځایه وشړي، سردار مهردل خان د شېرعلی خان پر خوا د توپ فیر وکړ، څو ورو ښیی چې غواړي د قلات څخه دفاع وکړي، ددې خبرې په اورېدلو سره چې مهردل خان غواړي مقاومت وکړي، امیر د خپلو ورونو (نواب جبار خان، سلطان محمد خان، پیرمحمد خان او سردار سعید خان) سره یې د قلات پر خوا حرکت وکړ، ددغو نوو قوتونو په راتلو سره د نواب جبار خان په منځګړیتوب د دواړو ورونو تر منځ سوله وسوه او د بېځایه وینې تویولو څخه مخنیوی وسو، د دواړو خواوو قوتونه پر خپله لاره

1. سراولف کارو، پښتانه (پټانز)، ۴۸۵ مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



ولاړل، له دې څخه وروسته د کهندل خان د ژوند تر پایه د وروڼو تر منځ نوري شخړې پیښې نه سوې.[1]

سردار کهندل خان دوه ویشت کاله په دوو پړاونو کې پر کندهار حکومت وکړ، لومړی ځل د (۱۸۳۱ ز) کال د جون څخه د سردار پردل خان له مرګ وروسته د (۱۸۳۹ ز) کال تر اپرېل پورې چې انګریزانو پر کندهار یرغل وکړ، دا پړاو یې ټول نهه کاله و، دوهم ځل د (۱۸۴۳ ز) کال څخه چې د پارس څخه را ستون سو او واکې یې په لاس کې واخیستې، تر (۱۸۵۵ ز) کال پورې ټولټال دیارلس کاله د کندهار واکمن و.

د سردار کهندل خان په حاکمیت کې دده د وخت ټولنیز حالت دده د معاصر شاعر حاجي جمعه بارکزي په لاندې شعر کې په ښېله توګه انځور سوی دی:

اوس نوبت د کندل خان دی
سره وې نغښت کندهار
ودانې یې کړې خرابې
عالمونې کړه ناتار
درست وطن یې په حصه کړ
سرې واخیست چار برار
دربدره یې مخلوق کړ
مال و ملک یې کړ سرکار
په وطن کې یې پرې نښوو

---

۱. محمد معصوم هوتک، کندهاري ورونه، ۱۷۴ مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



یو درم و یو دینار
سرو بري سره وخوړ
لا دوي وړي دي نهار
که بانه يې سوه در پوري
نور پرېږده ملک و مزار
سر تور سر پښې پېلې دروم
ګوره مه ليل و نهار
که دي خپل سرځني خلاص کړ
شکر کاږه په بار بار
يو خيرات هم پرځان وکه
که په پوروي که په دار
نه اثر لري په زړو کې
نه له خدايه څخه ډار
دا عالم به وي خاوند
لا ترکومه پوري خوار
نيک و بد يې دواړه خپل دي
ورسره يې خپل کردار
جمعه خپل مقصود وغواړه
څه دي کار د دوي په کار[1]

۱.کاندید اکاډمېسن محمد اعظم سيستاني، د وزير فتح خان او د هغه د کورنۍ تاريخي رول په سدوزي دولت کې، ۲۸۳ مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



راځئ اوس به د یو څو دقیقو لپاره له افغانستانه ووځو، هغه دا کله چې رنجیت سنګ مړ سو، نو له عادته مجبوره انګرېزانو د رنجیت سنګ د زامنو تر منځ هم شخړه توده وساتله او د هغوی د اختلاف څخه یې ګټه واخستله.

په کال (۱۸۴۸ز) کې انګرېزانو، سیکانو ته هم لاس واچاوه، سیکانو امیر دوست محمد خان ته د مرستې خواست وکړ او دا ژمنه یې هم ورسره وکړه، چې د انګرېزانو تر شړلو وروسته به د افغانانو ختیځې سیمې بېرته افغان دولت ته وسپاري، امیر دوست محمد خان د سیکانو د مرستې غوښتنه ومنله او د (۱۸۴۹ز) کال په فبرورۍ کې یې د انګرېزانو خلاف د سیکانو مرسته وکړه، خو د ګجرات په جګړه کې بری د افغانانو او سیکانو نه و، سیکانو ماته وخوړله او د افغاني سیمې یوه برخه هم د انګرېزانو په لاس ورغله چې تر اوسه لا د افغانانو له لاسه وتلې ده.

په (۱۸۵۴ز) کال کې کله چې د کریمیا جګړه پیل سوه، برتانیې یو ځل بیا د افغانستان ملاتړ ته اړتیا وموندله، چې هندوستان ته له لوېدیځ څخه په راغزېدلو لارو خپلې دفاعي لیکې ټینګې کړي، نو ددې لپاره د هند وایسرای (لارډ دالهوزي) امیر دوست محمد خان هند ته د کتنې لپاره وروباله، په خپله امیر ددې کتنې لپاره نه ولاړ، خو د امیر مشر زوی (غلام حیدر خان) د جمرود نظامي کلا ته واستول سو تر څو د پنجاب له لوی انګرېزی کمیشنر (جان لارنس) سره وګوري، ددې کتنې په پایله کې د دواړو خواوو د پلاوو ترمنځ د تلپاتې دوستۍ او ملګرتیا یو درې ماده بیزه تړون لاسلیک سو، چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



درې واړه مادې یې د انګرېز په ګټه د موجوده حالت ساتل و او په بدل کې یې افغانستان ته ډېر لږ څه وړاندې کړې وه.

فریزر تایتلر د جمرود د تړون په هکله داسې لیکي: (پدې تړون کې د ډیپلوماتیکو اړیکو تر بیا پیلوني نور زیات څه نه و، خو په هغه کې دا ډاد ورکړل سوی و، چې موږ (انګرېز) د افغانستان د بشپړتیا په هکله د تیري نیت نه درلود او له بلې خوا په هغه کې داسې ژمنه سوې وه، چې امیر به د ختیځ هند شرکت د دوستانو دوست او د دښمنانو دښمن وي).

د جمرود لومړی تړون د (۱۸۵۵ ز) کال د مارچ پر (۳۰) نېټه، جان لارنس او غلام حیدر خان لاسلیک کړ، پدې پسې د (۱۸۵۷ ز) کال په جنورۍ کې یو ځل بیا لارډ دالهوزي، امیر دوست محمد خان د خبرو لپاره وروغوښت او دا ځل امیر پخپله پېښور ته ولاړ، چې په پایله کې یې دا وړو خوا او یو بل تړون وکړ، چې د هغه له مخې امیر دوست محمد خان یو ځل بیا اړ ایستل سو، چې په کندهار، کابل او بلخ کې انګرېزي استازي ومني او ددې استازو دنده به دا وي، چې د هغو یو لک روپیو د پرځای لګښت څارنه وکړي، چې انګرېزانو امیر ته هر کال ورکولې، چې په هغو باندې داسې یو پوځ وساتلای سي، چې له شمال او لوېدیځ څخه د تیري د مخنیویو وړ وي.[1]

بلې خوا ته په کندهاري ورونو کې، سردار مهردل خان او سردار کهندل خان په (۱۲۷۱المریز. ۱۸۵۵زېږدیز) کال یوا ځې د څو میاشتو په واټن یو په بل پسې وفات سول (لومړی یې د جمادی الثاني په

---

۱.غلام محمد زرملوال، افغانستان تر وروستي افغانه، لومړی ټوک ۱۸۰ مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



(۲۷) او بل یې د همغه کال د ذیحجه په (۸) نېټه)، د کهندل خان مړیني د کندهاري سردارانو ترمنځ درز را پیدا کړ او د حاکمیت ستني یې سستې سوې.

تر دغو مرګونو وروسته ددغو سردارانو زامنو خپل تر منځ صحنه توده کړه، د کهندل خان زوی (محمدصدیق خان) د خپل اکا (رحمدل خان) سره د کندهار پر حکمرانۍ په جنګ سو او پدې پسې د مهردل خان زوی (خوشدل خان) د کهندل خان زوی (سلطان علي) سره په جنګ سو، خو د پردل خان زوی (میرافضل خان)، امیر دوست محمد خان ته خبر ورکړ، چې دغه فتور ته د پای ټکی کښېږدي، امیر هم ټول وشړل او خپل زوی (شېرعلی خان) یې هلته حکمران کړ او پدې توګه یې د کندهار جنجال پای ته ورساوه.[1]

اوس نو امیر د هرات تکل وکړ، د دوست محمد خان د مشر وروړ سردار محمد عظیم خان زوی (سلطان احمد خان) چې امیر خپله لور هم ورکړې وه، ورته یاغی سو، یو لوی لښکر یې تیار او هرات یې په معاصره کړ، د (۱۸۶۳ز) کال د جون په لومړۍ نېټه یې هرات ونیو.

په هغه وخت کي چې هرات ونیول سو، د امیر په لاس کي دا سیمي وې، (د خیبر د درې څخه تر ترکستان پوري، د بدخشان او کوهستان څخه نیولې تر کندهار او هرات) پوري یې واکمني کوله.

د (۱۸۶۳ز) کال د جون په میاشت کي له شل کلنۍ اوږدې واکمنۍ وروسته، امیر دوست محمد خان د هرات په ښار کي د نوموړي ښار له

1. کاندید اکاډمېسن محمد اعظم سیستانی، د وزیر فتح خان او د هغه د کورنۍ رول په سدوزي دولت کي، ۲۸۵ مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



بیا نیولو څخه په یوه حساب دوې اونۍ وروسته (حقیقت التواریخ)، او په یوه بل حساب څو میاشتې وروسته (ټایټلر) وفات سو.[1]

## د امیر شېرعلي خان لومړی ځل پاچاهي:

د امیر دوست محمد خان هلمندي له وفات څخه وروسته د هغه اووه زامن پاته سول، په دوي کې محمد افضل خان تر ټولو مشر و او له هغه پسې د نوموړي سکه ورور محمد اعظم خان و، د هغوي دواړو څخه کشر شېرعلي خان او شېرعلي خان پسې د هغه سکه ورونه (شریف خان او امین خان) وه، د دوي څخه علاوه اسلم خان او حسین خان هم د هغه زامن وه، د وزیر محمد اکبر خان د مرګ څخه وروسته امیردوست محمد خان په خپل ژوندون کې غلام حیدرخان خپل ولیعهد ټاکلی و، مګر هغه هم د امیر په ژوندون کې مړ سو او بیا له هغه څخه وروسته شېرعلي خان یې د خپل ځایناستي په توګه وټاکه، نوموړی هم د یو څلوېښت کلنۍ په عمر په کال (۱۸۶۳ز) کې د جون د میاشتې په (۱۲) نېټه پر پلاز کښېناست.[2]

دا وخت د امیر دوست محمد خان ډېر مشران زامن (له شهزاده محمد افضل خان) څخه پرته، چې تر ټولو مشر او د هیواد په شمالي ولایاتو کې یې حکومت درلود، په هرات کې وه، ټولو په ښکاره بڼه امیرشېرعلي خان سره بیعت وکړ، یوائې شهزاده محمد اعظم خان چې موکه لټوونکی شخص و او ډېرې غوښتنې یې درلودې، حکومت یې د خپل سکني ورور محمد افضل خان حق ګاڼه، غوښتل یې چې له

---

۱.غلام محمد زرملوال، افغانستان تر وروستي افغانه، لومړی ټوک، ۱۸۵مخ
۲.بشیر احمد ریان، د افغاني پاچاهانو لنډ ژوند لیک، ۸۹مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



بیعت څخه ډډه وکړي، خو دا چې (سید جمال الدین افغان) دا مهال خپله په هرات کې و او د نوموړي شهزاده د روزنې دنده یې درلوده، د هغه د اقداماتو مخنیوی یې وکړ او نوموړی یې دې ته چمتو کړ، چې ژر تر ژره بیعت وکړي، خو محمد اعظم خان د زړه له کومې په دې بیعت خوښ نه و او یوائې د موکې د ترلاسه کولو لپاره یې وکړ او پدې لټه کې و، چې د بیعت د نه کولو په صورت کې به یې مشر ورور (شهزاده محمد افضل خان) چې هغه ته یې لیک هم لیکلی و، تر څو له بیعت څخه ډډه وکړي او دده د کړنو لپاره موکه چمتو کړي.

امیرشېرعلي خان د خپل مهر په سجع کې دا بیت لیکلی و:

جمال دولت پاینده قسمت ازلی است وصی دوست محمد امیر شیر علی است[1]

امیر شېرعلي خان د خپلي واکمنۍ په لومړي کال (۱۸۶۳ز) د دسمبر په میاشت کې یې انګرېزانو ته د خپلي پاچاهۍ اعلان وکړ، خو هغوي تر سپږو میاشتو له ځواب ورکولو ډډه وکړه، وروسته یې د ځینو مجبوریتونو له مخې ومانه.[2]

کوم وخت چې امیر شېرعلي خان د افغانستان پاچا سو، په کندهار کې امین الله خان، په شمالي ولایتونو کې محمد افضل خان، په فراه کې شریف خان، په کرم او خوست کې محمد اعظم خان او په کندهار کې امین الله خان والي و.[3]

۱.سید قاسم رښتیا، افغانستان په نولسمه پېړۍ کې، ۳۳۳ مخ
۲.میر غلام محمد غبار، افغانستان در مسیر تاریخ، ۶۱۴ مخ
۳.بشیر احمد ریان، د افغاني پاچاهانو لنډ ژوند لیک، ۹۱ مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



امیر شېرعلي خان یو خاین وزیر له غلجو څخه درلود، چي محمد رفیق نومېده، دی یې وپونځاوه چي دا نور وروڼه تر خپل لاس لاندي راوله، داسي یې ورته وویل:ـ (ستا سلطه تر هغو چي دا بې واکو والیان په تېره بیا هغه تر تا مشران دي، موجود وي ټینګار نسي موندلای).

دا خبر ټولو وروڼو ته ورسېد، چي امیر شېرعلي خان غواړي چي دوي بې واکه کړي او ویې نیسي، نو هر یوه په شپه کي مخ تښتي ته کښېښوه، هر والي د خپل ولایت و لور ته ولاړ، شېرعلي خان چي د دوي په تېښته خبر سو، د هرات د ښار په تنظیم اخته او خپل زوی (محمد یعقوب خان) یې د هغه ځای والي مقرر کړ، پخپله بې له دې، چي پر هغو ځایونو چي وروڼو یې استېلا کړې وه تعرض وکړي، د بلخ لاري یې ونیوله، هوډ یې وکړ، چي خپل مشر ورور (محمد افضل خان) ته چي خلکو په درنه سترګه کتل او هم د لښکر د خوا تر نورو وروڼو غښتلی و، چم وکړي او تر خپل لاس یې لاندي کړي.

کوم وخت چي امیرشېرعلي خان د بلخ شاوخوا ته ورسېده، نو یو لیک یې محمد افضل خان ته واستاوه او داسي هیله یې وړاندي کړه:. ته زموږ لوی او مشر ورور یې دا ښایي چي د وطن په اصلاح کي د فساد په ورکېدو کي او د وروڼو په یو والي کي زیار وباسې، زه ژمنه کوم، چي ستا له امره به سر ونه پېچم او واښکی د اطاعت به ستا و غاړي ته وانه چوم.

محمد افضل خان چي د لیک د مضمونه خبر سو، په وغولېده ورته راغی، شېرعلي خان زړه پوره سو، دی یې ونیو او بندي یې کړ، د نوموړي زوی (عبدالرحمن خان) مخ پر بخارا وتښتېده، بلخ د

(c) ketabton.com: The Digital Library



امیرشېرعلي خان په تصرف کي سو، خپل ورور (فیض محمد خان) یې هلته والي مقرر کړ او په خپله مخ پر کابل راوګرځېد.

وروسته یې لښکر غونډ کړ د خپل وزیر (محمد رفیق) تر قیادت لاندي یې د محمد اعظم خان د مقابلې لپاره د کرم پر لور واستاوه، محمد اعظم خان د محمد افضل خان ورور په لومړۍ حمله مات سو او مخ پر هند وتښتېد،[1] بلي خوا ته د امیر بل ورور (امین الله خان) چي دا وخت په کندهار کي و، په بغاوتونو لاس پوري کړ، امیر د امین الله خان د ارامولو لپاره د کندهار په لوري لښکر کښېي وکړه، د پوځ مشري یې خپل زوی (محمد علي خان) ته په لاس ورکړه، د دواړو خواوو لښکري په کلات کي سره مخامخ سوې، اووه ورځې جګړه روانه وه، چي په ترڅ کي یې اته زره کسان ووژل سول، د جګړې په اتمه ورځ له یوې خوا د امیر شېرعلي خان زوی (محمد علي خان) او له بلي خوا یې ورور (محمد امین الله) مړه سول.

امیرشېرعلي خان د خپل زوی او ورور په مرګ د خواشینۍ له کبله ګوښه نشین سو، دده فراري ورور (محمد اعظم خان) چي هند ته یې پناه وړې وه، خبر سو، د چترال له لاري بدخشان ته راستون سو، خپل وراره (عبدالرحمن خان) ته یې چي دا وخت په بخارا کي و، خبر ورکړ، چي افغانستان ته ورستون سي، امیرشېرعلي خان چي د محمد اعظم خان او عبدالرحمن خان په راتلو خبر سو، نو له یوه لښکر سره د کابل په لوري وخوځېد، خو په کلات کي یې ماته وخوړه او د کندهار په لوري یې شاتګ وکړ او له هغه ځایه هرات ته ولاړ، هلته د پوځ له

---

۱.سید جمال الدین افغان، تمة البیان في تاریخ الافغان، ۱۲۵ مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



تیارولو وروسته د میمنې له لاري بلخ ته ولاړ او له هغه ځایه یې غوښتل چي پر کابل حمله وکړي، خو عبدالرحمن خان یې مخې ته ورغی او د بازارک[1] په سیمه کي یې شېرعلي خان ته ماته ورکړه، شېرعلي خان د هغه ځایه تر شا سو، عبدالرحمن خان خپل پلار د غزني له محبسه خلاص او په کال (۱۸۶۶ز) کي یې په کابل کي پاچا اعلان کړ.[2]

## د امیر محمد افضل خان پاچاهي:

امیر محمد افضل خان چي مخکي یې هم یادونه وسوه، چي د امیر شېرعلي خان له خوا په غزني کي بندي و، د عبدالرحمن خان له خوا له محبس څخه راووت او په غزني کي تر پنځه ورځو ځنډ وروسته د کابل پر لور روان سو، سردار محمد اعظم خان او وروسته بیا سردار عبدالرحمن خان د کابل په څنډو کي د هغه هر کلی وکړ او د پاچاهۍ د شان او شوکت سره یو ځای کابل ته راغی، بیا بالاحصار ته ننوت او خلکو بیعت ورسره وکړ.

امیر محمد افضل خان یو عادي پاچا و، د هیواد په اړوند یې ځانګړې کړنلاره نه درلوده، د خپل زوی (عبدالرحمن خان) او خپل ورور (محمد اعظم خان) د هلو ځلو په پایله کي یې د پاچاهۍ لپاره یو څو ورځي تر لاسه کړې، دا چي د نوموړي د واکمنۍ موده لنډه وه او په عین حال کي په کندهار کي د امیرشېرعلي خان په شتون سربېره ده پخپله هم خپله واکمني ښه تینګه او مضبوطه نه ګڼله، نو هغه څه چي د

---

۱.بازارک د پنجشېر ولایت مرکز دی

۲.بشیر احمد ریان، د افغاني پاچاهانو لنډ ژوند لیک، ۹۲مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



یـو هیـوا د چـارو د چلولـو لپـاره اړیـن وي، دده لخـوا نـه دي څرګنـد سوي، نو له همدې کبله په تاریخ کې د ضبط لپاره پېژندنه ورڅخه نده پاته.

د جمعې مبارکې ورځ د محرم د مبارکې میاشتې پیلامه کال (۱۲۸۳ لمریز) د مې د میاشتې پایلیزه کال (۱۸۶۶ ز) د واکمنۍ پر ګدۍ د هغه له کښېناستلو سره سمون لري، ټول خلک پدې پوهېدل، چې د نوموړي پاچاهي د سردار عبدالرحمن خان په مېړانه ګټل سوې او په حقیقت کې پاچاهي د عبدالرحمن خان سره ښایي خو هغه د وزیر اکبر خان په څېر د خپل زوی توب له مخې خپله ګټل سوې برخه پلار ته سپارلې وه.

امیر محمد افضل خان، میرزا احمد خان چې په مزار شریف کې یې دده د ناظر دنده درلوده، خپل وزیر وټاکه، خپل ورور (محمد یوسف خان) یې د کابل، د محمد اعظم خان زوی (محمد اسحاق خان) یې د کوهستان، د نـواب زمان ورور (نصرالله خان) یې د جلال آباد والي وټاکه او قاضي القضات د قاضي عبدالرحمن خان زوی (سعدالدین خان) ته یې د خان علوم لقب ورکړ.

محمد اعظم خان او عبدالرحمن خان د امیرشېرعلي خان په وړاندې د سرتیرو په مشرتابه وګمارل سول، تر څو امیرشېرعلي خان که له هري خوا را څرګند سي، د دوي لخوا وځپل سي.

محمد افضل خان د یوه کال او پنځو میاشتو سلطنت وروسته په کال (۱۸۶۷ ز) د اکتوبر پر (۱۷) له دې نړۍ څخه د عمر په څلورپنځوس کلنۍ سترګې پټې کړې او په کابل کې د شهدای صالحینو مزار ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



نږدې د حشمت خان کلا (قلعه حشمت خان) کې خاورو ته وسپارل سو.[1]

## د محمد اعظم خان پاچاهي:

محمد اعظم خان د امیردوست محمد خان زوی او د سردار پائنده محمد خان لمسی، د خپل مشر ورور (امیر افضل خان) له وفات وروسته په کال (۱۸۶۷ ز) د اکتوبر په میاشت کې پاچا سو.

امیر اعظم خان له پاچا کېدلو سره سم خپل وراره (سردار عبدالرحمن خان) د هیواد شمال لور ته واستاوه، چې امیر شېرعلي خان له هغه ځایه وشړي، عبدالرحمن خان د شمال لوري ته ولاړ، د بدخشان ځیني کلاوي یې ونیولې او پر بلخ یې حمله وکړه، امیر شېرعلي خان د دفاع توان په ځان کې ونه لید، نو هرات ته ولاړ، هلته له خپل زوی (سردار یعقوب خان) سره یو ځای سو.

امیر عبدالرحمن خان بلخ په بشپړه توګه ونیو او امیر ته یې احوال واستاوه، چې بلخ نور له مخالفینو څخه پاک دی، خو امیر اعظم خان نه غوښتل چې عبدالرحمن خان پلازمېنې ته راسي او دده لپاره سرخوږی جوړ کړي، نو ځکه یې ورته امر وکړ، چې پر میمنه حمله وکړه، عبدالرحمن خان ورته وویل چې لومړی باید د امیر شېرعلي خان خطر دفع کړو او بیا پر میمنه حمله وکړو، خو امیر اعظم خان ونه منله او عبدالرحمن خان یې مجبور کړ، چې پر میمنه حمله وکړي، عبدالرحمن خان میمنه محاصره کړه.

---

۱.سید قاسم رښتیا، افغانستان په نولسمه پېړۍ کې، ۳۵۸ مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



بلې خوا ته امیر شېر علي خان چې کله هرات ته ورسېد، هلته یې لښکر راغونډ کړ او پر کندهار یې حمله وکړه، کندهار ښار یې ونیو، هغه یې خپل ورور ته ورکړ او خپله د کابل په لوري پر مخ ولاړ، اعظم خان چې کله د کندهار له نیول کېدلو خبر سو، نو عبدالرحمن خان ته یې احوال واستاوه، چې نیمایي لښکري ده ته را ولېږي او په نیم لښکر د میمنې محاصرې ته دوام ورکړي، عبدالرحمن خان ځواب ورکړ، چې محاصره ډېره سخته ده، لښکر نسم در لېږلی، امیر اعظم خان په کابل کې د نور پوځ په تیارولو بوخت سو، امیر شېر علي خان تر غزني ورسېد، له دې خوا څخه محمد اعظم خان د مقابلې لپاره میدان ورد کو ته ور ودانگل.

په میمنه کې د میمنې والي له څه مقاومت وروسته د کال په ځلو ښت زره طلایي سکو روغه وکړه، عبدالرحمن خان پوځ دوې برخې کړ، یوه برخه یې د اسماعیل په مشري د امیر اعظم خان مرستې ته واستاوه او بله برخه یې په خپله مشری کې وساته او د پل تخت لوري ته ولاړ، اسماعیل خان بن محمد امین خان چې له مخکې څخه د موقعې په انتظار و، ددې پر ځای چې د امیر اعظم خان مرسته وکړي، له هغه څخه یې کابل ونیو او په کابل کې یې د امیر شېر علي خان په نامه پاچاهي اعلان کړه او خطبه یې وویله.

امیر اعظم خان چې په دې پېښې خبر سو، نو د خپل پوځ نیمه برخه یې د کابل د نیولو لپاره واستاوه او په نیم پوځ سره د امیر شېرعلي خان مقابلې ته ودرېد، خو ماته یې وخوړه او د بامیانو پر خوا پر شا سو، هلته ورسره عبدالرحمن خان یو ځای سو او د کابل پر لوري یې حرکت پیل کړ، د امیرشېرعلي خان پوځونه په غزني کې وه، چې دوی

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورورسېدل، د شش ګاو په سیمه کي يې پړاو وکړ، عبدالرحمن خان د زنه خان کلا د نیولو په موخه ولاړ او اعظم خان په پړاو کي پاته سو.

شېرعلي خان د خپلو دوستانو په وسیله هڅه وکړه، چي د دوي په پړاو کي وېره او پرېشاني واچوي، بریالی سو او خپلو لښکرو يې پړاو او شاهي خیمه چور کړه، عبدالرحمن خان د دې په اورېدو کلا بندي پرېښوده، له اعظم خان سره یو ځای د وزیرستان پر خوا وتښتېد، د هند حاکم ورته د پناه د ورکړي پیغام واستاوه، خو اعظم خان او عبدالرحمن خان پناه رد کړه او مشهد ته ولاړل، هلته د ایران حکومت دوي ته په ایران کي د پاته کېدلو وویل، عبدالرحمن خان ونه منله او بخارا ته روان سو، خو اعظم خان ورسره ومنله او د تهران پر لوري روان سو، د تقدیر پرېکړه بدله وه او په لاره د بسطام په سیمه کي وفات سو. (۱۸۶۸ ز).[۱]

## د امیرشېرعلي خان دوهم ځل پاچاهي:

د امیر شېرعلي خان د دوهم ځل واکمني پر مهال، د نوموړي ډېر مخالفین له منځه تللي وه، محمداعظم خان پارس ته وتښتېد او هلته مړ سو، عبدالرحمن خان د ډېري بېوسۍ په حالت کي بخارا ته پناه یوړه.

امیرشېرعلي خان د میدان په صافېدلو مدني پرمختګ ته پاملرنه وکړه، پوځ يې تنظیم کړ، د داخلي چارو په سمبالولو لګیا سو، چي لوی مرستندوی يې د ختیځ ستوری (سید جمال الدین افغاني) و،

۱.بشیر احمد ریان، د افغاني پاچاهانو لنډ ژوند لیک، ۱۰۴مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



جمال الدین افغاني تل د افغانانو د یووالي او پرمختګ لپاره هڅې کولې، شېرعلي خان ته یې پلانونه ورکړل او ورڅخه یې وغوښتل چې عملي بڼه ورکړي، سید جمال الدین افغاني چې د انګرېزانو لوی مخالف و، امیرشېرعلي خان یې وهڅاوه، ترڅو افغانان د علم په ګېڼه سمبال او انګرېزانو سره وجنګېږي.[1]

په دغه وخت کې د هند وایسرای چې پخوا لارډ دالهوزي و، بدل سو او پر ځای یې لارډ مایو د هند نوی وایسرای وټاکل سو، نوموړي وایسرای د افغانستان امیر ته بلنه ورکړه، چې هند ته رسمي سفر وکړي، امیرشېرعلي خان د خپل لومړي وزیر سید نور محمد شاه سره د (۱۸۶۹ ز) کال د مارچ په (۲۷ مه) له لارډ مایو سره د کتلو په موخه هند ته ولاړ او په امباله[2] کې د دواړو تر منځ کتنه وسوه، له لارډ مایو سره د خبرو په سر کې امیرشېرعلي خان په صراحت څرګنده کړه، چې زه ددې لپاره هند ته نه یم راغلی چې له انګرېزانو سره د خپل پلار د (۱۸۵۵ او ۱۸۵۷) زېږدیز کلونو پر تړونونو د تائید مهر ولګوم، امیرشېرعلي خان ورته وویل چې دی هیله لري د برتانیا حکومت به له شمال څخه د جنوب پر لور د تزاري روسیې د پرمختګ په مخنیوي کې له افغانستان سره مرسته وکړي، چې دا وخت د امو سیند پر برنۍ غاړه ولاړه وه، خو لارډ مایو نوموړې مسوده رد کړه، امیرشېرعلي خان هم بېله ځنډه کابل ته ستون سو، په ټولیزه توګه د امیرشېرعلي خان تلاش

۱.همدا اثر، ۸۹ مخ
۲.دا کتنه او ناسته د هند په امباله کې تر سره سوه، نو ځکه دې غونډې ته د امبالې کنفرانس وایي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا و، چې افغانستان د تجرید له چوکاټه وباسي، خو دې تلاش نتیجه ورنکړه.[1]

له هغه چې پر هرات د پارس د تجاوز لاس د پاریس د تړون (۱۸۵۷ ز) په اثر پرې سو، نو دا ځل یې د افغانستان په جنوب لوېدیځ کې سیستان ته لاس راوغزاوه، البته دا په افغانستان کې د امیرشېرعلي خان د مصرفیتونو څخه یو فرصت طلبي وه او دا هم نسي نفي کېدای، چې پدې کې به انګرېز لاس نه درلود.

پارس په غرضي توګه د سیستان یوه برخه د (قاین) په نامه چې د پارس سیمه وه، ضمیمه کړه او لدې سره د پارس او افغانستان تر منځ جنجال را اوچت سو، څنګه چې د پارس او انګرېز ترمنځ د پاریس د تړون په اساس په داسي قضایاؤ کې حکمیت باید انګرېز ته سپارل سوی وای، نو پارس مراجعه ورته وکړه او انګرېز هم د ګولډ سمت په نامه یو انګرېز دې کار ته وګماره، د افغانستان او پارس پلاوي یې راوغوښتل.

سیستان چې د هلمند د ناوې یوه برخه ده، له پارس څخه د غرونو په یوه ختیځه بیل سوی دی، دا سیمه د لسو پېړیو څخه د زیاتي مودې لپاره د افغانستان تر واک لاندې وه، د خبرو په پای کې د انګرېزانو کمېسیون یوه خورا ناعادلانه پرېکړه وکړه، چې په هغې کې د سیستان ډېره او ښه برخه او هم تر پنځوس میله پوري د هلمند له اوبو څخه د ګټې اخیستني حق پارس ته ورکړ، که څه هم د لومړي وزیر سید نور محمد شاه په مشرۍ د افغانستان پلاوي پر دې پرېکړې سخته نیوکه

---

۱.غلام محمد زرملوال، افغانستان تر وروستي افغانه، لومړی ټوک، ۱۸۸ مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



وکړه، خو د انګرېز پلاوو غوږونه پرې کانه وا چول او په پای کې افغاني پلاوي دې ته اړ سول، چې په تهران کې اړوند اسناد لاسلیک کړي، امیر چې کله د دې بې عدالتۍ څخه خبر سو، نو د انګرېزانو څخه سخت خفه سو.

په (۱۸۷۲ ز) کال کې د انګرېز حکومت امیر شېرعلي خان ته بلنه ورکړه، چې د دغې مسئلې د حل لپاره هند ته سفر وکړي، خو امیر دا بلنه ونه منله او کابل ته یې د دغې مسئلې د توضیح لپاره د انګرېز د نمائنده له راتګ سره هم موافقه ونه کړه.

انګرېزانو د امیر شېرعلي خان د خوشحالولو لپاره پنځلس زره ټوپکه او لس لکه روپۍ ور واستولې امیر ټوپکان قبول کړل، خو پیسې یې وانخیستلې، دا هم انګرېز ته سخته تمامه سوه، چې امیر شېرعلي خان ولې په دغسې غرور پیسې وانخیستې.

د سیستان مسئله چې د ګولډسمت په غیر عادلانه پرېکړه د افغانستان د خواشینۍ باعث وه، همدغسې لا پخپله راتلونکي ته پاته سوه، چې لا تر اوسه هم د افغانستان او اوسني ایران د دولتونو شخړې نه پرې ارامېږي.[1]

امیر شېرعلي خان خپل د دوهم ځل واکمنۍ په موده کې په افغانستان کې دننه په یو لړ اصلاحي پروګرامونو لاس پوري کړ، نو موړي له هر څه دمخه د مشرانو او دیني علماوو یوه جرګه جوړه کړه، چې د دولت په چارو کې مشوره ورکړي تر څو د هیواد د ښو استعدادونو په کار اچولو سره افغانستان د پرمختګ په لوري

۱.کاندید اکاډمېسن محمد ابراهیم عطایي، د افغانستان پر معاصر تاریخ یوه لنډه کتنه، ۹۶ مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



وخوځوي، د نولسمي پېړۍ یو خورا پیاوړی، نه یوازې د افغانستان بلکې د ټولي نړۍ اصلاح غوښتونکی استعداد (سید جمال الدین افغاني) هم د امیرشېرعلي خان په دربار کې په فعالیت بوخت و، په (۱۸۷۳ز) کال کې د هیواد د مطبوعاتو لومړنۍ خپرونې (شمس النهار) په خپرېدو پیل وکړ، اصلاحي کرهنې او صنعت ته پام واړول سو، سوداګري او مخابراتو ته شرایط چمتو کړل سول، د وسلې او مهماتو کارخانې جوړې سوې، د وطن د دفاع لپاره د منظم ملي وسلوال ځواک بنسټ کښېښوول سو، پر عصري پرنسیپونو بنأ دولتي تشکیلات جوړ سول، تر ډېره یې پښتو ژبې ته ډېر خدمت وکړ، د کابل ښار یې په نوي سیستم جوړ کړ، عمراني فعالیتونه وسول، چې تر ډېره د سید جمال الدین افغاني رول پکښې د یادولو وړ دی، امیرشېرعلي خان هیواد په پنځو لویو ولایتونو وېشلی و لکه (کابل، کندهار، هرات، افغاني ترکستان او فراه)، خو د امیرشېرعلي خان اصلاحاتې هڅې یو ځل بیا د افغانانو د کینه کښ دښمن (انګرېز) د پلانونو قرباني سول.(۱)

د انګرېز او افغان د لومړي جګړې په ترڅ کې تزاري روسیې په منځنۍ آسیا کې پرمختګ لا پخوا پیل کړی و او امپریالیستي مفکوره یې مخته بیوله، حتا د امیرشېرعلي خان په دوره کې روسان د افغانستان شمالي سیمو ته رارسېدلي وه، دې خبري انګرېزان هم وېرولي وه او مخکې تردې چې امیرشېرعلي خان په امباله کې دا

۱.غلام محمد زرملوال، افغانستان تر وروستي افغانه، لومړی ټوک، ۱۹۴ مخ - کاندید اکاډمېسن محمد ابراهیم عطایي، د افغانستان پر معاصر تاریخ یوه لنډه کتنه، ۹۸ مخ. بشیر احمد ریان، د افغاني پاچاهانو لنډ ژوند لیک، ۹۷ مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



موضـوع یـاده کـړي، د انګرېـز دولـت پـه منځنـي آسـیا کـي د دواړو هیوادونو (انګلستان او تزاري روسیه) د مستعمرو په منځ کي د دوي د ګټو له ټکره د مخنیوي په موخه په اصطلاح د یـوې نـاپېیلي سیمي د ټاکـل کېـدو وړانـدیز وکـړ، د روسیې دولـت پـه (۱۸۶۹ز) کـال یعنـې امبالې تـه د امیرشېرعلي خـان د سفر پـه کـال لـه دغـه وړانـدیز سره پـه اصولي توګه موافقه وکړه او دا یې تصدیق کړه، چي افغـانستان دي د نـاپېیلي سـیمي برخـه او د روسـیې د نفـوذ لـه حـوزې څخـه دبانـدي وپېژندل سي.

له دې ځخه وروسته انګرېزان پدې هڅه کي سول، چي د افغانسـتان شمالي پولي د روسانو په مرسته وټاکي، پدې ځای کي د افغانسـتان او بخـارا تـر مـنځ اختلافـات موجـود وه، چـي ددغـو اختلافـاتو د نـه همـوارۍ لـه لامله دا احتمـال موجـود و، چـي د روسـیې او انګلسـتان ترمنځ هم اختلافات پیدا سي.

افغانسـتان د روشـان او شغنان هغـه برخـي چي د آمـو سیند پـه ښـې غـاړه کي پرتې وې، د خپلي خاوري جز بالـه، پـه داسي حال کي چي د بخارا دولت، نـه یـوازي دغـه سیمي بلکې بدخشـان یـې هم چي د آمـو سیند په جنوب کي موقعیت لري، د افغـانستان لـه حدودو ځخـه خـارج باله.

ددې موضـوع پـه اړه خبـرو ، پرتـه لـه دې چـي اصـلي مـدعیان (افغـانسـتان او بخـارا) پـه جریـان کـي وي، لـه (۱۸۶۹ز) کـال ځخـه تـر (۱۸۷۳ز) کالـه پـوري پـه سـن پترزبـورګ، لنـدن او ډهلـي کـي دوام درلودې، تـردې چي پـه (۱۸۷۳ز) کـال کـي د روسیې قیصر پخپلـه لـه دغــي موضــوع ســره علاقــه وښــووله او نــامتو سیاســتوال (کنـت

(c) ketabton.com: The Digital Library



شـوالوف) یـې لنـدن تـه واسـتاوه، دوا ړو خـوا و پرېکـړه وکـړه، چـې افغانسـتان دي لـه روشان او شغنان څخه او بخارا دي لـه بدخشـان او واخـان څخـه تېـر سـي او آمـو سـیند دي لـه هغـه ځایـه څخـه چـې ځـایي اوسېدونکي یـې هلتـه د پـنج سـیند پـه نامـه نومـوي، پـه ختـیځ کـې د سرکول له حده نیولې تر هغه ځایه چې د کوکچې سیند پکښې توئیږي او له هغه ځایه نیولې بیا د بلخ او بخارا د لاري په اوږدو کې د خواجه سـالار تـر نـاحیې پـوري، چـې هلتـه نومـوړی سـیند شـمال لوېـدیځ تـه څرخیږي، د دوا ړو هیوادونو ګډه پوله وپېژندل سي، له خواجه سالار څخه د لوېدیځ پـوري بیـا دا پرېکـړه وسوه، چې د پـولي کرښـه د پـارس (ایران) د پولي په استقامت باید امتداد وموميِ، داسي چې اندخوی او میمنه د افغانستان په خاوره کې پاته سي، مرو او د هغې ګاونډی ترکمن مېشته سیمي له افغانستان څخه بهر وي، دا موافقه لیک چې د افغانستان د شمالي پولي په ټاکلو کې یې مهم اغېز درلود، د انګرېز دولت په نامـه د روسیې د صدراعظم (پـرنس ګورچاکوف) د (۱۸۷۳ ز) کال د جنوری د (۳۱) نېټې په پیغـام کې ولیکل سو او د هغې له مخې د انګرېزانو دا لاندني دوه مطلبونه تأمین سول.

۱.د افغانستان شمالي حدو یې د روسیې پـه مـوافقې سره پـه داسي ډول وټاکـل، تـر څـو د پـولي د نـه ځرګنـدوالي پـه پلمـه پـه افغانسـتان باندي ددغه دولت (روسیه) د تېري امکان را کم کړي او پـه راتلونکو کلونو کې په سیمه کې د پولي د اصلي کرښي لپاره زمینه برابره سي.

۲ .روسیې ومنلـه چې افغانسـتان نـاپېیلی او د روسـیې د نفـوذ لـه ساحې څخه وتلی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



پدې کې شک نسته چې دغه دواړه پورتني مطلبونه په عین حال کې چې د افغانستان په ګټه وه او ددې هیواد په چارو کې یې د روس د امپریالیزم د لاس وهني کچه راکموله، خو د افغانستان د خپلواکۍ په اړه یوه ستره تېروتنه حسابیږي، دا چې روسیې تصدیق کړه، چې افغانستان د روسیې د نفوذ له ساحې څخه وتلې سیمه ده، په غیر مستقیمه توګه دا مطلب افاده کوي، چې دا هیواد د انګلستان د نفوذ په ساحه کې دی، حق نلري چې د نړۍ له نورو هیوادونو سره مخامخې اړیکې ولري.[1]

په (۱۸۷۸ز) کال د جولای په (۲۲) نېټه روسي پلاوی د برید جنرال ستولیتوف په مشرۍ کابل ته راورسېد، له امیر سره یې ولیدل او ستري وعدې یې ورکړې، یو تړون یې لاسلیک کړ، په تړون کې یې دا هم وویل چې که چیرې انګرېزانو پر افغانستان حمله وکړه، دوي به مرسته وکړي.

انګرېزانو چې کله دا واورېدل، چې امیر له روسي استازو سره کتلي او تړون یې لاسلیک کړی، په وېره کې سول، امیرشېرعلي خان ته یې خپل نمائندګان راولېږل، خو پلاوي په داسې وخت کې د افغانستان پولو ته راورسېدل، چې د امیرشېرعلي خان زوی (عبدالله جان) مړ سوی و او امیر د خپل زوی د مرګ غم څلوېښت ورځې اعلان کړی و، افغان سرحد ساتونکو انګرېز پلاوي پرېنښوول چې افغانستان خاورې ته داخل سي او داسې یې ورته وویل، چې موږ به د کابل سره

۱.میر محمد صدیق فرهنګ، افغانستان په وروستیو پینځو پېړیو کې، ۳۷۴ مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



اړیکه ونیسو، خو بیا هم انګرېزان خوابدي سول او د ځان بې احترامي یې وو بلله او په ډېر چټکۍ سره یې ځانونه پېښور ته ورسول.

له هغه ځایه یې امیرشېرعلي خان ته خبر ورکړ، چي روسي پلاوي دي له خپلي خاوري وباسي او انګرېزي مامورین په خپله خاوره کي قبول کړي، بهرنی سیاست د انګرېز تر لاربښوونی لاندي اجراء کړي، ددې په بدل کي به انګرېز د کاله دولس لکه روپۍ امیر ته ورکوي.

امیرشېرعلي خان چي کله د زوی له فاتحې څخه خلاص سو، نو یو لیک یې د هند وایسرای ته واستاوه، چي په لومړي سرکي دوستانه ګیلې یې ځیني کړي وې او په اخیره کي یې داسي لیکلي وه، چي موږ نه غواړو له کوم هیواد سره جګړه وکړو، خو که کوم هیواد بې له دلیل او صحبت څخه زموږ له دولت سره دښمني وکړي، هغه وخت زموږ مقدرات د څښتن تعالی په لاس کي دی او څه چي د الله (ج) اراده وي هغې ته تسلیم یو.

د امیرشېرعلي خان دا لیک پر انګرېز داسي بده اغېزه وکړه، لکه پر اور چي تېل توی سي، وایسرای (لارډ لیټن) سمدستي مرکزي حکومت ته خبر ورکړ او ورڅخه وې غوښتل چي سمدستي دي افغانستان ته د جګړې اعلان ورکړل سي او انګرېزي لښکري دي افغانستان ته ننوځي، خو مرکزي حکومت د هند وایسرای ته داسي وویل، چي تر اوسه وخت پاته دی، تاسو امیر دې ته اړ کړئ، چي خپل د وروستي لیک له لیکني څخه رسماً بخښنه وغواړي او د انګرېز سفارت هم په کابل کي ومني او هم پوځي چمتو والی ونیسئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



وایسرای هم دغسې وکړه، امیر ته یې د نوامبر پر دوهمه نېټه لیک راواستاوه، وایسرای د دې لیک د ځواب لپاره امیر ته اتلس ورځې یعنې د نوامبر له دوهمې څخه د نوامبر تر شلمې وخت ورکړ.

امیرشېرعلي خان ته چې کله لیک راورسېد، نو حیران پاته سو، سمدستي یې غونډه جوړه کړه، چې د انګرېز سره څه ډول خبري وسي، د ډېرو سلا مشورو څخه وروسته پدې تکل کي سو، چې له روسانو څخه مرسته وغواړي، خو د ترکستان حکمران (جنرال کوفمان) په زړو منافقتونو ډاډ ورکړ، چې انګرېز به هیڅکله پر افغانستان یرغل ونه کړي، بالاخره چې مایوسه سو نو د نوامبر پر (۱۷) نېټه د التیماتوم د تاریخ د پوره کېدو څخه درې ورځې مخکي یې نرم ځواب ولیکی او د یو تن په لاس یې ورکړ، خو هغه چې د خیبر درې ته ننوتی، د هاخوا د انګرېز مسلح پوځونه تر پولي راتېر سوي وه او د امیرشېرعلي خان دا وروستی غشی هم خطا سو، امیر دا تاریخي مسئولیت په بشپړه ناپوهي پر غاړه واخیسته، له جلال آباد څخه تر کابله، کندهاره او هراته پوري ټولو مسلح عسکرو ته یې امر صادر کړ، چې د انګرېز مخه ونه نیسي او تر ثاني امر پوري دي منتظر وي.

امیرشېرعلي خان د (۱۸۷۸ز) کال د دسمبر په (۱۰) نېټه یوه لویه غونډه جوړه کړه، چې په هغې کي یې ډېر قومي مشران او دیني علماء راغوښتي وه، هغو ته یې وویل، چې زه مزارشریف ته ځم او له هغه ځایه به سن پترزبورګ ته ولاړ سم او هلته به یې له انګرېزانو سره معلومه کړم، خلکو په تعجب دا خبري واورېدې، وروسته د کورنۍ سره مزارشریف ته روان سو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د انګرېز لښکري د تورخم له لاري د جنرال براون په قوماندانۍ، د پیواړ له لاري د جنرال رابرټس په قوماندانۍ او کندهار ته د چمن له لاري د جنرال سټیوارټ په قوماندانۍ داخلې سوې.

امیرشېرعلي خان د (۱۸۷۹ ز) کال د جنورۍ په لومړۍ نېټه مزارشریف ته ورسېد او هلته ناروغ سو، ویل کېږي چې ګانګرین سو، خو د مسموم کېدو آوازې یې هم وې، خو دا هم کېدای سي چې دماغي او عصبي فشارونو وهلی وي، څو ددغه کال د فبرورۍ په (۲۱) نېټه د (۵۶) کالو په عمر له دې نړۍ څخه سترګې پټې کړې او د مزارشریف په روضه شریفه کې د خپل وررور وزیر محمداکبر خان غازي د قبر په څنګ کې ښخ سو.[1]

### د امیر یعقوب خان لنډه دوره:

امیر یعقوب خان د امیرشېرعلي خان زوی او د امیردوست محمدخان بارکزي لمسی دی، نوموړی د خپل پلار د لومړۍ واکمنۍ پر مهال د هرات د والي په توګه وټاکل سو، خلکو به د غښتلتوب له امله ورته شېربچه ویل.

کله چې امیرشېرعلي خان د عبدالرحمن خان او محمداعظم خان په لاس ماته وخوړه، نو خپل زوی ته چې دا وخت د هرات والي و، پناه یوړه، یعقوب خان هم خپل پوځ ونه ورسره یو ځای کړل او کندهار یې له محمد سرور بن محمداعظم خان څخه ورته ونیو، امیرشېرعلي خان دده په مرسته کابل ونیو او دوهم ځل پاچا سو.

۱.کاندید اکاډمېسن محمد ابراهیم عطایي، د افغانستان پر معاصر تاریخ یو لنډه کتنه، ۱۱۱ مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



امیرشېرعلي خان چي کله پاچا سو ، د خپلي مېرمني (عائشې) چي ډېره پر ګرانه وه، په هڅو یې د هغې له نس څخه سوی زوی (عبدالله جان) د خپل ځایناستي په توګه وټاکه، یعقوب خان پدې خوابدی سو او له کابل څخه وتښتېد ، هرات ته ولاړ ، هلته یې فتح خان وواژه، وروسته بېرته پښېمانه سو ، امیرشېرعلي خان نوموړی کابل ته وغوښت او هلته یې په محبس کي بندي کړ.

کله چي امیرشېرعلي خان د روسیې پر خوا رهي سو ، په مزارشریف کي ناروغه او هلته لدې نړۍ څخه سترګي پټي کړې، د امیرشېرعلي خان د مرګ څخه یوه اونۍ وروسته، خلکو له یعقوب خان سره بیعت وکړ، نوي امیر سمدستي د خپلي واکمنۍ پیغام د هند وایسرای ته واستاوه.[1]

څنګه چي په لندن کي پر محافظه کار حکومت د لیبرالانو له خوا په پارلمان او مطبوعاتو کي سخت انتقادونه روان وه، نو د لندن محافظه کار زعماؤ وایسرای ته لارښوونه وکړه، چي ډېر ژر د جګړې بار له اوږو وغورځوي او کله چي د یعقوب خان لیک هغه ته ورسېد ، نوموړي دا د سولي یو لیک وباله او ډېر ژر یې د امیر خسر (یحیی خان) چي په هند کي و ، کابل ته راواستاوه او یو پلاوی یې د منشي (بختیار) تر مشرۍ لاندي موظف کړ، چي په کابل کي له نوي امیر سره خبري وکړي او پر دا ټولو سربېره خپل سکرتر (الفردس لاین) ته لارښوونه وکړه، چي د هغه جال چوکاټ بندي وکړي، چي وروسته به افغانستان پکښې راګیر سي.

---

۱.بشیر احمد ریان، د افغاني پاچاهانو لنډ ژوند لیک، ۱۰۷ مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



د انګرېز پلاوی په کابل کې له امير يعقوب خان او د هغه له مشاورينو سره خبري وکړې، د سولې شرايط هم هغه وه، چې امیرشېرعلي خان ته يې وړاندي کړي وه، ولې امیرشېرعلي خان سرکښي کوله او نوی امير يې منلو ته اوږې ټيټې کړې.

پر امير يعقوب خان تر هر چا خپل خسر (يحيی خان) ډېر اغېزمن واقع سو او په دې پسې منشي بختيار هم ډېر ابليس شخص و، نو موړې هم په ټوکو ټکالو کې امير ته سره او زرغونه باغونه وښوول[1] او غوښتل يې چې په امير يعقوب خان د ګندمک تړون لاسليک کړي، چې د خيبر، کُرم او پښين ستراتيژيکي سيمې پکښې شاملې وې، اميريعقوب خان په لومړي سر کې د ګندمک له تړون څخه تر شا سو، خو وروسته يې ډېره تېروتنه وکړه او د مې په اخيره کې د تړون لپاره د ګندمک سيمې (د انګرېز چونۍ) ته ولاړ او هلته يې په کال (۱۸۷۹ ز) د مې پر (۲۶) نېټه د ګندمک تړون لاسليک کړ.[2]

انګرېز چې سخت انتقام جويه قوم دی، د ګندمک سيمه يې ځکه دغه کار ته ټاکلې وه، چې تقريباً څلوېښت کاله وړاندې د دوی له شپاړس زرو څخه تر اووه لس زرو اردو دلته له منځه تللې او ويارونه يې له خاورو سره برابر سوي وه.

د انګرېزانو لويه موخه د ګندمک تړون و، چې هغه يې هم د اميريعقوب خان سره په کال (۱۸۷۹ ز) د مې پر (۲۶) نېټه لاسليک کړ، چې لنډ متن يې په لاندې ډول دی:

---

۱.کاندید اکاډمیسن محمد ابراهيم عطايي، د افغانستان پر معاصر تاريخ يوه لنډه کتنه، ۱۲۲ مخ
۲.عتيق پاڅون، مرور کوتاهی بر تاريخ افغانستان و قضيه پشتونستان، ۱۹۱ مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱ـ ددې تړون د لاسلیک له ورځې څخه د دواړو هیوادونو ترمنځ تلپاتې سوله او دوستي ټینګیږي.

۲. ددې تړون له لاسلیک څخه وروسته به د افغانستان امیر د خپلو اتباعو هغه ډله چې د جګړې په وخت کې د انګریز له دولت سره مکالمه، مراوده او مکاتبه درلوده د رسمي فرمان په اثر وبخښي.

۳ـ د افغانستان امیر مجبوره دی چې وروسته له دې له نورو هیوادونو سره خپل معاملات د انګلستان سره د مذاکرې پر بنسټ او د هغو په خواهش اجراء کړي، د افغانستان امیر حق نه لري له نورو هیوادونو سره سماسمه اړیکه ټینګیه کړي او د انګریز د دولت له مشورې پرته له کوم بل هیواد سره د جګړې اعلان وکړي، ددې شرط په مقابل کي د برتانیې دولت حاضر دی، چې امیر د پردیو د تېریو په مقابل کي د پیسو، وسلو او عسکرو په وسیله په هر ډول چې د برتانیې دولت وغواړي حمایه کړي او هر وخت چې مناسب وبولي مرسته به یې وکړي، که د برتانیې عسکر د کوم اړتیا په وخت کې د امنیت د برقرارۍ او د بهرني تېریو د دفاع لپاره د افغانستان خاوري ته ننوځي د سولي او امنیت له برقرارۍ څخه وروسته به د مګړی هیواد ته بېرته وګرځي.

۴ـ ددې لپاره چې د دواړو هیوادونو مناسبات لا ټینګ سي او د افغانستان پولي د پردیو له تېریو څخه وساتل سي د انګریز دولت اړین بولي چې خپل دایمي نمائنده افغانستان ته واستوي، دغه نمائنده به د خپلي رتبې مطابق یوه ټولګۍ عسکر هم له ځانه سره ولري او هم د برتانیا هیواد حق لري، چې د اړتیا په وخت کي خپل خصوصي نمائندګان له ټاکلو پلاوو سره افغاني پولو ته واستوي، په

(c) ketabton.com: The Digital Library



مقابل کي د افغانستان امیر حق لري خپل نمائنده د هند د وایسرای دربار یا نورو هندي مقاماتو ته واستوي.

۵.د افغانستان امیر د انګرېز د نمائندګانو د ساتني لپاره او له دې کبله چي د هغو سره شرافتمندانه رویه وسي، ځان مسئول بولي او د برتانیا دولت په مقابل کي ژمنه کوي، چي هیڅ وخت به د افغانستان په کورني چارو کي لاس وهنه ونکړي او د هغو د نمائندګانو احترام به ساتي.

۶ـد افغانستان امیر له خپلي خوا او نورو سردارانو له خوا ژمنه کوي، چي له انګرېزي نمائندګانو او نورو وګړو سره چي د سوادګرۍ لپاره افغانستان ته راځي، شرافتمندانه معامله وکړي او د هغو په شخصي معاملاتو کي به لاس وهنه نه کوي.

۷.امیر له انګلستان سره تجارتي اړیکي ټینګوي او د هیواد تر منځ سړکونه پرانیزي، تر څو چي دواړه هیوادونه سره آزادانه سوداګري وکړي او هم دواړه هیوادونه اتفاق وکړي، دغه لاري له خطر څخه محفوظي وساتي، دغه تجارتي تړون به د دواړو هیوادونو ترمنځ د یوه کال لپاره مرعي الاجراء او د هیوادونو ترمنځ به ازادي وي.

۸.له کورمې څخه تر کابله د تلګراف د سیم د غزولو لګښتونه به د انګرېز دولت پر غاړه وي او د هغه ساتنه په امیر پوري اړه لري.

۹.له دې کبله چي د دواړو هیوادونو تر منځ دوستي برقراره سي او د برتانیا عسکر له ډاډمني سره د افغانستان له خاوري څخه وځي، د سیالکوټ ولایت او د فوشنګ سیمه د کوږک تر غره پوري، د کرم سیمه د جاجي تر پولي پوري، مشرقي تر څنډې پوري، (هفت چاه) او لنډی کوتل دي انګرېزانو ته ورکړل سي، که څه هم د درېیو سیمو

(c) ketabton.com: The Digital Library



(کرم، پښین او سوی) واګذري به په دايمي او قطعي توګه نه وي، دا سيمي به د هغو اراضو په نامه (چي امانت سپارل سوي دي) يادي کړو او بيا به مستردي سي، دد غو سيمو ماليه د اداري ضروري لګښتونو له ورکړي څخه وروسته افغانستان ته ورکول کيږي او يو اځي د هغې اداره او حمايه به په برتانيا پوري اړه ولري، سربېره پردې د برتانيې دولت به د خيبر او پيچ د تېرېدځيو اداره او نظم و نسق چي د پېښور او جلال آباد ترمنځ واقع دی، دد غو سيمو آزادو قبايلو سره دوستانه مناسباتو سره په لاس ولري.

۱۰.له دې کبله چي د افغانستان امير وکولای سي، چي خپل اقتدار او قدرت برقرار کړي او هم پورتني شرايط صادقانه اجراء کړي، د برتانيې دولت ژمنه کوي، چي هغه او د هغه ځای ناستو ته به د هيواد د اصلاح لپاره د کاله به شپږ لکه روپۍ ورکوي.

## اميريعقوب خان – سرلوئيس کيوناري[1]

دا و هغه ترون چي امير محمد يعقوب خان د خپل جلوس په لومړي سر کي له انګرېز سره وکړ او په دغه ډول د انګرېز ټولي غوښتني يې په شرف ماتوونکي وضعيت ومنلې او د خپلي خوا څخه يې د راتلونکي لپاره د يو کوچني ضمانت وړانديز هم ونه کړ، حتی د خپل حکومت د پياوړي کېدلو او پخپله کورنۍ کي د سلطنت د دوام لپاره يې هم څه هڅه ونه کړه، په داسي حال کي چي په دغه وخت کي سره ددې چي انګليسي عسکر د افغانستان د ختيځو پولو تېر سول او ځيني

۱.کانديد اکاډمېسن محمد ابراهيم عطايي، د افغانستان پر معاصر تاريخ يوه لنډه کتنه، ۱۲۲ مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



مرکزونه یې نیولي وه، خو بیا هم وضعیت یې د ډاډ وړ نه و او د افغان ملت د عکس العمل څخه چې تجربه یې لیدلې وه، ویره درلوده او که چیري امیر یعقوب خان دغه شرف برباد ونکی تړون قبول کړی نه وای، حالت دومره نه خرابېده، انګرېزانو افغانستان نه د مادي قوې په لحاظ او نه د سیاست له مخي په دایمي ډول نیولی او په ځان پوري یې تړلی سو.

په هر حال ددغه تړون د کولو ملامتي د مرګ تر وخته پوري د امیریعقوب خان پر غاړه ده او د افغانستان خاوره او تاریخ یې تر نن ورځې پوري جریحه کړی دی.[1]

د ګندمک تړون لکه تور او درونډ زنځیر و، چې په هغه یې د افغانستان د حکومت او ملت لاس و پښه یې وتړل، ددې زنځېر حلقې د خیبر له ستوني تېر تر ګُرم او کوږک پوري ورسېدې.[2]

اوس نو داسي څرګندېدله چې د هند لپاره د علمي پولې ټاکلو په اړه د لیتن خوب رښتیا سوی و، انګرېزانو افغانستان ته د ننوتلو درې ستراتیژیکي لويي لاری (په جنوب کي ګُرم، په ختیځ کي خیبر او په لوېدیځ کي بولان) تر خپلي ولکې لاندي راوستلي وې، نور یې نو د مرکزي آسیا په لوري د خپل تګ په لار کي کوم خنډ یې نه تر سترګو کېده، په برتانیا کي جشنونه ونیول سول، مبارکۍ وویل سوې، ډالۍ وویشل سوې، پوځي افراد وستایل سول، افسرانو او جنرالانو ته

۱.سید قاسم رښتیا، افغانستان په نولسمه پېړۍ کي، ۵۱۸ مخ
۲.احمد علي کهزاد، بالاحصار کابل و پیش آمد هار تاریخي، ۶۰۴ مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



مډالونه ورکړل سول او کیوناري ته د (Sir) یعنې (صاحب) لقب ورکړل سو.[1]

د ګندمک له تړون څخه وروسته امیریعقوب خان کابل ته راغی او یوه میاشت وروسته سرلوئي کیوناري د انګرېز د سفیر په حیث او د خپلو نورو مرستندویه اشخاصو او پنځه سوه شپېته تنو عسکرو سره د ګرم له لاري افغانستان ته ننوت او د (۱۸۷۹ز) کال د جولای پر (۲۴) نېټه کابل ته راورسېد، د بالاحصار په یوه عالي عمارت کي ځای ورکړل سو، د هغه څخه وروسته یعقوب خان یوازي تش په نوم واکمن او ټولي چاري د کیوناري په لاس کي وې،[2] نوموړی ددې پر ځای چي د تړون د روح سره سم د حالاتو د څارني او مراقبت دنده اجراء کړي او یوازي د امیر د بهرنیو اړیکو څارنه وکړي، په کورنیو چارو کي یې هم په لاس وهلو پیل وکړ، ورځ په ورځ د مداخلې لمن یې پراخېدله، ډېري ورځي به یې د چارباغ په میدان کي دربار کاوه او د هیواد مشران به یې د لیري او نږدې ځایونو څخه د خپل ملاقات لپاره غوښتل او د هغوي سره به یې د بېلابېلو مسائلو په اړه خبري کولې او لارښووني به یې ورته کولې، ډالۍ به یې ورکولې، معاشونه به یې ورته مقررول، په عسکري کارونو کي به یې هم لاسوهنه کوله او د معاشونو د اندازې او رتبو په اړه به یې رایې ورکولې، مالي چاري یې په لاس کي ونیولې او د تنخاګانو په ورکولو او ځنډولو، په کمولو او زیاتولو کي به یې تصرف کاوه.[3]

---

۱.غلام محمد زرملوال، افغانستان تر وروستي افغانه، لومړی ټوک، ۲۱۱ مخ
۲.میر غلام محمد غبار، افغانستان در مسیر تاریخ، ۶۳۹ مخ
۳.سید قاسم رښتیا، افغانستان په نولسمه پېړۍ کي، ۵۱۹ مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



امیر یعقوب خان چي کابل ته ورسېد، ایوب خان هلمندی یې د هرات والي وټاکه او له هغه څخه یې غوښتنه وکړه، چي یو پلټن عسکر ورته راواستوي، ایوب خان عسکر ور ولېږل، عسکرو ته په هرات کي ویل سوي وه، چي معاش به په کابل کي تاسو ته درکړل سي، عسکر چي کله کابل ته ورسېدل، له سر لښکر (داود شاه خان) څخه یې غوښتنه وکړه، تر څو معاش ورکړي، داود شاه خان ورته وویل: (ستاسو غوښتني حق دي، خو اوس ټول واک له کیوناري سره دی، هغه ته ورسئ او معاش ور څخه وغواړئ).

عسکر چي کله د کیوناري کور ته چي په بالاحصار کي و، ورسېدل، نو کیوناري ګمان وکړ، چي ملت پاڅون کړی او عسکر غواړي پر ده حمله وکړي، نو پر خپلو ساتونکو یې امر وکړ، چي پر عسکرو ټکان (ډزي) وکړي، عسکرو هم متقابلي ډزي پیل کړې، امیریعقوب خان ډېره هڅه وکړه، چي ډزي بندي سي، خو عسکرو یې خبرو ته غوږ و نه نیو، په پایله کي د کیوناري په ګډون د سفارت (۱۲۳) غړي ووژل سول.[۱]

ظفر کاکا خیل په خپل اثر (پښتانه د تاریخ په رڼا کي) د پورتني پېښې عوامل داسي لیکي: (د انګرېزي سفیر د راتلو څخه یوه نیمه میاشت وروسته د انګرېزانو په خلاف د پښتنو جذبات راوپارېدل او په هیواد کي یو عام بغاوت پیل سو، د جګړې مړ اوربیا تازه سو، ددې بغاوت اصلي حقیقي اسباب نه معلومېږي، ددې یوه وجه دا بیانیږي، چي انګرېزی سفیر خپل ځان حاکم اعلی ګاڼه، په نظامي معاملاتو کي

۱.کاندید اکاډمېسن محمد ابراهیم عطایي، د افغانستان پر معاصر تاریخ یوه لنډه کتنه، ۱۲۵ مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



يې لاسوهنه کوله، دا کارونو پر پښتنو سردارانو سمه نه لګېدله، دا هم ويل کيږي چې د سردار عبدالرحمن خان مور د پښتون پوځ سالار (داود شاه خان) ته د رشوت په ډول درې زره اشرفۍ ددې لپاره ورکړي وې، چې انګرېز سفير قتل کړي، ځکه چې د سفير د قتل په وجه به اميريعقوب خان بدنامه او د هيواد څخه به ورک سي او د هغه زوی عبدالرحمن خان ته به د کابل تخت په لاس ورسي.[1]

په هر حال عامل چې هر څه و، خو افغانانو پاڅون وکړ او کيوناري يې په قتل ورساوه، ددې پيښې په سبا د جلال الدين په نامه يوه تن چې د سفير خبر رسان و، د پيښې خبر يې د ځاځيو په علي خېلو کې سياسي آمر (جنرال رابرتس) ته ورکړ، نوموړي جنرال ددې موضوع اطلاع د تلګراف له لارې د هند وايسرای ته ورسوله، هلته غونډه جوړه سوه او سمدستي دا پرېکړه وسوه، چې جنرال رابرتس دې افغانستان ته ولاړ سي، د سفارت د پياوړتيا او يا د غچ اخيستلو لپاره کابل ته وخوځيږي، همدا راز هغو نورو انګرېزي ځواکونو ته چې له کندهار او جلال آباد څخه هند ته په لاره وه، امر وسو چې نوموړي ښارونه بيا اشغال کړي.[2]

د (۱۸۷۹ز) کال د سپټمبر په (۶) نېټه د انګرېز پوځ د پيواړ غاښې له لارې افغانستان ته وخوځېد، له پيواړ څخه جنرال رابرتس، چې يوه فرقه عسکر يې تر قوماندانۍ لاندې وه، اميريعقوب خان ته وليکل چې تاسو د ګندمک د تړون په پلي کولو کې بريالي سوي نه ياست او د برتانيا سفارت له ټولو کارکوونکو سره معدوم او له منځه تللی دی،

۱.پښتانه د تاريخ په رڼا کې، ۸۲۳ مخ
۲.مير محمد صديق فرهنګ، افغانستان په وروستيو پينځو پېړيو کې، ۴۰۰ مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



لدې کبله د برتانیا عسکر اراده لري، چي کابل ته درسي، چي له یوې خوا ستا امارت وساتي او له بلي خوا پر برتانوي سفارت باندي یرغل کوونکو ته سزا ورکړي.(۱)

امیر یعقوب خان چي د رابرتس له حرکت څخه خبر سو، نو مستوفي حبیب الله خان او د بهرنیو چارو وزیر ملا محمد شاه خان یې د عذر غوښتلو لپاره مخي ته ور واستول، چي انګرېزي ځواکونه په هر ځای کي چي ممکن وي تم کړي، خو رابرتس دا ونه منله او د کابل په لوري یې تګ ته ادامه ورکړه، ځکه د وایسرای د حکم د عملي کولو لپاره یې باید ډېر ژر ځان کابل ته رسولای وای.(۲)

د دغه پلاوي له تګ څخه وروسته هغه وخت، چي د انګرېزانو له خوا سمدستي او د قناعت وړ ځواب ونه رسېد، نو د امیر وسواسي طبعي نور صبر او تحمل ونه کړای سو او پخپله هم د سپتمبر په (۲۷) نېټه د انګرېز چوڼۍ او اردو ځای ته ولاړ او مجاهد ملت یې د انتقام اخیستونکو انګرېزانو مرحمت ته پرېښود، مګر انګرېزانو چي په پای کي د هغه په نه محبوبیت او بې کفایتۍ باندي خبر سوي وه او یقین یې درلود، چي نور د افغانستان پر پلاز باندي دده کښېناستل ستونزمن او دده له وجود څخه کومه ګټه هم متصوره نه ده، نو امیر یې نظربند کړ او رابرتس کابل ته را روان سو.(۳)

د انتقام د جګړې له اعلان څخه لس میاشتي وروسته د (۱۸۷۹ ز) کال د اکتوبر په (۶) نېټه د جنرال رابرتس پوځ د کابل ښار ختیځ ته د

۱.غلام محمد زرملوال، افغانستان تر وروستي افغانه، لومړی ټوک، ۲۱۴ مخ
۲.میر محمد صدیق فرهنګ، افغانستان په وروستیو پینځو پېړیو کي، ۴۰۰ مخ
۳.سید قاسم رښتیا، افغانستان په نولسمه پېړۍ کي، ۵۲۴ مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



سیاسنګ په سیمه او مرنجان غونډۍ باندې ستر برید وکړ، امیریعقوب خان د اکتوبر پر (۱۲مه) نېټه خپل تاج و تخت پرنګیانو ته وسپاره او د دسمبر په لمړۍ نېټه هند ته وشړل سو، هلته د یوه بې ننګه پرنګي ځیره خوره په توګه پاته او په (۱۹۲۳ز) کال کې مړ سو.[۱]

کابل ته په را رسېدو رابرتس دوه هیئتان مؤظف کړل، چې ملکي او نظامي تحقیق او څېړنه وکړي، رابرتس د بالاحصار څخه یوه اعلامیه خپره کړه، چې هیڅوک وسله نسي ګرځولی او بیا یې د کابل لوی نظامي او ملکي مشران اعدام کړل، نور نو په کابل کې آرامي ورکه سوه او انګرېز د کابل په وروستیو شپو او ورځو کې اعلان وکړ، چې له کابله وځو، خو کوم شرایط چې یې ایښي دي هغه باید ومنل سي.[۲]

په دولسم د اکتوبر (۱۸۷۹ز) کې رابرتس د سردارانو، مامورینو او د کابل د ښاریانو په غونډه کې چې په بالاحصار کې د هغه د بیانیې د اورېدلو لپاره بلنه ورکړل سوې وه، له نخرو ډکه یوه اعلامیه چې د یوه ښکېلاکي دولت د استازي د غرور او کبر حکایت یې کاوه ولوستله، په دې اعلامیه کې نوموړي د کابل خلک او د افغانستان اردو د کیوناري د قتل مسئول وګڼل او ویې ویل: (که څه هم د برتانیې دولت حق لري، چې د کابل ښار له خاورو سره خاوري کړي، خو د مهربانۍ او نرمۍ له مخي دا کار نه کوي، یوازې هغه ودانۍ او عمارتونه به چې پوځي ستونزي پیدا کوي ورانې کړي، د کابل اوسېدونکي مکلف دي، چې ډله ییزه جرمانه ادا کړي او ټول هغه کسان چې د سفیر د وژلو په پېښه کې یې لاس درلود، انګرېز ځواکونو ته ور وپېژني).

---

۱.غلام محمد زرملوال، افغانستان تر وروستي افغانه، لومړی ټوک، ۲۱۶ مخ

۲.کاندید اکاډمېسن محمد ابراهیم عطایي، د افغانستان پر معاصر تاریخ یوه لنډه کتنه، ۱۲۷ مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



ددې ورځې په سبا د بالاحصار هستوګنو ته اطلاع ورکړل سوه، چې د اته څلوېښتو ساعتونو په موده کې خپل مال او اسباب واخلي او له بالاحصار څخه ووځي، تردې وروسته بیا انګرېزي ځواکونو د بالاحصار په ړنګولو پیل وکړ، د بالاحصار دواړې برخې د رابرتس په امر ړنګې سوې او یوازې پاخه دېوالونه یې پر ځای پاته سول.[1]

د دسمبر د میاشتې تر نیمایې پورې، شیرپور چې د پرنګیانو پوځي قرارګاه وه، افغاني غازیانو محاصره کړه، مګر دا ځل جنرال رابرتس د دومره خطر احساس نه کاوه او د شیرپور دننه خوندي و، نوموړی د پنځو میاشتو لپاره د خوړو او سون کافي مواد درلودل، د څارویو لپاره یې په پوره اندازه خوراک او له نږولې بالاحصار څخه د خپل ضرورت لرګي اکمال کړي وه او هم د شیرپور کلا له شمال ختیځ لورې د بي بي مهرو له غونډۍ ساتل کېدله.

د دسمبر په (۲۳) نېټه ماښام د کابل ښار جنوب لوېدیځ ته د اسمایي غره په څوکه غازیانو اور بل کړ، چې لمبې یې له خورا لرې واټن څخه لیدل کېدې، دا په شیرپور کې د پرنګي پر قرارګاه باندې یوه غټ برید ته د ولس د رابللو لومړی نښه وه، په هغه ورځ، چې د محرم الحرام د میاشتې له وروستۍ نېټې سره مصادفه وه، په برتانوي پوځ باندې د غازیانو برید پیل سو او له یوې درنې خونړۍ جګړې وروسته چې هغه بشپړه ورځ، شپه او د بل سبا ورځې پورې روانه وه، د جنرال رابرتس مرستې ته د جنرال راس تر قوماندانۍ لاندې یوه فرقه مرستندویه

۱.میر محمد صدیق فرهنګ، افغانستان په وروستیو پینځو پېړیو کې، ۴۰۱ مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



پوځي کنډکونه هم ورورسېدل، د زیانونو شمېر په چټکۍ په لوړېدو سو.

د مقاومت ددې پړاو په پای کي د (۱۸۸۰ز) کال له پیل سره وضع یو څه ارامه سوه او که څه مؤقتي سوله را وګرځېدله، خو جنرال رابرتس پدې پوهېده، چي دا تصوري او لنډ مهاله ارامتیا ده، نو له دې کبله پدې لټه کي سو، چي د خپلي شومي راتلونکي په هکله څه اقدام وکړي، د جنوري په میاشت کي یې یوه اعلامیه خپره کړه، چي پکښې ژمنه یې کړې وه، چي برتانوي پوځونه له افغان ولس سره دښمني کول نه غواړي، له افغانستان څخه د وتلو خیال لري او هر هغه څوک به د افغانانو د مشر په توګه وپېژني، چي وکولای سي په هیواد باندي خپل واک ټینګ کړي، دې اعلامیې د ولس پام بلي خوا ته واړاوه او د یوه ملي مشرتابه د راپورته کېدو په فکر کي سو، په حقیقت کي د لندن نیت داسي نه و، کوم چي د رابرتس په اعلامیه کي ښوول سوی و، بلکې د هغې پر خلاف د برتانیا کابینې پرېکړه کړې وه، چي اوس نو کوم بل الترناتیف (بدیل) موجود نه و، مګر دا چي افغانستان باید تجزیه کړای سي، لندن ته جنرال رابرتس د افغانستان د بالکانیزه (پر کوچنیو ټوټو تقسیم) کولو مشوره ورکړې وه، نوموړي پدې خبره زور واچاوه او لیتن یې تائید کاوه، چي که چیري افغانستان حتی د کوم برتانوي پلوی امیر په مشرۍ هم متحد پاته سي، همېشه ددې خطر سته چي د کومو ظاهري شکایتونو له کبله به بیا هم زموږ پر ضد راپورته کېږي.

که څه هم د لیتن دا هیله چي هندوکش به د برتانوي هند او تزاري روسیې تر منځ سرحدي پوله وي له خاورو سره خاوري سوه، خو

(c) ketabton.com: The Digital Library



نوموړي دا عزم درلود، چي انګرېز بايد افغانستان بيا هم په خپله ولکه کي وساتلای سي، پدې شرط چي هغه وېشلی، ټوټه ټوټه او کمزوری وي، پر همدې بنياد د (لارډ سالسبري) په مشری د برتانيا د بهرنيو چارو وزارت د رابرتس وړانديز تر څېړني لاندي نيولی و.

انګرېزانو ولي محمد خان د کابل والي وټاکه او کندهار شېرعلي خان ته، چي د ګندمک د تړون پر اساس امیرمحمد یعقوب خان په کندهار کي ټاکلی و، وسپارل سو، دا ولايت د نوموړي (شېرعلي) تر اداري لاندي په خپل سر پرېښوول سوی و او د برتانيې د پوځ د هډې په حيث به ور څخه کار اخيستل کېده، هرات ايران ته وړانديز سو، لندن د ايران شاه ته وويل چي که غواړې او کولای سې د هرات ولايت اشغال کړې، نو د برتانيې حکومت به کوم اعتراض ونلري، مګر ايران دې کار ته د روسانو په مشوره زړه ښه نکړ او په اخيره کي لندن پدې لټه کي سو، چي په افغانانو باندي داسي څوک وتپي چي د دوی د ګټو ساتندوی وي.

د (۱۸۸۰ز) کال د مارچ په مياشت کي د اميرشېرعلي خان ورواره (سردار عبدالرحمن خان) چي له دولس کاله څخه ډېره موده يې په تاشکند کي په تبعيد کي تېره کړې وه، د افغانستان په سياسي ډګر کي بيا راڅرګند سو، نوموړي له تاشکند څخه د هيواد په اوږدو کي ملي مبارزينو ته ليکونه استولي وه، چي که غواړی د انګرېز پر ضد د جهاد لارښوونه به پر غاړه واخلي، د مبارزينو مشرانو، چي دداسي يوه مشرتابه په لټه کي وه، بېله ځنډه خپل خوښي وښووله، له هرات څخه د افغانستان د مبارزې يو نامتو مشر (سردار ايوب خان هلمندی) د امير شېر علي خان زوی چي په انګرېزي پوځ باندي يې د

(c) ketabton.com: The Digital Library



برید کولو تیاري نیوله، خپل د اکا زوی (سردار عبدالرحمن خان) ته وليکل چې له دښمن سره په جګړه کې خپل ځواکونه له ده سره يو ځای کړي، مګر عبدالرحمن خان له انګرېزانو سره د سولې او مصالحې لاره غوره کړه، سردار محمد ايوب خان ته د يوه ليک په ترڅ کې نوموړی پدې دليل ټينګار کاوه، چې له انګرېزانو سره د مخالفت لاره نيول د افغانستان له ملي ګټو سره سمه نه ده.[1]

غبار د سردار ايوب خان او سردار عبدالرحمن خان د مکاتبې په هکله داسې ليکي: (سردار عبدالرحمن خان د (۱۸۸۰ ز) کال په مارچ کې ټولو افغانانو ته اعلان وکړ، چې زه د روسيې د قلمرو څخه يوائې او يوائې د انګرېز د ښکېلاک څخه د افغان ولس د خلاصېدو لپاره در رهي سوی يم، افغانانو چې داسې رهبري يې غوښتله، نو په ټول هيواد کې سره راټول او د سردار د راتلو په تمه کې سول، په هرات کې خلکو سردار ايوب خان وهڅاوه، چې پر کندهار حمله وکړي او دښمن له هغه ځايه پسې واخلي.

سردار ايوب خان يو ليک سردار عبدالرحمن خان ته واستاوه او هغه ته يې وليکل، چې بايد د انګرېز په مقابل سره يو سو، تر څو انګرېز، افغانستان پرېږدي او افغان ولس خپلواک سي، خو سردار عبدالرحمن خان په ځواب کې وليکل، چې د انګرېز سره زموږ دښمني د افغانستان په ګټه نه ده، څنګه چې امير شېرعلي خان ددې خطا مرتکب سو او له منځه ولاړ، نو تاسو هم له انګرېز سره د دوستۍ لار خپله کړئ، سردار عبدالرحمن خان ليک هرات ته د کابل له لاري

۱.غلام محمد زرملوال، افغانستان تر روستي افغانه، لومړی ټوک، ۲۱۶ مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



واستاوه، چي انګرېزان يې ووينې او د هغوي نظر خپل د ځان لوري ته راوګرځوي).[1]

پدې ورځو کي يوې خوا ته سردار عبدالرحمن خان د افغانستان تاج و تخت د نيولو لپاره کوښښ کاوه، بلې خوا ته د اميرشېرعلي خان کشر زوی (سردار ايوب خان) هم د خپلي پاچهۍ لپاره هڅه کوله.[2]

د هند وايسرای دا مهال په خورا نا اميدۍ هلې ځلې کولې چي د موږک له دې تلکي څخه ځان وباسي، لدې کبله په همداسي وخت کي د افغانستان په شمال کي د سردار عبدالرحمن خان را ښکارېدل د نوموړي لپاره يوه ارزښتناکه غيبي ډالۍ وه، ليتن هم ددې فرصت څخه د ګټې اخيستني لپاره خپل يو ځوان ډيپلومات (ليفل ګريفن) ته دنده وسپارله، چي له عبدالرحمن خان سره اړيکه ونيسي، نوموړي هم بې له ځنډه له عبدالرحمن خان سره د يو ليک په ترڅ کي اړيکه ونيوله.[3]

انګرېزان دې پرېکړې ته ورسېدل، چي د افغانستان حکومت به سردار عبدالرحمن خان ته ورکړي، دوي پدې پوهېدل چي د عبدالرحمن خان په وجود کي د افغانستان حتی سيمي وضع په خپله ګټه څرخولی سي.[4]

۱.مير غلام محمد غبار، افغانستان در مسير تاريخ، ۶۵۹ مخ
۲.پښتانه د تاريخ په رڼا کي، ۸۲۵ مخ
۳.غلام محمد زرملوال، افغانستان تر روستي افغانه، لومړی ټوک ۲۲۰ مخ
۴.کانديد اکاډمېسن محمد ابراهيم عطايي، د افغانستان پر معاصر تاريخ يوه لنډه کتنه، ۱۳۲ مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د امیرعبدالرحمن خان پاچاهي:

عبدالرحمن خان د امیر افضل خان زوی او د امیر دوست محمد خان هلمندي لمسی و، چي په (۱۸۳۰ ز) کال کي د افضل خان په کور کي وزېږېد.

لکه څنګه چي د عبدالرحمن خان او انګرېزانو د اړیکو څخه مو په مخکنیو پاڼو کي یادونه وکړه، نو عبدالرحمن خان هم دې ته چمتو سو، چي د انګرېزانو سره اړیکه ونیسي او د افغانستان واکمني تر لاسه کړي، نو هغه و، چي خپل اکا (محمد یوسف خان) یې انګرېزانو ته واستاوه، د هغوي تر منځ خبري اتري وسوې او پرېکړه وسوه، چي شیرپور ته نږدې به عبدالرحمن خان خپله له برتانوي جنرالانو سره ویني.

امیر عبدالرحمن خان د (۱۸۸۰ ز) کال د جولای په (۳۰) نېټه شیرپور ته ورغی، له ګرېفن سره یې لیدنه وکړه او د هغوي شرایط یې چي د ګندمک د شرایطو لنډیز و، ومنل، پدې تړون کي ویل سوي وه، چي د افغانستان واکمن به د انګرېزانو څخه پرته له هیڅ حکومت سره سیاسي اړیکي نه نیسي او په دې توګه افغانستان سیاسي خپلواکي له لاسه ورکړه.

امیر ته د ېرش ارابې توپونه، یو میلیون او نهه سوه زره روپۍ د جنرال ستهوراټ او جنرال رابرټ له خوا ورکړل سوې.

امیر عبدالرحمن خان د جولای په (۲۱) نېټه (۱۸۸۰ ز) کال په چاریکارو کي د پاچا په توګه اعلان سو او ددې کال د اګسټ د

(c) ketabton.com: The Digital Library



میاشتي په (۷) نېټه کابل ته ننوت او په (۳۶) کلنۍ کي په رسمي توګه پر پلاز کښېناست.[۱]

په هغه ورځ چي امیر عبدالرحمن خان د کابل په شمال کي د افغانستان د امیر په توګه وټاکل سو، نو د سردار محمد ایوب خان لښکر میوند ته ورسېد او د پرنګي د پوځونو په مقابل کي یې چي د جنرال پرایمروز تر قوماندانۍ لاندي وه، په بې اوبو وچه دښته کي سنګر ونیو، له ده ځخه دمخه جنرال پرایمروز له خپل دولس زریز پوځ سره هلته یې ځایونه نیولي وه.

سردار ایوب خان (هلمندي) د (۱۸۸۰ ز) کال د جون په میاشت کي د پرنګیانو پر ضد د جهاد بیرغ پورته کړ، د نوموړي سره د هلمند[۲] ډېر غازیان ولاړ وه، د میوند په ډګر کي د افغاني غازیانو لښکر او د پرنګي انګرېزانو لښکر سره مخامخ سوه، د جولای پر (۲۰) نېټه د سهار پر لسو بجو د دوبي په سره لمر کي سخته جګړه وسوه، د میوند د شهیدانو شمېر زیات و او د پرنګي لښکر ته هم درانه زیانونه واوښتل، په پایله کي د پرایمروز پوځ په بشپړه توګه مات سو او په زرګونو انګرېز پرنګیان ووژل سول.

---

۱.بشیر احمد ریان، د افغاني پاچاهانو لنډ ژوند لیک، ۱۱۷ مخ

۲.هغه وخت چي سردار ایوب خان د کندهار پر لوري د انګرېزانو سره د جهاد لپاره رارهي سوی و، نو دلته له هرات ځخه تر کندهاره ټول قومونه له نوموړي سره یو ځای سول، پدې خلکو کي د هلمند د بارکزو د ناوې غازیان هم ورسره مل وه، په جګړه کي یې د وطن د ساتلو لپاره ځانونه قربان کړل، د غازي ایوب خان تر ماتي وروسته له لښکر سره ځیني راغلي کسان او کورنۍ په کندهار کي پاته سولې او همله یې د کندهار په جنوب کي د تېموریانو او زنګاوات په کلیو کي ځانته مېنه جوړه کړه او هلته مېشت سول، چي اوس هم ځیني یې د کندهار ښار او ځیني یې بهرنیو هیوادونو ته تللي دي.

د نورو معلوماتو لپاره وګورئ (د ناوې دانشور، د کندهار منور، د زنګاوات مخور).

(c) ketabton.com: The Digital Library



د اګسټ پر (۸) نېټه د سردار ايوب خان لښکريان پر کندهار بريد وکړ، د هماغي مياشتي تر (۱۳) نېټې پوري يې خورا غوره ستراتيژيکي نقطې (خيبر آباد او ده خواجه ونيول)، پدې نښته کي درې سوه پرنګيان ووژل سول.

پدې وخت کي له کابل څخه کندهار ته د جنرال رابرتس په قوماندانۍ د پرنګي پوځ يوه فرقه روانه سوې وه او پرايمروز ته يې خبر ورکړ، چي که يوه مياشت مقاومت وکړي، نو هغوي به يې مرستي ته وررورسيږي.

هماغه و، چي له تباهي سره مخامخ جنرال پرايمروز له چالاکۍ څخه کار واخيست، پدې ترڅ کي يې سردار ايوب خان ته خبر ورکړ، چي څلوېښت ورځي دي مهلت ورکړي، تر څو ټول پوځونه د هند پر خوا مارش کړي او کندهار پرېږدي، غازي محمد ايوب خان دا خبره ومنله.

له کابل څخه برتانوي پوځ چي د امير عبدالرحمن خان فرمان يې په لاس کي او د هغه يو استازی (سردار محمد عظيم خان) ورسره و، بېله کومي ستونزي په پنځه ويشت ورځو کي کندهار ته ورسېد او بېله ځنډه يې د شپې لخوا د غازي ايوب خان پر لښکر ناڅاپه بريد ونه پيل کړل، په پايله کي غازي ايوب خان مجبور سو، چي د هلمند او هرات په لور شاته ولاړ سي، خو پر کندهار اوس هم غازيان راګرځېدلي وه او ښار کلابند و.

امير عبدالرحمن خان د کابل ښار په شهرارا سيمه کي په هغه غونډه کي ګډون وکړ، چي د هغې په ترڅ کي د جنرال ستهوارټ او جنرال رابرتس له خوا د افغانستان د پرېښېدو اسناد وروسپارل سول، له برتانيا سره د چالچلند په اړه امير د افغان ولس غوښتنو ته غوږ ونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



نيو، چي دده پر شاوخوا راټول سوي او د يرغلګرو انګرېزانو پر ضد يې د جهاد ناري وهلې.

د (۱۸۸۰ز) کال د اګسټ په (۸) نېټه برتانويانو له کابل څخه د غزني او کندهار پر لاره د خپلو پوځونو په ايستلو شروع وکړه، لومړی جنرال رابرتس خپل پوځ روان کړ او دوې ورځي وروسته د اګسټ په (۱۰) نېټه جنرال دونالد ستهووارټ د جلال آباد او خيبر په لاره مخه کړه.

انګرېزانو د خپل ځان او خپلو پوځونو د ساتلو لپاره له امير عبدالرحمن خان څخه فرمان تر لاسه کړ، چي له هغه سره به د پرنګيانو پوځونه د افغاني پوځونو له خوا بدرګه کيږي، دې لښکر ته ويل سوي وه، چي انګرېزان له افغانستان څخه وځي او د هغه ساتنه د امير المؤمنين په فرمان سره تضمين سوې ده.

انګرېز پوځ په جنوب لوېديځ کي د اګسټ په (۲۸) نېټه د غازي محمد ايوب خان پر ځواکونو بريد وکړ او د کندهار محاصره ماته سوه، ورپسې د امير عبدالرحمن خان استازي (شمس الدين) د کندهار ښار تر خپلي ولکې لاندي راوست، پدې توګه که څه هم چي افغانانو د خپلو لويو او ېسارو سرښندونو مېوه په هغه ښېر چي يې حق کېده، ونه خوړله، خو د نولس مياشتو اوږد مقاومت څخه وروسته افغان ملت يو ځل بيا د برتانيا پوځ په ګونډو کړ او هغې هم خپله ماته ومنله.[1]

---

۱.غلام محمد زرملوال، افغانستان تر وروستي افغانه، لومړی ټوک ۲۲۹ مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



درانی په خپل اثر (پښتانه د تهذیب په ځپو کي) کي موږ ته د میوند د جګړې په هکله داسي لیکي:. (کوم وخت چي انګرېزانو عبدالرحمن خان ته د افغانستان واکمني ورکړه، پدې مهال د امیر شېرعلي خان زوی ایوب خان چي هغه وخت د هرات والي و او د انګرېزانو سخت مخالف و، د جهاد اعلان وکړ، سردار ایوب خان یو ټینګ غازي و، ځکه د خلکو هم ورباندي اعتماد و، هغه د انګرېزانو چوکیاني ونیولې او د هغوي پوځي چاوڼۍ یې هم د ځان کړې، ده د کندهار په لوېدیځه خوا د میوند په میدان کي انګرېزانو ته په آسیا کي تر ټولو لویه ماته ورکړه، په کال (۱۸۸۰ز) د جولای د میاشتي په (۲۷) نېټه پښتنو غازیانو تر مازدیګره د برتانیه په زرګونو پوځیان ووژل، د میوند په جګړه کي د انګرېزي پوځ مشر (برګېډیئر بروس) و، چي د میوند په میدان کي تر ماتي وروسته کندهار ته وتښتېد او په حصار کي پټ سو، وروسته بیا عبدالرحمن خان د انګرېزانو په مرسته سردار ایوب خان ته ماته ورکړه او د افغانستان کورني حالات یې په ډېره سختي سره کنټرول کړل، د میوند دغه مشهوره جګړه هم د دوهم اِنګلو (انګرېز) او افغان جنګ برخه وه.

دا جګړه هم د لومړي اِنلګو (انګرېز) او افغان د جګړې په شان د انګرېزي پوځ په تباهۍ تمامه سوه، په میوند کي تر ماتي وروسته انګرېزانو ته یقین سو، چي پر پښتنو حکومت کول د دوي د وس کار نه دی، ځکه یې د جولای له (۳۰) نېټي څخه د اګسټ تر (۱) نېټې پوري د عبدالرحمن خان سره له افغانستان څخه د وتلو په هکله خبري اتري وکړې، چي په ترڅ کي یې د انګلستان آخري پوځ هم د (۱۸۸۱ز) کال د اپرېل په میاشت کي له افغانستان څخه ووت او د هیواد واک یې په

(c) ketabton.com: The Digital Library



بشپړه توګه امیر عبدالرحمن خان ته ورپرېښود، چا چي وروسته بېرته سیاسي یووالی ورته ورکړ، که څه هم له افغانستان څخه د انګرېزانو وتنه یوه لویه بریا وه، خو د عبدالرحمن خان سیاسي مجبوري نوموړی ودې ته اړ کړ، چي د پښتنو د تقسیم ناوړه شرط یې د انګلستان سره ومانه).[1]

مخکي مو وویل، چي غازي ایوب خان د هلمند او هرات پر خوا په شا ولاړ، خو په لاره کي خبر ورته راورسېد، چي د هرات ښار د امیرعبدالرحمن خان پلوی (سردار عبدالقدوس خان) نیولی دی، غازي ایوب خان د ایران (پارس) په لور تګ ته دوام ورکړ، له ده سره موجود ډېر کسان له دې امله چي په مشکل سره یې پالنه کېدای سوه، رخصت کړل، یوازې کابو (۱۲۰) تنه پلویان یې ایران ته ورسره ولاړل.

لوی غازي ایوب خان بارکزی په ایران کي له خپلو پلویانو سره اوسېده، په داسي حال کي چي د انګرېزانو سره یې نه پخلاکېدونکې دښمني درلوده، په افغانستان باندي د حملې کولو لپاره د فرصت په لټه په اصطلاح ورته په غرو رغو ګرځېده، انګرېزان هم د نوموړي له تصمیم څخه بې خبره نه وه، د انګرېزانو په لمسون د ایران حکومت، په غدر سره وغوښتل، چي غازي محمد ایوب خان ونیسي او هغه بیا انګرېزانو ته وسپاري، پدې منظور په مشهد کي ایراني حکمران د مېلمستیا په پلمه ایوب خان مشهد ته وروغوښت، د مېلمستیا په محفل کي یې ستر غازي ایوب خان او ورسره کسان بې وسلې کړل،

---

۱.پښتانه د تهذیب په څپو کي، ۳۵۱ مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



دغو ذلیلو، بې مروتو او غدارو ایرانیانو غازي ایوب خان ونیو او بندیوان یې انګرېزانو ته وسپاره.

انګرېزانو د غازي محمد ایوب خان له نیولو دوه مقصدونه درلودل:

۱. امیر عبدالرحمن خان ته د غازي ایوب خان غوندي د سلطنت یو دعوه لرونکی په لاس کي لرل، چي امیر عبدالرحمن خان تل د یوه لاس پوڅي په توګه وپرولی وساتي.

۲ـ د غازي ایوب خان په نیولو سره، د امیر عبدالرحمن خان د حکومت یو پیاوړی دښمن د افغانستان له سیاسي صحنې څخه ایستل، تر څو د امیر عبدالرحمن خان د حکومت عمر اوږد پاته سي.

غازي ایوب خان بارکزي هیڅکله د انګرېزانو مرامونو ته ځان تسلیم نکړ، په هندوستان کي دده د ژوند یو پاته یادګار همدا دی، چي انګرېزانو له ده سره ښه رویه درلوده، خو ملي اتل ایوب خان د هغې کرکي له مخي چي له انګرېزانو سره یې درلوده، په لاس به یې روغبړ نه ورسره کاوه او که کوم انګرېز ته په لاس ورکولو اړ سو، نو سمدلاسه به یې خپل لاس پرېولی.[1]

د افغانستان دا نومیالی بچی د ژوند تر پایه په لاهور او راولپنډۍ کي د جلا وطنۍ په حال شپې ورځې تېرولې، بالاخره دغه نومیالی غازي د (۱۹۱۴ ز) کال د اپرېل په (۱۷) نېټه لاهور کي د (۵۷) کلنۍ په عمر وفات او د خپل وصیت له مخي چي ویلي یې وه، د افغان په خاوره کې باید ښخ سي، د پېښور ښار د (سید حبیب) په هدیره کي خاورو ته وسپارل سو.

۱. ستر جنرال ګلزرک ځدران، د افغانستان تاریخ، ۴۲۱ مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



غازي ایوب خان په بېلا بېلو نومونو یاد سوی دی، لکه انګرېزانو د میوند فاتح او افغان شهزاده چارلي یاد کړی او افغان ولس ورته، د افغانستان ملي اتل، سردار، جنرال، غازي، مجاهد او په نورو ډېرو نومونو تر اوسه د نړۍ په تاریخونو او زموږ په زړونو کي ځای لري.[1]

امیر عبدالرحمن خان د ایوب خان له صحنې څخه د لیري کولو وروسته په هڅه کي سو، چي د افغانستان داخلي امنیت تأمین کړي، نو هغه و، چي د څو میاشتو په موده کي د کابل امنیت تأمین او د افغانستان نورو ښارونو ته یې پاملرنه وکړه، په ډېر لږ وخت کي یې خپل مخالفین له منځه یوړل، هغوي یې بندیان او یا تېښتي ته مجبور کړل.

انګرېزانو هم دده سره مرستي کولې، په ډېر ژر تول ښورښیان لکه د غزني غلجیان او د منځني افغانستان هزاره ګان د ځان تابع کړل، د سپه سالار جنرال غلام حیدر خان چرخي په واسطه یې د هیواد تولي هغه برخي چي افغاني دولت له لاسه وتلي وې، تر لاسه کړې.

همدا رنګه یې ډېر بغاوتونه وځپل، په کافرستان کي یې د اسلام دین خپور کړ او هغه ځای یې د نورستان په نامه وباله.(۹۵ ۱۸۹۶- ز)

---

۱.http://ps.wikipedia.org/wiki

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د امیر د مهال مهمي جګړې عبارت دي له:

له ایوب خان سره جګړه (۱۸۸۷ز) د تره کو بغاوت (۱۸۸۲ز) د شینوارو پاڅون (۱۸۹۲ز) د محمد اسحق بنوربښ (۱۸۸۸ز) د هزاره جاتو نیول (۹۱-۱۸۹۳ز) او داسي نور...

امیر په هیواد کي د جاسوسۍ دایره جوړه او قوي کړه، تکړه قاضیان یې مقرر کړل، د پُستې دفترونه یې خلاص کړل، شرعي محکمې یې بېرته خلاصي کړې، د کابل شاهي مدرسه کي یې دیني عالمان مقرر کړل، د مالیې دفترونه یې خلاص کړل، د لارو غله یې له منځه یووړل، پولي واحد یې غوره کړ، چي په کابل کي به چاپېده.

د بهرنیو هیوادونو څخه یې ځیني ماشینونه راوړل لکه: د مسکوکاتو د ضرب ماشین، د ټوپک جوړوني ماشین، د مرمۍ جوړوني ماشین، د بوټ او خیمې جوړوني ماشینونه، د بخار دستګاه، د پښس سامان، د صابون جوړوني ماشینونه، د باروتو ماشین، د وریښمو او بدلو ماشین او مطبوعاتي سامانونه.[1]

په (۱۸۸۵ز) کال کي هغه مهال چي امیر عبدالرحمن خان د هند د وایسرای سره په راولپنډۍ کي په سیاسي مذاکراتو مصروف و، روسانو پنجده ونیوله او درې سوه افغاني عسکر او د هغو افسر یې قتل کړل او لویه فاجعه یې منځته راوستله، خو د انګرېز ناځواني دا وه، چي افغانستان ته یې وعده ورکړې وه، چي روسان به نوره پیشقدمي ونه کړي، خو کله چي روسانو د پنجده سره پر پل خاتون یرغل وکړ، انګرېزان وتښتېدل او حتی د افغاني عسکرو سره یې هیڅ

۱.بشیر احمد ریان، د افغاني پاچاهانو لنډ ژوند لیک، ۱۱۸ مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



مرسته ونکړه، څو افغانان قتل عام سول او چا روسانو ته هیڅ ونه ویل.

په همدغو ورځو کي د انګرېز، روس او افغاني پلاوي خبري د شمال لوېدیځي پولي د کرښي ایستلو په هکله خبري رواني وې، چي روسانو د انګرېز د هیئت مشر (جنرال لمزدن) ته چي په سرخس کي اوسېده شکایت وکړ، چي افغانستان ډېري ترخي خبري کوي، هغه قاضي سعدالدین ته خبر ورکړ، خو هغه وویل دا یوه بهانه ده، ښایي روسان د یوې فاجعې په منځته راوستلو لاس پوري کړي.

پدې وخت کي د مرو حاکم (علي خانوف) له (۱۵۰) تنو سپرو سره یو بل روسي افسر هم له (۱۵۰) تنو سپرو سره په سیمه کي صندوق کمپنۍ ته راغلل، همدا رنګه شپږ زره روسان مرو ته راوستل سول، دا یو بشپړ تهدید د افغاني قوماندان (جنرال غوث الدین) پر له پسې د وضع د حساسیت په نسبت علي خانوف ته لیکونه واستول، خو هغه غوږونه کاڼه واچول.

د (۱۸۸۵ز) کال په مارچ کي وضعیت دومره وخیم سو، چي د انګلستان ټولواکمني (ویکتوریا) د روسیې امپراطور (درېیم تزار الکساندر) ته ټلګراف وکړ او ورته یې ولیکل، چي د افغان او روسي عسکرو د جګړې په مخنیوي کي د خپل نفوذ څخه کار واخلي، د مارچ په (۱۶) نېټه د لندن اخبارو او مالفو ګوندونو د (ګلاډستون) حکومت وغنده، چي د روسانو د فاجعې مخه نه نیسي.

د مارچ په (۲۵) نېټه د جنرال (کامیرون) عسکرو په کشک کي افغاني عسکرو ته د سنګرونو د پرېښوولو امر وکړ، خو هغو دا امر ونه مانه او د مارچ په (۳۰) نېټه د روسي او افغاني عسکرو تر منځ

(c) ketabton.com: The Digital Library



جګړه پېښه سوه او انګرېزانو دا يو تجاوز وباله او د ګلاډ ستون صدراعظم د اپرېل په (۲۷) نېټه پارلمان ته وړانديز وکړ، چي يوولس ميليونه پونډه کرېډټ ورکول سي، چي له دغي جملې څخه شپږ نيم ميليونه د پنجدې د پېښي د لازمه ترتيباتو لپاره خرڅي سي، خو ګلاډ ستون وروسته خبري نرمي کړې او افغانستان يې د روسانو په حواله پرېښود، دا يوه داسي فاجعه وه، چي روسانو په ډېرو نفرو يرغل وکړ او د سترګو په رپ کي يې جنرال غوث الدين او افغاني محدود عسکر ټول قتل کړل، د انګرېزانو نامردي دا وه، چي وتښتېدل او د افغاني عسکرو باروت چي لانده سوي وه، له انګرېزانو څخه يې باروت وغوښتل، خو هغو ور نکړل، اخير دا چي انګرېزانو هم غوږونه مړه واچول او پنجده د افغانستان له لاسه ووتله.

انګرېزانو په چټکۍ په (۱۸۸۶ ز) کال کي ټول پښين او سيوۍ قبضه کړه او د کوږک د تونل د سوري کولو کار يې پيل کړ، څو په (۱۸۹۱ ز) کي تر دغه ټونل اورګاډی ووتله، امير عبدالرحمن خان په خپل فرمان د چمن سيمه انګرېزانو ته وسپارله، څو هغو هلته د اورګاډی سټېشن جوړ کړ.

انګرېزانو او روسانو د امير عبدالرحمن خان په دوره کي د افغانستان پر جنوب او شمال يرغلونه وکړل او د افغانستان ډېري ټوټې يې بېلي کړې، د انګرېز تر ځپېړې لاندي امير په دا ټولو حالاتو کي د تجاهل سياست مخي ته اچولی و او فقط وهلو او شکنجو ته يې ادامه ورکوله.[1]

---

۱.کاندید اکاډمېسن محمد ابراهیم عطایي، د افغانستان پر معاصر تاریخ یوه لنډه کتنه، ۱۳۳ مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د ډیورنډ تړون:

د برتانوي هند د بهرنیو چارو وزیر (مورټایمر ډیورنډ) پداسې حال کې چې شپږ تنه برتانوي افسرانو یې ملګرتیا کوله د (۱۸۹۳ ز) کال د اکتوبر د میاشتې په نیمایي کې د خیبر پر لار کابل ته ورسېده، ددې پلاوي له استولو څخه دمخه انګرېزانو د افغانستان په ختیځو سیمو کې حالات د پردې شاته د قومونو د راپارولو او لمسونونو له لارې دومره کړکېچن کړي وه، چې د قومونو تر منځ البته د پرنګیانو په ګټه، وینو تویېدلو دوام درلود، د دوی په لاس جوړه سوې دې لوبې کې اوس انګرېز غوښتل چې د مصلح رول ولوبوي او پدې لړ کې یې له یوه شمېر محلي (ملکانو، خوانینو او مذهبي) مشرانو څخه کار اخیست، د افغانستان په قبایلي سیمو کې انګرېزانو خپلو سرحدي لاسپوڅو او ځیره خورو ته اعلانونه خپاره کړي وه، چې که څوک د برتانیا حکومت ته د تابعیت لیک واستوي، نو تنخا به یې دوه برابره سي، کله چې امیر عبدالرحمن خان دا اعلانونه ولوستل، په ننګرهار کې یې د خپل اردو قوماندان ته ولیکل: [اگر انگلیس به فسانه و فسون و زرپاشی دربین ملت اسلام نفاق نمی انداخت چگونه میتوانست ممالک اسلامی و کشور هند را گرفته، از نهر سندهـ که سرحد ذاتی افغانستان است پیش امده پشاور و دیره جات و سندهر رابگیرد و اراضی افغانستان را با دولت افغانستان تقسیم نماید].

په کابل کې د مارټیمر ډیورنډ په مشري له انګرېزي هیئت سره سمدلاسه خبري پیل او څلوېښت ورځې یې دوام وکړ، نوموړي، امیر

(c) ketabton.com: The Digital Library



عبدالرحمن خان ته د څو تنو سرحدي ملکانو له خوا ليکونه او پيغامونه وړاندي کړل، چي پدې توګه يې غوښتل امير قانع کړي، چي د سوات، بونير او باجوړ خلک غواړي د برتانيا تر نفوذ لاندي سيمه کي ژوند وکړي، دې ته ورته رشوتونه، دسيسې او جعلي اسناد د ختيځ او جنوبي افغانستان په نورو سيمو کي هم وېشل سوي وه، ډيورنډ امير ته له هندوستان سره د پولي د ټاکلو وړانديز وکړ، پداسي حال کي چي انګرېزي پوځونو جلال آباد ته نږدې سنګرونه نيولي وه.[1]

د اميرعبدالرحمن خان او مارټيمر ډيورنډ تر منځ له ډېرو خبرو او مباحثو وروسته دواړو هغه تړون لاسليک کړ، چي د ډيورنډ په نامه ياديږي، انګرېزانو پدې معاهده کي د افغانستان موقعيت يوه قاطع بفر ته برابر کړ، چي د تړون لنډيز په لاندي ډول دی:

د ډيورنډ د معاهدې سواد

## د سرحد د تجديد په باره کي معاهده:

نېټه: د (۱۸۹۳ ز) کال د نوامبر (۱۲) نېټه چي له (۱۳۱۱) لمريز کال د جمادې الاول له (۲) نېټې سره سمون لري.

دغه معاهده د جناب اميرعبدالرحمن خان (I.S.C.G) د افغانستان او د هغه د ملقاتو امير له يوې خوا او سرهانري مارټيمر ډيورنډ (I.S.G.E.I.G) د هند د عاليه دولت فارين (بهرني) سکرتري او د عاليه دولت له خوا نائب او وکيل له بلي خوا لاسليک کوي.

۱.غلام محمد زرملوال، افغانستان تر وروستي افغانه، ۲۴۱ مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



له هغه ځایه چي د افغانستان د سرحد په نسبت د هند پر خوا ځیني مسئلې منځته راغلي او څنګه چي جناب امیر صاحب او هم د هند عالیه دولت دغو مسائلو د انفصال هیله او خواهش د دوستانه اتفاق له لاري لري او د خپل اقتدار او تسلط د دایرې د حدودو د تعین او تقرب هیله لري، تر څو چي د دواړو هم عهدو او هم پیمانو دولتونو تر منځ په دې امر کي د رایي او خیال هیڅ اختلاف په راتلونکي کي واقع نه سي، نو ددې لیکني په وسیله په لاندي ډول تړون کیږي.

۱.د جناب امیر صاحب د هیواد ختیځ او جنوبي حد په اوږدو کي له واخان څخه د ایران تر سرحده پوري په هغه خط کي چي پر نقشه باندي کښل سوی دی او ددې عهد لیک مل دی تاکل کیږي.

۲ـ د هند عالیه دولت د افغانستان په لور چي ددې خط په آخوا ملکونو کي واقع دی، هیڅ وخت به د مداخلې لاس ور ونه غزوي او امیر صاحب به هم د هندوستان په لور ددې خط په آخوا ملکونو کي هیڅکله لاسوهنه ونه کړي او لاس به وانچوي.

۳.د برتانیا عالي هیواد متعهد کیږي، چي جناب امیر صاحب دي اسمار او د هغه پورته ناوه چنکه (Chanaka) پوري به خپل لاس کي ولري او له بلي خوا امیر صاحب تعهد کوي، چي هیڅکله به سوات، باجوړ او چترال د ارنوي (Arnawai) په ناوې او باشګال (Bashigal) کي مداخله نه کوي او لاس به پکښې نه وهي، د برتانیا دولت هم تعهد کوي، چي د برمل ملک لکه څنګه چي په مفصله نقشه کي کښل سوی او مخکي جناب امیر صاحب ته ورکړل سوی دی، جناب امیر صاحب ته به پرېښوول سي او امیر صاحب د وزیرو او دوړو

(c) ketabton.com: The Digital Library



په پاته ملک کې له خپل ادعا څخه تېرېږي او هم د جاګی (چغی. Chagah) په نسبت له خپلې ادعا څخه صرف نظر کوي.

۴.د سرحد بندۍ دغه کرښه به وروسته له دې څخه په تفصیل سره وکښل سي او نښې به يې پر هر ځای کې چې ممکن وي د افغان او برتش د کمشنرانو په وسیله کښېښوول سي او د دغو کمشنرانو مقصد به دا وي، چې د يو او بل په اتفاق پر يو سرحد باندې موافقه وکړي او هغه پوله باید حتی الامکان به د هغې حد بندۍ مطابق وي، چې په دغه نقشه کې د دې تړون سره ملحقه ده، لیکن پولې ته نږدې د موجود کلیو محلي حقوق دې په نظر کې ونیول سي.

۵.د چمن د مسئلې په نسبت د نوي انګرېزي چاونۍ په باره کې جناب امیر صاحب د خپل اعتراض څخه تېرېږي او د سرکی لیږي (یا سرکۍ تیږې – Sorkai Taigai) په اوبو کې چې اخیستي يې دي، د برتانیا علیه دولت ته يې تسلیموي، په دې برخه کې د حد بندۍ سرحد به په لاندې ډول وکښل سي:

د حد بندۍ خط به (شاه کوتل) ته نږدې د خواجه عمران د غره له سره چې انګرېزي ملک ته نږدې دی داسې ځي، چې (مرغه چمن) او د (شیرو اوبه – Sharo Oba) چینه افغانستان ته پرېږدي او عدل د نوي چمن د کلا او افغاني تهانې تر منځ کیږي او له لښکر ډنډ څخه تېرېږي، وروسته له هغه د عدل دغه کرښه د رېل سټېښن (د اورګاډي تمځای) له منځه هغه غره ته چې په (میران بولدک) مشهور دی رسیږي او د جنوب خوا ته راګرځي، د خواجه عمران به د غرونو کې شاملېږي او د ګواشی (Gowashi) تهانه په انګرېزي ملک کې پرېږدي او هغه لار چې د ښوراوک او د ګوابنې په لور ورځي، د

(c) ketabton.com: The Digital Library



افغانستان په تعلق کي يې پرېږدي، د برتانيا دولت به په نوموړې لار کي تر نيم ميله پوري هيڅ لاسوهنه ونکړي.

۶.ددغي عهد نامې شرايط د برتانيا د عاليه دولت او د افغانستان جناب امير صاحب داسي بولي، چي دغه عهد ليک د پولي په نسبت د دوي په منځ کي د رايي او خيال درستو اختلافاتو خاطر بشپړه فيصله ده، د هند عاليه دولت او هم جناب امير صاحب دا په خپله غاړه اخلي، چي د جزوي اختلافاتو انفصال مثلاً هغه راز اختلافات چي په راتلونکي کي د پولي د نښه ايښوولو د مقرره افسرانو له خوا پرې غور او فکر کيږي، په دوستانه لاره به فيصله سي، تر څو چي په راتلونکي کي ددغو دوو دولتونو تر منځ تر وسه.وسه پوري د شک او شبهې او غلط فهمي درست اسباب له منځه ليري کړای سي.

۷ـ څنګه چي د هند عاليه دولت د برتانيا د دولت په نسبت د امير صاحب د نيک نيتۍ په هکله بشپړه ډاډينه لري او هيله لري، چي افغانستان د خپلواکۍ او خودمختارۍ په حالت کي ويني، نو ځکه د برتاينا دولت به د امير صاب له خوا د جګړې د اسبابو د رانيولو او خپل هيواد ته د هغو راوړلو په هکله هيڅ اعتراض ونه کړي او نوموړی هيواد به خپله د جګړې د اسبابو څه مرسته ورسره وکړي، سربېره پردې ددې لپاره چي د هند عاليه دولت د امير صاحب د هغه دوستانه رويې په نسبت چي په دې خبرو کي يې ښوولي دي، علاوه پر هغه (۱۲) لکه روپو چي کال په کال ورکول کيږي، په کال کي (۶) لکه روپۍ نوري هم زياتي کړي.

دا د ډيورنډ د معاهدې يوه خلاصه وه، خو د بين الدول د حقوقو له نظره په مشکل د معاهدې نوم ورته يادولی سو، د معاهدې يو جانب

(c) ketabton.com: The Digital Library



له دې څخه بشپړ څرګند دی، چې په متن کي پخپله انګرېز د امیر په نمائندګۍ خبري کوي، په هره ماده کي د جناب امیر صاحب جمله استعمالول دا معنی ورکوي، چې د امیر عبدالرحمن خان پر ځای یو بل څوک دده نظر او تعهد بیانوي.

ددغي معاهدې کار پوره دوه کاله وخت ونیو، د افغانستان له خوا (سپه سالار غلام حیدر خان څرخی د ننګرهار ولایت والي او نظامي قوماندان، سردار شیریندل خان د پکتیا والي، سردار ګل محمد خان د ارګون حاکم او محمد عمر نورزی فراهي) د امیر نمائندګان وه، د انګرېز له خوا (مسټر اونی کمشنر، مسټر دانلډ او مستر مکماهن) نمائندګي کوله.

د ډیورنډ کرښي تر لاسلیک وروسته په ټولو قبایلو مخصوصاً وزیرو او مسودو کي سخت ښورښ پیل سو، دوي له امیر څخه غوښتل، چې له انګرېز څخه مو خلاص او په افغانستان پوري مو وتړه، خو امیر په دې بهانه چې تاسي زما په خوله نه کوی، له دې څخه ډډه کوله، چې دغه قومونه ځانته واخلي.[1]

بلي خواته د ډیورنډ د کرښي له په نښه کولو څخه د برتانیا بنسټیزه موخه دا وه، چې د ختیځ افغانستان په قبایلي سیمو کي د افغانستان د دولتي نفوذ د شته والي مخنیوی وکړي، ددې نفوذ د مخنیوي هدف دا نه و، چې د ورځنیو عادي تبادلې او راسه درسه، لکه د سوداګرۍ او ټولنیزو مراسمو په سرته رسولو کي خنډ وګرځي، بلکې مقصد یې دا و، چې له خپل مورني ټاټوبي څخه قبایلي سیمي بېل کړي او پدې

۱.کاندید اکاډمېسن محمد ابراهیم عطایي، د افغانستان پر معاصر تاریخ یوه لنډه کتنه، ۱۳۷ مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



توګه د برتانوي حکومت پر ضد د مقاومت او وسلوالو عملیاتو مخه ونیسي، دا سیمه د یوې (نا خاونده سیمي) په توګه د افغانستان او برتانوي هند تر منځ د بیلتون د کرښي (Buffer – حائل) په حیث د استعمال لپاره په نظر کي وه، پدې اړه د تبصرې په ترڅ کي امریکایي لیکوال (لویي دوپري) په خپل کتاب (افغانستان) کي لیکي: (د امیر عبدالرحمن خان له هغو کلماتو څخه چي اظهار کړي یې دي او په خوله یې ویلي دي، کېدای سي سري دې پایلي ته ورسیږي، چي د افغان امیر لپاره د (۱۸۹۳ ز) کال تړون قانع کوونکی و، مګر د نوموړي د ژوندلیک او اسنادو له لوستو څخه وروسته دا سي څرګندیږي، چي نوموړی د (ډیورنډ لاین) د دایمي پولي په توګه نه مني).

امیر عبدالرحمن خان پخپله هم په وار – وار پدې خبره ټینګار کړی دی، چي دا لیکه نړیواله پوله نه ده، بلکې د دواړو دولتونو (افغانستان او هند) د نفوذ د سیمي د ټاکلو لپاره کښل سوې ده.

ډاکټر حسن کاکړ په مستندو شواهدو سره دا حقیقت څرګند کړی دی، چي امیر په نوموړي تړون کي دا جمله چي (له خپلو ادعاګانو څخه تېر یم)، نه ده لیکلې، تاریخي اسناد ددې حقیقت ښکارندوی دي، چي حتی ډیورنډ پخپله هم له هندوستان سره د افغاني سیمو د تړلو خیال نه درلود، بلکې غوښتل یې چي هغه یې د نفوذ ساحه وي.

برتانوي معاصر تاریخپوه (پرسي سایکس) لیکي، چي (انګرېزي دیپلومات "ډیورنډ" دا سي وړاندیز نه و کړی، چي ګوندي د هندوستان اداري پوله وړاندي وغځوي، بلکې دا کار یې محض د سیاسي کنترول موندلو لپاره کړی و).

(c) ketabton.com: The Digital Library



د کاغذ پر مخ ددې خيالي ناندريزي کرښې د کښلو له نېټې څخه راپدېخوا نوري څېړنې تر سره سوي دي، چې دداسي څېړنو اکثره يې د نړيوالي پولي په حيث ددې کرښې ناقانونيت ثابتوي، دداسي څېړنو په ډله کي د هولديچ (۱۹۰۱ - ۱۹۱۰ ز) او بارتين (۱۹۳۹ ز) څېړنې خورا مهمې او د ژور غور وړ دي، چې د لويي دوپري په کتاب (افغانستان) کي يې بشپړه يادونه سوې ده.

لندن هيڅ پدې عقيده نه و، چې د ډيورنډ تړون يو نړيوال منل سوى سند و او يا دا چې د ډيورنډ لاين د افغانستان او هند تر منځ بين المللي پوله وه، د ډيورنډ موافقه يوه داسي موافقه وه، چې د هغې په توګه د برتانيا د حکومت او امير تر منځ د نفوذ سيمي بېلي کړي.

اولف کيرو په خپل کتاب پټهان کي ليکي: (دا رښتيا ده، چې د ډيورنډ تړون کي، دې کرښې ته د هندوستان پوله نه ده ويل سوې، مګر د امير د ډومينيون کرښه ده، چې د هغې شا ته به هيڅ لورى د لاسوهني حق نه لري).

په همدې ډول فريرز ټايټلر يادونه کوي، چې د ډيورنډ کرښه له ايتنوګرافي، ستراتيژي او جغرافيايي نظره بې منطقه کرښه ده، هغه د اباسين د اوبه خور اساسي کاسه پرېکوي، يو ملت په دوو برخو وېشي او حتى قومونه سره بېلوي.

پدې توګه د ډيورنډ لاين د افغانانو پر ضد او مقابل کي د پرنګي انګرېز د کرکي ځلى دى، د کاغد پر مخ باندي د هغې د کښلو څخه راپدېخوا دا کرښه يو واهي مفهوم پاته سوې او په عمل کي يې هيڅ

(c) ketabton.com: The Digital Library



وخت دا ولس چې په تاریخ، دین، ژبه او دودونو کې سره یو او د یوه بابا اولاد دی، له یوه بل څخه بېل کړی نه دی او نه به یې بېل کړي.[1]

د ډیورند له تړون څخه یو کال وروسته (۱۸۹۴ ز) کې د انګرېز مشهور سیاست مدار (لارډ کرزن) د انګلیس د پارلمان د وکیل په حیث د یوې عریضې له لارې له امیر عبدالرحمن خان سره اړیکه ونیوله او اجازه یې وغوښتل چې افغانستان ته راسي، امیر هم اجازه ورکړه، کرزن د نوموړي کال د نوامبر د میاشتې په (۴) نېټه کابل ته راورسېد، دلته یې له امیر سره خبرې وکړې او له امیر څخه یې وغوښتل، چې د چمن له لارې د کندهار تر داخل پورې او په مشرقي کې تر ډکې پورې د اورګاډي د لین او ټلګراف د لین سره موافقه وکړي، خو امیر د کرزن ټولې غوښتنې ورد کړې، کرزن د روسیې سره د افغانستان د مخامخ کېدو په صورت کې د قواو راستول پېشنهاد کړل، مګر امیر ورته وویل، چې په جګړه کې موږ عسکرو ته اړتیا نه لرو، خو د پیسو او وسلو مرستې قبلوو.

پدې پسې په دا بل کال (۱۸۹۵ ز) کې د برتانیا ټولواکمنې (ویکتوریا) په نامه د انګرېز دولت، امیر عبدالرحمن خان ته بلنه ورکړه، چې لندن ته ورسي، مګر امیر تمارض وکړ او خپل پر ځای یې زوی (سردار نصرالله خان) ورواستاوه، امیر هیله درلوده، چې د افغانستان سفارت د هند پر ځای په لندن کې وي.

امیر عبدالرحمن خان خپل زوی ته یو لارښود لیک (هدایتنامه) ورکړ، چې د هغه په دېرشمه ماده کې یې لیکلي وه: (کله چې د انګرېز

۱.غلام محمد زرملوال، افغانستان تر وروستي افغانه، لومړی ټوک، ۲۴۳ مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



له ملکې څخه رارخصتېږي، نو ملکې ته وو ایه، چي حضرت قبله مي یوه غوښتنه کړې، چي د سرکار والا له خوا یو تن په لندن کي مقرر سي، چي هر وخت د ملکې او شهزادګانو په سترګو لیدلي احوال مې پلار ته ولېږي او د هغه لیکونه دلته راورسوي).

سردار نصرالله خان په (۱۸۹۵ز - ۱۳۱۲لمریز) لندن ته ولاړ او د (۲۱) توپونو په فیر سره یې تود هرکلی وسو، له ملکې سره یې وکتل، نوموړي په رسمي بلنو کي ګډون وکړ او ملکې ته وویل، پلار مي غوښتل چي راسي، مګر صحت یې نه و جوړ، ملکې د امیر د صحت په هکله وپوښتل، مګر د امیر هغه غوښتنه یې ونه منله، چي د نوموړي یو نمائنده دي په لندن کي وي.[1]

سردار نصرالله خان خالي لاس افغانستان ته راستون سو او پلار ته یې ټول جریان وو ایه، تر هغه وروسته امیر پوه سو، چي د انګرېز پر دوستۍ یې باید باور ونه وای کړی، نوموړي پر انګرېز دا ملامتي ویله، چي هغوي ځوانمردي نه لري او د خپل قول پابنده نه دي، خو پدې نه پوهېده، چي د استعمار په قاموس کي دا هسي کلمې ځای نه لري.

د امیر د ژوند د وروستیو کلونو سیاسي تلاشونه ټول بې پایلي وه، نو د ژوند وروستي ورځي یې په ناراضۍ کي تېري سوې.

امیر عبدالرحمن خان پس له تقریباً (۲۱) کالو پاچهۍ څخه وروسته د (۷۱) کالو په عمر د (۱۹۰۱ز) کال د اکتوبر په لومړۍ ورځ د نقرس په ناروغۍ له دې نړۍ څخه سترګي پټې کړې.[2]

---

۱.میر غلام محمد غبار، افغانستان در مسیر تاریخ، ۷۲۶ مخ

۲.کاندید اکاډمېسن محمد ابراهیم عطایي، د افغانستان پر معاصر تاریخ یوه لنډه کتنه، ۱۴۰ مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د امیر حبیب الله خان پاچاهي:

د امیر عبدالرحمن خان هلمندي له مړینې وروسته دده مشر زوی سردار حبیب الله خان د افغانستان د واکمن په حیث وټاکل سو،[1] د پخواني دستور پر خلاف له امیر عبدالرحمن خان بارکزي څخه د هغه مشر زوی سردار حبیب الله خان ته د سلطنت او واکمنۍ لېږد، ډېر خاموشه او پرته له ږغو ږوغ تر سره سو، ځکه له یو پې خوا تېر سوی امیر د خپلې واکمنۍ په دوره کي خپل مشر زوی یې د هیواد په چارو کي شریک کړی او روزلی و او بې له دې چي په رسمي توګه یې د ولیعهدۍ اعلان وکړي د دولت ارکانو او مشرانو ته یې ورپېژندلی و، له بلې خوا هغه د تېرو امیرانو له دود څخه چي د ولایتونو حکومتونه یې خپلو زامنو ته سپارل، چي دا په غیر مستقیمه بڼه د هیواد یو ډول وېشل وه او کورنۍ جګړو ته یې لاره هواروله، ځان ژغورلی و.

لکه چي مخکي وویل سول امیر د (۱۹۰۱ ز) کال د اکتوبر په لومړۍ نېټه په کابل کي وفات سو او وروسته له دې چي شهزادګانو، د دولت لوړ پوړو چارواکو او پوځي مشرانو د هغه د مشر زوی په ځایناستي توافق سره وکړ، نو د پخواني امیر مړینه یې د نوي امیر له امارت سره یو ځای اعلان کړه، څنګه چي کومه شخړه او اختلاف رامنځته نسو، نو ځکه په لومړي ځل د افغانستان په دولتي تاریخ کي دا کار پرته له جګړې او وینې توئېدو تر سره سو.

۱.ستر جنرال ګلزرک ځدران، د افغانستان تاریخ، ۴۴۴ مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



امیر حبیب الله خان د (۱۸۷۲ ز) کال د جولای په (۲) نېټه په سمرقند کي زېږېدلی، لیک، لوست او د زمانې رایج علوم یې له تکړه او لایقو استادانو زده کړي وه او لکه چي د هغه له قلمي یادښتونو څرګندېږي د خپلي زمانې د عمومي کچي د علم په تناسب د ښه سواد خاوند شمېرل کېده.[1]

حبیب الله خان د خپل پلار د خاصیت برعکس یو معتدل شخص و، دده په وخت کي نسبي امنیت موجود و، نوموړي د افغانستان د ټولو لویو ښارونو لیدنه وکړه، ده به خپل ځان ته د خپلواک پاچا خطاب کاوه، خو په سیاسي پالیسۍ کي د خپل پلار د تړونونو له مخي د انګلیس سیاست ملاتړ و.[2]

امیر حبیب الله خان د خپلي واکمنۍ په لومړي سر کي انګرېزانو ته خبر ورکړ، چي دی د امیر مرحوم پر ځای د افغانستان واکدار سو، انګرېزانو هم مبارکي ورته وویله او ورته یې و لیکل چي اجازه راکړئ، چي یو انګرېزی پلاوی کابل ته درسي، تر څو پخواني تړونونه تائید کړي، ځوان امیر د هند د وایسرای (لارډ کرزن) لیک ته لنډ ځواب ورکړ او د پلاوي له رالېږلو څخه یې اغماض وکړ، صرف ورته وي لیکل چي هغه تړون چي زما مرحوم پلار د انګرېزانو سره کړی دی، تر کله چي انګرېز ته محترم وي، زه به هم ورته وفادار وي.

کرزن د لیکونو دا لړۍ اوږده کړه او په شپږم لیک کي یې امیر ته بلنه ورکړه، چي هند ته ورسي، خو امیر تمارض وکړ او په بل ځل کي کرزن اخطار ورکړ، چي که د پخوانیو تړونونو تجدید نظر ته حاضر نسي، نو

---

۱.میر محمد صدیق فرهنګ، افغانستان په وروستیو پینځو پېړیو کي، ۴۹۱ مخ
۲.ستر جنرال ګلزرک ځدران، د افغانستان تاریخ، ۴۴۴ مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



د انګرېزانو مستعمرې به هم بندي سي، امیر په دغه خبره دومره په غوصه سو، چې تر کله کرزن په هند کې و، ده هلته سفر ونه کړ.[1]

امیر حبیب الله خان په کورني چارو کې چې لومړی ګام واخیست، د هغو بې شمېره بندیانو په حال ځان خبرول وه، چې د هغه د پلار د سلطنت په دوره کې ورباندي زندانونه ډک سوي وه، ځوان امیر فرمان صادر کړ، د دې فرمان په اساس کوم بندیان چې ناحقه په محابسو کې دي، باید خوشي سي او د نورو بندیانو قضیه دې په هغه غونډه کې چې په خپله ده یې ریاست په غاړه درلود، مطرح سي، په پایله کې په زرګونو کسان چې زیات یې بې ګناه وه خوشي سول.

د امیر جبیب الله خان په دوره کې ړندول او د غوږونو پرېکول (پرته له شرعي مواردو) څخه ممنوع وګرځېدل او د دې پر ځای یې د بند بېلا بېلي سزاګاني وټاکلې او خپلو ځایناستو ته یې هم سپارښتنه وکړه، چې د غو غیر انساني او وحشیانه کړنو ته له بیا راګرځېدو څخه ډډه وکړي.[2]

حبیب الله خان هم د پلار په شان یو مطلق العنان پاچا و، ټولې دولتي او حکومتي چارې د نوموړي په واک کې وې، د خپلو کورنۍ او قبیلې کسانو ته په هر وصف او کیفیت به چې وه، په قدر قایل و، دده په وخت کې ډېر هغه کسان چې د امیر عبدالرحمن خان په دوره کې له وطن څخه په وتلو مجبور سوي وه، بېرته ستانه سول، د نوموړي په وخت کې د نوي معارف لومړنی بنسټ د (حبیبیه) د ښوونځي په نوم کښېښوول سو، شاهي مدرسه او حربي ښوونځی یې جوړه کړه، د سراج

---

۱.کاندید اکاډمېسن محمد ابراهیم عطایي، د افغانستان پر معاصر تاریخ یوه لنډه کتنه، ۱۴۵ مخ
۲.میر محمد صدیق فرهنګ، افغانستان په وروستیو پینځو پېړیو کې، ۴۹۲ مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



الاخبار په نوم یوې خپروني په خپرېدو پیل وکړ، پدې وخت کې د خپلواکۍ په لور د ولسونو راهڅونکي لیکوالان پیدا سول، په سراج الاخبار کې به یې مضمونونه خپرول او د نړۍ حالت به یې پکښې نشر ته سپارل،[1] همدارنګه د مېرمن اسماء له لوري د ارشاد النسوان اخبار او سراج الاطفال جریده هم د یادوني وړ ده.

امیر حبیب الله خان د (۱۹۰۵ز) کال د مارچ په (۲۱) نېټه له انګرېزانو سره د پلار (امیر عبدالرحمن خان) له خوا سوی تړون دوباره لاسلیک کړ، په (۱۹۰۶ز) کال د دسمبر په میاشت کې د انګرېزانو په دوهم ځل بلنه هند ته ولاړ او له دوو میاشتو او پنځو ورځو سفر وروسته بېرته وطن ته راستون سو.

د امیر د واکمنۍ په دوره کې لومړۍ نړېواله جګړه په (۱۹۱۴ز) کال کې پیل سوه، انګرېزانو ددې لپاره چې افغانستان ناپېیلی پاته سي، حبیب الله خان ته یو استازی راواستاوه او د تېرو ژمنو په وریادولو سره یې د بې طرفۍ غوښتنه ورڅخه وکړه، امیر یې غوښتنه ومنله او د عام دربار په وړاندې افغانستان یې ناپېیلی اعلان کړ.

د جرمني او ترکیې د حکومتونو له خوا د امیر څخه وغوښتل سول، چې پدې جګړه کې د انګرېزانو پر ضد د دوی سره ملګری سي، خو امیر د دوی نمائندګان لومړی ښه ونازول او بیا یې هغوی ته خپله بې طرفي وښووله.

نصرالله خان د امیر ورور او عنایت الله خان د امیر مشر زوی د ترکیې د حکومت او استازو ډېره پلوي کوله، هغوي غوښتل چې

---

۱.ستر جنرال ګلزرک ځدران، د افغانستان تاریخ، ۴۴۴ مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



حبیب الله خان له دې موقعې څخه ګټه واخلي او افغانستان خپلواک اعلان کړي، خو حبیب الله خان په دې تمه چي له جګړې وروسته به د ناپېيلو او خپلواکي بخښونکي مجلس غړی سي، له ژمني ماتولو څخه ډډه وکړه.[1]

## د امیر حبیب الله خان په دوره کي لاندي مهم کارونه وسول:

۱.په (۱۹۰۷ ز) کال د جبل السراج فابریکه ودان کړ او په همدغه کال یو تن جیولوجسټ له بهر څخه راوغوښتل سو، چي د قیمتي ډبرو، سروزرو، مسو، او سپني او د ډبرو سکرو معدنونه ولټوي

۲.په (۱۹۰۹ ز) کال د ملر کمپنۍ څخه په ممبی کي موټر اخیستل، ددې موټرانو تر راتګ مخکي د کابل د ښار د سړکانو ترمیم او له کابل سره د ننګرهار، لغمان، پروان، لوګر او غزني ښارونو نښلول

۳.په (۱۹۰۹ - ۱۹۱۰ ز) کلونو کي د د کابل ښار ټولو اداري ځانګو ته د ټلیفون مزي غزول او له هغه وروسته تر جلال آباد پوري وغزول سوې

۴.په (۱۹۱۰ ز) کال د کابل د یتیم خانې جوړول

۵.په (۱۹۱۱ ز) کال د کابل ملکي روغتونونه جوړول

۶ـ په (۱۹۱۳ ز) کال د لومړي ځل لپاره د وړین ټوکرانو د اوبدلو فابریکې بنسټ ایښوول.

همدارنګه یې د ځینو ودانیو د بنسټ ډبري هم ایښې دي، لکه په کابل کي د لکشاه ماڼۍ، ستوري ماڼۍ، قصر عین الامارت ماڼۍ، په

۱.بشیر احمد ریان، د افغاني پاچاهانو لنډ ژوند لیک، ۱۲۳ مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



لغمان کي قلع سراج، په جلال آباد کي سراج العمارات، په جبل سراج کي سراج الامصار او په هلمند کي نهر سراج.[1]

د امیر حبیب الله خان د واکمنۍ په وخت کي روڼ اندو نهضت (مشروطي نهضت) جوړ سو، ددې نهضت مشر مولوی محمد سرور واصف و، ددې ډلي هیله دا وه، چي افغانستان دي یو خپلواک هیواد سي، امیر په لومړي کي ددې ډلي سره مخالفت ونه ښود، خو د دربار چاپلوسانو او متملقینو هغه ته چوغلي کولې، څو امیر عصبي سو او د (۱۹۰۹ ز) کال په مارچ کي يې په جلال آباد کي د توپ او زندان امر صادر کړ، چي په هغه کي مولوی واصف د هغه ورور سعدالله او اکا عبدالقیوم یو ځای په توپ کي ورسره والوزول سول، همدارنګه کابلی لعل محمد خان، غوربندی جوهر شاه خان او محمد ایوب خان کندهاری هم هغه کسان وه، چي د توپ الوزولو مجازات ورکړل سول، خو بیا هم نهضت غلی نه سو او نوره یې هم وده وکړه، تردې چي د امیر حبیب الله خان ځوان زوی (امان الله خان) هم ددې ډلي غړی سو.[2]

حبیب الله خان هم د امیر عبدالرحمن خان په شان د انګرېزانو د ګټو ساتونکی و او د انګرېزانو لخوا حمایه کېده، دا مهال د خلکو له خوا د خپلواکۍ اخیستلو شعارونه پورته سول او د امیر له پالیسۍ سره یې د مخالفت څرګندونه کوله، همغه و، چي په (۱۹۱۹ ز) کال د فبرورۍ پر (۲۰) نېټه د لغمان ولایت په کله ګوش سیمه کي وویشتل سو او ځای پر ځای مړ سو.

---

۱.پوهندوی جان محمد پیغام، د شلمي پېړۍ لومړیو دریو لسیزو کي افغانستان د سیاسي او فرهنګي بهیر څېړنه، **۵۲** مخ

۲.کاندید اکاډمېسن محمد ابراهیم عطایي، د افغانستان پر معاصر تاریخ یوه لنډه کتنه، **۱۵۷** مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د ستر غازي امان الله خان پاچاهي:

امان الله خان بارکزی (هلمندی) په کال (۱۸۹۲ ز) د جون پر (۲) نېټه د کابل په پغمان کي وزېږېد، لومړنۍ زده کړې یې په شاهي دربار او نوري زده کړې په حربیه مدرسه (حربیه ښوونځی) کي تر سره کړې، په پوځي زده کړه کي یې ځانګړی استاد درلود، په (۱۲) کلنۍ کي عین الدوله ونومول سو، نوموړي ډېر زغم درلود، په ډېره صرېحه او څرګنده لهجه یې خبري کولې او کله به یې چي وینا کوله مقابل لوری به یې تر اغېز لاندي راووست، کله چي د امیرحبیب الله خان د پاچاهۍ په دوران کي روڼ اندو د مشروطیت غورځنګ جوړ کړ، نو امان الله خان د همدې غورځنګ په فعالیتونو کي هم بشپړه ونډه واخیسته.[1]

امان الله خان د پلار په دربار کي زیات محبوبیت او مینه وال درلودل، کله به چي امیر چیري په سفر ولاړ، نو د خپل عادت له مخي به یې خپل مشران زامن په نوبت سره ځایناستي ګرځول او کله به چي امان الله خان ته نوبت ورسېد، نو له درباریانو سره به یې خورا غوره او نېک چلند کاوه، له بندیانو سره به یې ډېره نرمي کوله او ان کله به یې پټ لیده کاته هم ورسره کول او پر پوځیانو به یې ځانګړی پام و، همدا لامل و، چي کله یې خپله پاچاهي اعلان کړه، نو په دربار کي له کومي ځانګړي ستونزي سره مخ نه سو.

په (۱۹۱۹ز) کال کي د فبرورۍ پر (۲۰) نېټه امیرحبیب الله خان د لغمان په کله ګوش کي ووژل سو، هغه وخت امان الله خان د پلار له

۱.بشیر احمد ریان، د افغاني پاچاهانو لنډ ژوند لیک، ۱۲۵ مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



خوا په کابل کې د والي په حیث دنده اجرا کوله، د کابل د پوځ او خزانې ټول واک دده په لاس کې و.

کوم وخت چې امیر حبیب الله خان وفات سو، نو ورور یې (نصرالله خان) او نور شهزادګان په جلال آباد کې د نصرالله خان په پلوی ودرېدل او د نوموړي امارت یې اعلان کړ، خو په اخیر کې اړ کړل سول، چې له امان الله خان سره بیعت وکړي.

امان الله خان بارکزی د پلار له مړینې وروسته په اوومه ورځ د فبرورۍ (۲۷) نېټه د عمر په (۲۷) کلنۍ د افغانستان پاچا وټاکل سو، نوموړی یو ځوان هیوادپال شخصیت و، چې د افغانستان د سمسورتیا او پرمختیا لپاره یې ډېري هلې ځلې وکړې، خو له بده مرغه چې د پرمختیا او سمسورتیا په لار کې ورته یوه مکار دښمن (انګرېز) کمین نیولی و او امان الله خان یې په دغه لار وړاندې تګ ته پرې‌نښود.

امان الله خان د خپل پلار د مرګ پر اوومه ورځ ملت ته په وینا کې داسې وویل:ـ (اې د افغانستان معظم ملته! ما د پلار د شهادت پر وخت د سلطنت وکالت په کابل کې پر غاړه درلود او اوس په هغه اصالت د امانت دروند بار متوکلاً او متعصماً پر غاړه اخلم، کله چې ستر ملت زما پر سر د پاچاهۍ جوغه کښېښووله، ما عهد وکړ، چې د افغانستان دولت به د نړۍ د نورو خپلواکو هیوادونو په څېر خپلواک او مستقل وي، د افغانستان خلک به د قانون تابع وي، بېګار او نور جبري کارونه به بند وي، دلته به ډېر اصلاحات راځي، چې هیواد په نړۍ کې خپل مناسب ځای ومومي، زه به د (شاورهم فی الامر) پر اساس د هیواد چارې اجراء کوم، تاسې به د خپل دین او هیواد په چارو

(c) ketabton.com: The Digital Library



کي ډېر هوښيار اوسئ او په بيدارۍ به وطن ساتئ، زه تاسو ټول اهل السلام او ټول بني نوع انسان ته خير او سعادت غواړم).[1]

امان الله خان په هم هغو ورځو کي چي پاچاهۍ يې اعلان کړه، سمدستي يې د ارګ له زندان څخه هغه ځوان راديکال روښانفکران (روڼ اندي) آزاد کړل، چي د اميرحبيب الله خان پر موټر د فير په قضيه کي بنديان سوي وه او دوي ته يې مهم اداري پوستونه وروسپارل.

هغه ځوان عناصر چي د عصري تعليم او تعلم له پلوه مجهز وه او د دوهمي مشروطي غړي بلل سوي دي، د کارونو په رأس کي ودرېدل او امان الله خان هم آزادي زميني ورته برابري کړې، امان الله خان پخپله يو زړور او وطن دوسته شخصيت و، ده د افغانستان د ودانۍ او پرمختيا لپاره ډېر فعاليتونه وکړل خو بدبختانه چي د هيواد په اړخ کي يې يو محيل دښمن انګرېز خنډونه ورته پيدا کول.

امان الله خان ته د پاچاهۍ په لاسته راوړلو او د هغه څخه وروسته ډېر خنډونه مخي ته راغلل، خو نوموړي په ډېره حوصله حل و فصل يې کړل، خپل د پلار (اميرحبيب الله خان) قاتلانو ته يې سزا ورکړه او په اخره کي يې د خپلواکۍ قصد وکړ.

وروسته تر هغه چي ځوان پاچا د ملت په نامه په خپله لومړۍ وينا کي افغانستان آزاد او خپلواک اعلان کړی و، نو د (۱۹۱۹ز) کال د مارچ پر (۳) نېټه يې برتانوي هند د وايسرای (لارډ چلمسفورډ) په نامه يو ليک واستاوه او په هغه کي يې نوموړي وايسرای ته د خپل شهيد پلار د مړيني او د خپلي پاچاهۍ خبر ورکړ او د ليک په پای کي

---

۱. http://ps.wikipedia.org/

(c) ketabton.com: The Digital Library



یې دې کلماتو انګرېزان فکر جن کړل :...نه باید د هغه ملګري څخه پټه وي چې د افغانستان مستقیل او آزاد حکومت ځان تیار بولي، چې هر وخت او هر موسم د دوستۍ د ایجاباتو سره تړونونه د انګرېز د حکومت سره عقد کړي، داسي کارونه به د سوداګري ګټهو په لار کي زموږ حکومت او ستاسو حکومت ته په ګټه وي...[1]

د (۱۹۱۹ز) کال د اپرېل د میاشتي (۱۳) نېټه چي د (۱۲۹۸ لمریز) کال د اسد له (۲۸) نېټې سره سمون لري، د افغانانو لپاره یوه ډېره تاریخي او له ارزښته ډکه ورځ ده، امان الله خان پدې ورځ د کابل په دربار کي یو مجلس راوغوښت، چي بهرنی دیپلومات، مشران، ملکي او نظامي اشخاصو پکښې ګډون درلود، په یادې نېټې د افغانستان نوی پاچا (شاه امان الله خان) افغانستان خپلواک اعلان کړ او پخپلي وینا کي یې داسي وویل: (زه ځان او خپل هیواد د کورني او بهرني لحاظه په بشپړه توګه آزاد او خپلواک اعلانوم، تر دې وروسته به زما مملکت لکه د نړۍ نور ممالک او قدرتونه خپلواک وي.

هیڅ یو قدرت ته به د سر د یو ویښته په اندازه اجازه ورنکړم، چي د افغانستان په کورني او بهرني چارو کي لاسوهنه او مداخله وکړي او که دغسي اقدام یې وکړ، سر به یې په همدغه توره ور غوځ کړم (په دغه وخت کي امیر لوڅه توره په کمربند پوري تړلې وه او ددغي جملې پر وخت یې هغه په لاس کي پورته کړه)، وروسته امان الله خان په دغه مجلس کي د انګرېز نمائنده (نجف علي) ته اشاره وکړه او وې ویل

---

۱.کاندید اکاډمېسن محمد ابراهیم عطایي، د افغانستان پر معاصر تاریخ یوه لنډه کتنه، ۱۷۰ مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



(ته پوه سوې؟ نمائنده په ډېر احترام او عزت سره په ځواب کې ورته وویل: هو زه پوه سوم).[۱]

امان الله خان خپلې دا خبرې په عمل پسې تعقیب کړې، بخارا ته یې سفیر مقرر کړ، د شوروي اتحاد سره یې اړیکې ونیولې او ایران ته یې د سفیر مقررولو لارښوونې صادر کړې.

د برتانوي هند وایسرای د ځوان امیر مکتوب ته یو سرسري ځواب ورکړ، ده په خپل مکتوب کې د حبیب الله خان مرګ هغه ته د یو دوست ضایعه وبلله او امان الله خان ته یې مبارکي وویل او بس.

امان الله خان دې ته ونه کتل، سمدستي د اداري اصلاحانو په لړ کې کابینه تشکیل کړه، چې په هغه کې یې محمود طرزي هلمندی بهرنیو چارو وزیر، عبدالقدوس خان یې صدراعظم او نور وزیران یې هم وټاکل.

د (۱۹۱۹ ز) کال د مې له پیل څخه امان الله خان په جنګي سوقیاتو پیل وکړ، ختیځې خوا ته یې جنرال صالح محمد خان، جنوبي خواته یې جنرال محمد نادر خان هلمندی او کندهار ته یې عبدلقدوس خان د وسله بندو قواو په مشرۍ واستول.

امیر د مې په لومړیو کې په یوه لویه غونډه کې د جهاد اعلان وکړ، چې که جهاد ته تیار یاست وسلې را واخلئ او خلکو هم امین پر وو ایه.[۲]

د مې د میاشتې له (۴) څخه بیا تر (۲۴) نېټې پورې ګډوډ جنګونه شروع وه، چې وروسته تر متفرقو جګړو د مې پر (۲۶) نېټه جنرال

۱.کاندید اکاډمېسن محمد اعظم سیستانی، دفاع از استقلال و شاه امان الله وجیبه ملی است، ۴۲ مخ
۲.کاندید اکاډمېسن محمد ابراهیم عطایي، د افغانستان پر معاصر تاریخ یوه لنډه کتنه، ۱۷۲ مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



محمد نادر خان هلمندی د لس زره ولسي او درې زره منظمو عسکرو او محدودو توپو سره د ټل پر نظامي کلا برید وکړ، انګرېزي عسکر کلک جنګېدل او هوايي بمبارد هم روان و، خو د انګرېز د قواو پښه هغه وخت وښوئېدله، چې قومي ملېشې ورڅخه بېلې سوې او څنګه چې د جګړې توان ورته پاته نه و، ځانونه یې تسلیم کړل او د انګرېز دې تسلمۍ یوه ولوله وپاڅوله، افغاني قواو د ټل کلا فتح کړه او د هغې له برج څخه یې د انګرېز بیرغ لاندې راوغورځاوه او د افغانستان بیرغ یې هلته پورته کړ، د ټل په فتح کوهاټ او پېښور هم تر تهدید لاندې سول، دا د افغان او انګرېز درېیمه جګړه وه.

پدې وخت کې انګرېز د متارکې غوښتنه وکړه او کابل هم ورسره ومنله، امیر امان الله خان افغاني قواو ته امر وکړ، چې د ډیورنډ د کرښې دې خواته راسي، کله چې هغه راپرشا سول، انګرېزي قواو بېرته هغه ځایونه ټول ونیول، چې افغاني قواو نیولي وه او پدې کې ټل هم شامل و، دا د کابل د حاکمیت یوه غټه اشتباه وه، البته پدې توګه یې په وروستیو خبرو کې چې د سولې لپاره کېدلې د انګرېز لاس اوچت کړ.

د هغه څخه وروسته چې انګرېزانو د سولې غوښتنه وکړه، پدغه لړ کې دوه واره مختلف افغاني پلاوي په راولپنډۍ او موسوري کې او یو ځل انګرېزی پلاوی په کابل کې ډېرې اوږدې خبرې سرته ورسولې، لومړۍ خبرې د والي علي احمد خان په ریاست د (۱۹۱۹ز) کال په جولای کې په راولپنډۍ کې پیل سوې، دوهم ځل خبرې د محمود طرزي هلمندي په مشرۍ د (۱۹۲۰ز) او بل په (۱۴) په میسوري کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



وسوې او دریېم ځل د انګرېز سیاسي سکرتر بېرته کابل ته راغی او دا خبرې د (۱۹۲۱ ز) کال د جنورۍ په پنځم پیل سوې.

د برتانوي هند ځخه د (۱۹۲۱ ز) کال د جنوري پر (۵) نېټه یو پلاوی د دابس په مشرۍ افغانستان ته راغی او د جنورۍ له (۲۰) نېټې څخه د دغه کال د دسمبر تر (۱) نېټې پوري ډېري اوږدې او ستري خبري وسوې.

دلته یو ځل بیا غازي امان الله خان هلمندي او محمود طرزي هلمندي د ډیپلوماسۍ یو بل شهکار پاملرنه جلبوي، هغه دا چې د انګرېز هیئت و دې ته حاضر کړي، چې د زړه له کومي د افغانستان خپلواکي ومني، نو د همدغه وخت سره چې د دابس خبري د افغاني هیئت سره په کابل کي رواني وې، هلته یې په ماسکو کي د فبرورۍ په (۲۸) نېټه د روسانو له نوي حکومت سره د دوستۍ تړون لاسلیک کړ، دا هم یو بل فشار و، چې پر انګرېز وارد سو او هغو په خپلو شرایطو کي دا خبره پسې زیاته کړه، چې که د افغانستان او برتانیا ترمنځ د دوستۍ معاهده کېږي، افغانستان به د روسیې سره د دوستۍ معاهده باطلوي، خو افغاني دیپلوماتانو پرې وخندل.

په نوامبر کي دابس له امان الله خان سره په پغمان کي وکتل، امیر په جدي لهجه ورته وویل: (مهرباني وکړئ هغه څه چې موږ غواړو او حق یې هم لرو تاسي یې راکړئ موږ به سمدستي له روسیې سره په ټولو اړیکو باندي نظر وکړو، خو تاسي تر اوسه لا افغانستان هغه د نولسمي پېړۍ په سترګو ګورئ).

د افغان او انګلیس ترمنځ د افغانستان د خپلواکۍ معاهده څو ځلي معطله سوه، بالاخره په (۱۴) مادو، د نوامبر پر (۲۲) نېټه په کال

(c) ketabton.com: The Digital Library



(۱۹۲۱ز) کي د محمود طرزي هلمندي او دابس له خوا لاسليک سوه او هم دابس په همدغه نېټه د سرحدي قبايلو په باب يو مکتوب د محمود طرزي هلمندي په عنوان صادر کړ.

په دې معاهده کي د افغانستان خپلواکي په رسميت وپېژندل سوې وه، خو د ستونزو د حل لپاره يې لاري لا پوره نه وې خلاصي کړي او همدا وجه وه چي کله د (۱۹۲۱ز) کال د دسمبر په (۱) نېټه اعليحضرت امير امان الله خان دغه معاهده د انګرېزي هيئت په وړاندي لاسليک کوله په وينا کي يې وويل: (دا تړون د افغانستان او انګرېز تر منځ د دوستۍ تړون نه دی، بلکې د حسن همجوارۍ تړون دی).[1]

دا وه د يو مېړني هلمندي افغان غازي کارنامه چي د وطن د خپلواکۍ لپاره يې سر او مال د دښمن تر چپاو لاندي راوست، مګر هيواد يې خپلواک کړ، له خپلواکۍ وروسته غازي امان الله خان د افغانستان په کورنيو چارو کي د اصلاحاتو لړۍ راپيل کړه.

د افغانستان د خپلواکۍ له لاسته راوړلو څخه وروسته سمدلاسه يې ديپلوماتيکي چاري جوړي کړې، له هر څه لومړۍ له ګاونډيانو او بيا د نړۍ له نورو هيوادونو سره د سفارتونو په سويه د اړيکو ټينګول يې وپټېيل، په همدې مناسبت د ولي محمد خان په مشرۍ پلاوی د شوروي اتحاد ته واستول سو، هلته له روسانو سره په سياسي اړيکو سربېره د ايران او ترکيې له سفارتونو سره د اړيکو له لاري په دې موافقه وسوه، چي ذکر سوي هيوادونه په افغانستان کي سفارتونه وپرانيزي او افغانستان هم په بالمقابل عمل اقدام وکړي، ياد پلاوی

---

۱.کانديد اکاډمېسن محمد ابراهيم عطايي، د افغانستان پر معاصر تاريخ يوه لنډه کتنه، ۱۷۴ مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



اروپایي هیوادونو ته په سفر ووت، تردې چې ترا امریکا پوري ورسېد، ددغو لویو وچو د سترو دولتونو په وړاندي یې د افغانستان خپلواکي تفهیم کړه او له اروپایي هیوادونو سره یې د سفارتونو د پرانیستلو په سویه موافقې ترلاسه کړې، پر دې سربېره تجارتي او فرهنګي موافقې هم له ځینو هیوادونو سره لاسلیک سولې، پدې ترتیب سره افغانستان کابو د یوې پېړۍ د انزوا له کنج راووت او د نړۍ د هیوادونو په کاروان پسې رهي سو.[1]

غازي امان الله خان د پاچاهۍ له پیل څخه د هغو ټولو کارونو اجراء تر لاس لاندي ونیوله، چې په خپله لومړۍ وینا کي یې ملت ته وعده ورکړې وه، د پاچا لوی مشاور او همکار (محمود طرزی هلمندی) رفورمونه په ډېر بصیرت فورمولبندي کړل او بیا یې په ترتیب سره پاچا پر هغه لار روان کړ، چې د هغه عصر رښتیانی غوښتنه وه، که څه هم د خپلواکۍ داعیه او د هغې کامیابه نتیجې د سیاسي رفورم سریزه برخه وه، خو فرهنګي رفورم د امان افغان د اخبار له خپرېدو سره چې د سراج الاخبار پر ځای یې لومړۍ ګڼه د (۱۹۱۹ز) کال د اپرېل پر (۱۲) د عبدالهادي داوي په مدیریت خپره سوه، دا د فرهنګ او عصري مطبوعاتو یوه هینداره وه، چې د ځوان افغان د دولت غوښتني او کړني یې منعکسولې، ددغه اخبار خپرونو په خلکو کي د معارف غوښتني یوه داسي ولوله راوپاروله، چې خلکو داوطلبانه اعانه دولت ته ورکوله او د ښوونځي تأسیس او معارف یې پخپله پر غاړه اخیستل.

---

۱.ستر جنرال ګلزرک ځدران، د افغانستان تاریخ، ۵۳۲ مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



کله چي د انګرېز سره د حساب تصفیه وسوه او افغانستان د هغې ورځې دوو ښکېلاککرو (انګرېز او روسیه) په رسمیت وپېژاند او دا د رسمیت پېژندني لړۍ په اروپا او اسیا کي پسې تعقیب سوه، نو د ځوان افغان دولت دې ته فارغه سو، چي د ټولنیز ژوند انه د نوي کولو لپاره په بېلا بېلو برخو او ساحو کي اصلاح راولي، د رفوم یا اصلاح ډېر مهم اړخ د قوانینو طرح او تطبیق و، چي د قانون تر حاکمیت لاندي یو قانونمند دولت منځته راسي.

د (۱۹۲۳ ز) کال د فبروري پر (۲۹) نېټه په جلال آباد کي د ملت د (۸۷۲) نمائندګانو په ګډون په لویه جرګه کي د افغانستان لومړی اساسي قانون تصویب او بیا د پغمان په لویه جرګه کي تائید سو، تر دغه اساسي قانون وړاندي چي یو شمیر قوانین تدوین سوي وه، هغه د اساسي قانون سره همږغي او ورپسې په مختلفو چارو کي د قوانینو د تدوین لړۍ په چټکۍ روانه سوه.

د فرهنګ په سطح کي معارف دومره پراختیا وموندله، چي حتی د پکتیا او خوست خلکو هم (۷) سوه زره افغانۍ اعانه دولت ته ورکړې، چي ښوونځۍ ور تأسیس کړي او په همدغه وخت کي په ګدېر، خوست، زرمت او ځمکنیو کي ځلور ښوونځي جوړ او زده کوونکو په زده کړه شروع وکړه.

په نورو ولایتونو کي هم د معارف سره مینه په ځپو کي وه، په کندهار او کابل کي هندوانو هم ښوونځي جوړ کړل او په وروستیو کي د مستوراتو ښوونځۍ هم تأسیس سوه، بهر ته د لوړو زده کړو لپاره هلکان او انجوني واستول سول.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د مطبوعاتو په برخه کي په لس ګونو جريدې او مجلې او د ارشاد النسوان په نامه هم يوه جريده خپرېده او په هر ولايت کي يوې جريدې خپروني کولې.

په اقتصادي برخه کي اصلاح په صنايعو له انکشاف سره پيوند سو او په بهرني سوداګري کي افغاني پيدا وار د نړۍ مارکېټونو ته لاره پيدا کړه.

په عمراني برخه کي نوي ښارونه جوړ سول، د کابل ښار له پخوا څخه څو چنده پراخ سو، د ولايتونو تر منځ لاري او سړکونه له سره جوړ سول او په لاره کي د مسافرينو د هوسايني لپاره هوټلونه په کار ولوېدل.

د ټليفون او ټليګراف لين د کابل او ولاياتو تر منځ وغزول سو او د يوې فرانسوي کمپنۍ سره د يوه قرارداد توافق وسو، چي د جنوب، شمال او کابل د اورګاډي لين وتړي، ددې اصلاحاتو په وړاندي انګرېزډېر خنډونه وخوځول، په (۱۹۲۴ز) کال کي يو سړی، چي عبدالکريم نومېده او ځان يې د پخواني پاچا (يعقوب خان) زوی باله، په خوست کي خلک تحريک کړل څو حکومت او خلکو هغه وشاړه.

په همدې توګه پخپله په خلکو کي هم نارضايتي وه، لکه چي ملا عبدالله او ملا عبدالرشيد په پکتيا کي راپورته سول او رفورم يې بدعت وباله، خو دا ټوله د هغه ځای د حاکم چي يو هندی او د انګرېز جاسوس و، خلک خطا ايستل او د حکومت پر ضد يې راولاړ کړل، رفورمونه خلکو ښه هر کلی کړل، خو په دربار کي د فتنې او فتور عناصرو فضا مسمومه کړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا یو ډېر دقیق او د جدي احتیاط مستلزم بحث دی، احساساتو او شخصي علاقمندیو ته باید ځای ورنه کړل سي، د سالمو او غیر سالمو رفورمونو (اصلاحاتو) تر منځ باید په تفکیک (بېلتون) کي د قضایاو مختلف ابعاد په نظر کي ونیول سي.

امیر امان الله خان چي د (۱۹۲۶ ز) کال د جون له (۷) نېټې څخه شاه امان الله سو، واقعاً یو وطن دوست پاچا و، خو د شهزادګي غرور هغه ته ډېره لږ اجازه ورکوله، چي د سالمو او په مسائلو کي د آګاه شخصیتونو مشورو ته غوږ ونیسي.

امان الله خان چي دا رفورمونه پیل کړل ټول خلک ورته خوشحاله وه، خو د دربار محافظه کار عناصر پدې خوښ نه وه، ځکه په دغو رفورمونو کي د دوي ګټې له خطر سره مخامخ کېدې.

د رفورم څخه د بدي استفادې زمینې ډېري زیاتي دي او حتی په یوه ساده او بې آزاره مسئله کي چي هغه ښوونځی وه، هم بده ګټنه کېدله، داسي چي د ښوونځی څخه (۳) یا (۴) کروه لیري هلکان به یې ښوونځي ته جلبول، چي هغوي به هلته د رسېدو توان نه درلود، نو ددغو هلکانو د معافولو په بدل کي به سرمعلم رشوت اخیست، یا به یې ځوان هلکان چي د کور، باغ او مځکي کار به ورپه غاړه و، د ښوونځي په نامه راکشول کېدل او بیا به یې په رشوت خوشي کول، پدې توګه یې خلک له معارف څخه خوا توري کړل.

د مثبتو رفورمونو په اړخ کي د غیر ضروري او حتی ځینو مضرو کارونو رواج هغه عوامل وه، چي رفورم او اماني دوره یې له بن بست سره مخامخ کړه، پدې کي شک نسته چي د کدرونو د روزني لپاره په بهر کي د محصلینو روزل یو ضروري کار و، خو د اروپا سره دومره په

(c) ketabton.com: The Digital Library



افراط عشق یوه لویه غلطي وه او دا یوه لوړه آرزو وه، چي خپله ټولنه په ظاهره د اروپا په شان جوړه کړي، خلک یې مجبورول چي دریشي واغوندي او شپو پر سر کړي، د ښځو له سره په زوره چادري غورځول دا یو غیر ضروري او مضر عمل و، که څه هم د پاچا آرزو بهدا نه وه، چي په دغسي رسوایي دا کارونه وسي، خو پخپله په دربار کي د پاچا حریفانو دا کار کاوه، چي د پاچا موقف کمزوره سي.

دا خو په داخل کي د رفورم د سقوط عوامل وه، په خارج کي وضع تردې ډېره درنه او خطرناکه وه، انګرېزیو منظم پلان طرح او تر تطبیق لاندي یې نیولی و، هغه هندیان (پنجاپیان) چي له پخوا څخه د انګرېز پټ رپورټچیان وه، په اماني دوره کي یې بیا هم پر کارونو حاکمیت او لویه تخریبي برخه درلوده، کله چي د اساسي قانون د انفاذ امر صادر سو، په پکتیا کي والي امیرالدین پنجاپی چي هندی و، په لوی محفل کي وویل اوس د شریعت وخت تېر سو، اوس د قانون وخت دی.

په مقابل کي انګرېزورو .ورو خپله نقشه تر کار لاندي ونیوله، ډاکټر غني پنجاپی او د هغه ورور مولوی نجف علی او نور هندوستاني ملایانو او په پای کي کرنیل لارنس د رفورم او شاه امان الله د سقوط سناریو تر عمل لاندي ونیوله، په عامه اذهانو کي یې امان الله خان کافر او د وطن رسم و رواج ته د یو دښمن په توګه معرفي کړ.[1]

د (۱۹۲۴ز) کال په لومړیو کي منګلو پاڅون وکړ، سربېره پر دې قبیلې د جنوبي ځینو نورو قبیلو لکه احمدزیو، ځاځیو او سلېمانخېلو

۱.کاندید اکاډمیسن محمد ابراهیم عطایي، د افغانستان پر معاصر تاریخ یوه لنډه کتنه، ۱۸۰ مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



هم ګډون درلود، چې د دغه کال تر پایه یې دوام وکړ، د دغه پاڅون بنسټګر (ملا عبدالله) چې په ګوډ ملا مشهور و او د هغه ملګری (ملا عبدالرشید) و، دوي د شاه پر خلاف د خلکو د راپارولو لپاره دیني موضوع، په ځانګړې توګه د جزا قانون چې نوی په محاکمو کې تر تطبیق لاندې نیول سوی و، پلمه کړ، په داسې حال کې چې په یوه لاس کې یې قرآن مجید او په بل لاس کې د جزا قانون نیولی و، له خلکو یې پوښتنه کوله، چې کوم یو منئ، څرګنده خبره ده، چې ده چې په دوي (نه یوائې په دوي پورې تړلو کسانو بلکې د افغانستان ټول ولس د قرآن کریم د منلو څرګندونه کوله، ځکه چې مسلمانان وه) د قرآن کریم د منلو څرګندونه کوله او بیا به دغه ملایانو، خلک د امان الله خان او د هغه د اصلاحاتو پر خلاف پاڅون ته راوبلل.[1]

غازي امان الله خان د جنوبي ولایتونو د آرامولو لپاره یوه لوا د (سور جنرال) په مشرۍ واستاوه، پاڅون کوونکي له ګردېز څخه ور تېر او د لوګر د ببداګ په دښته کې یې د جهان پناه په نوم لوا له تلفاتو سره مخامخ کړه، خو په پای کې شاه امان الله خان ملا عبدالله ونیو، هغه ته یې د مرګ سزا ورکړه او د پکتیا د قومونو سره یې د تفاهم له لارې روغه او جوړه راغله.[2]

د امان الله خان په دوره کې له (۱۹۲۱ ز) څخه تر (۱۹۲۴ ز) کال پورې د اصلاحاتو لومړی پړاو و، چې په ښه ډول عملي سو، خو د اصلاحاتو دوهم پړاو چې د اروپایي هیوادونو د سفر څخه وروسته په (۱۹۲۸ ز) کال کې پیل سو، خو عملي نسو او حتی د امان الله خان په سقوط او د

۱.میر محمد صدیق فرهنګ، افغانستان په وروستیو پینځو پېړیو کې، ۵۷۵ مخ
۲.ستر جنرال ګلزرک ځدران، د افغانستان تاریخ، ۵۳۳ مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



افغانانو په ستره تاریخي بدبختۍ ختم سو، چي په راتلونکو پاڼو کي به پرې بحث وکړو.[1]

امان الله خان په کال (۱۹۲۵ ز) کي کندهار ته سفر وکړ، د خپل (۳۵) ورځني سفر په ترڅ کي پخپله ښوونځيو ته ولاړ، د ښوونکو تعليمي سويه يې وکتله، له شاګردانو څخه يې پوښتني وکړې، د حاضرۍ کتابونه يې وکتل، د دايمي غير حاضرانو په باره کي، چي شمېر يې (۱۸۹) تنو ته رسېده، له حکومتي مامورينو څخه تحقيقات وکړل، شاګردان او د هغوي مشران يې ور وغوښتل او د شاګردانو مشران يې پنځه – پنځه افغانۍ جريمه کړل، هغوي ته يې د ښوونځيو د تأسيسولو او عصري تعليم و تربيې د موخو او ګټو په هکله مفصله وينا وکړه او دا يې هم ورته وويل، چي که په راتلونکي کي د هغوي اولادونه ښوونځيو ته حاضر نسي، نو دوي ته به سختې سزاوي ورکړي.

شاه امان الله خان کندهار ته د خپل سفر په ترڅ کي تقريباً هره ورځ له سلګونو او حتی زرګونو خلکو سره ناستي درلودې، د جمعې د لمونځونو امامت يې پخپله کاوه او په وينا کي يې د نورو ملي مسائلو تر څنګ پر عصري ښووني او روزني باندي، چي د هري ټولني د پرمختګ اساس دی، هر وخت ټينګار کاوه، هغه په خپله يوه وينا کي وويل، چي ځيني ملايان او سپين ږيري په پټو سترګو او پرته له دې چي زموږ د ښوونځيو په پروګرام ځانونه خبر کړي وي، هغه چټي او بې ځايه بولي.

۱.عتيق پاڅون، مرور کوتاهی بر تاريخ افغانستان و قضيه پشتونستان، ۲۲۰ مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



اعلیحضرت امان الله خان د هیواد د سختو مالي ستونزو سره – سره د ښوونې او روزنې خواته ډېره زیاته توجه واړوله، ځکه نوموړی پدې پوهېده، چې د هغه د پراخو اصلاحاتو لپاره پوهو او تعلیم یافته کسانو ته ضرورت لري، هغه ښوونه او روزنه جبري کړه او په عامو ځایونو کې یې اعلانونه وکړل، چې ټول خلک مجبور دي، چې خپل ماشومان ښوونځي ته واستوي او حکومتي مامورینو ته یې خبرداری ورکړ، چې که خپل ماشومان په ښوونځي کې داخل نه کړي، نو ښایي جریمه سي او هم له دندې څخه به ګوښه کړای سي.

امان الله خان د ملایانو او حضرتانو د پروپاګندو او تبلیغاتو په خلاف، چې ویل یې امیر د هغوي ماشومان بهر ته استوي او هغوي په بهرنیو هیوادونو کې کافران کوي، بهر ته د لېږل کېدونکو شاګردانو ټول کړه وړه تر سختې څارنې لاندې نیول، کله چې به شاګردان بهر ته استول کېدل، هغوي مجبور وه، دا ژمنه وکړي، چې روژه به نیسي، لمونځونه به کوي او د مسلمانانو په ټولو اخترونو او مقدسو مراسمو کې به برخه اخلي، کله چې عیسوي شاګردان کلیسا ته ځي او هلته د خپل انجیل په لوستلو لګیا سي، نو افغاني شاګردان باید د خپلې عقیدې د غښتلي کولو لپاره قرآن شریف ولولي، شاګردانو ته ویل کېدل، چې د خوراک او څښاک په وخت کې د قرآن کریم احکام په کلکه رعایت کړي، شاګردان د نڅا کولو ، د غیر اخلاقي نمایشونو د ننداره کولو او له ښځو سره د اړیکو د ساتلو څخه منع وه، که هر شاګرد له دغو مقرراتو څخه سرغړونه کړې وای، هغه بېرته هیواد ته راغوښتل کېده، د شاګردانو د کړو وړو د څارلو لپاره، له هرې وړې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډلګۍ سره یو تن استول کېده او هغه به وخت په وخت مقاماتو ته خپل رپوټ ورکاوه.[۱]

په (۱۹۲۶ز) کال کې شاه امان الله خان یوه نوي نوبښت ته مخه کړه، هغه دا چې د افغاني روپۍ پر ځای یې نوې پیسه چې افغانۍ نومېده راویسته.[۲]

د (۱۹۲۷ز) کال په وروستیو میاشتو کې چې د هیواد سیاسي فضا کافي اندازه مکدره او د دولت د اداري فساد څخه غمجن حالت د هر کور دروازه ور ټکولې وه، نهضت غوښتونکی پاچا اراده وکړه، چې بهر ته سفر وکړي، امان الله خان د خپلو سفري ملګرو په برخه کې ښه انتخاب کړی و، ملکه ثریا (شاه خانمه) یې هم له ځینو ښځو سره بېولې وه، ده البته دا کار د احتیاط له مخې کړی و، چې دلته بیا متعصب قشرونه پسې ونه وایي چې د پرنګیانو ښځو سره یې مېلې کولې، خو محیل دښمن چې ورته په کمین کې و، د ملکې له تګ څخه یې دده پر ضد ډېر خطرناک کار واخیست.

د امان الله خان دا سفر د (۱۹۲۷ز) کال په دسمبر کې پیل او د (۱۹۲۸ز) کال تر جولای پورې یې دوام وکړ، نوموړی هند، مصر، ایټالیا، فرانسه، بلجیم، آلمان، انګلستان، شوروي اتحاد (روسیه)، ترکیه او ایران ته ولاړ، چې پدې هر هیواد کې یې ډېر درونډ هر کلی وسو، ده په خپل دغه سفر کې نه یوازې د افغانستان لپاره تبلیغات وکړل، بلکې استعمار یې هر ځای وټکاوه.

---

۱.عبدالباري جهاني مقاله، د اعلیحضرت امان الله خان اصلاحات او سقوط، افغان جرمن آنلاین، ۲مخ
۲.لوډویک اډامیک، د شلمې پېړۍ تر نیمایي د افغانستان د بهرنیو اړیکو تاریخ، ۲۵۷ مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



په ترکیه کي د مصطفی کمال اتا تُرک او په ایران کي یې د رضا شاه سره ډېري اوږدې خبري وکړې، شاه امان الله په دغه سفر کي د افغانستان لپاره خورا ډېري فابریکې او د صنعت سامان رانیول او کوربه هیوادونو ددغه ځوان او اتل پاچا چي په آسیا کي د انګرېز سر ور ټیټ کړی و، خورا زیات عزت کاوه او ډېر امتیازات یې ورکول، خو انګرېز سخت پرله تاوېده او په هم هغه وخت کي چي پاچا لا په خارج کي و، دلته یې په داخل کي د اور پیلوزی ورته کښېښوول.

امان الله خان خاین او بې حسابه پاچا نه و، دی لومړی پاچا و، چي ملت ته یې د خپل سفر د مصرف راپور ورکړ.

پدې سفر کي مصرف او عواید داسي وه:

لومړی. مصرف: مېلمستیاوي، اعاني ښاروالیو او روغتونونو ته، د غریبو افغانانو سره مرسته، ډالۍ، د هوټل خرڅونه، د هوټل کرایه او نور ټوله جیب خرڅونه نولس لکه او یو پنځوس زره افغانۍ.

دوهم. عایدات: سوغاتونه، ډالۍ او بخششونه، یو سلو اته ویشت لکه او اته اتیا زره افغانۍ.

امان الله خان په سلګونو ماشینونه، فابریکې، عمراني، طبي او نظامي سامانونه فرمایش کړل چي ځیني د اماني دورې تر سقوط وروسته ورک یا د بدرګه افغانانو تر استفادې لاندې راغلل.

انګرېز خپل قوي جاسوسان قبایلو او حتی ښارونو ته ننه ایستلي وه، دا آوازې هره ورځ خپرېدې چي پاچا په بهر کي مسلماني پرې ایښې او هره ورځ کلیسا ته ورځي.

په خاینانه طریقه د ملکې موتتاژ سوي عکسونه په قبایلو کي تیتېدل، سر به د ملکې و او هغه به د یوې اروپایي لوڅي ښځي په بدن

(c) ketabton.com: The Digital Library



پوري نصب سوی و او یو قبیلوي سړی په مشکل پوهولی سوای چي دا ساختګي دی.

اعلیحضرت امان الله شاه د (۱۹۲۸ ز) کال په جون کي د اوږده سفر څخه وطن ته راوګرځېد او ددې سره سم یې د یوې بلي لویي جرګې د جوړېدو فرمان صادر کړ او حتی دومره چي د کندهار نائب الحکومه ته یې وویل، چي شپږ تنه ښځي هم دغه مجلس ته راولېږه.

دا جرګه چي د اماني دورې دریمه لویه جرګه وه، د (۱۹۲۸ ز) کال د اګسټ پر (۲۸) نېټه په پغمان کي جوړه سوه، اعلیحضرت د خپل سفر ګزارش هم ورکړ او وروسته یې دغه شل فقرې تصویب کړې.

۱.شورای دولت په شورای ملي تبدیل سو.

۲.د مجازاتو عفوه یوائې د پاچا حق دی.

۳.د تفتیش عمومي دېوان تأسیس سو.

۴.هر وزارت به د تفتیش یوه دایره ولري.

۵.د مساکینو او مجانینو لپاره دي ځایونه جوړ سي.

۶.د عسکري مکلفیت دوره درې کاله ده.

۷.د عسکري مکلفیت نقد بدل ممنوع سو.

۸.ټول ښانونه لغو سول.

۹.ملکي رتبې لغو سوې.

۱۰.ټول رسمي القاب لغو سول، یوائې د عزیز کلمه به د نومونو سره لیکل کیږي.

۱۱.په نظامنامو کي دي د هر جرم سزا وټاکل سي.

۱۲.نقدي جریمه دي هم د نظامنامې سره سمه اخیستل کیږي.

۱۳.تجارتي او نوري عصري محکمې دي جوړې سي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱۴ـ تدریس او وعظ په شهادتنامه پوري مربوط دی او د دیوبند ملایان افغانستان ته نسي راتلای.

۱۵. د افغانستان پنځلس کلني سالم خلک دي هر کال پنځه افغانۍ او مامورین دي د یوې میاشتي تنخوا د عسکرو د وسلو د رانیولو لپاره ورکوي، د دې بسپنې لایحه دي شورای ملي جوړه کړي.

۱۶. ملي شورا دي د رشوت د بندولو لپاره لایحې جوړي کړي.

۱۷. که مجرم محکمې ته حاضر نسي دده په غیاب کي دي سزا ورته وټاکل سي او د قانون جوړوني مرجع ملي شورا ده.

۱۸. شهزاده رحمت الله ولیعهد سو.

۱۹. د افغانستان د بیرغ رنګ تور، سور او زرغون وټاکل سو، چي پر غرونو د لمر ختو منظر ولري او شا وخوا یې د غنمو وږي وي، لوړ (الله ج. محمد ص) پر لیکلي وي.

۲۰. پس له هر پنځو کلنو څخه دي لویه جرګه جوړیږي.

دا جرګه تر یوه جبر لاندي جرګه وه، پاچا په ډېر غرور د مسائلو سره برخورد کاوه، څه چي تصویب سوه، د هغو سره اکثریتو موافقه نه درلوده، خو (۱۱) او (۱۴) مادې د یوه لوی رسوب او عکس العمل باعث سوې، په جرګه کي ترمخه ټولو وکیلانو ته ویل سوي وه، چي هیڅوک انتقاد نسي کولای، که کوم مطلب لري، نو هغه دي په لیکلې بڼه د شورا رئیس (سردار شېراحمد خان) ته ورکړي.

په دې جرګه پسې د ستورۍ د ماڼۍ په چمن کي یوه جلسه جوړه سوه، هلته لومړی عبدالرحمن خان لودین پر شاه انتقاد وکړ، چي لس کاله یې د صدارت چاري پخپله په لاس کي نیولي دي او مسئول معلوم نه دی، د دغو څرګندونو څخه لودین مجبور کړای سو، چي

(c) ketabton.com: The Digital Library



استعفاء ورکړي، همدارنګه نور ټول پخواني رفورمستان (اصلاح غوښتونکي) یو په بل پسې له میدانه ووتل.

بلـي خواتـه انګرېـز هم پـه منفـي تبلیغـاتو زور ولګـاوه او مـذهبي قشرونو دا ډول نغاره سخته درباوه، چي اسلام په خطر کی دی او امان الله خـان کـافر سـوی دی، لـه شـاه امـان الله خـان څخـه لار ورکـه سـوه، نوموړي چي د سفر څخه د تازه راتګ په وخت کي د ښار پر څلورو لارو لوحې نصب کړې وې، چي دلتـه بقـره داره ښځه نسـي تېرېـدلای، اوس یې د شپې په پټه یوه – یوه ټوله کړه.

امان الله خان چي سېل اخیستی و، هر ځـګ تـه یـې لاس وراچاوه او وضع دومره ورته بحراني سوه، چي د (۱۹۲۹ ز) کال د دسمبر پـه (۲۰) نېټه یو ګام نور هم شاته ولاړ او یوه اتلس فقره ییزه اعلامیه یې صادره کړه، چي لنډیز یې په لاندي ډول دی:

(د اعیانو مجلس په تشکیل، څارنوالي (مدعی العموم) په مقرری، افغاني محصلین به له ترکیې څخه راغوښتل کیږي، د دیوبند ملایـان افغانسـتان تـه راتـلای سي، ښځي بـه خپـل لاسـونه او مـخ پټـوي او د سرویښـتان بـه نـه لنـډوي، د ملایـانو پـه تـدریس کـي بـه لـه هغـوي شهادتنامه نه غوښتل کیږي، د نفوسو د تذکرې توزیع منع او د شرابو څښـل بـه مجـازات کیږي، پـه هري ولسـوالۍ کي به یـو محتسب مـلا مقرریـږي، د رخصتۍ ورځ بـه لـه پنجشـنبې څخه جمعې تـه تبدلیږي، ښځي به اروپایي جامې نه اغوندي او چادري به پر سر کوي، نظامیـان مرید کېدای سي او مرشد نیولای سي، د ښځو د حمایې انجمن به د اعیانو د مجلس تر تأسیس پوري معطل وي، د پور اخیستل آزاد دی او د کالیو په اغوستلو کي به کوم قید نه وي).

(c) ketabton.com: The Digital Library



شاه امان الله له ډېرو درنو ټولنیزو مسائلو سره په احساساتو برخورد کاوه او دده د هر فعل او حرکت څخه محیل کمین نشینه دښمن استفاده کوله.

د مرکز اداره چې د بې کفایته او فاسدو اشخاصو په لاس کې لوېدلې وه، نو په ولایاتو کې اداري فساد تر مرکز په څو چنده زیات او خطرناک و، د اغتشاش لومړی شعله د ننګرهار له شینوارو څخه راپورته سوه، څو یې ټول ولایت په خپله لمن کې راونغاړه.(۱)

د (۱۹۲۹ ز) کال د دسمبر په (۲۲) نېټه غازي امان الله خان ولیکل، چې یو ځل بیا د جګړې تور لوګی راپورته کېدونکی دی، افغان له افغان سره جنګیږي، مسلمان د مسلمان پر وړاندي درېدلی او دا یوائې د څو کسو غرضي شیطانانو کار دی.(۲)

د (۱۹۲۸ ز) کال د اکتوبر په میاشت کې د شینوارو د سنګرخېلو د قبیلې له کسانو سره د لارویو کوچیانو یوه کوچنۍ نښته رامنځته سوه، چې د ځایي حاکم د بې پروایي په نتیجه کې دلته د بغاوت اور بل سو، شینوارو په دې دلیل، چې ځایي حکومت د هغوي عریضې ته هیڅ اعتنا نه ده کړې، حکومتي مرکز اچین یې چور کړ، خزانه او د ساتونکو وسله یې لوټ او تالان کړه، وروسته یې ډکه هم په خپل کنټرول کې راوستله، د کابل او پېښور لار یې غوڅه کړه او د جلال آباد په لوري روان سول.

شاه د عمومي تفتیش رئیس (شېراحمد خان) د تنظیمه رئیس په توګه جلال آباد ته واستاوه، نوموړي د خوګیاڼو (خوږیانو) او د

۱.کاندید اکاډمېسن محمد ابراهیم عطایي، د افغانستان پر معاصر تاریخ یوه لنډه کتنه، ۱۸۴ مخ
۲.لوډویک اډامیک، د شلمي پېړۍ تر نیمایي د افغانستان د بهرنیو اړیکو تاریخ، ۲۶۴ مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



حصارک د غلجیو له مشرانو سره خبري پیل کړې او هغوي ته یې یو شمېر ټوپکان او یوه اندازه مهمات ورکړل، چې د پاڅونوالو مقابله وکړي، خو دغه ناسم سیاست، یو ځل بیا منفي پایله ورکړه، چا چې وسله اخیستې وه، ځیني خپلو کورونو ته ولاړل او ځیني له پاڅون کوونکو سره یو ځای سول او په ګډه یې تنظیمه رئیس په جلال آباد کې کلابند کړ، په ده پسې د بهرنیو چارو وزیر (غلام صدیق خان) په الوتکه کې جلال آباد ته ولاړ، نوموړي، رئیس تنظیمه له محاصرې څخه خلاص کړ او له هغه وروسته د بهرنیو چارو وزیر غلام صدیق خان له ننګرهاري اقوامو سره د ستونزي د حل لپاره خبري پیل کړې، خو هغوي په هیڅ ډول نه راضي کېدل او پاڅون لا جریان درلود.

دغه مهال چې د هیواد په ختیځه سیمه کې دغو پېښو داوم درلود، یو بل مخالف د (تګاب اخندزاده) چې پلازمېني ته یې نږدې موقعیت درلود، دولت ته یې یو بل خطر پیدا کړ، دا روحاني شخص هم له هغو کسانو څخه و، چې په لومړي سر کې یې له امان الله خان سره همکاري کړې وه او له هغه څخه یې د (فخر المشایخ) لقب اخیستی و، خو وروسته بیا د نورو روحاني او دیني مشرانو په څېر د اماني اصلاحاتو مخالف سو او پدې وخت کې یې چې دولتي دستګاه د کمزوری په حال کې وه، نو هغې په خلاف یې خپل مخالفت په ډاګه کړ او پر ضد یې تبلیغات پیل کړل، نوموړي کابل ته د راتګ لپاره د شاه د امر څخه سرغړونه وکړه او هغه پوځي ډله چې د هغه د راوستلو لپاره وراستول سوې وه، د یوه ناڅاپه برید په واسطه له منځه یووړل سوه، دا ناڅاپي برید د کوهدامن او کوهستان د هغو لار شکوونکو غلو له خوا تر سره

(c) ketabton.com: The Digital Library



سوه، چي مشري يې حبيب الله چي په بچه سقاو (د سقاو زوی) سره يې شهرت درلود، کوله.

حبيب الله پخوا د نمونې په قطعه کي چي د امان الله خان د روزل سوي تعليمي نظام له غوره قطعو څخه وه، ګډون درلود، نوموړی وروسته بيا د ناڅرګندو دلايلو له کبله برتانوي هند ته تېښته وکړه او بيرته د راستنېدو پر مهال د يوه بل مشهور غل (سيد حسين) په ملګرتيا چي د چاريکارو اوسېدونکی و، د غلو او لوټمارانو د ډلې مشر سو، چي دنده يې د کابل په شمال کي د مسافرو او قافلو لوټل وه.

کله چي د اروپا له سفر څخه د شاه له راستنېدو وروسته له هغه څخه د خلکو د خواشيني کېدو په وجه امنيت ګډوډ سو، نو د غل حبيب الله کار هم د دولت د نورو مخالفينو په شان ترقي وکړه، د تګاب اخندزاده د دولتي ځواکونو پر خلاف له هغه څخه د مرستي غوښتنه وکړه، په دې وخت کي د ټيټي درجي يو شمېر فيوډالانو، لکه د کلکان د کلي ملک محسن، خواجه بابو او خواجه مير علم له خوا يې چي د نورو فيوډالانو په څېر د دولت په مخالفه ليکه کي وه، مرسته او ملاتړ کېده.[1]

د سقاو زوی بالاخره پر حکومتي پوستو او عسکرو باندي حملې پيل کړې او يوه ورځ يې پر هغه حکومتي خزانه چي له مزارشريف څخه کابل ته وړل کېدله حمله وکړه او ټوله خزانه يې غرونو ته پورته کړه، حکومتي پوځيان د هغه په نيولو بريالي نه سول، بالاخره خبره دې ځای

۱.مير محمد صديق فرهنګ، افغانستان په وروستيو پينځو پېړيو کي، ۵۸۶ مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



ته ورسېدله، چې مرکزي حکومت له هغه سره د مذاکرو کولو ته مجبور سو، حبیب الله کلکاني د مرکزي حکومت له خوا د تنظیمه هیئت د رئیس (احمد علي خان) سره خبري وکړې او له هغه سره یې یوه موافقتنامه لاسلیک کړه، پدې موافقتنامه کي راغلي وه، چي حبیب الله کلکانی به د خپلو شریرو اعمالو څخه لاس اخلي او توبه به کاږي، حکومت به د هغه او د هغه د ملګرو ټول ګناهونه بخښي، حبیب الله او سید حسین ته به د جنرالۍ رتبه ورکوي، هغوي ته به (۸۲) میله ټوپکان او مرمۍ ورکوي، نوموړو هر یوه ته به د کاله د پرش زره افغانۍ او د هغوي سره ملګرو ته به د میاشتي دپرش افغاني تنخوا ورکوي.

د سقاو له زوی سره تردې موافقتنامې وروسته د کابل خلک یو څه بېغمه سول او اعلیحضرت امان الله خان هغه ته پیغام واستاوه، چي د یوه جنرال په حیث د مشرقي د ښورښ په ځپلو کي برخه واخلي او خپلي قواوي د والي (علی احمد خان) سره یو ځای کړي.

پاچا غوښتل چي پدې توګه یو دښمن په بل ووهي، خو د سقاو زوی پوره هوښیار و او له دې فرصت څخه یې بشپړه ګټه واخیستله، هغه پوه سو، چي مرکزي حکومت دومره کمزوری دی، چي د ښورښ په ځپلو کي له ده څخه مرسته غواړي، نو د امان الله خان د لیکلي پیغام په اساس یې په قانوني توګه د عسکرو په غونډولو او د حکومتي وسلو په وېشلو پیل وکړ، کله چي ښه یې خپل قواوي په وسله سمبال

(c) ketabton.com: The Digital Library



کړې، نو خپلې پالیسۍ ته یې تغیر ورکړ او پر کابل باندې یې د حملې لپاره حرکت پیل کړ.[1]

د خیرخانې له کوتل څخه راواوښت او د کابل په شمال لویدیځه سیمه کې یې په جګړې پیل وکړ، کابل ته د دوې په راتلو سره دولتي چارواکي زړه نا زړه سول، جنرال ولي محمد خان چې په وکیل باندې یې شهرت درلود، په کابل کې د پاته سوي پوځ په ور سوق کولو سره یې بچه سقاو ته ماته ورکړه او د خیرخانې تر کوتل پورې یې پسې واخیستل.[2]

حبیب الله خان ددې ماتې سره – سره بیا هم په کراره کښېنناست او د (۱۹۲۹ ز) کال د جنورۍ په (۱۴) نېټه د شپې له تیارې څخه په ګټه اخیستلو سره د خیرخانې په کوتل کې یو ځل بیا د دولت پر مدافع ځواکونو یرغل وکړ، ویل کیږي، چې ددې برید سره یو ځای د جبهې له شا څخه هم ډزې واورېدل سوې او د پوځ په کسانو کې دا آوازه خپره سوه، چې د جنوبي او مشرقي سمت د باغي قبیلو خلک کابل ته رارسېدلي او د کابل په لوټ او تالان بوخت دي، ددې افواه او آوازې په خپرېدو، بلکې د مدافع پوځ د افسرانو د ادارې او ارادې د کمزورۍ له امله پوځ د خیرخانې په کوتل کې خپل مزبوت موقعیت پرېښود، ځیني افراد نېغ خپلو کورو ته ولاړل او ځینو خپل موقعیت له خیرخانې کوتل څخه ده کیپک ته بدل کړ، کله چې دا خبر په ارګ کې شا ته ورسېد، پرته له ځنډه یې هغه تصمیم چې بنایي له مخکې څخه

---

۱.عبدالباري جهاني مقاله، د اعلیحضرت امان الله خان اصلاحات او سقوط، افغان جرمن آنلاین، ۱۵مخ

۲.ستر جنرال ګلزرک ځدران، د افغانستان تاریخ، ۵۴۳مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



یې نیولی و، عملي کړ، شاه د بچه سقاو له لومړي حملې څخه وروسته د خپلې کورنۍ غړي کندهار ته استولي وه، د نوي برید د خبر له اورېدو څخه وروسته، په داسي حال کي چي د خپل استعفاء لیک په واسطه یې خپل ورور (سردار عنایت الله خان) د راتلونکي شاه په توګه ټاکلی و، په خپله د یو شمېر همکارانو لکه، محمود طرزي هلمندی، غلام صدیق خان او د دربار د وزیر محمد یعقوب خان په ملګرتیا د موټر په واسطه د کندهار په لور روان سو او د لارې د ویجاړتیا او د شپې د یخنۍ او نورو ستونزو له ګاللو وروسته نو موړي ښار ته ورسېد.[1]

امان الله خان چي کندهار ته ورسېد، هلته کندهاریانو تشویق کړ، چي بېرته پلاز ونیسي، نوموړی هم له یو لښکر سره د کابل په لور روان سو، پر غزني د سقاو الوتکو بمبارد وکړ، امان الله خان د کامیابۍ چانس درلود، ځکه وردګ او هزاره جات یې همکارۍ ته چمتو وه.[2]

دلته د مقر او غزني تر منځ داسي خلک ونیول سول، چي د انګرېز د سیاسي جاسوسۍ (پولېټېکل ایجنټ) اسناد ورسره وه او غوښتل یې چي غلجي او دراني پښتانه سره واچوي، دغو سیاسي جاسوسانو د فراه شل تنه دراني یې نیولي او بیا یې وژلي او د ټیلیفون ستنو ته یې خېړولي او لیکلي یې وه، (دا د غلجو مېلمستیا ده درانو ته).

امان الله خان چي دا حالت ولید، نو کندهاریان او دوستان یې راټول کړل او داسي وینا یې وکړه:ـ(زما ګرانو هیوادوالو ورونو! تاسو یقین ولرئ، چي داسي صحنې کتلی نه سم او نه غواړم، چي زما د پاچا

۱.میر محمد صدیق فرهنګ، افغانستان په وروستیو پینځو پېړیو کي، ۵۹۰ مخ
۲.کاندید اکاډمېسن محمد ابراهیم عطایي، د افغانستان پر معاصر تاریخ یوه لنډه کتنه، ۱۹۲ مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



کېدو لپاره داسي زړه ماتوونکي کارونه ووینم، زه بویه ستاسو له ډلي ووځم، چي په داسي وژنو کي زما لاس او موجب نه وي، زما ګران ملت به ژوندی او افغانستان به تل پاته وي، زه نه غواړم د تل لپاره مخ توری او دداسي ناوړه حالاتو مسئول و اوسم او نه غواړم داسي حالات زما په نامه ثبت سي، په داسي حال کي چي د خپلي پاچهۍ په لومړۍ ورځ مي ژمنه کړې وه، چي زه به د خپلواکۍ د ساتلو لپاره ستاسو د یووالي او نېکمرغۍ لپاره خدمت وکړم، تاسي وګورئ، زموږ د خلکو بدمرغي د تاریخ په دورو کي دا وه، چي شهزادګان د شاهي مقام د لاسته راوړلو لپاره یو له بل سره په جګړه اخته وه او ددې مطلب دا پیره یې تاسي خلک دښمنۍ ته رابللي، چي قوم په قوم سره ووژنئ، زه غواړم داسي پاچهۍ ونه کړم او نه مي داسي غوښتل، چي خلک یو له بله جګړې ته وبولم، زما غوښتنه افغان ولس ته نېکمرغي، یووالی او دوستي ده.

اوس زه وینم، چي کورنۍ او قبیلوي جګړې پیل کیږي، دا دی، چي افغانستان خپلو دوستانو او مخالفینو ته پرېږدم، چي زما لپاره په جګړه نه وي، تاسو په خپلو کي جوړ سئ، زه واکمني نه غواړم او د هغه لپاره کورنۍ جګړې ته نسم کتلای، زما وینا تاسو ته داده، چي خپل هیواد بهرنیو غلیمانو ته مه سپارئ، زه ستاسو یو فرد یم که تاسو نېکمرغه و اوسئ، زه نېکمرغه او خوشحاله یم، که تاسي داسي په وینو کي ولامبۍ، زه به د تل لپاره خواشینی او غمجن یم).

امان الله خان په داسي حال کي چي اوښکي یې بهېدلې د لاهوري واقف دغه دوه بیتونه یې ولوستل او د خدای په امانی یې وکړه:

(c) ketabton.com: The Digital Library



جنگ تو صلح و صلح تو جنگ است
من بقربان این چه نیرنگ است؟
می روم تا تو نشنوی نامم
اگر از نام من ترا ننگ است[1]

امان الله خان له دې وروسته کندهار ته ستون سو، د (۱۹۲۹ز) کال په مې کي یې افغانستان د تل لپاره پرېښود او ایټالیا ته ولاړ، هلته یې د (۱۹۶۰ز) کال د اپرېل پر (۲۵) نېټه د دوشنبې په ورځ د زورېخ په ښار کي له دې نړۍ سترګې پټې کړې، د وصیت له مخې یې جنازه افغانستان ته راوړل سوه او په جلال آباد کي د پلار د قبر تر څنګ خاورو ته وسپارل سو.

## د عنایت الله خان پاچاهي:

عنایت الله خان د حبیب الله خان مشر زوی، د عبدالرحمن خان لمسی او د امیر محمد افضل خان هلمندي کوسی و، نوموړی په مشاومتوب کي له هغو ښوونکو څخه، چي د نیکه له خوا ورته مقرر سوي وه، زده کړې وکړې.

کله چي حبیب الله خان پاچا سو، نو هغه مهال دی ځوان و، د هند وایسرای حبیب الله خان ته بلنه ورکړه، تر څو هندوستان ته ورسي، خو حبیب الله خان دې پر ځای چي خپله ورسي، خپل مشر زوی (عنایت الله خان) یې د یوه پلاوي په مشري هند او بیا انګلستان ته واستاوه،

۱.قدرت الله حداد فرهاد، د افغان ملي تاریخ، دوهم ټوک، ۶۱۲ مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



حبیب الله خان خپل زوی ته سپارښتنه وکړه، چي د هر څه په وړاندي چوپ اوسه (یعني موخه یې دا وه، چي تړون مه ورسره کوه).

عنایت الله خان انګلستان ته ولاړ، هلته یې ملکې (ویکتوریا) او د هغې افسرانو په ښه توګه هرکلی وکړ، خو په دې سفر کي چي د دواړو لورو کومه موخه وه، هغه پوره نه سوه.[1]

لکه څنګه چي په مخکنیو پاڼو کي مو یادونه وکړه، چي له حبیب الله خان وروسته د افغانستان واکمني امان الله خان ته ورسېده، نوموړي هیواد له بهرنیو یرغلګرو (انګرېز) څخه خپلواک کړ، خو په وطن کي دننه نوموړي ته ډېر خنډونه پېښ سول او په پایله کي شاه امان الله په (۱۹۲۹ ز) کال د جنوری په (۱۴) نېټه له خپلي واکمنۍ څخه استعفاء ورکړه او عنایت الله خان یې د راتلونکي پاچا په توګه معرفي کړ، له عنایت الله خان سره په لومړۍ ورځ په دربار کي بیعت وسو او د پاچا په توګه وټاکل سو، ده له واکمنېدو سره سم د محمد صادق مجددي او محمد عثمان خان په مشرۍ یو پلاوی حبیب الله (بچه سقاو) ته د سولي لپاره ورواستاوه، نوموړي پلاوي د دې پر ځای چي لومړی حبیب الله ته ورسي، پوځیانو ته ورغلل او هغوي ته یې د امان الله خان د مستعفي کېدلو او عنایت الله خان د پاچا کېدلو وویل، پوځیان چي تر اوسه پوري د امان الله خان لپاره جنګېدل، تیت و پرک سول.

محمد صادق مجددي او عثمان خان، حبیب الله ته ورغلل، نوموړي ته یې وویل، چي امان الله خان له واکمنۍ څخه لاس پر سر سوی دی او خلکو عنایت خان ټاکلی، نو تاسو له هغه سره بیعت وکړئ، خو په دې

۱.بشیر احمد ریان، د افغاني پاچاهانو لنډ ژوند لیک، ۱۳۱ مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



مجلس کي محمد حسين د کلکاني د دفاع وزير هم ناست و، هغه چيغي کړې، او داسي يې وويل: (دا چي د بيعت خبره ده، نو ولي يې له خپل امير (حبيب الله) سره ونه کړو).

پدې توګه د حبيب الله خان لپاره بيعت وسو او محمد صادق مجددي ناکام راستون سو،[1] عنايت الله خان درې ورځي هم مقاومت ونکړای سو او د حبيب الله کلکاني لښکري له شمالي څخه د کابل پر ښار راخپرې سوې.

دا د بدوي کلتور نمائندګانو په ډېر هول او سخته بې رحمۍ د کابل ښاريان وټکول او په چور و چپاو يې لاس پوري کړ، درې کسانو (د حبيب الله ورور (حميدالله)، د کابل والي (ملک محسن) او پردل) چي وروسته سپه سالار سو، په کابل کي دولتي دايرې او د خلکو کورونه چور کړل او خال.خال يې عفتيو ته يې هم لاس وراچاوه، خو په کلي صورت يې دا کار نه کاوه، ځکه په بدوي کلتور کي دغسي کار هم ښه نه ګڼل کيږي.

حبيب الله هم دا د چور او چپاو کار چندان بد نه باله، بلکې ويل به يې، دا د ښار شتمني زموږ د اوږې محصول دی، بچه سقاو کابل ته په داخليدو، د جنورۍ په (۱۶) نېټه پخپله د مهمانخانې قصر ته (چي اوس آرشيف ملي دی) ولاړ او هلته يې خپله تاريخي وينا کي داسي وويل:ـ (ما د پخواني حکومت لاتهي ګري، کفر او بې دينۍ اوضاع ولېدله او د رسول الله (ص) د دين د خدمت لپاره مي د جهاد ملا وتړله، تر څو تاسي ورونه له کفر او لاتهي ګرۍ څخه وژغورم، وروسته

---

۱.بشير احمد ريان، د افغاني پاچاهانو لنډ ژوند ليک، ۱۳۴مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



له دې به زه د بیت المال پیسې په تعمیراتو او مدرسو (مکتبونو) ونه لګوم او دا پیسې به خپلو عسکرو ته ورکړم، چې چای، قند او پلو ووهي او ملایانو ته به یې ورکړم، چې عبادت وکړي، اوس نو ولاړ سئ وروسته له دې همیشه خپل ساعت تېر کړئ، چرګان وجنګوئ، مړزان وجنګوئ او ساعت تیری وکړئ).[1]

حبیب الله ګردی، سخوټ، توربخن سړی و او لنډې ږیره یې درلوده، کلیوال کالی یې اغوستل او پر واسکټ یې د مرمیو لوی کتارونه راپېچلي وه، د حبیب الله قدرت هم تر ډېره دوام ونه کړ، نادر خان له فرانسې څخه راغی، د قبیلو د مشرانو او خپلو وروڼو په ملګرتوب نوموړي ته د لوګر په سیمه کې ماته ورکړه، چې نور به د نادر خان په دوره کې تر بحث لاندې ونیسو.

## د محمد نادر شاه پاچاهي:

محمد نادر خان هلمندی د یوسف خان زوی، د یحیی خان لمسی، د سلطان محمد خان کړوسی او د سردار پائنده محمد خان بارکزي (هلمندي)کوسی و، چې په (۱۸۸۳ ز) کال د اپرېل په (۹) نېټه د هند په دېرون کې زېږېدلی دی او زده کړې یې هم په هند کې د اردو او انګرېزي ژبو له زده کړې سره وکړل.

په (۱۹۰۱ ز) کال کې د نادر خان کورنۍ بیرته کابل ته راغله، نوموړی د هغه پوهې په سبب چې په نظامي چاور کې یې درلوده، په (۱۹۰۸ ز) کال د جنرالۍ رتبې ته ورسېد، په پکتیا کې د منګلو د پاڅون له غلي کولو وروسته په (۱۹۱۱ ز) کال د نائب سالار دنده

---

۱.کاندید اکاډمېسن محمد ابراهیم عطایي، د افغانستان پر معاصر تاریخ یوه لنډه کتنه، ۱۹۸ مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورکړل سوه، په (۱۹۱۳ ز) کال کي د حبیب الله خان لخوا د دفاع د وزیر (سپه سالار) په توګه وټاکل سو.

د امیر حبیب الله خان تر مرګ وروسته چي کله د غازي امان الله خان له خوا د خپلواکۍ اعلان وسو، یو مهم کس یې نادر خان هم و، چي په جنوبي جبهه کي یې جګړه وکړه، پدې جګړه کي یې په ډېره مېړانه د ټل کلا ونیوله او د فاتح په توګه د خپلواکۍ له تر لاسه کولو او د سولي وروسته کابل ته راوګرځېد.

سردار محمد نادر خان په (۱۹۲۴ ز) کال په فرانسه کي د افغانستان د سفیر په توګه وټاکل سو، په (۱۹۲۵ ز) کال کي یې د سفارت څخه استعفاء ورکړه او هلته د نیس په ښار کي پاته سو.

کوم وخت چي امان الله غازي ته د نا ارامۍ اوربل سو او حبیب الله کلکاني ته د هیواد چاري ورسېدلې، نادر خان له فرانسې څخه هیواد ته راغی او لښکر یې برابر کړ، د حبیب الله کلکاني له ملګرو سره په لوګر کي د خپلو وروڼو (شاه ولي خان، شاه محمود او محمد هاشم) په مرسته جګړه وکړه، له نادر خان سره قبایل هم ملګري وه، چي د نادر خان په کامیابۍ کي یې غوره رول ولوباوه.[1]

نادر خان د لوګر له لاري کابل محاصره کړ، حبیب الله کلکاني (بچه سقاو) کوهدامن ته وتښتېد، نادر خان په (۱۹۲۹ ز) د اکتوبر د میاشتي په (۱۵) نېټه کابل ته ننوت او سیده د سلامخانې ودانۍ ته ولاړ، د جنوبي او وزیرو د لښکر د مشرانو، د کابل ښار او د شاوخوا سیمو د مخورو، سپین ږیرو او د اماني حکومت د غړو په وړاندي یې

۱.بشیر احمد ریان، د افغاني پاچاهانو لنډ ژوند لیک، ۱۴۲ مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې رابلل سوي وه، وینا وکړه، نوموړي په دې وینا کې د نورو موضوعاتو په لړ کې څرګنده کړه، چې هیواد ته دده د بېرته راستنېدو موخه، له غلو څخه د هیواد ژغورل و، اوس چې دغه موخه ترسره سوې ده، پخپله د پاچهۍ ادعا نلرم، غوارم چې د هیواد د نوي پاچا د ټاکنې لپاره لویه جرګه راوبلل سي، تر څو د هیواد راتلونکی واکمن د ملت د استازو لخوا وټاکل سي.

د قبایلو مشرانو او وګړو ځواب ورکړ، چې د لویې جرګې جوړولو ته هیڅ اړتیا نسته، ځکه ته پخپله پاچا یې او ټول در سره موافق دي، محمد نادر خان له لږ څه فکر او سوچ وروسته دغه وړاندیز ومانه او د سلطنت درونند بار ته یې اوږه ورکړه.[1]

محمد نادر خان چې پر وران ویجاړ کابل پاچهي پیل کړه، نو پدې ښه پوهېده، چې دده په وړاندې ساده چارې نه دي پرتې، بلکې غرونه ـ غرونه کار باید وکړي او هر قدم باید په ډېر احتیاط کښېږدي.

محمد نادر خان د امان الله خان نږدې همکار او د رفورمستانو سرحلقه عبدالرحمن خان لودین چې په اخیره کې د امان الله خان څخه خوابدی و، د کابل د ښاروال په حیث مقرر کړ، دغه مهال چې پر کابل د سقاویانو غلو لنډه واکمني تېره سوې وه، نوموړي ښار په یو داسې حالت کې قرار درلود، چې دغو غلو دولتي دفترونه لوټ کړي وه، غالۍ یې وړې وې، چوکۍ او نور سامانونه یې یا وړي وه او یا یې تخریب کړي وه، د کابل ښکلی ښار په کثافت دانۍ اوښتی و.

---

۱.میر محمد صدیق فرهنګ، افغانستان په وروستیو پینځو پېړیو کې، ۶۵۵ مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



عبدالرحمن خان لودین هم په لږه موده کې کابل یو ځل بیا وبرېښناوه، د ښار سړکان او کوڅې ورغول سوې، د ارګ ودانۍ هم ترمیم سوه، چې تر هغه وروسته پاچا د خپلې کورنۍ سره هلته استوګنه غوره کړه.

د نادر خان د دولت په سر کې پخپله نادر شاه او په هغه پسې یې ورور سردار محمد هاشم خان ډېر با انضباط او په اداره کې ډېر سختګیر خلک وه، ورپسې نور دولتي اراکین یې هم ساده خلک نه وه او هر یو یې په خپل چوکاټ کې د صلاحیت خاوند و، ده که څه هم د خپل ورور محمد هاشم خان په صدارت حکومت جوړ کړ، خو د کار ټولي جدي کیلۍ یې په خپل جېب کې ساتلې.[1]

محمد نادر شاه له حبیب الله کلکاني (بچه سقاو) څخه وغوښتل چې حکومت ته ځان وسپاري او دا وعده یې هم ورسره وکړه، چې که کابل ته ورسي نو وبه بخښل سي، حبیب الله هم له خپلو ملګرو سره کابل ته ورغی، محمد نادر خان په خپله ژمنه وفا ونکړه او بچه سقاو یې له څو تنو ملګرو سره په دار را وځړاوه.[2]

د هغه څخه وروسته یې د اماني اصلاحاتو په برخه کې منفي چلند غوره کړ او په دې برخه کې یې د خپل دولت کړنلاره په یوولس فقره ییزه ابلاغیه کې اعلان کړه، که څه هم نوموړي په دې سند کې د ولسي شورا د جوړېدو ژمنه وکړه، خو د (۱۹۲۳ ز) کال اساسي قانون او د اماني دورې نور قوانین یې شاته وغورځول، د محکمو واک یې بېرته دیني عالمانو ته وسپاره.

۱.کاندید اکاډمېسن محمد ابراهیم عطایي، د افغانستان پر معاصر تاریخ یوه لنډه کتنه، ۲۱۶ مخ
۲.بشیر احمد ریان، د افغاني پاچاهانو لنډ ژوند لیک، ۱۴۴ مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



د يوې منظمې اردو د رامنځته کولو لپاره يې متې راونغښتې، په بالاحصار کې يې د حربيې نوې ښوونځۍ جوړه کړه، په داسې حال کې چې د جنوبي قبايل، د کندهار او مشرقي د يو شمېر قبيلو خلک يې له عسکرۍ خدمت څخه معاف کړل، خو په نورو خلکو يې د قرعې له لارې په ټينګه د عسکرۍ خدمت کول عملي کړل، په ډېره لږه موده کې يې د امان الله خان له اردو څخه ډېره پياوړې، ځواکمنه او منظمه اردو رامنځته کړه او دغه اردو يې په عصري وسلو سمبال کړه.

په اداري برخه کې نوي دولت مرکزي اداره او د ولاياتو ادارې نږدې هماغه د اماني دورې په بڼه فعالې او را ژوندۍ کړې، په دې ترڅ کې سره له دې چې د پوهنې وزارت يې بيا تشکيل کړ، خو د انجونو د زده کړو مخه يې ونيوله او د هلکانو زده کړې يې هم په لومړي سر کې په مرکز او په يو څو سترو ښارونو پورې محدودې کړې.

په کال (۱۹۳۰ز) په سپتمبر کې د قومونو او قبايلو له مشرانو، د سيمو او ښارونو له مخورو سپين ږيرو څخه يوه لويه جرګه په کابل کې جوړه کړه، د نوموړې جرګې څخه يې (۱۰۵) تنه غړي د نوي اساسي قانون د تصويبولو لپاره وټاکل، دغه (۱۰۵) کسيز پلاوی چې په ولسي جرګه ونومول سو، د (۱۹۳۱ز) کال د اکتوبر په مياشت کې يې نوی اساسي قانون د (اصول اساسي دولت عاليه افغانستان) په نامه په (۱۱۰) مادو کې تصويب کړ، دا اساسي قانون که څه هم د ترکيې او ايران له اساسي قوانينو څخه په استفاده کولو او د (۱۹۳۲ز) کال په اساسي قانون کې د اړينو لاس وهنو په نتيجه کې تسويد سوی و، په څرګنده داسې برېښېده، چې په هيواد کې مشروطه نظام ټينګوي، خو

(c) ketabton.com: The Digital Library



په حقیقت کي دغه اساسي قانون مطلق واک د شاه او د دیني علماو او روحانیونو د کړیو تر منځ وېشه.

د اساسي قانون له تصویب څخه لږ وخت وروسته د مشرانو شورا جوړه سوه، چي (۲۷) تنو پکښې ګډون درلود، دا ټول د شاه لخوا انتخاب سوي وه او په دې پسې په (۱۹۳۲ز) کال کي نوې شورا رامنځته سوه، چي د مرکز او ولایاتو څخه پکښې یو .یو تن او د کابل ښار دوه تنو پکښې د ښکاره او شفاهي رایې ورکولو پر بنسټ ونډه درلوده.[1]

د محمد نادر خان د واکمنۍ په دوران کي ځیني پاڅونونه هم وسول، چي ده بیا ژر غلي کړل، لکه د شمالي قومونو بغاوت، د خوست پاڅون او نور.[2]

نادر خان او وروڼه یې د سیاست په رمز اګاه وه، ځکه په اماني دوره کي په بهر کي یې دیپلوماتیک ماموریتونه سرته رسولي وه، خو تر ټولو مهم اصل چي دغه وروڼو هغه ته جدي معتقد وه، هغه د محمد نادر شاه قیادت او رهبري وه.

محمد نادر خان د انګرېزانو سره ډېري ښې اړیکي درلودې، له شوروي څخه هم بې تشویشه نه و، خو په ډېر ځراکت یې هغوي په خپل وجود قانع کړل، له ترکیې او ایران سره یې د نږدې دوستۍ لپاره ډېر دقیق او سیاستمدارانه پلانونه عملي کړل.

محمد نادر خان پخپله یو با فرهنګه شخص و، نو ځکه یې د سقاوي په دوره کي چي فرهنګ ته کومه صدمه رسېدلې وه، د هغې د جبیرې

۱.میر محمد صدیق فرهنګ، افغانستان په وروستیو پینځو پېړیو کي، ۶۵۹مخ
۲.بشیر احمد ریان، د افغاني پاچاهانو لنډ ژوند لیک، ۱۴۵مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



لپاره ډېره پاملرنه وکړه، د اماني دورې هغه یو شمېر روڼ اندي (روشن فکران) چي له زندان څخه دباندي پاته وه، هغه یې په یوه ټولنه کي راټول کړل، د کابل ادبي ټولنه یې جوړه کړه، دې انجمن د کابل په نامه یوه مجله هم خپره کړه او په تاریخ و ادبیاتو کي یې د یادوني وړ کارونه سرته ورسول.

نادر خان فرهنګي کارونو ته پخپله توجه کوله، په علی آباد کي چي د استقلال د لمر نښان څخه پنځه سوه جریبه مځکه ورکول سوې وه، هغه یې روغتون او پوهنتون ته وقف کړه، دده په امر ډېري ښوونځی فعاله سولې او په کندهار کي وزیر محمد ګل خان د کندهار ادبي ټولنه جوړه کړه، چي د هغه ځای لیکوالان او روڼ اندي پکښې راټول وه او د پښتو په نامه یې یوه مجله هم خپروله.

نادر خان د هري حرفې او شغل خلک په خپل کار کي په کار درول او ده به ویل ډېر بد حالت هغه دی، چي خلک بې کاره سي او د بې کاره سړي کله (سر) د شیطان کارخانه ده.

اعلیحضرت محمد نادر شاه په ظاهره ډېر آرام او خاموش سړی و، خبري یې ډېري نه کولي، خو په دننه کي سخت انتقام جویه شخص و، دا بله خبره ده، چي دی هوښیار او مدبر سړی و او وطن ته هم دغسي جدي سړی په کار و، ولي په ځینو مواردو کي یې خپل قهر هیڅ تېرولی نسوای او لکه افعی مار پر خپل ښکار به یې حمله کوله، لکه د عبدالرحمن خان لودین سره پر ډوډۍ ناست و، خبره یې سره واوښته، ده هغه ته غدار وویل، چي د امان الله خان سره یې غدر کړی دی، خو هغه هم عصبي سړی و، ده ته په ځواب کي د غاصب خطاب ورکړ او نادر خان هم نارې کړې، چي دغه سړی لاندی تیرباران کړئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



همدا راز د ځرخي غلام نبي خان وژل هم یو انتقام جویانه حرکت و، کېدای سوای چي دغه کورنۍ یې له ځانه راضي ساتلې وای، پدې ډول نور هم عصبیتونه او فشارونه زیاتېدل او هري خوا ته د انتقام دو جانبه اوربل و، څو دا و، چي د (۱۹۳۳ز) کال د نوامبر پر (۸) نېټه عبدالخالق نومی د نجات د لېسې شاګرد اعلیحضرت محمد نادر شاه د تفنګچې په مرمۍ مړ کړ.

د محمد نادر شاه لخوا د فرهنګ د قدر دانۍ یوه نښه یې پخپله دغه ده، چي ده پخپله د معارف مډال د یوه شاګرد پر ځیګر وتومبه، خو هغه د لاندي لخوا د تفنګچې مرمۍ پرې ور خوشي کړې).

پدې توګه محمد نادر شاه د افغانستان په واکمنانو کي ځای لري، نوموړي بې له پیسو په داسي حال کي چي د ناروغۍ رنځ هم په پوري و، صرف په خپل شخصیت او خپل شهادت هیواد ته نجات ورکړ، چي د یو غاصب او ظالم (بچه سقاو کلکاني) د استبداد تر لغتو لاندي زهیرېده، نادر خان هیواد له یوې دورې انارشي څخه چي ښایي یو نسل یې په غېږ کي نیولی وای، نجات ورکړ، نوموړي له هغه وخته چي پر تخت یې تکیه وکړه د ملي یووالي لپاره زمینې برابري کړې.

د اعلیحضرت محمد نادر شاه تر وفات وروسته هغسي چي انتظار کېده په انتقام کي به یې ډېري ویني توی سي، د پاچا وروڼو او د دولت امنیتي مقاماتو لاس لنډ وساته، خو د نادر شاه نه شتون واقعاً یوه غټه ضایعه وه.[1]

---

۱.کاندید اکاډمېسن محمد ابراهیم عطایي، د افغانستان پر معاصر تاریخ یوه لنډه کتنه، ۲۲۸ مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د محمد ظاهر شاه پاچاهي:

محمد ظاهر خان هلمندی د (۱۲۹۳) لمریز کال د تلي په (۲۲) نېټه په کابل کي زېږېدلی دی، په ورکتوب کي يې د کابل د حبيبيې او استقلال په لېسو کي يې زده کړې وکړې، په (۱۳۰۲ل) کال د پلار (نادر خان) سره فرانسې ته ولاړ او هلته يې په زده کړو پيل وکړ، په (۱۳۰۹ل) کال بېرته د فرانسې څخه هيواد ته راغی او په عسکري ښانګه کي يې خپلو تعليماتو ته دوام ورکړ.[1]

محمد نادر شاه پدې پوهېده، چي محمد ظاهر خان دده تر حضور لاندي بايد دلته په افغانستان کي زده کړه وکړي، چي د وطن په خوی او بوی بلد سي، يو کال وروسته يې د خپل اکا د زوی (سردار احمد شاه خان) لور حميرا و شهزاده محمد ظاهر خان ته په نکاح کړه او پدې پسې يې په نظامي اکاډمۍ کي داخل کړ، چي هغه يې هم عاجل ولوستله او په دا بل کال د حربيې د وزارت مرستيال سو.

محمد نادر شاه يواځي خشک عسکري مسلک ته نه ورخوشي کاوه، بلکې د پوهني د چارو سره يې هم آشنا کړ او يو ځل هم د پوهني د وزارت مرستيال سو، دی د يوې لويې حوصلې خاوند و او په دنده کي هم نه ستړی کېده.

د اعليحضرت محمد نادر شاه تر وژل کېدو وروسته چي محمد ظاهر شاه پاچا سو، هغه سمدستي خپل اکا (پخواني صدراعظم محمد هاشم خان) بيا په صدارت وګماره او هغه هم د (۱۹۳۳ز) کال د نوامبر په (۱۲) نېټه خپله کابينه پدې توګه پاچا ته معرفي کړه:

---

۱.بشير احمد ريان، د افغاني پاچاهانو لنډ ژوند ليک، ۱۴۸ مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



- سردار شاه محمود خان حربیه وزیر
- فیض محمد خان بهرنیو چارو وزیر
- محمد ګل خان کورنیو چارو وزیر
- فضل احمد خان مجددي عدلیه وزیر
- احمد علی خان د پوهني وزیر
- میرزا محمد خان د سوداګریزو چارو وزیر او د مالیې د وزارت کفیل
- الله نواز خان د فواید عامې وزیر
- محمد اکبر خان د طب خپلواک مدیر
- رحیم الله خان د پُست، تلګراف او ټیلفون خپلواک مدیر

پورتنۍ کابینې به په اونۍ کې یوه ورځ د صدراعظم په مشرۍ غونډه کوله او په هغه کې به هر وزیر د خپلې ادارې د کړنو په باب صدراعظم ته ګزارش ورکاوه او د کار په مربوطه ساحه کې به یې د یوه نوي انکشاف په باب نظر څرګنداوه، صدراعظم سخت دقیق شخص و، ده د مجلس جریانات پخپله دیکته کول او بیا به د مجلس مُنشي هغه د تصویباتو کتاب ته رسول.

د ظاهر شاه د پاچهي په دوران کې دوهمه نړیواله جګړه، په کال (۱۹۳۹ ز) کې پیل سوه او وروسته په کال (۱۹۴۵ ز) کې پای ته ورسېده، ددې جګړې لمبې چې له اروپا څخه پورته سوې وې ډېر ژر آسیا او د نړۍ نورو برخو ته ورسېدې.

د یادې جګړې دوې لورې د محور او متفقینو په نامه یادېدې، چې په محور کې (آلمان، ایټالیا، جاپان او د ختیځې اروپا کوچني هیوادونه) پکښې شامل وه او په متفقینو کې (انګلستان، فرانسه،

(c) ketabton.com: The Digital Library



شوروي اتحاد، د امریکا متحده ایالتونه او یو شمېر نور اروپایي هیوادونه) شامل وه، دا یوه خطرناکه جگړه وه، هغه هیوادونه چي مستقیماً پکښې ښکېل وه، ډېر مالي او ځاني زیانونه ور ورسېدل او چي شامل نه وه هغه هم بې زخمه پاته نه سول.

ددې جگړې په دوران کي چي د افغانستان په شمال کي شوروي، په لوېدیځ کي ایران او په جنوب او ختیځ کي برتانوی هند پکښې رانسکور سول، په افغانستان کي محمد ظاهر شاه پاچا او سردار محمد هاشم خان صدراعظم و، محمد هاشم خان په ډېر لوی تدبیر نه یوائي افغانستان د جگړې له لمبو څخه وژغوره او وطن ته زیان ونه رسېده، بلکي د اقتصاد د تنگیو سره – سره یې حتی د سپما څخه کافي ډالر هم ذخیره کړل، چي وروسته په پراختیایي پروژو کي کار ور څخه واخیستل سو.

د دوهمي نړیوالي جگړې وروسته په کال (۱۹۴۶ز) کي محمد هاشم خان د صدارت څخه استعفاء وکړه او پر ځای یې کشر ورور (شاه محمود خان) د صدراعظم په توگه وټاکل سو، د نوموړي د صدراعظمۍ په لومړي کال افغانستان د ملگرو ملتونو د سازمان غړی سو.

صدراعظم شاه محمود خان چي په افغانستان کي د دیموکراسۍ پلار ورته ویل کیږي، لومړی یو شمېر هغه سیاسي بندیان له محبسونو خوشي کړل، چي د نادر خان او یا هم محمد هاشم خان له خوا بندیان سوي وه، هغوي یې په لوړو پوستونو مقرر کړل.

له هغه څخه وروسته د ظاهر شاه د واکمنۍ پر مهال د پوهنتون د محصلینو اتحادیه جوړه سوه، آزاد مطبوعات منځته راغلل، د

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښاروالیو د قانون سالم تطبیق پیل سو او ملي کلوپ منځته راغی، چي د کابل د لویو دولتي اراکینو، سردارانو او اشرافو یوه ټولنه وه، چي د دیموکراسۍ تر عنوان لاندي راووتله او سردار محمد داود خان هلمندی یې مشر و، په دغه وخت کي سردار محمد داود خان د ملي دفاع او کورنیو چارو وزارت سر ګروپ هم و.

په (۱۹۴۷ز) کال کي صدراعظم شاه محمود خان امریکا ته سفر وکړ، مخکي تردې چي صدراعظم دا تاریخي سفر پیل کړي، امریکا یې وپوهوله، چي په افغانستان کي پانګه اچونه لوی ګټور کار دی او افغانستان تر هر چا په امریکا خوښ دی، چي دلته په افغانستان کي پانګه په کار واچوي.[1]

په (۱۹۴۷ز) کال چي کله انګرېزان د هندوستان واک پرېښوولو ته اړ سول، نو افغانستان د پښتنو مسئله را پورته کړه، د خان عبدالغفار خان سره یې په دې غوښتنه کي ملاتړ وکړ، چي د هندوستان د وېش په وخت دې پښتنو ته خوښه ورکړل سي، چي دوی د هند یا پاکستان سره پاته کېږي، آزاد او سېدل غواړي او که له افغانستان سره بېرته ګډون طلبي، له کومه چي په کال (۱۸۹۳ز) کي د ډیورنډ په کرښه انګرېزانو رابېل کړي وه، خو انګرېزانو دا لویه پړه وکړه، چي پښتنو ته یې خوښه ورنکړه.[2]

په دا بل کال (۱۹۴۸ز) کي صدراعظم خپل وراره (سردار محمد نعیم) چي د افغانستان په بهرنیو چارو وزارت کي د پوره مطالعې

۱.کاندید اکاډمېسن محمد ابراهیم عطایي، د افغانستان پر معاصر تاریخ باندي یو لنډه کتنه، ۲۳۲ مخ
۲.ډاکټر باقي درانی، پښتنانه د تهذیب په څپو کي، ۳۸۲ مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



خاوند و، امریکا ته د سفیر په توګه وپېژاند، نو موړي سردار امریکايي مؤسساتو ته دا ور وفهموله، چې د دوي لپاره د بندونو، ویالو او سړکانو جوړولو لپاره خورا ډېر کار سته، نو دا و، چې امریکایانو لومړی د خپلو متخصصانو په وسیله سیمه مطالعه کړه او کله چې ډاډمن سول، نو په (۱۹۴۹ ز) کال کي یې یوویشت میلیونه ډالره لومړی پور (قرضه) د بندونو د جوړولو لپاره ورکړل او د موریسن نودسن په نامه کمپنۍ په کندهار کي کار پیل کړ، د نوموړي کمپنۍ د انجنیرانو په وسیله د کندهار د ښار شمال ختیځ په (۴۰) کیلو مترۍ کي د ارغنداب پر سیند یو بند جوړ سو، چې کار یې د (۱۹۵۰ ز) کال د جون څخه د (۱۹۵۲ ز) کال تر اپرېل پوري دوام وکړ.

د ارغنداب د بند څخه وروسته په دوهم پور اتلس نیم میلیونه ډالر د امریکا څخه واخیستل سو، دا ځل د هلمند پر سیند یو بند جوړ سو، چې په کال (۱۹۵۳ ز) کي افتتاح سو.

د امریکایانو امریکن هوايي کمپنۍ د (۱۹۵۶ ز) کال په سپټمبر کي (۱۴) میلیونه ډالره افغانستان ته پور ورکړ، چې په هغه د کندهار هوايي ډګر او د ډیپلوماټانو د روزني چاري سرته ورسېدې.

د (۱۹۵۷ ز) کال د جون په (۳۰) نېټه امریکا پنځه میلیونه اووه سوه پنځوس زره ډالر د هلمند وادي د پراختیا او دوه میلیونه اته سوه شپېته زره ډالره یې د پرسونل د روزني لپاره پور ورکړ.

همدارنګه د (۱۹۵۸ ز) کال د جون په (۳۰) نېټه یې اووه میلیونه اووه سوه اته زره ډالره یې د سپین بولدک، کندهار، کندهار او کابل د

(c) ketabton.com: The Digital Library



اسفالت لپاره پور ورکړ او دا ټول کارونه د امریکایي انجنیرانو په لارښوونه سرته ورسېدل.[1]

په (۱۹۵۳ ز) کال د دسپتمبر پر (۷) نېټه سردار محمد داود خان د صدراعظم په توګه وټاکل سو، نوموړي د هیواد د پرمختګ لپاره غوره کارونه پیل کړل، د سالنګ لوی سړک، له کابل څخه تر کندهاره لویه لار او بیا له کندهار څخه تر هراته لوی سړک، دروټې، نغلو، د ننګرهار کېنال او د هلمند ودانۍ ټولي په همدغه وخت کي وسوې.

داود خان غوښتل چي په هیواد کي بدلون راولي، په دې لړ کي له روس څخه پوځي او اقتصادي مرسته هم وغوښته، د پاکستان سره سیاسي مسئلې افغانستان ودې ته اړ کړ، چي په نظامي توګه پر روس تکیه وکړي، خو دغه پریکړه وروسته د افغانانو په لوی زیان تمامه سوه او شوروي ته د افغانستان په پوځ کي د لاسوهني موقعه په لاس ورغله.

په کال (۱۹۵۵ ز) کي افغانستان د دواد خان په مشرۍ دا پالیسي خپله کړه، چي پښتنو ته دي یو آزاد ټاټوبی د پښتونستان په نامه ورکړل سي، خو ظاهر شاه د پاکستان سره د اړیکو د خرابولو په حق کي نه و او نه یې په افغانستان کي د روس لاسوهنه خوښه وه، ځکه محمد داود خان په (۱۹۶۳ ز) کي له خپله منصبه استعفاء ورکړه.[2]

داود خان د (۱۹۶۳ ز) کال په مارچ کي له صدارت څخه استعفاء وکړه، ظاهر شاه ډاکټر یوسف د صدراعظم په توګه وټاکه او هغه په (۱۹۶۳ ز) کال د مارچ په (۱۳) نېټه خپله کابینه اعلان کړه.

---

۱.کاندید اکاډمېسن محمد ابراهیم عطایي، د افغانستان پر معاصر تاریخ یوه لنډه کتنه، ۲۳۸ مخ
۲.ډاکټر باقي درانی، پښتانه د تهذیب په رڼا کي، ۳۸۲ مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډاکټر یوسف په (۱۹۶۵ز) کال د اکتوبر په (۲۴) نېټه د دوهم ځل لپاره ولسي جرګې ته د کابینې او کړنلارې د لوستلو لپاره وغوښتل سو ، خو هلته بې بندو باري او د نندارچیانو د ډېر بیروبار له امله یې کابینه سبا ته وځنډوله، سبا یې تر ځانګړې حفاظت لاندې کابینه اعلان کړه، ولس پدې ډېر خفه سو او مظاهرې یې وکړه، خو د سردار ولي خان په امر پر مظاهرچیانو فیرونه وسول، چې له امله یې څو تنه ژوبل سول، ملت په دې نور هم په قهر سو ، ظاهر شاه ددې لپاره چې د ملت قهر غلی کړي، ډاکټر یوسف یې د اکتوبر په (۲۹) نېټه له دندې ګوښه کړ.

د (۱۹۶۷ز) کال د نوامبر په میاشت کې نور احمد اعتمادي صدراعظم وټاکل سو او په (۱۹۷۱ز) کال یې استعفاء وکړه، له ده وروسته ډاکټر عبدالظاهر په (۱۹۷۱ز) د مې پر (۱۶) نېټه صدراعظم سو او په (۱۹۷۲ز) کال د دسمبر په میاشت کې استعفاء ورکړه، ظاهر شاه سمدستي موسی شفیق ته چې د بهرنیو چارو وزیر او د مصر په الازهر، د امریکا په کولمبیا او هارورد پوهنتونونو کې یې زده کړه کړې وه، د دسمبر په (۷) نېټه صدارت ورکړ، تر څو د داود خان په کودتا سره پای ته ورسېد.

ظاهر شاه په (۱۹۶۴ز) کال کې د افغانستان نوی اساسي قانون جوړ او توشیح کړ، ددغه اساسي قانون له مخې سیاسي فعالیتونه په هیواد کې ازاد سول، چې په پایله کې یې یو زیات شمېر سیاسي ګوندونه منځته راغلل، خلکو تر یوې اندازې پورې د خبرو او لیکنو ازادي پیدا کړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د اعلحضرت محمد ظاهر شاه په وخت کي له شوروي اتحاد سره د افغانستان اړیکي د پخوا په شان سړې او رسمي، خو له دښمنۍ او تاوتریخوالي څخه پرته وې، په ځینو برخو کي د دواړو هیوادونو تر منځ یو شمېر معاهدې هم وسوې، چي په دې لړ کي په (۱۹۴۶او ۱۹۴۸ز) کلونو کي د دواړو هیوادونو تر منځ د سرحدي اوبو پر سر تړونونه لاسلیک سول، چي د لومړني قرارداد له مخي د آمو د سیند پر غاړه د اوبو تر ټولو ژوره لیکه د دواړو هیوادونو د ریښتیني پوله په توګه وپېژندل سوه او د دوهم قرارداد پر بنسټ افغانستان د کشک د سیند په اوبو کي د شوروي دولت د حق درلودلو تصدیق وکړ، له دې وروسته د دواړو هیوادونو تر منځ د څلورو کالو لپاره سوداګریز تړون لاسلیک سو او موافقه وسوه، چي شورویان د اومو موادو لکه (پنبې او وړۍ) په بدل کي (تېل، بوره او نور) شیان افغانستان ته ورکوي.

له انګلستان سره د اړیکو په باب باید وواېو، چي د هند او پاکستان له خپلواکۍ وروسته تر ډېره وخته، د افغانستان سیاسي چارواکو ددې نظر له مخي چي د نړۍ د ټولو چارو د مزي سر د برتانیا د دولت په لاس کي دی، د هیواد د ستونزو حل یې په لندن کي لټوله او د برتانیا له دولت څخه یې تمه درلوده، چي له پاکستان سره به د پښتونستان مسئله هم د افغانستان په خوښه حل کړي، خو انګرېزانو له دې کار څخه ډډه وکړه، نو د افغانستان چارواکي په ځانګړې توګه د شاهي کورنۍ غړي له نوموړي دولت سره سخت مخالف سول، ځکه دوي چي ډېر کلونه د برتانیا سره دوستي درلوده، احساس کړه چي نوموړي دولت ورسره ژمنه ماته کړې او په یوه حساس تاریخي پړاو کي یې یوا ځي پرېښي دي او په مقابل کي په هره کچه چي له پاکستان

(c) ketabton.com: The Digital Library



سره د افغانستان اړیکي سړې او خرابې دلې، په هماغه کچه یې د پاکستان له سیال هیواد (هندوستان) سره اړیکي تودې او ځلانده کېدې.

په همدې دوره کې د چین د جمهوریت له خلکو سره سیاسي مناسبات ټینګ سول، خو نوموړي دولت تر دغه مهاله په افغانستان کي کوم فعال رول نه درلود.[1]

د (۱۹۷۳ز) کال د جولای په (۱۷) چي د (۱۳۵۲ل) کال له (۲۶) نېټې سره سمون لري، پخواني صدراعظم (داود خان) چي د (۱۹۶۳ ز) کال د صدارت څخه مستعفی سوی او دا لس کاله یې په ګمنامۍ کي ژوند کاوه یوه کودتا سرته ورسوله، چي په دې توګه یې په افغانستان کي د شاهي نظام کمبله ټوله او جمهوریت یې اعلان کړ، ظاهر شاه چي د داود خان د کودتا په وخت کي په ایټالیا کي و، د (۱۳۵۲ل) کال د اسد پر (۲۱) نېټه یې داود خان ته یو لیک راواستاوه او نوی رژیم ته یې بیعت ورکړ.

په (۱۳۸۰ل) کال چي له (۲۰۰۱ ز) کال سره سمون لري، د امریکایې پوځیانو په ملاتړ جوړي سوي اداري ظاهر شاه ته بلنه ورکړه، چي افغانستان ته راسي، هغه هم راغی او دلته ورته د (ملت بابا) لقب ورکړل سو، نوموړی د (۱۳۸۶ل) کال د اسد په (۱) نېټه په کابل کي مړ او د مرنجان د غونډۍ په هدیره کي ښخ کړای سو.

---

۱.میر محمد صدیق فرهنګ، افغانستان په وروستیو پینځو پېړیو کي، ۷۳۱ مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د محمد داود خان جمهوریت:

محمد داود خان هلمندی د سردار محمد عزیز خان بارکزي زوی، په (۱۹۰۸ ز) کال د جولای په (۸) نېټه په کابل ښار کي وزېږېد، نوموړي خپل منځني تحصیلات په اماني لېسه کي سرته ورسولې، په فرانسه کي یې د کور جوړوني (مهندسۍ) په څانګه کي تحصیل وکړاو د کابل په حربي پوهنتون کي یې نظامي زده کړه وکړه.

داود خان په (۱۹۳۴ ز) کال د مشرقي ولایت نائب الحکومه، له (۱۹۳۹ ز) کال څخه تر (۱۹۴۷ ز) کال پوري د مرکزي قواوو قوماندان، په (۱۹۴۸ ز) کال د کورنیو چارو وزیر، د څه مودې لپاره په پاریس کي افغان سفیر، له (۱۹۴۹ ز) کال څخه تر (۱۹۵۳ ز) کال پوري د صدراعظم شاه محمود خان په کابینه کي د دفاع وزیر، په (۱۹۵۳ ز) کال د کندهار د ولایت د نائب الحکومه او په همدغه کال د محمد ظاهر شاه صدراعظم وټاکل سو، چي په (۱۹۶۳ ز) کال کي یې له صدر اعظمۍ څخه استعفاء ورکړه.[1]

د (۱۹۷۳ ز) کال د جولای په (۱۷) نېټه، چي د کابل ښار سهار تود او شائسته و، د افغانستان ولس د محمد داود خان په اشنا ږغ، له خوبه راپاڅېده، د سهار په اووه بجو او شلو دقیقو د افغانستان راډیو د افغانستان د پخواني صدراعظم پیغام، چي یوه لسیزه یې په (۱۹۶۳ ز) کال کي له خپلي استعفاء څخه وروسته په هیواد کي د حوادثو بهیر څاره، د خلکو غوږونو ته ورساوه، د پېژندني په خاطر د راډیو خبریال، محمد داود خان د وروستي ځل لپاره د سردار محمد داود خان په نامه

۱.بشیر احمد ریان، د افغاني پاچاهانو لنډ ژوند لیک، ۱۵۱ مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



یاد کړ او داود خان د راډیو په څپو کي د خپل پيغام په لوستلو پيل وکړ، نوموړي د خپلي اوږدې وينا په يوه برخه کي د راتلونکي کړنلاري د لويو ټکو د توضيع په هکله وويل:

((خپل هيواد ته د خدمت لپاره د بېلابېلو مسؤليتونو د پرغاړه اخيستلو په لار کي زه د يوې موخي په لټون کي وم، چي په هغه سره به د افغان ولس او په خاصه توګه د محرومو طبقو او د هيواد ځوان نسل لپاره د مادي او معنوي ژوند رښتني او مثبته فضا رامنځته سي، د وطن د نېکمرغۍ لپاره ما کوم بل بديل نه ليد او نه يې ليدلی سم، بېله دې چي صادقانه ديموکراسي پلې سي، چي د هغه بنسټ د افغانستان د خلکو اکثريت ته د خدمت په اساس ولاړ وي، د افغانستان د جمهوريت بهرني اړيکي به په ناپيلتوب او پوځي ډلو کي په نه ګډون او په نړيوالو قضاياوو کي د افغانستان د ولس په ازاد قضاوت باندي ولاړ وي.

ددې لپاره چي خپلو موخو ته ورسيږو، موږ ته تر هر څه نړيواله سولمنه فضا ضروري ده، هيڅ هيواد هم بېله نړيوالي سولي خپل ملي ارمانو نه تر سره کولای نسي، پداسي حال کي چي په افغانستان کي به پدې هڅه بوخت يو، چي خپل هيواد ودان کړو، موږ د نړيولي سولي او سلم لپاره تودې هيلي لرو، لدې کبله د افغانستان د بهرنۍ کړنلاري لومړۍ ستنه به د نړۍ له ټولو هيوادونو او ملتونو سره له هر هيواد او ولس سره که کوچنی وي او که لوی، که نږدې وي او که ليري، بېله توپير او تبعيضه په سوله او دوستي ولاړه وي، له پاکستان سره زموږ د اړيکو په هکله به، چي يوا ځني هيواد دی، چي ورسره موږ د پښتونستان د مسئلې په اړه يو سياسي اختلاف لرو او تر اوسه د هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library



پر حلولو نه یو بریالي سوي، موږ به ددې مسئلې د حل موندلو پر لور خپلو هڅو ته دوام ورکړو)).

له دې وینا سره د افغانستان په سیاسي تاریخ کي یو نوی څپرکی پرانیستل سو او د افغانانو غوڅ اکثریت، چي د زاړه سوي شاهي رژیم څخه په تنګ او پزي ته راغلي وه، په رښتني توګه خوښ او د راتلونکي هوسا او ښېرازه هیواد هیلي یې غوړېدلي وې.

د سرطان د کودتا په لومړۍ ورځ د (۱۹۶۴ ز) کال اساسي قانون ملغا اعلام سو او یوه مرکزي کمېټه وټاکل سوه، چي په خپل واریې محمد داود خان د افغانستان د جمهوریت د لومړي جمهور رئیس او مؤسس په توګه انتخاب کړ.

په افغانستان کي ددې بدلون په اړه نړیوال غبرګون په تېره بیا د پاکستان لخوا ګړندی و، د داود خان د حکومت پر ضد د کړو تبلیغاتو ژرندي، چي هدف یې د افغانستان بې ثباتي وه، په څرخېدو سوې، اسلام آباد د افواهاتو په خپرولو پیل وکړ، چي داود خان کمونیست دی او په افغانستان کي د اسلام دین له خطر سره مخامخ دی، په لندن کي د لندن ټایمز ورځپاڼي ولیکل، چي د پښتونستان مسئلې ته په اشاره سره داود خان یو زوړ زخم بیا راسپخولی دی، پدې پسې د فرانس پریس اژانس راپور ورکړ، چي د افغانستان نوی رژیم له افغانستان څخه د ټولو پاکستانیانو د سمدلاسه ایستلو امر ورکړی دی، پاکستاني چارواکو پدې بحث لاس پوري کړی و، چي په (۱۹۷۱ ز) کال کي هندوستان له پاکستان څخه بنګله دېش غوڅ کړ او افغانستان غواړي چي د روسانو په مرسته پاکستان تجزیه کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د افغانستان د جمهوريت له جوړېدو سره سم پاکستاني مشرانو تل خپل هيواد د يوه کوچني او سوله خوښوونکي هيواد په توګه نړۍ ته معرفي کاوه، چې د غليمي نړۍ لخوا احاطه او د بربادولو نيت يې درلود، د پاکستان د مشرانو پدې ساندو کې له صدراعظم ذوالفقار علی بوټهو څخه نور د مخه کېدای نه سوه، نو موړي پدې اړه، چې بهرنۍ نړۍ ته، پاکستان د يوه محاصره سوي او مظلوم هيواد په توګه معرفي کړي، ماسټرو.

بوټهو د (۱۹۷۳ز) کال په نوامبر کې د يوې اعلاميې په ترڅ کې افغانستان د پاکستان په کورنيو چارو کې په لاسوهني تورن کړ او اخطار يې ورکړ، چې ځيني کسان دې ته سلا ورکوي، چې د افغانستان پخواني پاچا (محمد ظاهر شاه) ته بلنه ورکړي، چې د پاکستان قبايلي سيمو ته سفر وکړي.

دې پارونکې اعلاميې د افغانستان د حکومت سخته غوصه وپاروله او د هغې په ځواب کې د (۱۹۷۴ز) کال د فبرورۍ په پيل کې د افغانستان جمهور رئيس محمد داود خان، فرانسوي ورځپاڼي (لومند) ته وويل، چې په اصطلاح د پاکستان شمالي صوبه سرحد تل د افغانستان د خاورې نه بېلېدونکې برخه وه او برتانويانو د نامساوي تړونونو په تحميلولو باندې، چې دده حکومت ته د اعتبار وړ نه دي، هغه سيمې د افغانانو له حاکميت څخه بېلې کړې.[1]

داود خان سمدلاسه داخل په هيواد کې دولتي تشکيلات جوړ کړل، چې په لاندې ډول وه:

۱.غلام محمد زرملوال، افغانستان تر وروستي افغانه، لومړی ټوک، ۳۲۰ مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



محمد داود خان رئیس، ډاکټر حسن شرق مُنشي او غړي یې دا کسان وه: جنرال غلام حیدر رسولي، ډګروال سرور نورستانی، ډګرمن عبدالقدیر نورستانی (د ترافیکو افسر)، ډګرمن محمد یوسف، جګړن مولاداد، جګړن خلیل الله، ډګروال خلیل الله، ډګروال غوث الدین فایق، جګړن فیض محمد، جګړن پاچا ګل وفادار، جګتورن ضیا مجید، جګتورن عبدالحمید محتاط او سید عبدالله.

همدارنګه حکومت او کابینه په دې توګه وټاکل سوه:

محمد داود خان علاوه پر رئیس دولت، صدراعظم، دفاع وزیر او د بهرنیو چارو وزیر هم سو، ډاکټر حسن شرق د صدراعظم مرستیال، فیض محمد خان د کورنیو چارو وزیر، عبدالله د مالیې وزیر، غوث الدین فایق د فواید عامې وزیر، پاچا ګل وفادار د سرحداتو وزیر، عبدالحمید محتاط د مخابراتو وزیر، عبدالقدیر نورستانی د پولیسو او ژاندارم عمومي قوماندان او په نظامي برخه کي مهمي قوماندانۍ هغو کسانو ته وویشل سوې، چي په کودتا کي یې برخه درلوده.

داود خان په (۱۹۷۳ز) کال د جمهوریت بیرغ د جمهوري ارګ د ماڼۍ مخ ته پورته کړ او د کابل په لس ګونو زرو خلکو په دغه وخت کي لاسونه ورته وټکول.

د بیرغ رنګ هم هغه تور، سور او زرغون و، خو په نښان کي یې بدلون راغلی و، په نښان کي د محراب او منبر پر ځای د یو عقاب تصویر ځای سوی و، چي په خلاصو وزرونو هوا ته د الوتلو په حال کي معلومېده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



داود خان د هیواد مشهور شاعر، ادیب او لیکوال عبدالرؤف بېنوا (هلمندي) ته دنده ورکړه، چې د جمهوریت لپاره ملي سرود جوړ کړي او دلته د هغه ملي سرود بشپړ متن لیکل کیږي:

ځو چي دا مځکه آسمان وي
ځو چي دا جهان ودان وي
ځو چي ژوند په دې جهان وي
ځو چي پاته یو افغان وي
تل به دا افغانستان وي
تل دې وي افغان ملت
تل دې وي جمهوریت
تل دې وي ملي وحدت
تل دې وي افغان ملت، جمهوریت
تل دې وي افغان ملت، جمهوریت
ملي وحدت. ملي وحدت

دا ملي سرود په دسته جمعي ویل کېده، د اردو په موزیک کي هم ځای سوی و او په ټولو تشریفاتو کي که په کور کي وه او که په بهر کي د داود خان د ورتګ او یا راتګ په وخت کي ورته ویل کېده.[1]

د داود خان په دوره کي ډېر قوانین نافذ سول، لکه په (۱۳۵۵ل) کال کي نوی اساسي قانون، د جزا قانون، مدني قانون، د ارضي اصلاحاتو قانون، د بانکونو قانون، د مځکو (ارضی) د سروې، تصفیې او ثبت قانون، د کورنۍ او بهرنۍ پانګې اچوني قانون، د

۱. کاندید اکاډمېسن محمد ابراهیم عطایي، د افغانستان پر معاصر تاریخ یوه لنډه کتنه، ۲۸۱ مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



کوپراتیف قانون، د سوداګرۍ او صنایعو د اطاقونو قانون، د استهلاکي موادو د مالیې قانون، د سیاحت قانون، د ټرانسپورټ او د جادې د ټرانزیټ قانون او د بېسیم دستګاه قانون.[1]

## د ولسمشر محمد داود خان په دوره کي د برېښنا لپاره لاندي پروژې عملي سوې:

۱.د کونړ په ولایت کي پر سیند د اوبو برېښنا دستګاه.

۲.د هرات په ولایت کي د چشت شریف سره نږدې د هریرود پر سیند د برېښنا بند، چي کارېې د هلمند د ساختماني دستګاه له خوا په مخ روان و.

۳.د هلمند پر سیند د کمال خان د برېښنا بند، چي د جوړېدو کارېې د هلمند د ساختماني دستګاه له خوا تر سره کېده.

۴.د بامیانو د اوبو برېښنا دستګاه، چي د بامیان په ولایت کي یې د اوبو او برېښنا د وزارت له خوا د جوړېدو چاري پر مخ بېول کېدې.

سربېره پردې دا لاندي پروژې تر طرح ریزۍ او فني مطالعاتو لاندي وې:-

۱.د پنجشېر د تنګي پروژه.

۲.په تالقانو کي د فرخار پر سیند د ورسچ بالا پروژه.

۳.د کوکچې پر سیند د کوکچه علیا پروژه او د کوکچه سفلي پروژه او نور.[2]

---

۱.بشیر احمد ریان، د افغاني پاچاهانو لنډ ژوند لیک، ۱۵۷ مخ

۲.اورنګزېب ارشاد، افغانستان پېژندنه، ۴۲۳ مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



محمد داود خان د واکمنۍ په لومړیو کې د کمونیستي افسرانو او لوړ رتبه چاروا کو په مرسته حکومت کاوه، خو وروسته متوجې سو، چې ملت کمونیست او کمونیست پلوه حکومت نه غواړي، له همدې امله یې په حکومت کې تصفیه پیل کړه، هغه اشخاص چې د روسیې سره یې اړیکي درلودې، له حکومتي دستگاه څخه وایستل.[1]

محمد داود خان په (۱۹۷۴ز) کال په کابل کې د امریکا د سفیر په وسیله د هغه هیواد څخه د مرستي غوښتنه وکړه، چې دده له اقتصادي پلانونو سره همکاري وسي، خو امریکا چندان علاقه ونه ښوو له بهانې یې وکړې، خو اصل حقیقت دا و، چې امریکا، افغانستان د شوروي یوه سپوږمۍ بلله او د پاکستان سره د اختلاف په وجه یې افغانستان ښه نه لیده.

لکه څنگه چې مخکې داود خان په خپله وینا کې د پښتونستان چې د ډیورنډ ها غاړي ته د افغانستان پرته خاوره ده، یادونه وکړه، چې دا نوی جمهوري حکومت به د هغې په هکله او د هغې سیمې د لاسته راوړلو لپاره اقدامات وکړي، بلې خوا ته ذوالفقار علی بوټهو په داود خان پسې پروپاگند شروع کړ، چې دی د روس د لاس سړی دی او هغه څه کوي، چې روس یې غواړي.

ذوالفقار علی بوټهو په افغانستان کې د جمهوري نظام د نسکورولو لپاره په یوه لړ عملي کامونو پورته کولو لاس پوري کړ، د مجید کلکاني په مشرۍ یوې ډلې د (ستم ملي) په نامه له یوې بلې ډلې سره په گډه، چې د (سازمان ملي مردم افغانستان) نوم ورکړل

۱.بشیر احمد ریان، د افغاني پاچاهانو لنډ ژوند لیک، ۱۵۸ مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



سوی و، په پاکستان کي د بوټهو حکومت تر خپل وزر لاندي نیولې وه او د افغانستان پر ضد په فعالیت بوخته وه، بوټهو ددې ډلي په راټولولو او منظم کولو لاس پوري کړ او ورته یې په پاکستان کي د پوځي روزني کمپونه پرانیزل، په (اخوان المسلمین) مشهوره یوه بله ډله هم بوټهو په غېږ کي ونیوله، دا ډله چي په سر کي د (جوانان مسلمان) او د (اسلامي نهضت) په نامه یادېده، د کابل پوهنتون د شرعیاتو پوهنځی د رئیس (غلام محمد نیازي) په مشري د کمونستانو پر ضد په ځرګند فعالیت لاس پوري کړ.

د جوانان مسلمان ګوند په (۱۹۷۴ ز) کال کي که څه هم د کمیت له خوا دومره پیاوړی نه و، د محمد داود خان د حکومت پر ضد په یوه پاڅون کي برخه درلوده، خو مقاومت یې ژر وځپل سو او د هماغه کال د جون تر میاشتي پوري ددې ګوند مشر (پوهاند نیازی) او څه نا څه دوه سوه نور غړي یې ونیول سول، د برهان الدین رباني، احمد شاه مسعود او ګلبدین حکمتیار په شمول د هغه ځیني فعالین پاکستان ته وتښتېدل.[1]

داود خان د ایران له پاچا څخه د افغانستان په اقتصادي پلان کي د همکاری هیله وکړه او هغه هم ومنله، ایران د یو کل په توګه دوه ملیارده ډالره ومنل او په (۱۹۷۶ ز) کال کي قرارداد وسو، نوموړي پیسې د اوسپني د لاري د جوړولو لپاره تخصیص سوي وې او (۱۸۱۰) کیلو متره لاره په دې توګه سروې سوه: د اسلام کلا هرات، هرات، فراه، لښکرګاه د ایران تر سرحد پوري، کندهار، سپین

۱.غلام محمد زرملوال، افغانستان تر وروستي افغانه، لومړی ټوک ۳۲۷ مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



بولدک، کندهار، کلات، مقر، غزني، لوګر (مس عینک)، کابل، حاجي ګک (د اوسپني کان) کار تکمیل سوی و، دا کار د اووه کلن اقتصادي پلان په لومړي کال پیل کېده او په (۱۹۸۴ ز) کال کي پای ته رسېده.

دا یوه لویه پروژه وه، چي داود خان زیات ورته هوسېده، خو شوروي په ډېر تشویش ورته کتل او په کابل کي پرچمیانو په داود خان پسې ډېر بد تبلیغات کول، چي لوېدیځ ته یې ځان ورنږدې کړی.

د (۱۹۷۷ ز) کال په اپرېل کي د شوري په بلنه داود خان مسکو ته سفر وکړ او دا د داود خان وروستی سفر و، د داود خان اصلي موخه دا وه، چي ځان ته معلومه کړي، چي آیا په دغو روانو ګډوډیو کي (مطلب یې د خلق او پرچم تخریبونه وه) روسیه لاس لري او که نه.

داود خان په مسکو کي په یوه غونډه کي له برژنیف سره وکتل، خو د دواړو تر منځ خبرو زور واخیست، برژنیف داود خان ته وویل، چي د افغانستان په شمال کي د امپریالیزم[1] جاسوسان راځي، پخوا دغسي مسائلو ته پاملرنه کېدله، خو اوس چنداني توجه نه ورته کیږي، ددغي خبري په اورېدو داود خان سخت عصبي سو او وې ویل: افغانستان د شوروي دوستۍ ته لوی ارزښت ورکوي، خو دا ددې معنی نه لري چي افغانستان باید خپله آزادي له لاسه ورکړي، دا د افغانستان انحصاري حق دی، چي پخپله خاوره کي څوک پرېږدي او څوک نه پرېږدي او په دې برخه کي د ښه ګاونډیتوب ټول شرایط په نظر کي نیول سوي دي، له دې سره یې قلم پر کتابچه کښېښود او ولاړ

1. Imperialism

(c) ketabton.com: The Digital Library



سو، د سر په اشاره يې رخصت واخيست او روان سو، برژنيف ترشا په پسې و، په دراوزه کې وحيد الله، داود خان ته وويل، چې د ديپلوماسۍ له مخي بايد په ښه طريقه رخصت واخيستل سي، داود خان ودرېد او کله چي برژنيف ورته راورسېد، نو په خندا يې ورته وويل: تا زما څخه د يوه شخصي دوه په دوه ملاقات غوښتنه کړې وه، دا وخت ستا په لاس کي دی، چي هر وخت لازم بولې زه په خدمت کي يم.

داود خان هم هغسي تريو و او ځواب يې ورکړ: نور هغسي ملاقات ته ضرورت نسته مسائل حل سول او له دې سره راووت او په هغه پسې له مسکو څخه را رخصت سو، د داود خان دا ملاقات ډېر ترخه عواقب درلودل، شوروي چي پخوا د دواد خان د چپه کولو کوم پلان درلود، هغه يې دستي تر لاس لاندي ونيو، دا ټکر شوروي په دې قانع کړ، چي داود خان نور د شوروي په کړۍ کي ځان نه مقيدوي.

د مسکو تر سفر او د برژنيف سره تر ټکر درې مياشتي وروسته شوروي په کابل کي د خلق او پرچم اتحاد راوست او دا د داود خان له منځه وړلو يو مقدماتي حرکت و، په اردو کي د شوروي درې سوه مشاورين د دغه پلان د پلي کولو لپاره په کار ولوېدل، داود خان په دې پوهېده چي شوروي نور د ده د منځه وړلو لپاره د هيڅ عمل څخه درېغ نه کوي.

د (۱۹۷۸ ز) کال د اپرېل په (۱۷) نېټه مير اکبر خيبر په قتل ورسېد او دا مرګ د ډېرو تباه کوونکو پېښو سر آغاز سو، نوموړی د خلق ديموکراتيک ګوند د پرچم د ښاخ يو ډېر مهم غړی او يو سر سخت کمونيست و، د خلق او پرچم ډلو يې جنازه په سترو مراسمو خاورو ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



وسپارله او د دولت پر ضد یې ویناوي وکړې، داود خان یې متهم کړ، نوموړی هم عصبي سو، د خلق او پرچم د مشرانو د نیولو امر یې صادر کړ.

د داود خان په شاوخوا چي یا د (کي.جي.بي) غړي یا مغروره بې عقلان راتاو سوي وه، هغو داود خان دې ته وهڅاوه، چي شدید عکس العمل وکړي او دغسي یو کار پر اور د تېلو د تویولو حکم درلود، د خیبر مرګ هولناک عواقب درلودل.

د خیبر قتل او په ناحقه د هغه په قتل د داود خان متهمول او د خیبر پر جنازه او فاتحه د دولت پر ضد جنایت کارانه شعارونو ورکولو، محمد داود خان سخت عصبي کړ، د (۱۹۷۸ز) کال د اپرېل پر (۲۵) نېټه د شپې په کابل کي راډیو اعلان وکړ، چي د خاینو عناصرو اووه تنه په دې شهرت ونیول سول: نور محمد ترکی، ببرک کارمل، ډاکټر شاه ولي، دستګیر پنجشېری، عبدالکریم شرعي جوزجاني، ضمیر ساپی، حفیظ الله امین (چي په سبا ونیول سو)، پر دې کسانو د وطن په وړاندي د خیانت تور لګول سوی و، دوي په محبس کي واچول سول او په دا بله ورځ د هیواد په مرکز او ولایاتو کي جشنونه ونیول سول، چي وطن د کمونیستو خاینانو څخه پاک سو، دا شعارونه شوروي اورېدل، خو پلان یې د تطبیق په حال کي و.

د اپرېل په (۲۷) ورځ سهار وختي د حفیظ الله امین په اطلاع د (۴او ۱۵) زغره لرونکي قوا او هوایي قوتونو له خوا د داود خان پر مقر ارګ حمله وسوه، لومړنی ټانک د اسلم وطنجار و، چي پر ارګ او دفاع وزارت یې فیرونه وکړل، داود خان په دغه وخت کي د کابینې غونډه

(c) ketabton.com: The Digital Library



راغوښتې وه، چې د نیول سوو کسانو په هکله تصمیم ونیسي، البته د دوي لپاره اعدام په نظر کي نیول سوی و، د زغره لرونکي قوې ټانکونو پر ښار هم حمله وکړه، خو ډېر زور یې پر ارګ و، داود خان کابینه رخصت کړه او د خپلي کورنۍ سره د ارګ په یوه زېرخانه کي کښېناست.

وزیر دفاع رسولي او دده لوی درستیز عبدالعزیز د صحنې څخه وتښتېدل او د قرغې فرقې ته ولاړل، چي هغه راوبولي، خو هلته هم وضع بدله وه، څو ریشخورته راوخوځېدل بیا په لارکي ونیول سول او ووژل سول.

د ورځي پر (۱۱) بجو لومړی فیر د دفاع پر وزارت وسو، په دې پسې په ارګ کي د ساعت برج والوزول سو او بیا پر ګارډ فیرونه پیل سول، پنځلس دقیقې نه وې تیري سوې، چي له ارګ څخه دودونه آسمان ته پورته سول.

د ورځي پر (۴) بجو د هوایي قواو افسر قادر پس له ډېر قتل و قتال څخه له بګرامه په میګ جیټانو پر ارګ حمله وکړه، دا حملې تر ماښامه جاري وې، د شپې د ګارډ مقاومت ختم سو او هغه قوماندان (صاحب جان) ونیول سو او ووژل سو او بیا وطنجار او قادر د جمهوریت خاتمه اعلان کړه.

په سبا یې د امام الدین په نامه یو افسر ډګرمن ګل آقا د دوو نورو افسرانو سره هغه صالون ته ورننوتل، چي هلته محمد داود خان د خپلي کورنۍ سره پکښې ناست و، امام الدین داود خان ته وویل، چي وسله کښېږده او تسلیم سه، داود خان پر هغه د تفنګچې فیر وکړ، چي امام الدین پر لاس زخمي سو، په دې پسې د غو افسرانو په

(c) ketabton.com: The Digital Library



کلاشنکوفونو داود خان او کورنۍ یې قتل کړل، په دې کې محمد داود خان د هغه دوه ځوان زامن عمر او خالد، مېرمنه یې، د داود خان ورور محمد نعیم خان، د داود خان مېرندې او د هغو اطفال، سردار نظام الدین غازي او عبدالله ټوله (۱۷) تنه په قتل ورسېدل، په دې فاجعه کې د ارګ په سلګونو خلک ووژل سول، همداسې په نور کابل کې په زرګونو خلک په شهادت ورسېدل.[1]

د شهید سردارمحمد داود خان او د هغه د کورنۍ د مړو موندلو لپاره په (۱۳۸۷ لمریز) کال کې د افغانستان نوي ولسمشر (حامد کرزي) یو فرمان صادر کړ او یو کمېسیون یې موظف کړ، چې د محمد داود خان مړي ولټوي، د کمېسیون غړو د څلورمې زغره والې لوا شاته کار پیل کړ، هلته له سهار څخه تر مازدیګر پورې پنځوس، شپېته تنه کارګرانو د کمېسیون تر نظر لاندې کار کاوه، هر کارګر ته د ورځې درې سوه افغانۍ ورکول کېدې، خو په کومه ورځ چې د شهید محمد داود خان او د هغه د کورنۍ مړي وموندل سول، پر یاد مزد سل افغانۍ نوري هم د انعام په توګه ور زیاتې سوې، کمېسیون اعلان وکړ، که هر چا ته د پخواني ولسمشر (داود خان) د ښخېدو ځای معلوم وي، دوی ته دې خبر ورکړي، کمېسیون د پخواني رژیم له لوړ پوړو چارواکو څخه پوښتنې وکړې، خو ګټه یې ونکړه، ځکه هغو ویل نه پوهیږو او خبر نه یو، ځینو افغانانو له بهر څخه ټلیفونونه کول یو ځای او بل ځای یې ښوول او کمېسیون به هم ځایونه پلټل، یوه اونۍ وروسته سردار نادر نعیم خبر ورکړ، چې له پکتیا څخه د پخواني

---

۱.کاندید اکاډمېسن محمد ابراهیم عطایي، د افغانستان پر معاصر تاریخ یوه لنډه کتنه، ۲۹۲ مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځلورمي لوا یو افسر (پادشاه میر) ټلیفون کړی او ادعا کوي، چې د ښځېدو اصلی ځای ور معلوم دی.

پادشاه میر یوه اونۍ وروسته کابل ته راغی، د کیندلو ځای چې یې ولید، ویې ویل چې خطا وتلي یاست، تقریباً درې کیلو متره وړاندې د صافي غره لمنه یې وروښوول، چې د ځلورمي لوا شمال کیږي، کله چې د کمېسیون غړي ور ورسېدل، نو پادشاه میر ورته وویل چې دغه ځای دی، خو تر لږ شېبې وروسته داسي وبرېښېده، چې هغه هم ځای نه پېژني، هري خواته یې کتل، بیا یې په عاجزۍ وویل، ورونو دېرش کاله تېر سوي د مځکي مخ او ښتی، نو ځکه پوره نه پوهیږم، چې قبرونه به چیري وي، همدغه مهال یو لاروي د کمېسیون له غړو ځخه پوښتنه وکړه، چې په څه بوخت یاست؟ کله چې وپوهېده، په منډه ولاړ او د نږدې کلي څخه دوه کسان (حمیدالله او مولاګل) یې خبر کړل، دې دواړو کسانو سره کره معلومات وه، مولاګل تقریباً شپېته متره شاته ولاړ، پر یو ځای ودرېد او ویې ویل: قبرونه دادي، نږدې سل متره ها خواته ولاړ او په ګوته یې اشاره وکړه، دوهم قبر دا دی، معنی دا چې دا مړي په دوو ډله ییزو قبرونو کي په جلا ډول ښخ سوي دي، تر کیندو وروسته په یو قبر کي (۱۳) مړي او په بل کي (۱۶) مړي ټول (۲۹) تنه مړي، ښځي، کوچنیان او نارینه وموندل سول.

د شهید سردار داود خان او د هغه د کورنۍ مړي د کابل په پلچرخي کي له موندلو وروسته (۲۰۰۹ ز) کال د مارچ په (۱۷) نېټه د سکاټ په غونډۍ کي، چې د داود خان په نوم ونومول سوه، خاورو ته وسپارل سول.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د داود خان د واکمنۍ پای ته رسېدل او د یوه نوي سیاسي نظام مېنځ ته راتګ سره د هیواد سیاسي وضع بدله سوه، په دې موده کې د اختلافونو په وجه نړیوالو قدرتونو ته د مستقیم تېري لپاره زمینه برابره سوه او تر اوسه پوري زموږ هیواد د یوه قوي مرکزي سیاسي نظام خاوند نه سو، ددې پېښو او حوادثو لاملونه د داود خان د واکمنۍ سره تړنګې اړیکي لري.[1]

محمد داود خان یو ریښتنی وطن دوسته شخص و، چي د وطن لپاره یې سر، کورنۍ او مال قربان کړ، د داود خان په قتل سره د هلمندیانو واکمني خاتمه وموندله، چي په (۱۸۳۵ ز) کال کي په لومړي ځل امیردوست محمد خان د لرغوني هلمند یو بچي د افغانستان پلاز په لاس کي ونیو، له (۱۷۴۷ ز) کال څخه تر (۱۹۷۸ ز) کال پوري هلمندیانو د افغانستان په معاصر تاریخ کي ډېر رول درلود، په یادو کلونو کي د هلمند د لرغوني سیمي (۱۲) تنه پاچاهان، په لسګونو وزیران، سفیران، جنرالان، سلاکاران، دولتي مامورین، معلمان، استادان، روڼ اندي، والیان، ښاروالان، رئیسان او نور ډېر لویو -لویو دولتي چارواکو او ستر عالمانو د افغانستان په دولتي تشکیلاتو کي ځای درلود او پر ټول افغانستان یې واکمني کوله.

۱.پوهندوی مستعلي نیازي، د سردار محمد داود خان د واکمنۍ سیاسي ستونزي، ۲۵۷ مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



# هلمند (هیتومنت)

# درېیمه برخه

# کلتوري دودونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



# لو مړی څپرکی

## دود (عرف او عادات)

دود او دستور، رسم او رواج د یوه ولس په ژوندانه کې ډېر دخل لري او هیڅوک یې له تاثیره بیخي نسي وتلای، کوم تغیر او تحول چې په عرف او عاداتو کي پیښیږي، هغه ډېر ځنډنی دی او زموږ د نن ورځي دودونه او رواجونه له ډېري زړې زمانې یادګار دي، چې نسل په نسل موږ ته رارسېدلي دي.

ځیني پخواني دودونه اوس هم په ځینو متمدنو او مترقي ملتونو کي سته، چې څه مادي یا معنوي کټه پکښې سړی نهویني، مګر دد يې له املـه چـي د خُلـق او عـادت ځـای یـې نیـولی دی، څـوک یـې نسـي پرېښوولای.

د یـوه ملت ذهني او روحي پېژندګلوی له دود او دستور سره ډېره ټینګه اړیکه لري او همدغه شی یو ملت له بل ملت څخه په معنوي او کلتوري لحاظ بېلوي.

د انسـان ناسـته ولاړه، تـګ راتـګ، خنـدا او ژړا، غـم او ښـادي، دوستي او دښمني پـه هر ځـای کي یـو څه مخصوص اداب او رسـوم لري، چي څوک ورسره مخالفت نسي کولای او ښه سړی یا بد سړی په همدغه هنداره کي لیدل کیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځوک چي د یوه ملت حال مطالعه کوي او غواړي، چي معنوي او حقیقي څېره یې ځانته معلومه کړي، نو د هغه ملت په دود او دستور کي دي ژوره مطالعه پیل کړي.
په یوه ملت کي هغه کسان په نورو باندي ډېر تاثیر او نفوذ پیدا کولای سي، چي د قوم عادات، اخلاق، دودونه او رواجونه ورته ښه معلوم وي او له دغي لاري څخه د خلکو له روحیاتو او نفسیاتو سره ښه اشنا سوي دي.[1]

نو پدغه منظور موږ هم تاسو ته د هلمند د لرغوني سیمي هغه مهم دودونه وړاندي کوو:

## د کورنۍ جوړښت:

هلمندیان عموماً کورنۍ په نږدې ترېرو کي تشکیلوي، یعنې د اکا زوی باید لومړی د اکا لور وغواړي او که هغه نه وي، نو د عمه لور غواړي او د پلار په سلسله کي د ښځي غوښتل د کورنۍ پخوالی بولي، تردې را وروسته که د پلار په خوا کي ښځه ونه غواړي، نو د مور له خپلوانو څخه ښځه ټاکي او داسي بېرته هغه پلرنۍ اړیکه ټینګوي، چي مور او پلار بیا سره د اکا لور او زوی وي.
تردې چي راتېر سو، نو په دغه ترتیب سره نورو ترېرو کي ښځه غواړي او ډېر لږ داسي پېښېږي، چي له بل قوم څخه ښځه وغواړي.
دا سلسله په هغو کورنیو کي پالل کیږي، چي اقتصادي وضعیت یې ښه وي او هلته چي فقر او مسکنت غلبه کړې وي، نو لږ داسي

۱.پښتني دودونه، ۱ مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



رسوماتو پيروي کيږي، د کورنۍ په جوړښت کي مور او پلار لوی غړي دي، مشر زوی د پلار اوږه او مشره لور د مور د لاس لکړه ده.

## د کورنۍ غړي:

مور او پلار د کورنۍ مشران دي، پلار ددې مسئول دی، چي خرڅ برابر کړي، ستونزي وګالي او د کورنۍ لپاره ډوډۍ پيدا کړي، مور به د کور انتظام برابروي، ډوډۍ به پخوي، اولادونه به روزي.

مشر زوی او مشره لور تر پلار او مور لاندي د کور مشران ګڼل کيږي، مشر زوی له پلار سره يو ځای کار کوي او په عمومي ډول يې د پلرني کورنۍ سره تر هغه وخته اړيکه ټينګه وي، چي تر څو واده کوي، همدا ډول لور د مېړه تر کور پوري له پلار او مور سره اړيکه لري.

کليوالي يا وطنوال خلک عموماً د اقتصادي شرايطو د کمزورۍ په وجه لويي کورنۍ نه سي تشکيلولای، دا سبب دی، چي نيکه او انا يا اکا، عمه، خاله او ماما يوائې د هغو کورنيو د غړو په شمېر کي داخليږي، چي اقتصادي وضعيت يې ښه وي، يعنې ماړه وي.

## د هلمنديانو کورونه:

وطنوال هلمنديان ډېر مختصر کورونه جوړوي، اکثره په خټينو او لرګينو کورونو کي ژوند کوي، چپرۍ دروي او پر سر يې نلان وراچوي، خو ماړه خلک يې په کلاوو کي اوسيږي، د دوي کورونه داسي جوړ سوي وي، چي په يوه برخه کي پخپله ژوند کوي، په بلي برخي کي حيوانات دروي او له بلي برخي څخه د تحويلخانې کار

(c) ketabton.com: The Digital Library



اخلي، دا كورونه غولی (صحن) نه لري او كه ځيني كورونه يې هم ولري، نو هغه پر كوډلو د كېږو دېوالونه راګرځوي، خو اوس مهال د ګچ، سمينټ، ډبرو او سيخو كورونه په ښار كي او څه هم په اطرافو كي رواج دي.

هغه اطاق يا خونه چي دوي ژوند پكښې كوي پر سر (چت) يو كولک لري، چي دود ترو زي، او ر د خوني په يوه كونج كي بلوي يا يې د خوني په منځ كي نغری جوړ كړی وي، د خوني پر دېوال موړی ټكوهي پر هغه باندي د ضرورت وړ شيان لكه د غوړو من او داسي نور شيان ځړوي.

ماړه خلک په كلاوو كي اوسېږي او هريو تر خپل وس پوري پخې او كلكي كلاوي جوړوي، كلاوي برجونه لري او دېوالونه يې خورا جګ وي، په منځ كي يې پر لوی غولي شاوخوا خوني راګرځېدلي وي، د كلاوو خوني په ضربۍ د اومو خښتو څخه جوړېږي، د كلاوو خلک يا په كلاوو كي دننه حيوانات دروي او يا د كلا د اړخ سره ځای ورته لري، خو په عمومي ډول د حيواناتو د درېدلو ځای د كلا بيت الخلا هم وي او دوي يې د (شاخونه) بولي، د اوسېدلو په خونه كي د (تنبې) په نامه يو ځای جوړوي، چي پر هغه د كور ټولي كمبلي او نور شيان وډي او هغه ته كور هم وايي.

اوس مهال په لښكرګاه ښار كي پاخه تعميرونه زيات جوړېږي او خلک پكښې اوسېږي، دا تعميرات په ښو وسائلو سمبال وي، د كور اطاقونه دننه په تعمير كي وي، ځيني خلكو په كور كي دننه آشپزخانه او حتی بيت الخلاوي هم جوړي كړي وي، د مېلمنو سرايچه جلا وي،

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځکه داسي کور په هلمند کي نسته، چي هر وخت مېلمه ونه لري او هلمندي ولس ډېر مېلمه پاله خلک دي.

## د هلمندیانو کالي:

د وطنوالو بزګران چي ددې سیمي لوی اکثریت تشکیلوي، کالي یې عبارت له یوه کمیس، پرتوګ او لنګوټې څخه وي، کوسی هغه د کراستي څخه جوړ سوی لباس دی، چي هم په ګرځېدلو کي پر اوږو کیږي او هم د شپې د بړستني کار ورکوي، ځیني بزګران سدری (واسکټ) اغوندي او د کرباس پټهو وان پر اوږو کوي، کمیس یې تر زنګنو لا تېر وي، اوږده او لوی خلاص خولې لستوڼي لري، پرتګان یې ډېر چوڼ لري، پایڅې یې تر زنګنو څلور ګوټې را لاندي وي او د پایڅو خولې یې ډېري لویې وي، اکثراً د کمیس د لمني څوکه او د پایڅو خوله سره یو ځای وي.

د بزګرانو ښځي اوږد تور کمیس اغوندي او پرتوګ یې د سره الوان وي، لور تور پوړنی پر سر کوي او پر هغه سربېره یوه توره ریښکۍ څو وله پر سر پېچي چي لکه لنګوټه داسي ایسي، سپین سري ښځي یې ملا هم په یوه بل ټوکر تړي، د کالو په جوړښت کي مهمه داده، چي کمیس او پرتوګ چي هر څومره ډېر چوڼ ولري، په هغه اندازه په زړه برابر کالي بلل کیږي، د بزګرانو نر او ښځي تر هغو بله جوړه کالي نه کوي، تر څو یې هغه مکنځۍ جوړه پر ځان نه وي توی سوې، دوي کالو ته د پینو په ایښوولو کي د رنګ توپیر ته اهمیت نه ورکوي، هلک چي واده وکړي او زوم سي، د هغه د کمیس غاړه او لستوڼي

(c) ketabton.com: The Digital Library



(چکن کوي)، که د کمیس ټوکر تور وي، نو سپین خامک پر کوي او که ټوکر سپین وي، نو تور خامک پر کوي.

سدرۍ عموماً له ښار څخه رانیسي او ډېري غوټې پر ټکوهي، همدا ډول انجلۍ چي ناوې سي، هغې ته خامکي کالي ورکوي او د کمیس پر ځګر سپیني روپۍ ټکوهي، د وطنوالو ماړه خلک سپین کالي اغوندي، پټوان پر اوږو کوي او موچنې په پښو کوي، د لنګوټې سره خولۍ پر سر کوي او د سدرۍ په سربېره جېب کي ساعت یا مسواک اچوي، د خانانو خلکو ښځي هم تور کالي اغوندي، خو پوړنۍ چي پر سر کوي هغه سپین وي، د پرېوتلو کالي یې ډېر مختصر وي، بزګران خلک په کوسي کي بیدیږي او ښځي ټولي په یوه تلتک (برېستن) کي د خپلو کوچنیانو سره پرېوزي.

## د هلمندیانو خوراک:

د وطنوالو خلکو د طبقاتي اختلاف په وجه د دوي خوراکونه هم یو له بله توپیر سره لري، مثلاً بزګران عموماً جورینه ډوډۍ، غوړي او داسي نور څه خوري، په عمومي ډول د دوي خواړه په لاندي ډول دي:

## کورت او غوړي:

دا غذا داسي تیاریږي، چي کورت وزدویي، بیا یې وایشوي، ډوډۍ په کاسه کي وړه کړي، دا تاوده کورت پر توی کړي، سربېره سره کړي غوړي پر واچوي، دې ته (کله جوش) هم وایي، مسکینان خلک بې غوړو کورت خوري، د کلیوالو خلکو کورت او غوړي ډېر خوښ

(c) ketabton.com: The Digital Library



وي، نو ځکه وايي: کورت دي وي غوړي دي وي په غم او په سوځي دي وي.

## نخړي:

دا خواړه کليوال يا وطنوال خلک په هغه ورځ خوري چې کوچې ويلې کوي، نخړې داسې پخيږي، چې کوچې په غوړو اړوي، نو کوچې سره کړي او کله چې ويلي سوه، کوچې صاف کړي، نو د دېګ په تل کې د کوچو ځخه د شلومبو او مستو غټړي پاته سي، په هغو لانده اوړه ولړي، چې غواړي ښه يې خوشمزه راولي نو څه نوي مستې هم په ولړي بيا يې نو خوري.

## خرېړی:

د غوا يا مېږو د لنګون په وخت کې وطنوال خلک د شيدو ځخه ډول ډول خواړه جوړوي، چې يو يې خرېړی دی، دا خواړه له شيدو او مستو ځخه جوړيږي، ځنې مستې په دکې کې واچوي، سربېره غوا پر ولوشي د شيدو او مستو ګډ شي ته خرېړی وايي.

## شيدې او غوړي:

د غوا ځنې شيدې وايشوي، سره کړي غوړي ورسره ګډ کړي، بيا ميده کړې ډوډۍ پر توی کړي او خوري يې، دا نو شيدې او غوړي بولي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



### اوربه:

د تازه لنګي سوي غوا کنډیاتي شیدې اخلي او ګوړه ورسره ګډوي دې ته اوربه وايي.

### لاندی:

د پسه یا د غوايي وچې کړې غوښې چې ښوروا ورڅخه جوړوي لاندی نومیږي او په ژمي خوړل کیږي، نور نو لیږې، د شلومبو شکنه او داسي نور د وطنوالو خلکو خواړه دي.

### ښوروا (شوربا):

اوس مهال هلمندیان هم د نورو ولایاتو په څېر ځیني نور خواړه هم پخوي او خوري، لکه، پلو، غورمه، کباب، بینډی، ښوروا، منتو، سبزي جات او داسي نور...

## د هلمندیانو واده:

### مرکه:

یو ځوان ته باید ښځه په لومړي سر کي د مور او پلار لخوا انتخاب سي او که هغه نه وي، نو نور خپلوان مشران یې ښځه ورته غواړي، د ولور تعین د زوم او ناوي د خپلوانو تر منځ کیږي او د هغه درپیمه برخه باید د دسمال په ورځ د ناوي پلار ته ورکړل سي، دلته د ناوي د کور له خوا هغو خلکو ته کالي ورکول کیږي، چي په دغه مرکه کي ګډون لري، د ولور دوه نور ثلثه چي کله د زوم له خوا تادیه سي، نو زوم په

(c) ketabton.com: The Digital Library



خلاصه پښنه د خسر کره ورتلای سي، یو شی چي په هلمند کي رواج لري، هغه بابېړی دی، دا هغه مبلغ پیسې دي، چي د ټاکل سوي مهر یا ولور څخه ماسېوا یې د انجلۍ پلار د خپلي خوراکې په نامه غوښتونکی سي.

اکثره وګړي د ولور د دوهم او درېیم قسط په وخت کي و دریږي او طاقت یې نه لري چي ټول ورسوي، دا نو هغه مرحله ده، چي کلونه نیسي او ځیني .ځیني بیخي له ښځي څخه محروم کیږي، د بزګرانو پیش خوري چي د دوي د غلامۍ او بند سبب ګرځي په دغه وخت کي منځته راځي.

هلمندي ولس کي د پښنه خلاص او بازو اصطلاح ډېره کاریږي، دا په دې معنی ده، چي کله زوم د ولور پیسې ژر نسي ادا کولای نو د زوم قریبان د ناوي پر دوستانو مرکه سي او د ناوي په کور کي د زوم او ناوي د ګډ ژوند پر پیل سره راضي سي، خو تر واده او ولور ادا کولو پوري ناوې د زوم کور ته د ورتلو اجازه نه لري، یوائې زوم اجازه لري، چي د ناوي کور ته ولاړ سي.

## واده:

په هلمند کي د ښار او کلیو د خلکو رسوم هم څه نا څه توپیر کوي، موږ دلته لومړی کلیوالي واده او وروسته ښاري واده تر بحث لاندي نیسو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## کليوالي واده:

په کليو کي تر هغه وروسته چي خسر ته ټول ولور تادیه سي، نو زوم تر واده دمخه د ناوي کره ځي او شپه د ناوي سره تېروي، دې ته ولسي خلک (بازی یا پښه خلاص) وایي، کله چي زوم بازیو ته ځي، نو خلک له ځان سره بیایي په دغه شپه هم خرڅ په زوم پوري اړه لري، زوم چي د بازیو په اوله شپه هر ډول مصرف د خسر پر کور مېلمانه کړي دوي یې سر لوړی بولي.

له هغه وروسته د واده په شپه د زوم ټول خپلوان، د کلي مشران او ملا او د هغوي ښځي د ناوي کره ورځي او دا شپه چي د ناوي کره تېره کړي، نو ناوې سهار د زوم کور ته راولي، د واده په شپه ښځي د ناوي سره او نارینه د خسر سره ناست وي.

په دې مجلس کي د مځکو خاوندان په کوټه کي لوړ یو ځای ناست وي د ناوي او زوم د کليو ملایان د هغو خبرو ته غوږ نیسي یا پخپله د کتابو خبري کوي، د کلي مزدوران او بزګران په مجلس سره اخته وي، زوم چي د هر ډول کښتي طبقې وي د واده په شپه د خانانو خلکو په منځ کي پر تخت کښېني، همدا ډول ښځي د ناوي په کور کي پر ناوي راګرځېدلي وي، ناوې پر تخ ناسته او په پوړونو کي پېچلې وي، ځوک دریږي وهي، څوک مجلس کوي، خو د مورا (د ملا ماینه) ځای د ناوي د تخت تر څنګ وي، د دریو دربی، د ښځو غالمغال او د کوچنیانو کړکچو یوه لویه ولوله جوړه کړې وي، چي آوازیې کله کله د ډېر لیري څخه اورېدل کیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د واده پـه شـپه عموماً شـوربا (ښـوروا) او د غنمـو ډوډۍ خـوري، غوښي د پسه یا غوایي پخوي، د لوی مجلس په منځ کي یوې خوا ته د کمبلو ستر خانونه او بلې خوا ته بیخي هیڅ شی نه هواروي، چي ډوډۍ خلکو تـه وویشـي، د مـړو خلکـو پـه ودو کـي خانـانو او ملایـانو تـه د ډوډۍ سره وریجي هم ورکول کیږي.

د ډوډۍ وروسـته د نـاوي سـره چـي زوم یـو ځـای کیـږي هغـه خـاص مراسم لري، اکثراً چي د بازیو په شپه د ناوي سره نه وي یو ځای سوی، نو د واده په ماښام د خسر په کور کي د ناوي سره یو ځای کیږي.

هغه وخت چي د زوم د لاس پرېولو په لوبنی کي خپلوان او دوستان سیالداري[1] پر ځای کړي، نو زوم د نارینه وو له مجلس څخه د ناوي کور ته وروستل سي او هلته تر آینه مصحف وروسته په خاصه خونه کي پرېوزي، سهار چي د ناوي څخه راولاړیږي، باید د هغې په پلو پوري یو څو پیسې ورغوټه کړي.

سهار چي لمر راوخیژي د ناوي کلنګ (د زوم او ناوي د کور نوي کـالي) راباسـي او پـر بودګـانو بانـدي یـې تـړي، نـاوې لـه کـور څخـه راباسي او دلته زوم ته په نښان هګۍ یا بل شی ایږدي، زوم باید هغه وولي او که نه تر خسرخېلو پوري یې سر کښته کیږي.

دا مهال د سیالدارۍ پیسو څخه ملا تـه یـو څـه ورکـړي، بیـا نـاوې او زوم پر یوه آس یا اوښ زوم تر مخه او ناوې تر شا سپره سي، دا وخت ښځي په دریو کي دا بدله وایي:

---

۱.سیالداري هغه رسم دی، چي کله زوم د واده په شپه په یو لوبني کي تر ډوډۍ وروسته لاس پرېمنځي نو د هغه لوبني څخه اوبه توی کړي او بیا یې میدان ته راوړي، دلته خپلوان هر یو، یو څو پیسې پکښې اچوي او په دې پیسو ناوې د خپلوانو څخه هر یوه ته یو.یو شی جوړوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



زمـــوږ واده پـــر ګرمســـېل دی
نـــــاوې ژړ ژړ جوړویـــــــه
راســـــره د ســـــپرو ســـــیل دی
د کـــــور ســـــره ګـــوره نړیــــږي
نـــاوکۍ مـــو ځنـــي بوتلـــه
اوس بـــــه څـــوک وړ ولاړیـــــږي

په دې وخت کې چې زوم خسر ته ورتېر سي او لاس یې ورمچوي، نو ښځې دا وایي:

د ســـهار چرګـــو کـــل کـــل کـــی
زمـــا جـــان دغـــه دی راغـــی
پــــر خســــریـــې تـــوکل کـــی

ناوې چې د آس خوا ته راتېروي نو هغه د مور په غاړه کې لاس ور واچوي، ښځې په دریو کې دا مسرۍ واخلي:

لـــــور او مــــــور ســــره ولاړ ي
د لـــور اوښـــکي یـــې را تـــوی ســـوې
ددې مـــور پـــر ګـــــرېوان بانـــدې

کله چې ناوې د مور څخه راخلاصه سي او آس ته خیژي خلک پېتوان ونیسي او په دریو کې دا بدله ویل کیږي:

(c) ketabton.com: The Digital Library



لـــــــېورو ونیســــــئ لـــــنګیه
د لالــــــي نــــــاوې رابــــــاسو
مــــخ یـــې لمـــر شـــا یـــې ســـپوږمیه

نـاوې چې پـر آس سپره کړي او زوم هم ورسره سپور سو، نو دا وروستۍ مسرۍ پسې ووایي:

لمـــــر راوخـــــوت اوره ســــره ســــوه
کـــــه ورابـــــانې زمــــــا د جــــانوه
د برېښـــــنا پـــــه دود یـــــې تـــــله ســـــوه

د ناوې د تګ په وخت کې د پلرګنۍ له خوا یو دسمال ناوې ته ورکول کیږي، چې دا لاندې شیان یې په کونجو پوري غوټه وي:

یوه دانه ستن: د ناوې د کارنده توب په شګون
یو غټې مسري: د ناوې د خوږوالي او شیرینۍ په شګون
درې دانې غنم: د ناوې مړتوب او رزق مینۍ په شګون
یو غټې سرپ: د ناوې د دروندوالي په شګون
یوه دانه وڅکه: د ناوې د نورو په نظر کې د محبوبیت په شګون
اووه دانې لونګ: د ناوې د خوشبویه په شګون
یوه دانه د پسه پچه: د ناوې د مالداره کېدو په شګون

ناوې چې د زوم کور ته ورسي، نو د هغه عام دود په حکم چې د ډېر پخوا څخه د هیواد په ټولو مناطقو کې یو عام شکل لري، نغري یا تنور ته ور وستل کیږي، په درېیمه ورځ ناوې جوال یا کندو یا د اوړو ښانک ته ولاړه وي، کله چې ناوې ډوډۍ پخه کړي، نو ماړه خلک

(c) ketabton.com: The Digital Library



غړي (غوړه ډوډۍ) او مسکينان وچه ډوډۍ يا د جوارو سوړسک په کلي وېشي او خوشحالي کوي.[1]

**ښاري واده:**

د کوزدې خبرې اترې په هلمنديانو کې زياتره د هلک د مور او پلار لخوا شروع کيږي او که د هلک مور او پلار نه وي ژوندي، نو د هغه د کورنۍ د نورو مشرانو لخوا تر بحث لاندې نيول کيږي.

د کوزدې لپاره په عمومي ډول وار د واره د مرکې په نامه ځو ښځې له کوره وځي، پر شاوخوا او نږدې کورو کې ګرځي، په کورو کې چې پېغله يا پېغلې پکښې وي ګوري، د يوه کوره بل کور ته ورځي، څو په هر کور کې چې يې خپله مطلوبه پيدا کړه، يعنې د کور پېغله چې يې خوښه سوه د ځانه سره يې وټاکي، په سبا يا څو ورځې وروسته په دې شرط که د انجلۍ کورنۍ هم راضي وه او دوي يې خوښ وه، بيا هغه ښځې چې دمخه ورغلي وې، څو ښځې نوري هم ورسره ملګري سي او د انجلۍ کره ورسي، دا ورتګ د مرکې په ډول نه وي، بلکې فقط د انجلۍ د کړو وړو، قد، قوارې، خوی او اخلاق د کتنې لپاره وي، څو يې ورښکاره کړي او په پخو سترګو يې ووينې.

په سبا د هلک د کورنۍ لخوا دوه يا درې تنه د انجلۍ کور ته ورځي، د انجلۍ د پلار يا د هغې د يو بل مشر سره د دوستۍ خبرې کوي، که د انجلۍ د کورنۍ غړو سل په سله کې رضايت ښکاره کړ، نو د هلک خپلوان بلې ورځې ته راغواړي، دوي په دغه اونۍ کې بېرته د

---

۱.کانديد اکاډمېسن محمد ابراهيم عطايي، هلمند د کلتور په ساحه کې، ۹۳مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



انجلۍ کور ته ورځي، یو شمېر د هلک د کورنۍ لخوا او یو شمېر د انجلۍ د خپلوانو څخه د انجلۍ کور ته ځي، هلته وروسته د چای تر چښلو نکاح تړل کیږي او تر نکاح وروسته د مجلس هر غړي ته یوه جوړه کالي او د شرینۍ یو – یو دسمال چي یو څه چاکلېټ او خواږه پکښې وي ورکول کیږي، د زوم د کور لپاره په یوه لوی پتنوس کي چي خواږه پکښې وي، مجلس ته راوړل کیږي، د مجلس په خلکو چي شیریني ووېشل سي، د پتنوس شیریني په یوه دسمال کي د زوم د کور او کهول لپاره تړل کیږي، هغه کورنۍ چي اقتصادي حالت یې سم وي، د نوي زوم لپاره په یو پتنوس کي کالي او نور سامان هم ورکوي، په دغه حال کي د زوم او ناوي د کورني د مشرانو تر منځ ولور هم ټاکل کیږي.

دسمال چي د انجلۍ د کور څخه د زوم کور ته راوړي، پر لاري به د زوم د کوچني ورور یا د یوه بل کشر پر اوږه وهل کیږي، هغه به پر لاري په مخ او نور به تر شا پسې روان وي، چي کور ته دسمال راوړي، د دسمال په لیدلو سره د کور ښځي د دریو په وهلو شروع کوي.

د دسمال له راوړلو سره نو د زوم او ناوي د کورنیو تر منځ ځیني رسومات اجراء کیږي، لکه د زوم د کورنۍ لخوا ناوي ته او د ناوي د کورنۍ لخوا زوم ته ډوډۍ وراستول، ډول ـ ډول کالي یو بل ته استوي، په هلمند کي دغه وخت چي ناوي لا د پلار په کور کي وي، تر هغه چي واده کیږي، نو زوم ته ګنډونه[1] وراستوي او ځیني کورنۍ د واده وروسته تر هغه چي د ناوي مور ژوندۍ وي، خپل زومانو ته

۱.ګنډه یا غاړه هغه خامکي کالي دي، چي پر ځګر یې په وریښمو کار سوی وي، په نورو ولایاتو کي کندهارۍ غاړه بلل کیږي

(c) ketabton.com: The Digital Library



ګنډونه او کالي وراستوي او دغسي په روژه کي د ناوي او زوم له کورونو څخه یو بل ته روژه مات استوي، د ډول ډول مېوو لېږل او داسي نور، خو د یادولو وړ ده، چي دا دودونه چي هر څومره ډېر اجراء کېږي، دا د کورنیو په اقتصادي وضعي پوري اړه لري او الزامي جنبه نه لري.

د هغه څخه وروسته د واده لپاره تیاری شروع کېږي، د واده د ورځي او شپې تر ټاکلو وروسته یوه شپه مخکي له واده څخه د زوم د کورنۍ غړي سره له زوم، د ناوي کور ته په داسي حال کي ورځي، چي د ماښام ډوډۍ خوړل سوې وي، دې شپې ته د نکریزو شپه وایي.

نکریزي د زوم د کور له خوا په یو پتنوس کي وړل کېږي، د نکریزو پر پتنوس د ښایست لپاره ډول ډول ګلان او شمان پکښې لګوي، په داسي حال کي، ښځي او انجوني ډول ډول سندري او بدلي وایي.

په لومړي سر کي زوم او نور نارینه د انجلۍ د کور په مېلمستون کي کښېني، د مېلمنو لپاره ډول ډول، وچي او لندې مېوې د چای سره پر ستر خان پرتې وي، یو څه وخت وروسته د کور له داخل څخه د زوم کشر اخښیان راځي او زوم د کور داخل ته بیایي.

کله چي زوم کور ته داخلېږي، نو دلته د انجونو لخوا بدلي ویل کېږي او دریي ټکول کېږي، د زوم او ناوي لپاره په یو مخصوص ځای کي، کوچ او یا هم نالۍ ایښوول سوې وي، زوم او ناوې څنګ پر څنګ سره کښېنوي، د دوي پر شا و خوا نوري ښځي، لکه د زوم خویندي، د زوم د اکا ښځي، د ماما ښځي، عمه ګاني، خاله ګاني او نور خپلواني ښځي سره د ناوي له خپلوانو سره راټولي سوي وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د زوم او ناوي لاسونه دلته په نکریزو ور سره کوي، تر هغه وروسته د مجلس ټولي ښځي او ماشومان له هغه پتنوس څخه چي د زوم له کوره د ناوي کور ته راوړل سوي دي، نکریزي اخلي او خپل لاسونه په سره کوي، دا محفل تر ډېره دوام کوي او بیا چي ښه ناوخته سو، بیا نو زوم او د کورنۍ غړي یې خپل کورته ځي.

ددې شپې په سهار چي د واده ورځ ده، د ډوډۍ تیارۍ شروع کیږي، که واده د غرمې لخوا وي، نو مېلمانه معمولاً پر یوولسو (۱۱) بجو راغونښتل کیږي او که د شپې لخوا وي، معمولاً د ماښام تر لمانځه وروسته د مېلمنو ډوډۍ شروع کیږي.

اوس مهال که په ښار کي ودونه کیږي او که په ولسوالیو کي، تر ډېره حده د زوم د کورنۍ لخوا کوښښ کیږي، چي ښه خواړه، لکه، غوښي، وریجي، سلاته، کوک، پیپسي او داسي نور شیان د واده په شپه او یا د واده په غرمه مېلمنو ته ورکړي، په لښکرګاه ښار کي اوسمهال دوه، درې د واده صالونونه جوړ سوي دي، هغه خلک چي اقتصادي وضع یې څه نا څه جوړه وي، په هغو هوټلونو کي خپل ودونه نیسي.

د واده د شپې د ډوډۍ وروسته یو څه خلک کورونو ته ځي، د زوم خپلوان نارینه په کوټه او یا دباندي ځای ورته جوړ سوی وي، ناست وي، په کور کي دننه د ښځو د بدلو ږغونه تر ډېرو لیرو سیمو اورېدل کیږي، پدې ترڅ کي زوم کورته دننه راوستل کیږي او د آینه مسپ (آینه مصحف) په نامه مراسم اجراء کیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په کور کي دننه د زوم او ناوي خپلوان (ښځي) ناستي وي، پدې وخت کي زوم هم راوغوښتل سي او ددې په څنګه کي، چي مخصوص د ناوي او زوم لپاره جوړ سوی دی، کښېنول کيږي.

لومړی د کور د يوې غړي لخوا قرآن کريم ورته پرانيزي، زوم او ناوې دواړه پکښې ګوري او يو څه ځني لولي، پدغه وخت کي د ناوي مخ لڅ وي او پلو يې له مخ څخه پورته وي، خو سترګي يې بيا هم پټې وي، په قرآن کريم پسې زوم او ناوې په هنداره کي سره ګوري.

په پر مختللو کورنيو کي دا رواج دی، چي د واده د شپې لپاره کيک جوړيږي، چي وروسته يې د زوم او ناوې په لاس په يو چاقو پر منځ ماتيږي او وروسته يې زوم د ناوي او ناوې يې د زوم په خوله ورکوي.

دلته ماليده هم جوړه سوې وي، چي له کيک سره ټولو ښځو ته ور وېشل کيږي، د واده د شپې رسومات تر همدغه ځايه پوري وي، وروسته نو هر څوک آزاد او اختيار يې خپل وي، ناوې او زوم په خپله خونه کي سره يوائي کيږي، خو په ولسواليو کي رسومات بل ډول دي، ډېر وخت زوم د واده په لومړۍ شپه دباندي له خپلوانو سره وي او حتا هلته دباندي بيديږي.

د واده تر شپې وروسته د واده پر دريمه ورځ چي د تخت جمعې (تخت ټولوني) ورځ ده، د زوم خپلواني ښځي د زوم کور ته تشريف راوړي، هلته د ناوي د کور لخوا چي څه سامان راوړل سوی وي، ټولو ته ښکاره کيږي، پدې سامان کي د زوم د نږدو خپلوانو لپاره کالي او نور سامان آلات ايښوول سوي وي، چي وروسته ټولو ته د تحفې په شکل ورکول کيږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د واده د ورځي په لسمه یا پنځلسمه د زوم خپلواني ښځې د زوم کور ته ورځي، تر څو نوې ناوې د کور کار ته له تخته راولاړه کړي، پدې وخت کي ناوې نغري یا تنور او یا آشپزخانې ته ور وستل کیږي او هلته یو څه په پخوي.

په دې پسې ناوې د خپل خسر ګنۍ پر نر او ښځو، لوی او کوچني د خسر څخه نیولې بیا د کور تر دوه کلن هلک او انجلۍ پوري نوموته ایږدي او د خسرګنۍ لخوا پر ناوې نوم ایښوول کیږي او بیا یې ټوله پدې نامه بولي.

له واده څخه چي څو ورځي تېري سي، نو د زوم خوابښې خپل زوم او لور په مېلمستیا راغواړي، د هغې څخه نو د مېلمستیاوو لړۍ پیل کیږي او هر نږدې خپلوان زوم او ناوې خپل کور ته د مېلمستیا لپاره راغواړي.

## د کوچیانو واده:

په عمومي صورت کوچیان یوه ښادي لري، چي هغه عبارت له واده څخه ده، نوري هغه ښادۍ لکه په وطنوالو کي چي رواج دي، په دوي کي چندانې نسته.

کوچیان عموماً په هغه موسم کي ودونه کوي، چي د وریو پیسې واخلي او دا واده پریخه مځکه کیږي، په واده کي د دوي او کلیوالو چنداني توپیر نسته هلک چي ځوان سي، ښځه د مور او پلار له خوا ورته انتخاب کیږي، په واده کي ورسره وي، ډوډۍ په ښانکو[1] کي

۱.ښانک هغه لويه کاسه ده، چي له لرګي څخه جوړه سوې وي

(c) ketabton.com: The Digital Library



خوري تر اوو شپو پوري زوم او ناوې د کار ځخه استراحت لري، خو د دوي ملاقات يوائې د شپې له خوا سره کيږي، د پېغلي ولور په وطني ډول د (واج) په ترتيب تاديه کيږي.[1]

## جرگه او مرکه:

جرگه او مرکه په افغاني دودونو او عنعنو کې ډېر ارزښت، لوړ ځای او لرغونی تاريخ لري، د ځېړنو له مخي لرغونو آريايانو هم دا ډول دود درلود، چي له نيکه مرغه تر اوسه په افغاني ټولنه کي تر ستر گو کيږي.

په هلمند کي چي کله هلمندي ولس د لويو ستونزو سره مخامخ سي، نو د همدغو جرگو له مخي يې حلوي، جرگه په هلمند کي ډېر ارزښت لري، د جرگې پرېکړه د قانون حکم لري، هر کله که يو جانب د جرگې له پرېکړي سر وغړاوه، هغه کس پړ بلل کيږي او لازمه سزا هم ورکول کيږي.

په هلمند کي اکثراً سيمه ييزي جرگې کيږي، چي هغه د خاصو مشرانو له خوا جوړيږي او همدا مشران يې پرېکړه هم کوي، چي داوړو جانبو ته يې پرېکړي د منلو وړ دي.

د مرکې د غړيو د شمېرې په اړه بايد ووايو، چي د غړيو شمېر يې له پنځو ځخه تر لسو تنو ته رسيږي او دوي ډېر وختونه د کورنيو شخړو او خپل منځي اختلافاتو د له منځه وړلو او يا له يو تن ځخه بل تن ته د

---

۱.کانديد اکاډمېسن محمد ابراهيم عطايي، هلمند د کلتور په ساحه کي، ۱۱۳ مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



خور او لور د غوښتلو لپاره هلته ورځي، چې دا هم د جرګې يو ډول دی.

پدې اړه خوشحال بابا وايي:

کـه خـبر وي د جرګــې پــه برکـــت
بې جرګې نه به هيڅ کار په لاس وانخلي

**مېلمه پالنه:**

مېلمه پالنه په هلمندي دود کي يو غوره دستور دی، چې د سخاوت يوه ښه بېلګه شمېرل کيږي، هلمنديان مېلمه ته د هر کلي لپاره ډېري ښکلي او خوږې کلمې لري، لکه مېلمه ته د هر کلي په وخت کي وايي، (خدای دي راولـه) او پـه ځـواب کـي بايـد داسـي ورتـه وويـل سـي، (خدای دي مي په ښه درولي او يا خدای دي ښه درولي).
هلمندي ولس مېلمه په ورين تندي مني او ډېر عزت يې کوي او په ځانګړې توګه د مسافرو، بېوزلو او محرومو کسانو سره له هر ډول مرستي څخه دريغ نه کوي.
د هلمنديانو کوټې (حجرې)، دېرې او جوماتونه د مېلمنو ځانګړي مرکزونه دي، چې له خپل توان سره سم يې پالنه په ورين تندي تر سره کوي او که مېلمه د کومي ورپېښې ستونزي له امله ورته پناه راوړي، نو د سر په بيه يې ساتنه او پالنه تر سره کوي او د بېرته تلو په وخت کي ورسره د خطر په ځايونو کي ملګرتيا هم کوي، چې بدرګه ورته وايي، تر څو چي دده له سيمي څخه په سلامتۍ تېر سي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ننواتي:

ننواتي د هلمندیانو یو منلی دود دی، چي د یوې ګناه د بخښلو لپاره د جانب مقابل لوري کور ته ورتللو ته وایي، کله چي د دوه قبیلو او یا کورنیو تر منځ یوه شخړه پېښه سي، نو ددې شخړې د پای ته رسېدو او له منځه وړلو په خاطر د مقابل لوري عذر کوي او عفوه غواړي، چي دا عذر په دې لاندي بڼو تر سره کېږي.

لومړی: دا چي میا، ملا او سپین ږیري د مقابل لوري کور ته د عذر لپاره استوي، تر څو یې عذر ومنل سي.

دوهمه: دا چي ښځمني (تور سري) یې کور ته استوي او پسونه یې د کور په دروازه کي حلالوي.

دریمه: دا چي پخپله مجرم د جانب مقابل کور ته ورسي او بخښنه ورڅخه وغواړي او د راتلونکي بدۍ د ختمېدلو هیله وکړي.

ننواتي په هلمند کي د بدیو د له منځه وړلو تر ټولو ستره او اغېزمنه وسیله ده او کله چي ننواتي صورت ونیسي، ضروري خبره ده، چي مقابل لوری به یې مني او که چیري یې ونه مني، نو ټول خلک پرې بد وایي او ډېر شمېر دوستان یې د همدې بدۍ په تر سره کولو کي مرسته ورسره نه کوي او په تېره بیا چي د ښځمنو ننواتي رد کړي.

### د مسافرت دودونه:

هلمندي وګړي د سفر تر پیل مخکي، یو ډول دود لري، چي د سفر او مسافرت پر وخت تر قرآن کریم ځان باسي، دا دود په داسي ترتیب کېږي، چي قرآن مجید په څادر کي ایږدي او څادر د دوو تنو له خوا

(c) ketabton.com: The Digital Library



چي يو د شمال خوا ته او بل د جنوب خوا ته ولاړ وي، قرآن کريم چي په څادر کي پروت وي، مسافر يې په دواړو لاسو نيسي او درې ځلي يې موچوي، په سترګو پوري يې موږي او لاندي تر تېرېږي، چي تر تېر سي، له هغې خوا بيا مخ پر راوګرځوي او بيا يې موچ کړي، چي دغه عمل درې ځله تکرار سي، نو له کوره وځي.

مسافر چي له کور څخه ووځي او د خپل کور تر دروازي پښه واړوي، سمدستي يې کور والا تر دروازې دباندي اوبه ورپسې پاشي، دا ددې لپاره کوي، چي اوبه د پښتنو مېرمنو په نظر رڼا ده، نو د رڼا په خيال اوبه پسې پاشي.

## د مړيني دودونه:

په هلمند کي مړي ته يا په خپل کور او يا په مسجد کي د ملا صاحب له خوا غسل ورکول کيږي، د مړي د تجهيز او تکفين څخه وروسته، مړی يو ځل کورته دننه وروړي، چي نږدې خپلوان يې ووينې، نو جنازه دننه کور ته د محرمو اقرباوو پر اوږو وروړي، د کور ښځې پر راټولي سي، مخ يې په کفن کي ورښکاره کړي، دلته د ټولي کورنۍ غلبلې او نارې ولاړيږي، سمدم د قيامت ورځ وي، اوښکې پرې توی کړي، پدې وخت کي ځيني خلک په هديره کي د قبر په کښلو لګيا وي، مړی چي هديرې ته د کور او کلي د خلکو او نورو دوستان په ګډون راوړل سي، بس سمدستي د جنازې لمونځ شروع کوي، د لمانځه وروسته يو مقدار پيسې چي د اسقاط په نامه يادېږي، پر خلکو يې ګرځوي، د پيسو ورکوونکی د پيسو اخيستونکي ته وايي، چي دا پيسې دي قبولي دي، نومړی وايي، هو قبولي مي دي، څو

(c) ketabton.com: The Digital Library



واره پر ټولو دا پیسې ګرځي، تر څو چې يې حساب پوره سي، له هغه وروسته مړی له چارپايي څخه پورته او قبر ته يې کښته کوي، چې ښخ سو او خاوري يې پر راواړولې، نو د ملايانو له خوا دعاوي ورته کيږي او د هغه څخه پس ګډون کوونکي له هديرې څخه کورونو ته ځي.

په وطنوالو کي تر ټولو غمجن هغه مړی دی، چې کورنۍ په نړيږي په ترتيب سره د ځوانانو مرګ د زړه زخم پرېږدي، د زړو او لوېدلو خلکو مرګ د (خدای دي ښه ورسره وکړي) په جمله خلاصيږي.

په هر کور کي چې تر (مړاني) وروسته کوم څوک مړ سي په هغه پسې خيرات کيږي او هغه عبارت د هغي (سري) څخه دی چې پسه يا غويی بايد حلال سي، کله چې مړی هديرې ته واخيستل سي د غوښو تر دېګو اورلاندي سي او خلک چې له هديرې څخه راوګرځي بايد ټوله د هغو غوښو ښوروا وخوري چې د مړه د سر په صدقه پخه سوې وي، له دغو غوښو سره (ځېټې) هم خلکو ته ورکوي.

دلته اکثره خلک د ښځي فاتحه نه اخلي او په عمومي صورت د هغه چا فاتحه رواج نه لري، چې عمر يې تر (۱۵) کاله لږ وي، د فاتحې مراسم خورا ډېر په دروندوالي پر ځای کيږي، ملايان، کليوال او شاوخوا نږدې او ليري دوستان بايد دوې يا درې ورځي د هغه چا سره غم شريکي وکړي چې په کور کي يې مړی سوی وي.

دا غمشريکي عبارت له دې څخه ده، چې د کور د خاوند سره يو ځای اوسي او د هغه ډوډۍ خوري، مړی لويه اقتصادي واقعه ده او که څوک دا مراسم پر ځای نه کړي نو وايي چې های .های يوه زرد که وه په مځکه يې چخ کړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په اوومه یا څلوېښتمه ورځ که مړی شتمن وي، په مړي پسې (ختمه) پوخ خیرات کیږي، طالبان او ملایان رابلل کیږي، کله چي ختمونه وسي، نو وروسته تر هغه د ډوډۍ ترتیبات نیول کیږي، که ختمه پراخه وي، نو ټولو بېوزلو او خوارانو ته هم په ماړه نس ډوډۍ ورکوي.

د مړي کورنۍ ته وروسته تر فاتحو د خپلوانو او اقرباوو لخوا دعوتونه ورکول کیږي، که د مړي خپلوان ډېر وي، نو مېلمستیاوي هم ډېري وي او که لږ وي، نو مېلمستیاوي هم لږي وي، خو داسي هم وي، چي ټوله میاشت په دغه قسم مېلمستیاوو تېروي.

همدارنګه پر کوچیانو لوی غم د کورنۍ د ځوان غړي مرګ دی، د مرګ غم کوچیانو ته لویه حادثه ده، مخصوصاً چي د کورنۍ د کار غړی یې له لاسه ورکړی وي، دوي خپل مړی پر هغه ځای ښخوي چیري چي یې مېنه کړې وي، د مړي په کفن کي بندوبست نه لري، د هر ډول ټوکر څخه چي کفن ورکړي هغه درست دی.

## میراث:

په کلیوالي ژوند کي د لویو شخړو او حوادثو منبع د میراث وېش ده، اکثره وختونه چي بروز کوي د هغو علت میراث دی، سړی چي مړ سي، دده میراث د وروسته پاته کلو (زوی، لور، ماینه او نورو تربرو) ته رسیږي، که زوی ځوان وي، نو میراث په هغه پوري تعلق نیسي (دا وجه ده، چي کلیوال خلک په اولاد کي تر لور زوی ته ترجیح ورکوي)، لور چي د زوی نیمایي حق لري ډېر کم ورکول کیږي او د ماینې په حق کي نو د کونډي موضوع منځته راځي او تربرونه کوښښ کوي، چي پر کونډه نکاح وتړي، تر څو میراث بلي کورنۍ ته نقل نه سي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د مړيني په وخت د وصيت کول يو اړين امر دی، چي د مړه په ټول پټ او ښکاره خپلوان خبر سي او د (وصي) ټاکل هم د غو مره ضروري کار دی، هر څوک چي وصي سي، د ميراث ساتونکی هغه بلل کيږي، د يتيمانو او کونډې ساتنه هم د هغه پر غاړه ده، خو اکثراً يا وصي پخپله کونډه کوي يا چي تر اختيار يې وتلې وي بايد کونډه نورو ترېرو ته خوشي کړي، څو هغه نکاح پر وتړي.

## ناجوړي او علاج:

دلته په وطنوالو کي ټوله ناجوړي پخپل تصنيف کي تر دوو نومو لاندي کيږي، چي هغه ژړی او باد دی، د نو وتل، ټوخ او نور داسي امراض دي چي وطنوال خلک په اخته کيږي.

ځوانان اکثراً يا په ژړي (ملاريا) يا ټوخ (سيل) اخته کيږي، يا ځيني خلک د باد (روماتيزم) څخه شکايت لري، خو باد دوه ډوله دی، يو مړ باد او بل ژوندی باد، مړ باد هغه دی، کله اوږه، کله زنګون، څنګل يا ټوله بدن او بندونه درد کوي او ژوندی باد هغه مرض دی، چي اکثراً پر پزه کښېني او د يو لوی زخم په شکل راپورته کيږي، څو پزه ګرده وخوري.

د نس درد مخصوصاً چي (کرينک ملاريا) غلبه وکړي، نو دوي وايي، چي (نو) مي وتلی دی، باقي نوري ناجوړۍ ټول د اثر[1] څخه بولي، بل نو د سپي داړل يا د مار چيچل او داسي نوري ناروغۍ چي

۱.(اثر) يوه کليوالي اصطلاح ده، کليوال خلک داسي نابلده ناجوړي ټوله د پريانانو څخه بولي

(c) ketabton.com: The Digital Library



کلیوال خلک په اخته سي، پخپل کلیوالي ترتیب د هغو سره مجادله کوي.

د ناروغ معالجه په کلي کي یا په وحشي دښتي بوټو یا زیارتو او یا خاصو ټوټکو کیږي، (ترخه) یو وحشي دښتي بوټی دی، چي د هغه تخم ډېر تریخ خوند لري، د نس د درد لپاره د غه تخم په اوبو کي خیشتوي او ماښام یې ستورو ته ایږدي او سهار یې اوبه تر یو ټوکره صافي کوي، دغه ترخي اوبه نو درې ورځي په نهاره چښي، د ژړي لپاره پر زیارتو هم ګرځي او ځیني خاص خلک ژړی پرې کوي، ژړی په ژړ پیاز هم پرې کیږي.

د لښکرګاه پر شمالي سر د (ولي کرم .لېوني کرم) زیارت دی، چي خوړه یې پرهېز نه لري، نور نو د ټولو زیارتونو خوړه چي ناجوړ یې خوري باید تر ټولو د مخه له مالګي څخه پرهېز وکړي، په ژوندي باد کي د زیارتو خوړه څلوېښت ورځي پرهېز لري، د هلمند په شمالي برخه کي خلک خپل ناروغان دغو زیارتونو ته وړولي:

خواجه خالد بابا، ملا سکندر نیکه، ملا جانو نیکه، خواجه روښنایي اخندزاده صاحب، کشمش خان، سید شېر بابا، سیر میر قند شاه آغا، خواجه غیب بابا، امام یحیی صاحب، سید ګلزار شاه آغا او داسي نور.

د هلمند په جنوبي برخه کي لاندي زیارتونه مشهور دي:

جیلدګ بابا، ملا کبلی صاحب، امیر بلند آغا، میر سالم بابا، خواجه ماش بابا، فقیر سرتور بابا، صالح جان آغا، شیخ حسن نیکه او داسي نور.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د هلمند په منځنۍ برخه کې د سید تاج دار آغا، سید سیاه پوش آغا او میر داود په ګرشک کې مشهور زیارتونه دي، چې په زنانه امراضو مبتلا ښځې هلته ورستل کیږي، د مره باد لپاره په سنګین کې د (کرماب – ګرماو . ګرم آب) چینې ته هم خلک ځي او هلته لمبیږي، دا یې نسبتاً سمه معالجه ده.

د کوچنیانو ناروغي په عمومي صورت د (اثر) څخه بولي، دوي وایي چې د بلاوو کوچنیان ډېر خوښ دي، هغوي چې کوچني ته وګوري، نو ناجوړي ورپېښیږي، بل دا چې کوچنی سترګه اخلي د هر چا تر نظر چې ښه وایسي نو کوچنی ناروغه سي، نو ددې ناروغۍ لپاره تعویذ په کوي، دوي د هغه سړي پرتوګانې اخلي او بیا چې کوچنی ناروغه سي، نو ورته دود یې کړي، په یخ کې چې کوچني ته زکام پېښ سي او پزه یې بنده سي، نو پلار یې باید یوه وڅکه له بل ځایه څخه غلا کړي او هغه چې کور ته راوړي نو د کوچني پر پزه یې ومښلوي.

کوچیان خلک ژړۍ (ملاریا) بیخي نه پېژني او د دوي لویې ناجوړۍ لویه تبه (محرقه) او توخ (سینه بغل) دی، ددې ناروغیو سره د غرو په بوټو او تخمو تداوي کوي، ډېر لږ تعویذونه او تاویزات کوي.

په تبه کې ناجوړه په پوست کې اچوي، کله چې د تازه پسه یا وزګړي پوست وکاږي په هغه کې میده لواندہ وپاشي او د ناجوړه څخه کالي وکاږي، دا پوست پر را وپیچي، تردې وروسته کله کله داسې پېښیږي، چې د ناروغه بدن لکه تناکې داسې دانې پورته کړي، دوي هغه دانو ته پوست دانې وايي، په اکثرو مواردو کې چې د نس ناروغۍ ورپېښې سي، ویلي کړي غوړي چښي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



خو اوس مهال په لښکرګاه ښار او لیري پرتو سیمو کې ډاکټران او طبیبان پیدا سوي دي، تر ډېره حده د ناروغانو تداوي کیږي او د معالجې لپاره درمل ورکوي، په ولسوالیو کې هم همدا شان ډاکټران یا نرسان کار کوي، د کومې کورنۍ چې اقتصادي وضع جوړه وي، کوښښ کوي چې یو ښه ډاکټر ته خپل ناروغ ورولي او که په هلمند کې یې درملنه ونسوه، نو تر کندهار، کابل، کوټې، هرات او نورو بهرنیو هیوادونو ته بیايي، تر ډېره خلک دلته په اقتصادي ستونزو کې را ګیر دي، هغه اشخاص چې اقتصاد یې نه وي سم، نو په کور کې یې درملنه په هغه پخواني شکل صورت نیسي، زیارتونو ته بیول کیږي، تر څو الله (ج) شفاء ورکوي.

## د کوچنیانو او ځوانانو لوبې:

د هلمند ځوانان او هلکان د کال په هر موسم کې ډول ـ ډول لوبې کوي، دا لوبې له ډېر پخوا څخه رواج لري، په عمومي صورت د دوي لوبې عبارت له (پټ پټاني، ډُره، د بابو صاحب لمبه، غېږه، ډبره اچول، خوسی، کبډي، غرچ، الاداد، چناغ ماتول، اړوونکی، جفت او طاق، تر لنګوټه غورځېدل، مردکي یا شتلې، جوغ جوغ، بجلي، د هاګیو جنګول، خرې په خري یا شا په شا، کتار (قطار) او نورو) لوبو څخه دي، چې خلک یې د خوشحالۍ په وختو کې کوي، مخصوصاً د پسرلي په موسم کې داسي لوبې ډېرې کیږي، هغه ځایونه چې سیند ته ور نږدې وي، لامبو (آب بازي) د هغه ځای د خلکو لویه لوبه ده او اکثره د سیند په اوبو کې د (نیونکي) لوبې کوي، داسې چې کالي وکاږي سیند ته ور ولوېږي، نو د مسابقې په ډول یو مخ ته لوېږي او

(c) ketabton.com: The Digital Library



نور په آب بازۍ په اوبو کې پسې ځغلي هر ځای چې يې ونيوی بايد هغه سرې يې تر ساحله په شا راوړي.

هلکان د پسرلي په موسم کي هغه وخت چې کال وچ وي، باران نه وي اوريدلی او وطن د احتکار تر چپاو لاندي راځي، نو کله چي اوريځ پر آسمان پيدا سي، د کلي هلکان د (باران بو) په نامه يوه لوبه لري، داسي چي يو تر مخه سي او نور په پسې وي، پر کورو ګرځي باران بو کوي، د کورو ښځي دوي ته لرګي، غنم او خوږې ورکوي، دا چي يې ټول کړه، نو پر يوه ميدان لمبه وکړي او پر را ټول سي دا بدله وايي:

باراني باران بو
شيلې ډکي د اوبو
د حاجي غنم لانده کې
خرواري په ايکي کې
ايکي باندي ښيتي کې
باراني باران بو
هلمند دې ډک بهيږي
وطن دي په اوبيږي
حاجي دي نه ښاديږي
باراني باران بو
اوريځ چي پر ښکاره کې
کندو يې غراره کې
غنم تري را ايله کې
باراني باران بو

(c) ketabton.com: The Digital Library



د حاجــي پــر کــور غـوبــل کــې
ډوډۍ ورپـــوري شـــول کـــې
پـــه لاس او پـــښو یـــې شــل کـــې
بـــــاراني بـــــاران بـــــو
بـــــاران دي را ایـــــله ســـــي
حاجـــي دي پـــه سپېـــره ســـي
غنـــم دي تـــور ســـکاره ســـي
بارانـــــي بـــــاران بـــــو

همدا ډول هغه کوچني واړه چي له کور څخه نه سي راوتلای، په کورو کي کوچنۍ. کوچنۍ لوبي لري، چي مشهوري يې هغه (اکوبکو دمبالکو) ده، چي په ټولو پښتني مناطقو کي رواج ده.

## په هلمند کي د خلکو احترام او اصلي نومونه:

د هلمند هلکان او ځوانان پلار ته د نورو پښتني سيمو د خلکو په ډول بابا وايي، که پلار حج کړی وي، نو د حاجي لقب هم د بابا د نامه مخ ته وراچوي، ځيني کاکو هم ورته وايي، مور ته ادې يا دادا وايي، مشري خور ته دادا يا بي بي وايي، مشر ورور ته لالا وايي، خو په ځينو ځايونو کي پلار ته هم لالا ويل کيږي، انا او نيکه په قطعي ډول ادې او بابا بولي.

اکا ته کاکو وايي، په کشر او مشر اکا کي د لومړي د نامه د مخي سره (ناني) او د دوهم د نامه تر مخ (لوی) زياتيږي، د ورور ماينه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورېنداره، د خور مېره اخښی بولي، مېره او ماینه پخپلو نومونو یو د بله خطاب سره کوي، زړې ښځې ځوانانو ښځو ته (ژړی یا ژړو) وایي، د ښځو نومونه اکثر په لاندي ډول دي:

ملاله، خماره، رنګینه، بادامه، مستانه، مسته شېرینه، سپینه، ژړو، پسته، ګُله، ګلانه ښایسته، مرغلره، ګل بشره، زلیخا، جماله، چناره، بله نسته او داسي نور.[1]

د نارینه وو نومونه هغه چي په عربی وي په تلفظ کي یې د پښتو تابع ګرځولي، لکه نور محمد (نورماد)، عبدالله (اودلا)، محمد عیسی (ماد عیسی)، عبدالروف (ابدروپ) بولي او تر ډېره ځایه په خطاب کي نوم خلصوي، مثلاً محمد یوائې (ماد) بولي.

## د اخترونو دودونه:

لکه څنګه چي ټول پوهیږو، چي مسلمانان په کال کي دوه اخترونه لري، چي یو د کوچني اختر او بل د لوی اختر په نامه یادیږي، دا دوه اخترونه په کال کي یو ځل راځي، ډېر وګړي کوچني اختر ته د روژې اختر او لوی اختر ته د قربانۍ اختر هم وایي، کوچنی اختر ځکه پدې نامه بولي، چي د روژې مبارکي میاشت تر ختم وروسته نوموړی اختر لمانځل کیږي او لوی اختر ته ځکه د قربانۍ اختر وایي، چي پدې اختر کي الله (ج) په ټولو مسلمانانو د پسه او یا غویي د قربانۍ امر کړی دی او مسلمانان هم پدې اختر کي صدقې او قربانۍ کوي.

---

۱.کاندید اکاډمېسن محمد ابراهیم عطایي، هلمند د کلتور په ساحه کي، ۱۰۰ مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا دوه اخترونه مذهبي دي، خو په افغانستان کي يې دوديزه او کلتوري بڼه خپله کړې ده، که څه هم چي په ټول هيواد کي د وګړو دودونه يو شان دي، خو د سيمي په لحاظ يو څه توپير سره کوي.
زموږ بحث چي خاص هلمند ته ځانګړی سوی دی، نو دلته لومړی موږ تاسو ته د کوچني اختر دودونه او وروسته د لوی اختر دودونه وړاندي کوو:

## د کوچني اختر دودونه:

لومړی پر ټولو مسلمانانو دا فرض ده، چي د روژې ټوله مياشت به روژه نيسي، د روژې په وروستيو شپو کي چي اووه ويشتمه يا اته ويشتمه وي، نو تراويح ختميږي، د تراويح د ختم په شپه کي ټول هلمنديان مسجدونو ته خواږه او نور خوراکي توکي لکه کشمش، چاکليټ، خورما، بادام، نخود او لندي مېوې له ځانه سره وړي، د تراويح په ختم سره، دا ټولي توکي سره ګډيږي او پر ټولو ګډون کوونکو وېشل کيږي، ملا صاحب اوږدې اوږدې دوعاوي کوي، خلک ډېر خوشحاله وي، چي روژه او تراويح په ختمېدو دي، نو د اختر په مېلو کي به ښه مزې او چړچي وکړو.
کوم وخت چي اعلان وسي، چي سبا اختر دی، نو په هر کور کي نکريزي کيږي، ماشومان او ښځي خپل لاسونه سره کوي، زياتره هلمندي وګړي، سهار په مسجد کي سره يو ځای کيږي، ددې سيمي د خلکو دا رواج دی، چي سهار وريجي پخوي او پر هغه بوره پاشي او يا د شيدو وريجي (شيربرنج) مسجد ته وړي، چي دا د اختر کاسه بولي او تر لمانځه وروسته ټول پر راټوليږي او هلته يې خوري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د اختر په سهار وختي نوي کالي اغوستل کیږي، هري خواته چي ګوري د خلکو نوي جامي په تن وي، ځیني خلک د خپلو خپلوانو قبرو ته د زیارت لپاره ځي، مړو ته دوعاوي کوي او د مړو پر قبرو اوبه پاشي.
د هغه څخه وروسته ټول خلک چمتو والی نیسي، چي عیدګاه لمانځه ته ولاړ سي، په کوڅو او سړکانو چي ګوري خلک عیدګاه لمانځه ته په ډله ډله رائحي، د هلمند په مرکز (لښکرګاه) کي له ډېر وخت راهیسي، د اختر لمونځ د فوټبال په میدان کي کېده، چي دا لوبغالی د (کرزي سټېډیوم) په نامه یادیږي، خو په دا اخیرو کي د اخترونو د لمنځونو لپاره د عیدګاه جامع جومات جوړ سوی دی، چي په زرو تنه پکښې ځایږي، او س یو دوه کاله کیږي، چي په یادي سوي جامع کي د اخترونو لمونځونه کیږي.
د اختر له لمانځه وروسته ټول خلک دعاوي کوي او له هغه وروسته ټول یو له بل سره روغبړونه او ستړی مسي کوي.
د اختر تر لمانځه وروسته ټول خپلو کورونو ته ځي، کله چي خپلو کورونو ته ولاړل، نو هلته د کورني له ټولو غړو سره اختر مبارکي کوي، له هغه وروسته نو مېلې شروع دي، ماشومان مېلو ته ځي، مشران او نور ځوانان د خپلوانو پوښتني لپاره د یو او بل کورونو ته ورځي.
عموماً په هلمند کي په ټولو کورونو کي وچه مېوه او چای د مېلمنو لپاره تیاریږي، په ځینو کورونو کي له وچو مېوو سره لانده مېوې هم مېلمنو ته راوړل کیږي، دا تګ راتګ تر درو ورځو پوري دوام کوي، خو د ښځو رفت و آمد تر ډېره دوام پیدا کوي او ځیني وخت تر یو میاشتي پوري ښځي د خپلو خپلوانو کورونو ته د اختر د مبارکۍ لپاره ورځي.

## د لوی اختر دودونه:

د لوی اختر دودونه هم همدا شان لکه د کوچني اختر دي، خو په کوم شي کي چي توپیر کوي، هغه دا سي، چي د کوچني اختر تر مخه یوه میاشت روژه

(c) ketabton.com: The Digital Library



نیول کیږي، خو د لوی اختر لپاره کومه روږه نسته، په لوی اختر کې قربانۍ کیږي، چې په ټول افغانستان کې یو شان وي، هره کورنۍ چې اختری کوي، یا به پسه خیراتوي او یا به په غوایي شریکیږي، پسه په انفرادي ډول د یوه تن لپاره او غوایي د اووه تنو لپاره خیراتیږي.

هلمندیان قرباني ته اختری وایي، ډېر وګړي یې د اختر تر لمانځه وروسته چې خپلو کورونو ته راسي، نو د اختر قرباني کوي، د اختر دا لومړۍ ورځ په هر کور کې چې وګورې یا به پسه حلال سوی وي او یا به غوایی، تر قربانۍ وروسته دا غوښې پر غریبانو او خپلوانو ویشي، نور نو بیا هم د خپلوانو د اختر مبارکۍ لپاره د یو او بل کورته ورځي.

## خامک دوزي:

خامک دوزي په هلمند کې له ډېري پخوا زماني څخه دود دی او په ښځینه طبقه کې د ډېري پاملرني او توجه وړ صنعت ګڼل کیږي او د عنعناتو له مخي کوچنۍ انجلۍ ته په ډېر کوچنیوالي کې ستن او تار په لاس ورکوي، چې په دستمالونو باندي ګلان وګنډي او یا خو د رنجو کڅوړي او یا نور څه پرې وګنډي، تر څو وسي کولای، چې ښه ګنډل او دوخت زده کړي.

هلمندي میندي هڅه کوي، چې لوریې باید خامخا په دوخت او ګنډه جوړولو کې پوره مهارت ولري، ګنډه او خامک دوزي چې په کور کې څومره ارزښت لري، هغومره د ښځي په ژوند کې هم اهمیت یې ډېر دی او ددې کسب او کار له لاري هلمندي ښځې پیسې او سرمایه لاسته راوړي.

## په هلمند کې د وګړو کارونه او ټولنیز طبقات:

د هلمند هغه وګړي، چې په کلیو کې ژوند کوي، د دوي کار په عمومي ډول بزګري ده، دا خلک کښتونه کري او د هغو له حاصل څخه د مځکې مالک او بزګر د وطنوالو نور طبقات ژوند کوي، دا وطنوال خلک په اکثرو

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځایو کې باغواني کوي، ځینې ژرندې ګرځوي، ځینې کاریزونه کاږي او ددې قبیلې نور کارونه کوي، د وطنوالو هغه طبقات چې په عنعنوي ډول په هلمند کې اوسیږي په لاندې ډول دي:

## بزګران:

کومه طبقه چې ډیر زحمت باسي او زښته ډیر کار کوي هغه بزګران دي، دوی مځکې کرې او د حاصلو پر وخت خپله پنځمه برخه اخلي او څلور برخې مالک ته ورکوي، د مځکې د کښت او کر لپاره وسائل پخپله مالک دوی ته برابروي، بزګران تقریباً د (چنګول) په اندازه پر مځکه یو خروار تخم پاشي او په اوسط ډول د هغه څخه دېرش خرواره حاصل اخیستل کیږي، چې د ملا تر لسمې وروسته پنځه نیم خرواره بزګر ته رسیږي او له دې څخه بزګر باید ټوله کال د خپل کور اعاشه وکړي.

## کښتګران:

کښتګران دوه ډوله دي، یو هغه چې د کښت وسائل پخپله ولري او بل دا چې د کښت وسائل د مځکې د مالک یا بل چا څخه اخلي، دا خلک د مځکو د خاوندانو څخه مځکه په کښتګرۍ اخلي او د حاصل اخیستلو پر وخت نیم ځانته ګرځوي او نیم د مځکې مالک ته ورکوي، د تخم برخه د وېش پر وخت د اصل حاصل څخه جلا کیږي.

کښتګران هلته پیدا کیږي چیرې چې ډیرې مځکې د محدودو مالکانو په لاس کې وي او د بزګرو د وسائلو د چمتو او کار لپاره رسیدګې نه سي کولای.

## مزدوران:

مزدوران عموماً هغه لوېدلي بزګران دي، چې د (لو) یا (درمند) کوټلو پر وخت د بزګرانو سره کار کوي او مزد اخلي، دوی هغه بلوڅ کوچي مالدار

(c) ketabton.com: The Digital Library



دي، چي يو څو مېړي لري او سياه بند ته نه ځي، په دوبي خپلي مېړي نورو خلکو ته د رېګو پر ځهانو پرېږدي او پخپله لاندي وطنو ته راشوه سي او مزدوري كوي، مزدوران د ګرمسېل په سيمه كي ډېر دي.

د مزدور مزد هم د حاصل پر وخت بېله هغه چي د ملا لسمه جلا سي بيا وركول كيږي، مزدوران د عرف له مخي د هغو وږو (خوشه) مستحق هم دي كوم چي دوي ټول كړي دي.

**ملا:**

ملايان په كليو كي جماتونه لري، د دوي كار د الله تعالی ج عبادت، طالبانو ته درس ويل او مقتديانو ته لمونځ وركول دي، هر څومره حاصل چي د كښت پر وخت راوزي پخپله حوزه كي ملا د لسمي برخي مستحق دی، د هلمند په سيمه كي د (تاغز) ملايان ډېر آبات دي او داسي ملايان پكښې سته چي په يوه كال كي له (۵۰) څخه تر (۱۰۰) خرواره پوري عشر (لسمه) اخلي.

**د مځكي خاوندان:**

كومي مځكي چي يو مالک ته د پلار او نيكه څخه په ميراث رسېدلي يا يې پخپله رانيولې وي، د هغو خاوند بلل كيږي، د هلمند په جنوبي برخه كي داسي مالكان سته، چي تر پنځه او شپږ سوه پوري بزګران لري او د خپلي مځكي سر او پای يې هم نه وي ليدلی.

**د كار وسائل:**

خپله موټه او غوييي هغه لومړني وسائل دي، چي بزګريې د توليد په برخه كي كار ورڅخه اخلي، هلته چي مځكي لږ وي، بزګران د موټ څخه كار اخلي او د غوايي كار هم پخپله كوي، خو په هلمند كي داسي بزګران چنداني نسته.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په هلمند کي چي پخوا هم د کرهني شرايط برابر وه او اوس هم زراعت مخته تللی، نو د بزګرو د کار وسائل مترقي سوي دي، د موټه په کار کي (یوم) او (بېلچه) هغه آلات دي، چي بزګران ورته اړتيا لري، (چاربناخه-چهارشاخ) يعنې د لرګي هغه لو پنجه چي (بادي) په کوي، هم د موټ د آلاتو له جملې څخه شمېرل کيږي.

د غوايي په ذريعه په کښت کي دا لاندي آلات اړين دي:

د يوي لپاره (رخت، تېش، جغ، چرمينه، زمبر او ماله) لوی وسائل دي او د غوبل په وخت کي (ځپر) هغه مهمه آله ده، چي غنم په کوټي او ميده کوي، (چوغل او غلبېل) د دانو د پاکولو او (ژرنده) د اوړه کولو لپاره د کليوالو خلکو لومړني او اړين وسائل دي، (غويي) د مځکي د ځپرولو، مالې او غوبل لپاره په کار لويږي، په دې پسې له (خر) څخه د غوايي او نورو حيواناتو د خوراکې راوړلو او مځکي ته د امبار چلولو کار اخيستل کيږي، د حيواناتو لپاره (وابنکی او وندر) او نور لوی او کوچني شيان سته، چي د بزګرانو په کاريږي.

د ټکټر په ذريعه په کښت کي دا لاندي آلات اړين دي:

په دې وروستيو کي د هلمند بزګران د نورو پخوانيو وسائلو له کارولو سره - سره له نوو وسائلو څخه هم کار اخلي، لکه ماشين آلات او هغه ماشينونه چي په تېلو چليږي.

له ټکټر (تراکتور) سره د مځکي د کار لپاره دا وسائل لکه (د اوبو واټرپمپ، د بار لپاره ټېله، د مځکي د ماتولو لپاره دوپال او نوپال، د مځکي د اوارکارۍ لپاره زمبر او دغه رنګه جوه کښ او د پنډلو جوړولو لپاره په کار وړل کيږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## په هلمند کي د ملکیت رواجي مقیاس:

د هلمند په ولسي خلکو کي د ځمکو اندازه او د کښت او کر د ملکیت مقیاس په غولبه، پایګاو، چنګول او پنجسېره رواج لري او په لاندي ډول سره جلا کیږي.

## غولبه (قلبه):

غولبه دوه ډوله ده، یو یې احمد شاهي ده، چي په شل بزګرو کرل کیږي او اوس له رواجه لوېدلې ده، بل دفتري غولبه بولي، چي په څلورو بزګرو کرل کیږي او په عمومي ډول څلور خروراره تخم پرې پاشل کیږي.

## پایګاو:

د غولبې نیمایي پایګاو بولي.

## چنګول:

د غولبې څلورمه چنګول دی.

## پنجسېره:

د غولبې اتمه یا د چنګول نیمایي ته پنجسېره وایي.

## هلمند سیند دودیزه مشاعره:

هلمند سیند مشاعره هغه دودیزه او کلتوري مشاعره ده، چي په (۱۳۸۴ ل) کال کي یې بنسټ کښېښوول سو، د یاد کال د ثور د میاشتي په (۱۱) نېټه په هلمند کي د مشاعرې غونډه د لومړي ځل لپاره جوړه سوه، چي په دې غونډه کي د هیواد وتلی شاعر (عبدالباري جهاني) هم ګډون درلود.

مشاعره د یادي نېټې د مازدیګر پر (۵) بجو پیل سوه، د هیواد له ګوټ ګوټ څخه شاعرانو تشریف راوړی و، د غونډې په لړ کي ډېرو شاعرانو، لیکوالانو او فرهنګپالو شعرونه وویل او ویناوي وکړې، له هغه وروسته

(c) ketabton.com: The Digital Library



عبدالباري جهاني ته نوبت ورسېد، نو موږ ي څه د پاسه يو ساعت داسي شعرونه وويل، چي ټولو خلکو په چکچکو، واوا او بیا یې وواېه بدرګه کول.

له هغه وروسته د بُست فرهنګي ټولني مشر (بریالی هلمند) وویل، چي هر کال به په همدې مهال د هلمند سیند تر سر لیک لاندي يوه لويه مشاعره جوړيږي.[1]

له هغې نېټې څخه وروسته د هلمند سیند مشاعرې دوديزه بڼه خپله کړې، چي په هر کال په همدې يادي نېټې لويه مشاعره جوړيږي او له ټول افغانستان څخه شاعران دعوت کيږي.

اوس د هلمند سیند د مشاعرې له لومړي ورځي څخه نهه کاله کيږي، چي بنسټ یې ايښوول سوی دی، خو ددې معنی دا نه چي په هلمند کي مخکي له دې څخه بل وخت مشاعرې نه دي سوي، بلکې د غوريانو او غزنويانو پر مهال دلته ډېر شاعران اوسېدل، چي دوي به وخت پر وخت مشاعرې کولې، په باغ ارم کي غوري شاهانو مشاعرې جوړولې او د شاعرانو مسابقې هلته وهل کېدې، همدارنګ به بُست کي غزنويانو ډېر وخت د ادب او شعر په اړخ کي ډېر کار کړی دی او هر مهال به يې مشاعرې جوړولې.

## ملي اتڼ:

اتڼ يو ډول دوديزه ګډا او د خوښۍ لوبه ده، چي له ډېري زمانې راهيسي په هلمند کي دود دی او تاريخي لرغونتيا يې آريايي ټولني ته رسيږي، چي د هغه مهال له مذهبي عنعنو څخه سرچينه اخلي، په هلمنديانو کي له ډېر پخوا څخه تر ننه اتڼ د رزم او بزم د يو غوره سمبول په توګه ستة.

---

۱.بګړی، د بُست فرهنګي ټولني دري مياشتنۍ خپرونه، شېرآقا صافی، ۶۹ مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



دغه ملي او ولسي ګډا معمولاً له ډهول او سورنی سره ترسره کیږي او پکښې د اجراء کوونکي د وجود ټول غړي په ځانګړې توګه لاسونه، پښې، سر، غاړه، اوږې، سینه او نور په منظم ډول حرکت کوي، د بدن د بېلا بېلو غړو دا حرکتونه، که له یو پې خوا د ټول وجود او په ځانګړې توګه د دغو غړو د قوت او پیاوړتیا سبب ګرځي، نو له بلې خوا د یو ځانګړي جګړه ییز مهارت په توګه له دوښمن سره مقابلې پر وخت ورڅخه کار اخیستل کیږي، له تاریخي څېړنو څخه داسي څرګندیږي، چي د دغه هنر، ورزش او لوبې بنسټ په لومړیو کي د دې لپاره کښېښوول سو، چي ځوانان د جګړې پر مهال د وسلې په ځانګړې توګه د توري، کوتک او ټوپک چلول زده کړي او د دوي بدن چُست، چالاک او غښتلی وروزي، چي د دوښمن مقابلې ته ښه چمتو وي.

د وخت په تېرېدو ورو ـ ورو دا ملي ورزش د افغاني موسیقۍ او هنر یو په زړه پوري برخه سوه، په ځوانانو کي د شور، جذبې او احساساتو د پیدا کولو لپاره به یې دا ورزش د موسیقي له آلو، په ځانګړې توګه د ډهول او سورني له ساز او سُرود سره یو ځای ترسره کاوه.

د دې لپاره ځانګړي سندرې، ږغونه، سروکي او لنډۍ هم جوړې سوي، په را وروسته زمانو کي سربېره پر نارینوو په ښځو کي هم د دغې ګډې ډله ییزې نڅا او هنر زده کړه رواج سوې او تر ننه د ودونو او نورو خوښیو زیاتره محفلونه پرې تاوده ساتل سوي دي.

د وخت په تېرېدو سره ورو ـ ورو دغه ورزش د ډله ییزې نڅا یا ګډا بڼه خپله کړې او نن سبا په همدې مفهوم ترسره کیږي، ورزشي اهمیت یې کم دی، که څه هم په عامه توګه ورته اوس لدې اړخه خلک نه ګوري، خو پر هنر سربېره اتڼ خپل ځانګړی ورزشي ارزښت او روغتیایي ګټې هم لري، خو هیڅکله د روغتیایي ګټو لپاره پکار ندی اچول سوی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په هلمند کي اتڼ له ډېر پخوا راهیسي دود دی، په ودونو، محفلونو او نورو د خوشحالیو په پروګرامونو کي ځوانان دا ملي نڅا ترسره کوي، هیڅ واده، عنعنوي مېله، ملي جشنونه او د خوښۍ نور مراسم بې اتڼه نه ترسره کیږي.

د اتڼ طریقه داسي ده، چي دوه تنه ډول او سورنی وهي، نور د اتڼ ګډونوال په دایروي شکل سره راغونډیږي، اتڼ معمولاً په شریکه او ډله ییزه توګه ترسره کیږي، په پیل کي د اتڼ کوونکو شمېر لږ وي او حرکتونه ورو او په منظمه توګه ترسره کیږي، ورو ـ ورو چټکتیا مومي او ځانګړې احساساتي بڼه خپلوي، د اتڼ کوونکو شمېر هم زیاتیږي او د ننداره کوونکو له ډلي څخه د ذوق خاوندان هم په اتڼ ور ګډیږي.

په اتڼ کي مشر هغه تن ټاکل کیږي، چي تر نورو یې ښه اتڼ زده وي او نوموړی له نورو مخته کیږي، نور دده حرکاتو له مخي اتڼ سرته رسوي.

## هلمندي کوچیان او د هغوي دودونه:

د هلمند کوچیان د هیواد د نورو کوچیانو په څېر همېشه په نبور کي وي، تل په موسم پسې رهي وي، د کوچیانو تودې ورځي په سیاه بند کي وي او په ژمي کي د شمال لوېدیځ خوا څخه (پشت رود) یعنې د هلمند حوزې ته راکډه سي، هغه کوچیان چي د ژمي مېنه په هلمند کي کوي، هغوي پشتي رودي کوچیان بلل کیږي، د دوي لوی تولید وړۍ ده او د هغه د خرڅلاو مرکزونه په هلمند کي دي، خو که کال وچ وي، نو دوي وړۍ د مېږو پرشا د سیاه بند یخو مځکو ته خېژوي او په هغه کال نو د سکول مرکز په لیرو پرله پېچلو غرونو کي وي، د هلمند کوچیان د خپلو سوداوو لپاره هم په هلمند کي ښاري مرکزونو ته ورځي، هغه کوچیان چي د هلمند څخه سیاه بند ته ورخېژي، ډېره برخه یې نورزي دي، نور نو ساکزي او ځیني کوچني ـ کوچني قومونه دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د بلوڅو کوچیان چي د هلمند په جنوبي برخه کي پر ریګ اوسي په ژمي کي د ریګ په منځ کي پر (تلو) باندي اوسي او په دوبي کي د ریګو څاګانو ته ځانونه رسوي او اکثره یې مالونه هلته پریږدي او پخپله د خواري لپاره وطنو ته راشوه کیږي.

د هلمندي کوچیانو نر او ښځي د نورو ځایو د کوچیانو په څېر د ګډ ژوند لپاره فعالیت کوي او خپل تولیدات د هلمند ښارونو ته رارسوي او بیا یې خرڅوي.

د هلمند کوچیان د ژمي په وروستیو ورځو کي د تودو سیمو څخه د سیاه بند خوا ته حرکت کوي او کډي په دسته جمعي د نوزاد پر تنګي سیاه بنده ته ورخېژوي، سیاه بند ته د دوي پورته کېدل د کال په موسم پوري اړه لري، هغه کال چي باراني وي او د تودو مځکو واښه د دوي د مالو نس مړولای سي، نو یو څه معطلي کوي او که کال وچ وي، نو ډېر وختي حرکت کوي.

هغه وخت چي د دوي مېږي پر تودو سیمو لنګي سي، نو د وریو د ساتلو لپاره دوي ډېر کوښښ کوي او همدا وجه ده، چي مېږي په یخه هوا کي سیاه بند ته نه پورته کوي، چي د یخ وهلو خطر ورسره وي، کوچیان پخپل بدوي ترتیب کي په موسم بلد خلک دي او د خپل کوچ او بار وختونه پر تاپي[1] ګوري، حتی د مېږو د لنګون وخت د باران موسم او د کال وچ والی تر ډېره ځایه پېشګویي کولای هم سي.

د مني په منځ کي دوي له سیاه بند څخه راشوه کیږي او د هلمند پر دښتو سره خپاره سي، دا ورځي چي دوي په تودو مځکو کي تېروي د دوي خوښي نه دي.

کوچیان خپل د تګ راتګ حساب پر ستورو کوي، په ستورو کي پېروني (پروین) او سپوږمۍ او د هغو فاصلې دوی په نظر کي نیسي، د لومړي

---

۱.تاپي هغه وختونه دي، چي کوچیان یې د ستورو او سپوږمۍ په حساب پېشګویي کوي

(c) ketabton.com: The Digital Library



ماښام په وخت کي د سپوږمۍ او پېروني يو ځايوالی دوي ته د حرکت يو خبر دی.

پر سپوږمۍ شپول د باران زېری بولي او د وه هغه غټ ستوري چي د شارحه عالمي په ډول په ژمي کي د غروب پر وخت تر لمر شا ته سي، نو دوي بايد مېنه بدله کړي.

د توري ځيلې ځلوېښت ورځي دوي د لويو خطرونو او تاوانونو موسم بولي او د خپلو مالونو سره ډېر احتياط کوي، تر توري ځيلې وروسته چي هوا توده سي، نو دوي د (زار خنډ) غير مترقبه يخ خطر هم نه هېروي، زار خنډ يخ د دوي سپرليان وژني، هغه سپرلي چي تر توري ځيلې وتلي وي، نو مستي کوي دوي ورته وايي: (سپرليه! هوس دي نيمه خوا دی، چي زار خنډ دي لا په خوا دی).

سره ځيله هغه وخت دی، چي دوي بايد د سياه بند خوا ته روان وي، اکثره مسکينان کوچيان چي واښ او غوزی يې سره شلېدلي وي، نو په سره ځيله کي حرکت کوي او وايي: (راباندي سره غرمه سوه).

د هلمندي کوچيانو لوی توليد په عمومي صورت وړۍ ده او په دې پسې غوړي، کورت، جولونه، تاګۍ او نور کوچني شيان دي، ماړه مالدار کوچيان يوائي وړۍ توليدوي او نور غوړي يا بل شی صرف دومره بازار ته عرضه کوي، چي د دوي تر ضرورت اضافه وي.

د هلمند کوچيان چي څومره وړۍ توليدوي، په هغه اندازه وړۍ او نور شيان هم بازار ته د تجارت لپاره عرضه کوي او د خپل خوراک لپاره ډېر لږ د ځان سره ساتي، په عمومي ډول د هلمندي کوچيانو د وړيو توليد د کاله (۳۰۰۰۰۰) منو ته رسيږي.

د کوچيانو د کار وخت د پسرلي څخه شروع کيږي او تر دوبي پوري ډېر سخت کار کوي، د وړيو پرې کول (سکول) مهم کار دی، هر کله چي کال

(c) ketabton.com: The Digital Library



آبات وي، نو کوچیان د وري (حمل) په وروستیو لسو ورځو کي سکول شروع کوي او د غبرګولي (ثور) په (۱۰) نېټه یې پای ته رسوي، دا کار دوي په وطن کي کوي او که کال وچ وي، نو د سکول کار په سیاه بند کي کوي او په ګرشک کي د وړیو د شرکت له نمائندګۍ څخه وړۍ د مېږي پر شا سیاه بند ته خېژوي.

کوچیان د کور او کالو په لحاظ ډېر مختصر او ساده ژوند لري، کږدۍ هغه لویه توره او ژغونجنه خېمه ده، چي دوي پکښې اوسیږي، د لوی مالدار د کور فرش کراسته ده، چي له وړیو څخه جوړیږي، د خوراک لپاره یو لوښی لري، چي ښانګ ورته وایي، نور نو ځیني لوی او کوچني دېګونه ساتي، چي د غوړو د ایستلو په وخت کي کار ورڅخه اخلي.

د کوچیانو نارینه د وطنوالو په ډول کالي اغوندي او د کوسي څخه د بستر کار هم اخلي، اوږد چوڼداره کمیس، خړ یا رنګه لیکداره پرتوګ اغوندي، لنګوټه ول.ول تړي او چاروغي په پښو کوي، ښځي یې تور کالي اغوندي، اکثره کمیس د یوې لمني څخه د پوړني کار هم اخلي.

ــ تمت بالخیر ــ

په ګران وطن کي د تلپاتي سولي او ثبات په هیله

لښکرګاه ـ هلمند ـ افغانستان

۲۳/۱۰/۱۳۹۳

(c) ketabton.com: The Digital Library



## اخځلیکونه:

۱ـ عطايي، کاندید اکاډمیسن محمد ابراهیم، هلمند د کلتور په ساحه کي، ۱۳۸۹ لمریز، کندهار، د اطلاعاتو او کلتور ریاست
۲ـ رشاد، علامه اکاډیمیسن پوهاند عبدالشکور، د کندهار یادابښتونه (لومړی او دوهم ټوک)، ۱۳۸۶ لمریز، جرمني، د افغانستان د کتلوري ودي ټولنه
۳.سیستانی، کاندید اکاډمیسین محمد اعظم، سیستان سرزمین حاسه ها و هماسه ها، دوهم ټوک، لومړی چاپ، ۱۳۶۹ لمریز، اکاډمی علموم جمهوري افغانستان مرکز علوم اجتماعی
۴.کهزاد، احمد علي، د افغانستان پخوانی تاریخ، لومړی ټوک، لومړی چاپ، ۱۳۴۳ لمریز، کابل، انجمن تاریخ افغانستان
۵ـ هوتک، محمد معصوم، کندهاري وروڼه، ۱۳۸۷ لمریز، کندهار، علامه رشاد خپرندویه ټولنه
۶.سیستانی، کاندید اکادمیسین محمد اعظم، جغرافیای تاریخی و اقتصادی ولایت هیملند، لومړی چاپ، ۱۳۹۲ لمریز، افغان جرمن آنلاید او دانش خپرندویه مؤسسه
۷.لسترنج، گی، جغرافیای تاریخی سرزمینهای خلافت شرقی، محمود عرفان، دریم چاپ، ۱۳۷۷ لمریز، شرکت انتشارات علمی و فرهنگی
۸. سیستانی، کاندید اکاډمیسن محمد اعظم، د وزیر فتح خان او د هغه د کورنۍ تاریخي رول په سدوزي دولت کي، پوهنمل حاجي محمد نوزادي او رحمت الله، ۱۳۹۲ لمریز، هلمند ادبي بهیر
۹ـ صدقی، محمدعثمان، جغرافیای مختصر تاریخی شهرهای آریانا، دوهم چاپ، ۱۳۹۱ لمریز، کابل، انتشارات امیری
۱۰ـ نړیوال، پوهاند رازقي، د افغانستان استحکامي کلاوي، حصارونه او بالاحصارونه، ۱۳۸۳ لمریز، میوند خپرندویه ټولنه
۱۱ـ حبیبي، پوهاند عبدالحی، امیر کروړ و دودمان او، ۱۳۶۱ لمریز، اکادمی علوم افغانستان
۱۲.رشاد، علامه اکاډیمیسن پوهاند عبدالشکور، جغرافیایي یادابښتونه (لومړۍ او دوهمه برخه)، ۱۳۸۹ لمریز، کندهار، علامه رشاد اکاډمي

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱۳ـ فرهاد، قدرت الله حداد، د افغان ملي تاریخ، لومړی ټوک(۱۳۹۰هـ ش) دوهم ټوک(۱۳۸۶هـ ش)، د ساپي د پښتو څېړنو او پراختیا مرکز
۱۴ـ کهزاد، احمد علی، افغانستان در پرتو تاریخ، ۱۳۸۷هـ ش، کابل، دانش خپرندویه ټولنه
۱۵.غبار، میر غلام محمد، افغانستان در مسیر تاریخ (جلد اول و دوم)، ۱۳۸۸لمریز، پېښور، خاور انټرپرائزیز
۱۶.افغان، سید جمال الدین، تمة البیان في تاریخ الافغان، محمد رفیق حبیبي، لومړی چاپ، ۱۳۹۰لمریز، کندهار، د اطلاعاتو او فرهنګ ریاست
۱۷ـ کارو، سراولف، پښتانه (پټانز)، الحاج شېرمحمد کریمي، دوهم چاپ، ۱۳۸۳ لمریز، دانش خپرندویه ټولنه

۱۸.رشاد، علامه اکاډیمیسن پوهاند عبدالشکور، ملي اتل غازي وزیر محمد اکبر خان، ۱۳۸۵لمریز، کندهار – افغانستان، علامه رشاد خپرندویه ټولنه
۱۹.عطایي، کاندید اکاډمیسن محمد ابراهیم، د افغانستان پر معاصر تاریخ یوه لنډه کتنه، ۱۳۸۳لمریز، میوند خپرندویه ټولنه
۲۰.الفنسټن، مونټ سټوارټ، د کابل سلطنت بیان (لومړی او دوهم ټوک)، پوهاند ډاکټر محمد حسن کاکړ او نصرالله سوبمن، دوهم چاپ، ۱۳۸۷لمریز، پېښور، دانش خپرندویه ټولنه
۲۱ـ کهزاد، احمد علی، بالاحصار کابل و پیش آمدهای تاریخی آن، جلد اول و دوم، ۱۳۸۷لمریز، بنګاه انتشارات میوند
۲۲ـ سیستانی، کاندید اکاډمیسن محمد اعظم، بیست مقاله تاریخی – تحقیقی، ناچاپ اثر، پورتال افغان – جرمن آنلاین
۲۳ـ اتلس قریه های افغانستان، معرفي واحد های اداري محلي، جلد سوم، پروژه مطالعات دیموګرافي، اداره مرکز احصائیه صدارت اعظمي، ۱۳۵۳هجري، کابل – افغانستان
۲۴ـ هوتک، محمد معصوم، د ناوې دانشور، د کندهار منور، د زنګاوات مخور، ۱۳۹۱لمریز، کندهار – افغانستان، علامه رشاد خپرندویه ټولنه
۲۵ـ نجیب، عبدالقدوس، اراکوزیا (کندهار)، ۱۳۸۸لمریز، کندهار، علامه رشاد خپرندویه ټولنه

(c) ketabton.com: The Digital Library



۲۶ـ سیستانی، کاندید اکاډمیسین محمد اعظم، دفاع از استقلال و شاه امان الله وجیبه ملی ماست، ۲۰۱۲ز، کابل، دانش خپرندویه ټولنه
۲۷.ځلمی، محمد ولی، کندهار، دوهم چاپ، ۱۳۹۲ لمریز، صدیقي خپرندویه ټولنه
۲۸ـ نړیوال، پوهاند رازقي، د هیواد لرغوني ښارونه او د تاریخ پاڼې، دوهم ټوک، لومړی چاپ، ۱۳۸۶ لمریز، کابل، میوند خپرندویه ټولنه
۲۹. حبیبي، عبدالحی، د افغانستان لنډ تاریخ، ژباړن، عبدالرؤف بېنوا، دوهم چاپ، ۱۳۸۲ لمریز، دانش خپرندویه ټولنه
۳۰ـ مرغُزی، حافظ، احمد شاهي شهنامه، ۱۳۸۷ لمریز، کندهار، علامه رشاد اکاډیمي
۳۱ـ کهزاد، احمد علی، افغان مېړني او تاریخي پېښې، محمد اصف صمیم، ۱۳۸۰ لمریز، دانش خپرندویه ټولنه
۳۲.عبدالغفور، زمینداور او علیزي، ۱۳۸۳ لمریز
۳۳.خان، قاضي عطا الله، د پښتنو تاریخ، درېیم چاپ، ۲۰۱۲ز، پېښور، یونیورستي بُک ایجنسي
۳۴ـ جهاني، عبدالباري، هرات، پښتانه او ستره لوبه، دوهم چاپ، ۱۳۸۰ لمریز، لیکوال
۳۵.اډامیک، لوډویک، د شلمي پېړی تر نیمایي د افغانستان د بهرنیو اړیکو تاریخ، ډاکټر نثار احمد صمد، دوهم چاپ، ۱۳۸۳ لمریز، پېښور، دانش خپرندویه ټولنه
۳۶.کاکاخېل، سید بهادر شاه ظفر، پښتانه د تاریخ په رڼا کښې، شپږم چاپ، ۲۰۰۶ز، پېښور، یونیورستي بک ایجنسي
۳۷.سیستاني، کاندید اکاډمیسن محمد اعظم، د نولسمي میلادي پیړی په لومړي نیمایي کي د افغانستان دوه پوځي او سیاسي اتلان، ژباړه، سرمحقق نعمت الله اندړ، ۱۳۸۶ لمریز، کابل افغانستان، داد محمد پښتون او محمد صدیق سیملزی
۳۸ـ کهزاد، احمد علي، آریانا، څېړنیار ملکه مشتري، لومړی چاپ، ۱۳۹۱ لمریز، جلال آباد، همدرد کتاپلورنځی
۳۹.نړیوال، پوهاند رازقي، د افغانستان تاریخي او فرهنګي ویاړونه، ۱۳۹۲ لمریز، دانش خپرندویه ټولنه
۴۰ـ پژواک، عتیق الله، غوریان، اورنګزېب ارشاد، ۱۳۸۸ لمریز، پېښور، دانش خپرندویه ټولنه

۴۱.زرملوال، غلام محمد، افغانستان تر وروستي افغانه، ۱۳۸۳ لمریز، لومړی ټوک، دانش خپرندویه ټولنه
۴۲.فرهنگ، میر محمد صدیق، افغانستان په وروستیو پینځو پېړیو کي، سید عبدالله پاچا، ۱۳۸۹ لمریز، میوند خپرندویه ټولنه
۴۳ـ شېرزاد، پوهندوی م، افغانستان د نړیوالو سیاستونو محراق، ۱۳۹۱ لمریز، همدرد خپرندویه ټولنه
۴۴.رښتیا، سید قاسم، افغانستان په نولسمه پېړۍ کي، دوهم چاپ، ۱۳۸۹ لمریز، دانش خپرندویه ټولنه
۴۵.درانی، ډاکتر باقي، پښتانه د تهذیب په څپو کي، لومړی چاپ، ۲۰۰۸ ز، کوټه، صحاف نشریاتي مؤسسه
۴۶.سنگروال، شهسوار، د افغانستان د تاریخي جغرافیې څرنګوالی، لومړی چاپ، ۱۳۸۴ لمریز، پېښور، یونیورسټي بُک ایجنسي
۴۷.غبار، غلام محمد، په افغانستان کي د اسلام خپرېدل او د عربو نفوذ، ګل پاچا الفت، درېیم چاپ، ۱۳۹۱ لمریز، کندهار، صداقت خپرندویه ټولنه
۴۸.آریانا دایرة المعارف، دوهم ټوک، ۱۳۸۷ لمریز، کابل افغانستان، د افغانستان د علومو اکاډمۍ د دائرة المعارف د مرکز ریاست
۴۹ـ آریانا دایرة المعارف، درېیم ټوک، ۱۳۸۹ لمریز، کابل افغانستان، د علومو اکاډمي د دایرة المعارف ریاست
۵۰.آریانا دایرة المعارف، څلورم ټوک، ۱۳۹۰، کابل افغانستان، د علومو اکاډمي د دایرة المعارف ریاست
۵۱ـ پښتو آریانا دایرة المعارف، شپږم ټوک، ۱۳۵۵ لمریز، کابل افغانستان، د اطلاعاتو او کلتور وزارت او آریانا دایرة المعارف ټولنه
۵۲ـ پښتو آریانا دایرة المعارف، اووم ټوک، ۱۳۵۵ لمریز، کابل افغانستان، د اطلاعاتو او کلتور وزارت او آریانا دایرة المعارف ټولنه
۵۳ـ ځدران، ستر جنرال ګلزرک، د افغانستان تاریخ، لومړی ټوک، ۲۰۰۶ ز، صبا خپرندویه ټولنه
۵۴.پاڅون، عتیق، مرور کوتاهی بر تاریخ افغانستان و قضیه پشتونستان، چاپ اول، ۲۰۰۹ ز، مرکز نشراتی اینفورما پرنت
۵۵.د افغانستان احصائیوي کالنی ۱۳۹۲ لمریز کال

(c) ketabton.com: The Digital Library



۵۶.ارشاد، اورنګزېب، افغانستان پېژندنه، دوهم چاپ، ۱۳۹۰ لمریز، دانش خپرندویه ټولنه
۵۷ـ ځل، پوهاند سید نورالله، د افغانستان پېژندني لنډه لار، درېیم چاپ، ۱۳۹۱ لمریز، جلال آباد، مومند خپرندویه ټولنه
۵۸ـ پیغام، پوهندوی جان محمد، د شلمي پېړۍ په لومړیو دریو لسیزو کې افغانستان د سیاسي او فرهنګي بهیر څېړنه، لومړی چاپ، ۱۳۹۰ لمریز، جلال آباد، مومند خپرندویه ټولنه
۵۹.نیازي، پوهندوی مستعلي، د سردار محمد داود خان د واکمنۍ سیاسي ستونزې، لومړی چاپ، ۱۳۸۹ لمریز، ګودر خپرندویه ټولنه
۶۰ـ نړیوال، پوهاند رازقي، د هیواد لرغوني ښارونه او د تاریخ پاڼې، لومړی ټوک، لومړی چاپ، ۱۳۸۵ لمریز، کابل – افغانستان، بنگاه انتشارات و مطبعه میوند
۶۱.سرواني، شریف الله دوست، د هلمند نومیالي، لومړی چاپ، ۱۳۹۰ لمریز، هلمند ادبي ټولنه
۶۲.شریعتیار، الحاج محمد اسماعیل، هلمند پوله په پوله، صدیقي خپرندویه ټولنه، ۲۰۱۲ زېږدیز
۶۳.تڼیوال، الحاج پوهاند محمد ظریف، د افغانستان عمومي جغرافیه، دوهم چاپ، ۱۳۹۱ لمریز، جلال آباد، مومند خپرندویه ټولنه
۶۴ـ ژواک، څېړنمل محمد دین، افغاني حماسه، دوهم چاپ، ۲۰۱۰ ز، کوټه، پښتو ادبي غورځنګ
۶۵.ریان، بشیر احمد، د افغاني پاچاهانو لنډ ژوند لیک، دوهم چاپ، ۱۳۸۹ لمریز، صدیقي خپرندویه ټولنه
۶۶ـ سرواني، شریف الله دوست، زینداور (تاریخ، ادب او جغرافیه)، لومړی چاپ، ۱۳۹۳ لمریز، ننګرهار، مومند خپرندویه ټولنه
۶۷.د لسم ټولګي جغرافیه، ۱۳۹۰ لمریز، د پوهنې وزارت
۶۸.وطنوال، عبدالصبور، د افغانستان د ولایتونو لنډه پېژندنه، لومړی چاپ، ۱۳۹۰ لمریز، جلال آباد، حکمت خپرندویه ټولنه
۶۹.د سمینار ګډونوال، زما هلمند، ۱۳۹۲ لمریز، اسد دانش خپرندویه ټولنه، کابل – افغانستان

(c) ketabton.com: The Digital Library



۷۰ـ بُست فرهنګي ټولنه، بګړی، لومړی کال، څلورمه ګڼه (وری - غویي - غبرګولی)، ۱۳۸۴ لمریز
۷۱.واسعي، ثابت، اتمان، پښتني دودونه، ۱۳۹۱ لمریز، جلال آباد، مومند خپرندویه ټولنه

**هغه ویبپاڼې چې پدې اثر کې ورڅخه ګټنه سوې ده:**

۷۲.افغان جرمن آنلاین ټکی کام
۷۳.http://www.elections.pajhwok.com/ps/content/
۷۴.http://www.bbc.co.uk
۷۵- www.afghana.com
۷۶- www.fbcdn.net
۷۷.www.wikimedia.org
۷۸.www.tolafghan.com
۷۹.www.helmandnews.blogspot.com
۸۰.www.graanafghanistan.com
۸۱.www.helmand.gov.af
۸۲.www.isec-society.org
۸۳.bokhdinews.com
۸۴.www.khedmatgar.com
۸۵.www.nce.co.uk
۸۶.www. afghanistantoday.org
۸۷.www.wikipedia.org
۸۸.www.Googlemap.com
۸۹www.benawa.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**